او ته ووایه یا محمد ما ایمان راوړی دی په هغه سره چي خدای نازل کړي دي هر کتاب چي وي) یعني بجمیع الکتب المنزلة لا کما قالت الیهود والنصاری نؤمن ببعض الیهود بالتورات ونکفر ببعض الیهود بالانجیل والقرآن والنصاری نؤمن بالانجیل ونکفر بالتورات والقرآن یریدون ان یتخذوا بین ذالک سبیلاً.

"وامرت آه" زه امر سوی یم په عدل سره چي عدل وکړم په مابین کي په تبلیغ کي د شرائع یعني ټولو ته یې علی السواء ورسوم د چا مراعات ونه کړم او که څوک ما ته مخاصمه پیش کړي یعني که څه هم د مؤمن او د کافر پر یوه محکمه وغیره سره دعوه وي زه باید د مؤمن مراعات ونه کړم چي حق د کافر په جانب کي وي.

په حدیث شریف کي راغلي دي چي تقریبًا ټولو صحیح کتابو د احادیثو راوړی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دې یو وخت د یو مؤمن منافق او د یهودي په یوه شي کې سره خصومت وُ او په واقع کې حق په جانب یهودي وُ، نو یهودي و ظاهر الامر مسلمان ته وویل چې راځه چې فیصله ستاسي پر نبي وکړو، ولي یهودي په دې پوهېدی چې محمد رسول اللهﷺ حق وایي مراعات د چا نه کوي او رشوت هم نه اخلي، ظاهر الامر مسلمان ورته وویل چې راځه فیصله پر کعب بن الاشرف چې د یهودانو مشر وُ وکړو، چې هغه به پر رشوت خوره وُ، د دې حدیث مضمون په قرآن کریم کې بېله نوم انو اخستلو راغلی دی.

اَللّٰهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۖ لَنَآ اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ۖ لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ ۖ

الله تعالی زموږ رب دی او ستا هم لانه خالق الکل ومتولي امور الکل، موږ لره خپل عملونه دي او تاسي لره خپل یعني هر چا ته به د خپل عمل جزاء ورکول کېږي په ورځ کې د قیامت اما الجنة واما النار، هیڅ خصومت زموږ او ستاسي تر مابین نسته ستاسي عملونه موږ ته تاوان نه رسوي او زموږ عملونه تاسي ته تاوان نه رسوي، لاتذر وازرة وزر اخرى بلکې زه تاسي را بولم و اسلام ته د نصیحت د لاري فلا وجه للخصومة.

فائده: دا آیت په مکه مکرمه کې نازل سوی دی قبل الامر بالقتال والمعادات، نو ایه د قتال دا ایت منسوخ کړی دی قال الله تعالی "یا ایها الذین آمنوا لاتتخذوا عدوی وعدوکم اولیاء الی قوله بدا بیننا وبینکم العداوة والبغضاء ابدًا حتی تؤمن بالله وحده.

اَللّٰهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا ۚ وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ۝

خدای به جمع کړي موږ تول ه یعني په ورځ کې د قیامت، هورې به خدای قضاوت وکړي په حق، او خدای ته دی رجوع د تولو.

شان نزول: ابن المنذر د عکرمهؒ څخه روایت کړی دی چې دا سورة چې نازل سو اذا جاء نصر الله والفتح (ای فتح مکة) ورئیت الناس یدخلون فی الدین الله افواجًا" مشرکانو د مکې و مسلمانانو ته چې په مکه کې د دوی سره موجود وه یعني د پسخنده "قد دخل الناس فی دین الله افواجًا فاخرجوا من بین اظهرنا" نو تاسي مسلمانان زموږ د مابین څخه ووځئ، کم تقیمون بین اظهرنا. تر څو به تاسي زموږ په مابین اوسېږئ.

پوه سه: چې لفظ د اظهر مقحم دی والاصل بیننا فنزلت هذه الآیة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالَّذِيۡنَ يُحَاۗجُّوۡنَ فِي اللّٰهِ

او هغه کسان چي بې ځايه حجت وايي په خداىٔ کي، اى في دينه وقدرته. او قتادهؒ وايي چي مراد ځني يهود او نصارى دي دوى به ويل کتابنا (زمونږ کتاب يعني تورات او انجيل دمخه دي ستاسي تر کتاب يعني القرآن) ونبينا اى موسىٰ وعيسىٰ دمخه دي تر نبي ستاسي يعني محمد ﷺ فنحن خير منکم فهذه خصومة محضة.

مِنۡۢ بَعۡدِ مَا اسۡتُجِيۡبَ لَهٗ حُجَّتُهُمۡ دَاحِضَةٌ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ

يعني وروسته تر دې چي خلکو ته دعوت محمد ﷺ ورکړى نو اسلام يې راوړى ودخلوا في دينه لظهور معجزته وحسن دعوته. نو ددوى دليل او خصومت باطل دى په نېز د خداىٔ (يعني چي دوى په تقدم ددوى د کتابو او د نبيانو ددوى دليل وايي کما مر)

وَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٌ وَّلَهُمۡ عَذَابٌ شَدِيۡدٌ ﴿۱۶﴾

او پر دوى غضب د خداى ﷻ دى چي ستاسي سره باطل دلائل وايي. او دوى لره دى عذاب سخت په سبب د کفر ددوى بعد ما وضح الله طريق الهدى يعني تکبرًا وعنادًا.

اَللّٰهُ الَّذِيۡۤ اَنۡزَلَ الۡكِتٰبَ بِالۡحَقِّ وَالۡمِيۡزَانَ

الالف واللام للجنس چي شامل ټولو کتبو الهيه ؤ ته دي (بالحق) متلبس په حق سره بعيدًا من الباطل (مراد له حق څخه عقائد حقه او احکام شرعيه دي).

پوه سه: چي مراد له ميزان څخه استعارهٔ ده، والمعنى المراد ۂ الشرع الذي يوزن به الحقوق ويسوى بين الناس کالميزان العرفى (يعني ترازو) چي په هغه تلل کيږي حقوق واجبة بين الناس في البيع والشراء وغيرهما. او يا مراد انزال د نفس او تسويه دى. نو معنى داده چي په الهيه کتابو په عدل سره. نو تسميه ده په ميزان تسميه د مسمىٰ ده په اسم د الهٔ فان الميزان العرفي آلة العدل.

فائده: د انزال څخه مراد يا معنى حقيقي ده چي آدم ﷺ ته نازل سوه ټوله آلات د صنائعو له اسمانه څخه. يا مجازي معنىٰ ده اى انزل الامر به من السماء بواسطة الروح الامين.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيبٌ

پوه سه: چې قريب يې مذکر راوړی سره د تانيث د ساعة، اما لان القريب بمعنی ذات قرب يا ساعة په معنی د بعث بعد الموت دی، او يا د دې سببه چې ساعة مؤنث غير حقيقي دی وفي يجوز التذکير والتانيث.

ترجمه: ته څه شي خبر کړې يې شايد قيامت به نږدې وي، يعني فالتبع الکتاب واعمل بالشرع و واظب علی العدل د مخه تر دې چې نا بيره قيامت درباندې را نه سي او ميزان د عدل الهي قائم نسي، مقاتل وايي چې عليه الصلوة والسلام د قيامت ذکر کاوه وعنده قوم من المشرکين، نو هغو و عليه الصلوة والسلام ته وويل په لهجه د تکذيب متی الساعة؟ کله دی قيامت چې ته يې هر وخت موږ ته ذکر کوې او موږ څني ډاروې؟ فانزل الله تعالی هذه الآية.

يَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِهَا

طلب د ژر راتگ کوي په ساعت هغه کسان چې دوی ايمان نه لري پر قيامت، يعني استهزاءً دا خبره کوي چې الساعة کله دی او دوی غالب ظن دا دی چې قيامت يعني بعث بعد الموت نسته بلکه محال يې بولي، کريمه کيف يحيي العظام وهي رميم.

وَالَّذِينَ آمَنُوا مُشْفِقُونَ مِنْهَا وَيَعْلَمُونَ أَنَّهَا الْحَقُّ

او هغه کسان چې ايمان يې راوړی وي پر خدای او پر رسول او پر قرآن، هغه بيربيږي له قيامت څخه (لاحتمال العذاب يفعل الله مايشاء) او دوی يقين لري چې قيامت حق دی يعني هرو مرو راتلونکی دی.

أَلَا إِنَّ الَّذِينَ يُمَارُونَ فِي السَّاعَةِ لَفِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ

خبر او سه چې هغه کسان چې ناحقي بحث کوي چې مجادله يې بولي او شک لري په قيام کې د قيامت (په قاموس کې وايي چې مرية په کسره د ميم او په ضمه د ميم شک ته وايي) هر آئينه په لويه گمراهي کې دي عن الحق، ولې بعث بعد الموت خو له غائباتو څخه دی لکن مشابه د محسوساتو سره دی، يعني د خزان په وخت کې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې سرسبزه ځمکه وي په نباتاتو سره سپېره ودرېږي يعني هيڅ شين بوټي پاته نه سي دا د ځمکې مرګ دی. بيا چې مياشتې د پسرلي راسي توله تخمونه د ځمکې څخه راوځي او ځمکه از سر نو سرسبزاو شاداب وګرځي دا بعث بعد الموت د ځمکې ژوندی، نو هغه څوک چې له بعث څخه منکروي مع کمال قدرته تعالى او کتاب الله او سنة نبوي شاهدي ورکړي او عقل هم شاهد پر دار الجزاء دی تاچې د مؤمن او کافر امتياز سره وسي او دغه رنګه د مطيع او عاصي فرق سره وسي دا سړی نو د ابتداء څخه وحق ته ډېر لېري دی وهذا معنى قوله تعالى لفي ضلال مبين.. بيت:

برگ درختان سبز در نظر ہوشیار..... ہر ورقی دفتریست معرفت کردگار

درويش وايي: چې له دې آيت څخه څو شيان ښکاره سول (۱) الاول: ذم الاستعجال، ولذا قيل العجلة من الشيطان. خدای ﷻ چې شيطان امر کړی په سجده و آدم ﷺ ته ده عجولانه بلا تفکر دا ويل انا خير منه. فقهاء" وايي چې عجلت مذموم دی مګر نه په شپږ ځايه کښې (۱) اداء الصلوة اذا دخل الوقت يعني چې وخت د يوه لمانځه داخل سي سړی دې په مقدماتو د لمانځه لګه اودس، و مسجد ته تلل تاچې جماعة ځني فوت نه سي (۲) دفن الميت اذا حضر داسي نه کوي چې فلانی نه دی راغلی (۳) تزويج البکر اذا ادرک چې مراني ووهل داسي دي نه کوي چې زه يې په لکهاؤ روپې ولوروركوم يا يې د خان صاحب زوی ته ورکوم (۴) وقضاء الدين اذا وجب چې وخت يې پوره سي که موجل وُ (۵) و اطعام الضيف اذا نزل داسي به وايي چې موږ پر لس بجې مثلاً دوډی خورو، ولې چې شايد مېلمه به ډېر وږی وي (۶) تعجيل التوبة اذا اذنب چې ګناه وکړي ژر دې توبه کاږي... بيت:

توبہ بکن امروز تو ہر گز مگو پر داکنم ... شاید بمیری صبحدم فردا نیابی در شمر

(۲) الثاني: التصديق والايمان وذالک بجميع مايکون به المرء مؤمنًا خصوصًا الساعة، (۳) والثالث الاستعداد لها اى للساعة بالاعمال الصالحات.

(۴) والرابع: مدح العلم اذا قرن الخوف والخشية، نو بايد عالم دي په علم خپل اعجاب نه کوي، ولې چې د فرعون علم پر نبوت د موسىٰ ؑ وُ لکن د ربوبيت دعوی دې ايمان څخه منع کړي، او يهود انو علم درلودی پر نبوت د عليه الصلوة والسلام. کريمه: يعرفونه کما يعرفون ابناءهم لکن جاه و جلال په بني اسرائيلو کې مانع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دایمان وګرځېدل، غیر ذالک من الفوائد ونسب الی الامام اعظم ابو حنیفة رحمه الله جمیع العلم في القرآن لکن تقاصرت عنه افهام الرجال.. پښتانه وايي:

دریاب که لوی دی چمچې دې خپله ده.

اَللّٰهُ لَطِيفٌۢ بِعِبَادِهٖ

خدای مهربان دی پر خپلو بندګانو، قال ابن عباس حفی بهم، معنا يې قهرمان دی، وقال عکرمه بار بهم احسان کونکی دی، وقال السدي رفیق بهم ددې معنا هم مهرباني کونکی دی.

درویش وايي: چې ددې تفسیریو مآل یو دی صرف په لفظ کې يې فرق دی معنا يې یوه ده، وقال مقاتل لطیف بالبر والفاجر حیث لم یهلکهم (یعني فاجران) جزاء لمعاصیهم (په جزاء کې د ګنهو ددوی يې دوی نه دي هلاک کړي) بیت:

ادیم زمین سفرهٔ عام اوست..... برین خوان یغما چه ظالم چه دوست

ای کریمي که از خزانهٔ غیب..... گبر وترسا وظیفه خور داری

دوستان را کجا کنی محروم.... تو که با دشمنان نظر داری

وقیل: لطیف (ای علیم) بالغوامض علمه وعظیم من الجرائم حلمه وینشر عن المناقب ویستر عن العیوب، ویعطی العبد فوق الکفایة ویکلفه بالطاعة دون الطاعة.

درویش وايي: چې دا معاني او خواص په خدای کې سته لکن تفسیر يې په دې آیت کې د مفرد لفظ کول مشکله ده، دا معاني ټوله مظهري راوړي دي، ودل هذه الآیة علی بعض التفاسیر المذکورة ان الله مطلع باحوال العباد فلا بد من تصحیح الحال ومراقبة الاحوال، له ابن مسعود څخه روایت دی چې دی سره د بعض اصحابو وصحراء ته وتلي وه لنزهة الخاطر، نو هوري يې کتو غوښې پخې کړې، نو ډوډۍ او غوښې چې پخې سوې او دوی د ډوډۍ د خوړلو اراده وکړه هورې یو شپانه پسونه پیوول هغه يې هم راوبولی چې راسه زموږ سره به ډوډۍ وخورې، راعي ورته وویل: کلوا وانا صائم (تاسي يې خورئ زما روژه ده) د تجربې لپاره دوی راعي ته وویل کیف تصوم في مثل هذا الیوم الحار شدید الحرارة، راعي دوی ته وویل ان نار جهنم اشد حرارة من هذا الیوم اصحابو ته دا جواب ډېر خوند

Maktaba Tul Ishaat.com　　Scanned by CamScanner

ورکړی، بیا اصحابو ورته وویل چې پر موږ یو پسه خرڅ کړه من هذه الاغنام (له دې پسو څخه) موږ به یې تاته ثمن درکړو سره د یو څه غوښو، راعي ورته وویل چې پسونه زما نه دي زما د بادار دي چې زه یې مریی یم فکیف ابیعکم مال الغیر، اصحابو رض لپاره د تجربې د پوهنې دده ورته وویل چې پر موږ یې خرڅ کړه بادار که پوښتنه درڅخه وکړه ته ورته ووایه چې هغه پسه لېوانو وخوړی، راعي ورته وویل فاین الله؟ زه که درواغ ووایم خدای به چېري وي یعني خدای پر ما علم لري، صحابه کرامو رض ته دده جواب معقول ډېر خوند ورکړی صحابه رض چې مدینې منورې ته راستانه سوه ابن مسعود رض د مالک څخه هغه راعي مریی سره د اغنامو رانیوی سمدستي یې راعي مریی ازاد کړی او پسونه یې ټول هغه ته وروبخښل، نو ابن مسعود رض چې به کله هغه راعي ولیدی نو داسي به یې ورته وویل فاین الله.

درویش وایي: چې دا د مریي خبره فاین الله په اصطلاح کي د صوفیه کرامو مراقبه وایي، په دې مناسبت دا یو حکایت عجیب او غریب واورئ چې یو نبي له انبیاؤ څخه په یوه غره کي عبادت کاوه.

یوه سه: چې غرونه کراسي د انبیاء علیهم السلام دي الاترى ان النبي ﷺ قبل النبوة په غار حراء کي تعبد کاوه کما في صحيح البخاري، آیا ما مع الماء بقدر الضرورة والطعام ایضًا، یعني دومره اوبه او دوډی بې ورسره وړه چې دده به نیتو د اوسېدو په غار حراء کي او داغه رنګه لوی مشائخ کرام او اولیاء الله په غرو کي تعبد کاوه، تاسي ورسئ د هرات د ښار د مزاراتو مطالعه وکړئ چې ټول له یا په غرونو کي دي یا غرونو ته نژدې دي)

درویش وایي: چې دا جملې معترضه وې اوس بیرته د حکایت پر لور د هغه نبي چې په غره کي یې عبادت کاوه، راوي وایي چې نژدې و هغه نبي ته یوه جاري چینه وه، نو پر آس سپور سړي له هغې چینې څخه اوبه وڅښلې یو ګړی یې ارام وکړی د هغه فارس سره یوه همیانی وه چې په هغه کي زر دینار وه، همیانی یې په وخت کي د ارام د ملا څخه خلاصه کړه په وخت کي د تګ هغه همیانی څنې هېره سوې وه، بل سړي چې چینې ته راغلی همیانی چې یې ولیدل هغه یې یوړه، نبي دا ټول حالات مشاهده وکړه ولیدل، وروسته نو یو فقیر راغلی چې یوه پلنده بتمي یې ټول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړي وه او به يې وڅیښلې پر پوټی د استراحت لپاره، هغه اول فارس چي همياني يې د دې چينې سره ځني هېره سوې وه ډېره زمانه وروسته يې ورپه ياد سوه چي همياني خو ستا څخه پر هغه چينه پاته سوه بيرته را وګرځېدی چينې ته راغلی، هغه فقير پروت ؤ هغه ته يې وويل چي زما څخه دلته همياني هېره سوې ده، فقير ورته وويل چي ما خو همياني نه ده ليدلې او نه مي اخستې ده، همياني والا چي هر څه تلاشي وکړه د فقير په پلنده کي همياني نه سوه پيدا، نو فقير يې تر عذاب لاندي راوستی حتی چي مړ يې کړی، فقال ذالک النبي الٰهی همياني خو دغه فقير نه وه اخستې بلکې بل ظالم واخسته يعني تر مالک د همياني وروسته راغلی الٰهی تا دغه مالک د همياني مسلط کړی پر دغه بېچاره فقير باندي حتی چي ناحقه يې قتل کړی، نو خدای ﷻ نبي ؑ ته وحي راواستولې ان اشتغل بعبادتک يعني خپل عبادت کوه فليس معرفة سر هذه الواقعة اليک، نبي ؑ و خدای ﷻ ته التجاء وکړه چي ماهم په دې سر خبر کړې خدايه، وحي ورته راغلې چي دغه فقير پلار د هغه اول فارس چي همياني ځني پاته سوې وه وژلی ؤ ما هغه فارس ته قدرت ورکړی پر قصاص د پلار، او پلار د فارس اول زر دينار من مال آخذ السرقة فرددته اليه من ترکته، ذکر هذه القصة الامام الهمام ابو حامد محمد الغزالي ؒ، حافظ شيرازي ؒ وايي:

درگاه خانه که ره عقل و فضل نيست ..... فهم ضعيف درای فضولی چرا کند

يَرْزُقُ مَنْ يَشَآءُ

رزق ورکوي و هغه چا ته چي د خدای ؑ اراده ورته وسي يعني ما يشاء، نو خدای ؑ خاصه وي هر څوک د بندګانو څخه بنوع من البر علی ما اقتضته حکمته (څرنګه چي حکمت د خدای ؑ يې تقاضا کوي) او هر چا ته چي خدای ؑ رزق ورکوي من مؤمن و کافر و ذی روح لکه حيوانات بري او بحري فهو ممن يشاء الله ان يرزقه، د جعفر بن محمد څخه روايت دی چي لطف په رزق کي د دوو جهتو څخه دی (۱) انه جعل رزقک من الطيبات (ای الحلالات) (۲) والثاني انه تعالی لم يدفعه بمرة واحدة بل يرزقک تدريجًا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيزُ ﴿١٩﴾

او هغه الله ښکاره دی قدرت د ده غالب دی، څوک مانع د ارادې د ده نشي کېدلای، دا جمله حال ده.

مَنْ كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الْآخِرَةِ نَزِدْ لَهُ فِي حَرْثِهِ

د چا چي اراده وي کښت د اخرت، في القاموس و الحرث الكسب وجمع المال والزرع آه، والمراد ههنا ثواب الاخرة.

يوه سه: چي ثواب د آخرت يې مشابه کړی په کښت سره لانه ثمرة العمل في الدنيا ولهذا قيل الدنيا مزرعة الآخرة يا يې مشابه کړی د کسب سره فانه (اى ثواب الآخرة) يحصل بما كسب في الدنيا من اعمال الخير والطاعات.

"نزدله فی حرثه" موږ زياتوب کوو په کسب او په کښت د ده کي، ادنی مرتبه يې په يوه حسنه لس ضعفه ورکوم رفته رفته په سبب د اخلاص او نيت او وخت حتى چي (۷۰۰) قال الله عزوجل كمثل حبة انبتت سبع سنابل في كل سنبلة مائة حبة" لکه مثل د يوې دانې چي شنه کي اووه وږي په هر وږي کي سل دانې وي.

وَمَنْ كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ نَصِيبٍ ﴿٢٠﴾

که څوک اراده لري په طاعت سره برخه د دنيا يعني جاه و جلال او شهرت په دنيا کي لکه مرائي يعني رياء کار، موږ به د دينا يو شی ورکړو چي موږ د ده په قسمت کړی ؤ يعني هغه مخصوص شی هم نه چي ده غوښتنه کول، او نسته ده لره په اخرت کي د ثواب هيڅ برخه کلمه د من لپاره د استغراق د نفي ده، دا جمله عطف ده پر نؤتيه، په حديث متفق عليه کي د بخاري او مسلم له عمر بن الخطاب ﷺ څخه روايت دی، ده وويل قال رسول الله ﷺ انما الاعمال بالنيات (يعني ثواب د اعمال يعني له قسم څخه د طاعت، په نياتو پوري د عمل کونکو مربوط دی) وانما لکل امرئ ما نوی فمن كان هجرته (چي په هغه زمانه کي هجرت له مکې څخه مديني منورې ته فرض ؤ) الى الله ورسوله (يعني د خدای او رسول د رضا لپاره) فهجرته الى الله ورسوله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: کلمه د من شرطیه ده څرنګه شرط او جزاء سره یو ځای سوه؟

ځواب: په قید سره جلا کېږي یعني من کان نیته بالهجرة کذا و کذا فهجرته ثوابًا الی الله ورسوله، ومن کانت هجرته الی دنیا یصیبها، یعني چي انصار د مدینې د یوې مالي مرستې ورسره کوي، او امرئة یتزوجها (لکه مهاجر د ام قیس، یو سړی ؤ د ام قیس سره یې وعده کړې وه چي زه هجرت کوم مدینې ته که ته هم هجرت وکړې نو هورې ستا سره نکاح کوم، نو دې مهاجر لپاره د نکاح د ام قیس هجرت وکړی) فهجرته الی ماهاجر الیه (یعني ثواب د هجرت یې نسته)

او بغوي رحمه الله لہ ابی بن کعب رضی الله عنه څخه روایت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ بشر هذه الامة بالبناء والرفعة (دا یې عطف تفسیر دی) والنصرت والتمکین في الارض (دا دوهم عطف تفسیر دی) فمن عمل عمل الآخرة للدنیا لم یکن له نصیب في الآخرة.

اَمۡ لَهُمۡ شُرَكٰٓؤُا

آیا دوی لره، یعني اهل مکه لره شرکاء سته، کلمه د ام منقطعه ده په معنی د بل لانتقال الی مضمون آخر والهمزة للانکار لکه دوی چي دا زعم کوي، تخصیص د شرکاء چي یې په دوی سره وکړی لانهم اتخذوها شرکاء لله ﷻ في العبادة.

شَرَعُوۡا لَهُمۡ مِّنَ الدِّيۡنِ مَا لَمۡ يَاۡذَنۡۢ بِهِ اللّٰهُ

شرعوا (ای تلک الشرکاء شرعوا صفت د شرکاء دی) قال ابن عباس رضی الله عنه شرعوا دینًا غیر دین الاسلام یعني الشرک وانکار البعث والعمل للدنیا (ومعنی الانکار چي داسي خو نه ده لان شرکائهم جمادات.

پوهه: چي جمله د مالم یأذن به الله متصل ده بقوله شرع لکم من الدین.

وَلَوۡلَا كَلِمَةُ الۡفَصۡلِ لَقُضِىَ بَيۡنَهُمۡ

که نه وای کلمه یعني خبره د قضاء سابق الهي بتاخیر العذاب الی یوم القیامة، هرآئینه فیصله به سوې وای په منځ کي د مؤمنانو او کافرانو، او خدای به ځان فارغ کړی وای له تعذیب څخه د من کذبک یا محمد ﷺ.

پوښتنه: څه سر دی په قضاء سابق کي چي عذاب د کافرانو به تر ورځي د قیامت ملتوي وي او په (لقضی بینهم) سره کار ګذاري ونه سوه؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: كه عمل په لقضي بينهم په دنيا كي كړه سوى واى نو ايمان اضطراري كېدى او اضطراري ايمان خداى؟ ته مقبول نه دى او ايمان د مؤمنانو مشاهده كېدى والمعتبر عند الله الايمان بالغيب دى، وجه يې داده چي تعذيب د كافرانو خو په دوږخ سره دى نو سره د دوږخ د ليدلو بيا چا انكار كولاى سواى له اسلام څخه، ولهذا قيل لايدخل النار يعني للتابيد الا مؤمن اى مؤمن ذالك اليوم، او داغه رنګه كه قضاء په دنيا كي سوې واى ايمان د مسلمانانو له دائرې څخه د غيب و مشاهدې ته رسېدى وكلا الامرين مخالف للحكمة الالهية، والله اعلم بالصواب.

وَإِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ

او په تحقيق سره دى د ظالمانو لپاره (مراد ځني مشركان دي چي اعلى درجه ظالمان وه ولي چي معنى د ظلم وضع د شي ده بې ځايه ولا ظلم اعظم من ظلم المشركين حيث وضعوا معبوديت چي حق د خالق مطلق دى في الجمادات چي بتان دي) دوى لره دى عذاب درد وركونكى اى في الآخرة (اليم چي پر وزن د فعيل دى له بابه څخه د مجرد دى په معنى د مفعل دى يعني اسم فاعل له بابه د افعال) كما قول الشاعر:

امن ريحانة الداعى السميع .... يورقنى واصحابى هجوع

چي په شعر كي سميع په معنى د مسمع دى، ولهذا الشعر قصة طويلة.

نكته: اسم ظاهر يعني الظالمين په ځاى كي د ضمير راوړى يعني ولهم لپاره د تسجيل عليهم بالظلم.

فائده: مسلمان لره په كار ده چي په هر مشكل كي متوجه و خداى؟ ته اوسي ليندفع الشر وينعكس الامر، په حديث شريف كي راغلي دي چي سالم بن عوف؟ د ښمنانو په بند نيولى ؤ، نو پلار يې و عليه الصلوة والسلام ته راغلى د زوى قصه يې ورته وكړه، عليه الصلوة والسلام ورته وويل: اتق الله، واكثر من قول لاحول ولاقوة الا بالله ففعل فجاء ابنه بعد مدة ومعه مائة ابل، قال الحافظ الشيرازي؟:

سرور عالم نسيم بشارتي خوش داد .. كه كس هميشه بگيتي دژم نخواهد ماند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تَرَى الظّٰلِمِيْنَ مُشْفِقِيْنَ مِمَّا كَسَبُوْا

ته به وويني يا به ستا علم راسي ظالمان يعني المشركين يوم القيامة يعني چي دوی دوږخ ته ځي (مشفقين) خائفين چي بېرېږي به (مما كسبوا) اى من جزاء ما كسبوا في الدنيا من الشرک والمعاصي.

فائده: مشفقين مفعول ثاني دی د ترى كه رؤيت علمي وي مفعول اول الظالمين دی، يا حال دی د الظالمين څخه كه رؤيت بصري وي چي يو مفعول غواړي.

وَهُوَ وَاقِعٌۢ بِهِمْ

او هغه اى جزاء ما كسبوا كه دوی بېرېږي او كه نه جزاء د ما كسبوا پر دوی واقع ده دا حال مقدره بولي په نحو كي. نحو قوله تعالى چي كفار چي دوږخ ته داخل سي خالدين فيها يعني مقدر خلودهم فيها. دلته يې ترجمه داده مقدر وقوع الجزاء بهم.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِيْ رَوْضٰتِ الْجَنّٰتِ

او هغه كسان چي ايمان يې راوړی وي او اعمال صالحه يې هم كړي وي په باغو كي د جنتو به وي.

پوهه: چي روضات هغه ښو ښو ځايو ته د جنت وايي.

لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۗ ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ ﴿٢٢﴾

او دوی لره ثابت دي، له مايشاؤن څخه مراد ما يشتهونه من الحورات والثمرات وغيرها، په نېز د خدای ج د دوی (ذالک) اى ما ذكرت من روضات الجنات په تأويل د مذكور (تا چي صحيح سي تذكير د ذالک) دا كاميابي ده لويه يعني تر ټولو كاميابيو د دنيا لويه كاميابي ده.

ذٰلِكَ الَّذِيْ يُبَشِّرُ اللّٰهُ عِبَادَهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

دا ثواب مذكور زېری كوي خدای ج و خپلو هغو بندګانو ته چي ايمان يې راوړی وي او اعمال صالحه يې هم كړي وي. اللهم اجعلنا من اهل هذه البشارة بلطفه و كرمه .... بيت:

بضاعت نه اوردوام الا امید .... خدایا ز لطفم مکن ناامید

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اگرچه گفته اند:

کار نیکو کن اگر مزد نیکو میطلبی.... کن چراہر کہ نیکوتر، نیکو کار دہند

پوښتنه: الذي موصول دی او يبشر الله يې صله ده په صله کي خو عائد و موصول ته ضروري دی؟

ځواب: عائد و موصول ته خو ضروري دی که مذکور وي او که محذوف دلته محذوف دی، والتقدير يبشر به الله، وروسته يې حرف جر حذف کړی بيا يې ضمير عائد و موصول ته چي مجرور ؤ حذف کړی کما هو عادة العرب من التدريج في الحذف، روح المعاني وايي ولا مانع کما قال الشهاب من حذفهما معًا انتهى، او مظهري هيڅ اشاره نه ده ورته کړې، روح البيان اشاره ورته کړې ده سوال او جواب يې نه دی راوړی، في روح البيان: ای يبشرهم به على لسان النبي ﷺ انتهى، ايوبي په سوال او جواب سره راوړه.

قُلْ لَّآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِى الْقُرْبٰى

ته و وايه يا محمد و کفارو ته د مکې چي زه سوال نه کوم (يعني نه غواړم پر تبليغ د دين و تاسي ته او پر نور بشارت تاسي ته پر ايمان راوړلو باندي) اجرًا" ای نفعًا "چي په عرف کي مال ځني مراد دی" مگر نه محبت ستاسي "في القربىٰ "ای لقرابتي منکم، نو کلمه د في لپاره د سببية ده، کما ورد في الحديث النبوي" "ان امرئة دخلت النار في هرة" په سبب د پشي چي يو جنايت يې کړی ؤ ښځي دا وتړل نه يې ډوډی ورواچول او نه يې ايله کول چي خپله يو موږک ونسي او ځان په موړ کړي حتی چي پشي دې ښځي د لوږي مړه کړه والی هذا ذهب مجاهد وقتاده وجماعة، والخطاب يعني في لا اسئلکم اما لقريش على ما قيل چي قريشو يو څه مبلغ سره جمع کړی ؤ چي و عليه الصلوة والسلام ته يې په رشوت کي ورکړي چي ته زموږ خدايانو ته بد مه وايه يعني چي دا جمادات دي لاتنفع ولا تضر، يعني دا نقود به تاته فائده سي، و نزلت هذه الآية، او عليه الصلوة والسلام لره په ټولو قريشو کي قرابت ؤ، اخرج احمد والشيخان والترمذي وغيرهم عن ابن عباس رضي الله عنهما چي له ده څخه چا پوښتنه وکړه عن قوله تعالى الا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المودة في القربى فقال سعيد بن جبير قربى آل محمد ﷺ فقال ابن عباس رض يعني لسعيد بن جبير علجت (تلوار دي وكړى) ان النبي ﷺ لم يكن بطن من قريش (يو قوم د قريشو) الا وله قرابة فيهم، او يا ضمير و انصار ته راجع دى بناء على ما قيل چي انصارو عليه الصلوة والسلام ته څه مال راوړى يعني هغه وخت چي دى په مكه كي ؤ چي دى صرف كړي په خپلو خواهشو كي، نو دا آيت نازل سو نو عليه الصلوة والسلام مال ور رد كړى او عليه الصلوة والسلام لره قرابت ؤ په انصارو كي چي دده ماماګان وه فان ام عبد المطلب بنت زيد النجارية (يعني د بني النجار له قومه څخه وه) وكذا اخوال آمنه يعني ام رسول الله ﷺ) كانت على ما في بعض التواريخ من الانصار ايضًا، او يا خطاب و ټولو عربو ته دى لقرابته عليه منهم جميعًا في الجملة، والمعنى ان لم تعرفوا قدري لنبوتي وكوني رحمة عامة (وما ارسلناک الا رحمة للعالمين) ونعمة لامة فلا اقل الا مرد تي لاجل حق القرابة وصلة الرحم چي تاسي په هغه سره يعني په صله رحمي سره غمخوري كوئ.

درويش وايي: چي دا ټوله روايات تاسي واورېده وظاهر هذه الروايات ان الخطاب لقريش كما اخرجه سعيد بن منصور وعبد بن حميد والحاكم صححه ابن مردوية والبيهقي في الدلائل عن الشعبي قال اكثر الناس علينا في تفسير هذه الآية يعني لا اسئلكم الآية، نو موږ ابن عباس رض ته خط نوشته كړى ددې د تفسير لپاره، ده موږ ته داسي جواب راواستاوه چي ان رسول الله ﷺ كان وسط النسب في قريش ليس بطن من بطون قريش الا ولدوه يعني اما من جانب الاب ومن جانب الام، قال الله تعالى لا سئلكم عليه اجرًا يعني على التبليغ وايصال امر الله تعالى اليكم الا المودة في القربى يعني زما سره محبت وساتي لقرابتي منكم وتحقوني بها، قال البغوي رح قال قوم هذه الآية منسوخة، ولي چي دا آيت په مكه مكرمه كي نازل سوى دى چي كفارو د مكي عليه الصلوة والسلام ته ډېر اذيت ورساوه فانزل الله تعالى هذه الآية فامرهم، نو دوى يې امر كړه په مودة سره د رسول الله ﷺ په سبب د قرابت په دوى كي يعني په هر بطن كي د قريشو كما مر في حديث ابن عباس رض وروسته چي عليه الصلوة والسلام هجرت وكړى مديني منورې ته او انصارو ځاى وركړى او فوق العادة كومک يې ورسره وكړى، نو الله عزوجل دا اراده وكړه چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عليه الصلوة والسلام د نورو ورونو سره دده چي انبياء عليهم السلام دي چي د هغه نورو انبياؤ په باره کي دا آيت نازل سوی دی حيث قالوا "وما اسئلکم عليه من اجر يعني پر تبليغ د رسالت من اجر ان اجري الا على رب العالمين" فالآية الاولى يعني ما اسئلكم الا المودة في القربى، الاولى منسوخة په دغه آيت سره چي آنفًا ذکر سو، وايضًا په دې آيت هم منسوخ دی "قل لا اسئلکم عليه من اجر وما انا من المتكلفين" وغيرها من الآيات، والى هذا ذهب الضحاك بن مزاحم والحسين بن الفضل قال البغوي في الآخير وهذا قول غير مرضي لان مودة النبي ﷺ واقاربه وکف الاذى عنه وعن اقاربه فريضة محكمة لايحتمل النسخ لحديث انس رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لايؤمن احدكم حتى اكون احب اليه من والده وولده والناس اجمعين، او له حضرت انس رضي الله عنه څخه داسي حديث هم منقول دی چي درې خويه په سړي کي وي وجد بهن حلاوة الايمان (د ايمان خوند به ووينې) (۱) من كان الله ورسوله احب اليه مما سواهما (۲) چي څوک محبت د مؤمن بنده سره کوي د الله عزوجل لپاره (يعني محبت د بنده سره به نه وي مگر لپاره د خدای ﷻ مثلاً ښه عالم يا ښه عابد سړی دی يعني د نيايي غرض نه پکښي لري) (۳) ومن يكره ان يعود في الكفر بعد ان انقذه الله منه كما يكره ان يلقى في النار، روى الحديثين للبخاري ومسلم في الصحيحين وعلى هذا انعقد الاجماع انتهى قول البغوي.

درويش وايي: چي مظهري دا خبره پسي څېړلې ده حتى درې صفحې يې په ذکي کړي دي كما هو رأيه چي نقل يې موجب د تطويل بلا فائدة دی نو ځکه درويش هغه صرف نظر کړی.

وَمَن يَقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهُ فِيهَا حُسْنًا ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٢٣﴾

څوک چي فعل د يو ښه خصلت وکړي، مظهري وايي چي مراد له دې څخه حب رسول الله ﷺ وحب آله او محبت د نائبانو دده لکه خلفاء راشدين رضي الله عنهم. ولي که دا نه وي مراد نو دا جمله د سابق سره ارتباط نه لري يعني قوله تعالى "الا المودة في القربى" لکن لفظ يې عام دی ټولو حسناتو ته شامل دی لکن محبت رسول الله ﷺ وآله په دخول اولى پکښي داخل دی، او روح البيان وايي چي اية حسنة كانت سيمًا حب رسول الله وحب آله. او ابن عباس رضي الله عنه يوازي محبت د قرابت د عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام مراد کړی دی "نزدله فیها حسنًا" ای مضاعفة الثواب فیها بای معنی کانت اقتراف الحسنة وقیل نزلت هذه الآیة في ابی بکر رضی الله عنه لغایة حب رسول اللہ ﷺ وقوله ای ابو بکر رضی الله عنه ارتبقوا محمدًا في آله (ان الله غفور شکور) یغفر ذنوب من یحب رسوله وآله وکذا لک غفور لکل من تاب عن معصیة، او شکور دی لمن لمن تاب عن معصیة، یا معنی داده چي ثواب ورکوي پر طاعت او پر محبت د آل الرسول، والثاني هو الاولی لئلا یلزم التکرار في غفور و شکور کما لایخفی.

قال الجامي:

بصـــدق و صفا همی گویند جامی ..... غـــلام غلامان آل محمد

بیت: هر دم از ما صد درود وسلام ..... بر روان پاک آنحضرت مدام

بیت: حسن را خاتمه بر خیر گردان ..... بحق مـــصطفی و چار یاران

دو بیت معنوي:

لسعت حیة الهوی کبدی ..... فلا طبیب لها ولا راق

الا الحبیب الذی شغفت به ..... فعنده رقیتی وتریاقی

ترجمه: لسع: د زهري حیوان لکه لړم مار خوړلو ته وایي، وحاصل معنی البیت، وخوړل مار د عشق حقیقي.

پوه سه: چي اضافة د حیة الهوی اضافت د مشبه به دی و مشبه ته یعني هغه عشق حقیقي لکه مار داسي دی یعني سړی بېقراره کوي، نو نه طبیب سته د دغي هوی او نه دم کونکی. مګر نه هغه حبیب چي زه پر عاشق یم (د شغف معنی سخت عشق دی چي عشق حقیقي دی) نو په نېز د هغه حبیب زما د مار خوړلو دم دی (د رقیقة معنی دم دی پر مار خوړلي باندي) او په نېز د هغه حبیب زما تریاق دی، تریاق یوه مرکب دوا ده چي د ماریا لړم خوړلي لپاره دوا ده.

درویش وایي: چي پر هامش د مکتوبات لمجدد الالف الثاني الشیخ احمد السرهندي قدس سره دغه دواړه بیتونه موجود دي، که څه هم د مکتوبات په نسخه کي صرف دغه عبارت راغلی دی "فلا طبیب لها ولا راق" په هامش کي د مکتوبات داسي روایت راغلی دی چي علیه الصلوة والسلام د یوه صحرایي څخه دغه دوه بیته واورېده او امریې کړی په تکرار سره، والله اعلم بالصواب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي دا حکايت او دوه بيته ما په مناسبت د محبت د رسول الله ﷺ او د اولاد دده راوړل.

اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا

بوه سه: چي کلمه د ام منقطعه ده او دا جمله متصله ده په هغه جمله پوري "قل لا اسئلکم عليه اجرًا" او ام په معنی د بل دی، کلمه د بل لپاره د انتقال ده من مضمون الی اخر، او همزه يې لپاره د انکار او توبيخ دی، والمعنی بل ايقولون کفار مکة (افتری علی الله کذبًا) دروغ وايي محمد (ﷺ) په دعوی کي د نبوت من جانب الله دی، يا قرآن منزل من جانب الله بولي.

فَاِنْ يَّشَاِ اللّٰهُ يَخْتِمْ عَلٰى قَلْبِكَ

که د خدای اراده وای ستا پر زړه باندي به يې مهر لګولی وای.

بوه سه: چي دا جمله معترضه ده ددې لپاره يې راوړه چي دا بعيده خبره ده چي تا غوندي سړی دي افتراء پر خدای وايي، ولي چي افتراء پر خدای هغه څوک وايي چي مختوم علی قلبه وي جاهلاً بربه، فاما من کان ذا بصيرة و معرفة بربه، هغه پر خدای افتراء نه وايي کانه قال ان اراد الله خذلانک ستا ناکامي په دې دعوی کي د نبوت، نو ستا پر زړه به مهر در لګولی وای تا چي ته دلاوره سې پر افتراء علی الله، واذ ليس فليس، او مجاهد وايي: يربط علی قلبک بالعبر حتی لايشق عليک اذاهم وقولهم انک مفتر، او قتاده وايي که د خدای اراده وای ستا پر زړه به يې مهر لګولی وای او دا چي کفار وايي چي دا قرآن افتراء علی الله دی او محمد (ﷺ) يې له ځانه جوړوي، دا قرآن به يې له تا څخه هېر کړی وای، نو حاصل دا دی چي ته چي مسلسل دا قرآن وايي او احکام او معاني يې و خلکو ته بيانوې، نو ته مفتر نه يې بلکي رسول برحق يې او قرآن منزل من عند الله دی.

وَيَمْحُ اللّٰهُ الْبَاطِلَ وَيُحِقُّ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ

دا جمله مستأنفه ده لنفي الافتراء عما يقوله محمد ﷺ بانه لو کان ما يقوله محمد ﷺ خدای به محوه کړي وای اذ من عادته عزوجل محو الباطل و اثبات الحق.

بوه سه: چي د کلمات تفسير چا په وحي سره کړي دي او بعض په قضاء سره کړي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دي او چا په وعده سره کړي دي يعني خداى ﷻ وعده کړې ده چي باطل به محو کېږي لکه شرک او اثبات د حق به کېږي په قرآن سره يا په قضاء د خداى الذي لامرد له.

إِنَّهُ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٢٤﴾

په تحقيق خداى ښه خبر دى په هغه څه چي د خلکو په سينو کي وي يعني په زړو کي وي.

وَهُوَ الَّذِي يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ

او خداى هغه مهربان ذات دى چي قبلوي توبه د خپلو بندګانو څخه که توبه له کفر څخه وي او که له نورو ګنهو څخه وي.

پوه سه: چي توبه په لغت کي مطلق رجوع ته وايي، او په شرع کي قيل التوبة ترک المعاصي نية وفعلاً والاقبال على الطاعة نية وفعلاً، او سهل بن عبد الله وايي: التوبة الانتقال من الافعال والاحوال المذمومة الى الافعال والاحوال المحمودة ومآلها واحد، او بيضاوي د علي ﷺ څخه روايت کوي چي لفظ د توبه په شپږو شيانو پوري مربوط دى (۱) پر تېرو سوو ګنهونو باندي پښېماني (۲) د ضائع کړل سوو عبادتونو لکه لمونځونه روژې راګرځول (۳) او د مظالمو رد يا عفو له مظلوم څخه غوښتل (۴) اذابة النفس في الطاعة: ويلول دي د ځان په طاعت کي لکه ده چي ويلي کړى وُ په معصيت کي (۵) تلخګي د طاعت به برداشتوي لکه ده چي خوند اخستى وُ پر معصيت (۶) البكاء بدل الضحک وقت المعاصي.

درويش وايي: چي داسي توبه د اولياء الله توبه ده، او بغوي په شرح السنة کي له ابن مسعود څخه روايت کړى دى: الندم التوبة والتائب من الذنب كمن لا ذنب له. فقير وايي چي دا سهل او اسانه معنى د توبې ده.

درويش وايي: چي الله عزوجل په توبه د خپل بنده په سبب د غايت رحم ډېر خوشحاله کېږي، چنانچه مسلم له انس بن مالک ﷺ څخه روايت کړى دى قال قال رسول الله ﷺ الله اشد فرحا بتوبة عبده حين يتوب اليه من احد كم (الله عزوجل سخت او ډېر خوشحاله کېږي په توبه د خپل بنده هغه وخت چي بنده خداى ﷻ ته توبه وکاږي له يوه ستاسي څخه) كان راحلته بارض فلاة عليها طعامه وشرابه (چي وي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راحله يعني اوښه دده په داسي مځکه کي دبښت و بيابان وي چي پر هغه اوښه دده دوډۍ او اوبه وي) په بل روايت کي راغلي دي چي ده اوښه چوکه کړې وه او د ګرمۍ له کبله د يوې درختي لاندي پرېوتی پيده سو، د اوښي ګوده چونکه ده نه وه تړلې نو اوښه د باره سره و ځنګه ته د خورک لپاره ولاړه دی چي ويښ سو ستړی سوی هم ؤ چي وې کتله اوښه نه معلومېږي. هذا ما في رواية اخرى، نو هر څه طلب چي يې وکړی له اوښي نااميده سو، نو يې د ځان سره فکر وواهه چي تر هغې درختي لاندي به پرېوځي تر څو چي مري د تندي له سببه. په دې دوران کي چي دی د مرګ په انتظار ؤ بيده سوی ؤ چي راکښېښتی اوښه يې سره د طعام او شرابو سر ته چوکه ده، اوښه يې تر مهار ټينګه کړه او د ډېري خوشحالي يې داسي وويل: اللهم انت عبدي وانا ربک (ته زما بنده يې زه دي رب يم) يعني خوله يې خطا وتل، دده خيال خو دا ؤ چي داسي ووايي اللهم انت ربي وانا عبدک لشدة الفرح.

درويش وايي: چي په لږ تفاوت د الفاظو البغويؒ هم روايت کړی دی په خپل سند له حارث بن سويد څخه چي دی وايي چي عبد الله چي مريض ؤ د پوښتني لپاره ورغلی ؤ هغه وويل چي سمعت رسول الله ﷺ ثم ساق الحديث المذکور بادنی تفاوت في الالفاظ وروی مسلم عن ابی هريرة ؓ قال قال رسول الله ﷺ ان العبد اذا اعترف بذنبه (چي بنده اقرار وکړي په خپله ګناه سره) ثم تاب. تاب الله عليه، متفق عليه، نو خدای ﷻ يې توبه قبلوي.

فائده: په دې حديث کي د توبې نسبت و بنده ته هم وسو او خدای ؒ ته هم سبب يې دا دی چي اصل معنی د توبې رجوع ده چي بنده ته يې نسبت وسي معنی يې رجوع له معصيت څخه و طاعت ته او چي خدای پاک ته يې نسبت وکړل سي معنا يې رجوع ده له عقوبت څخه و مغفرت ته. له ابن عباس ؓ څخه روايت دی چي توبه عامه ده للمؤمن يعني العاصي چي له عصيانه توبه وکاږي والکافر چي له کفره توبه وکاږي) والولي والعدو (له ولي څخه مؤمن مراد دی له عدو څخه کافر مراد دی) وقال السري السقطي ؒ چي توبه حقيقي دا ده چي يوه ګناه چي سړی وکړي مثلاً زنی وروسته توبه وکاږي نو چي بل وخت هغه ګناه وربياد سي په زړه کي خوند د هغې ګناه نه ورکرځېږي بلکي کراهت د فعل يې په زړه کي پيدا سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نصیحت: په توبه کي تلوار په کار دی من یوم الی غد ته دې نه ځنډوي . بیت:

توبه بکن امروز توبہ مگو پردا کنم ... شاید بمیری صبحدم فردا نیابی در شمر

وروی عبد العزیز ابن اسماعیل یعني قال رسول اللهﷺ یقول .. (تعجب دی و حال ته د بني آدم) یذنب الذنب ثم یستغفر (ای بعد الندم علی الذنب) فاغفرله لاهو یترک ذنوبه ولا هو ییاس من رحمتي (نه دي نا امیده کېږي له رحمت څخه زما) بالندم والاستغفار اشهدکم (یعني یا ملائکتي) اني قد غفرت له.

فائده: که چا د توبې پر شرائطو برابره توبه وکښل وروسته یې په دې کي شک ؤ چي زما توبه به خدای قبوله کړې وي او که نه، نو دا شک یې ګناه کبیره ده لان الله تعالی قد قال في مواضع عدیدة ان الله هو التواب الرحیم.

امیان وایي: خدای دي مو توبه قبوله کړي، دا خواست غلط دی، داسي باید ووایي خدای ﷻ دي د توبې توفیق راکړي، لان قبول الله التوبة موعود من الله.

پوه سه: چي توبه د خولې شی یوازي نه ده لکه عوام چي وایي توبه مي ده خدایه بلکي هغه شرائط لري چي یو له هغو څخه الندم بالقلب دی.

پوه سه: چي یو سړي که ګناه کول وروسته له هغې ګناه کولو څخه عاجزه سو وروسته ووایي چي زما توبه ده، دا توبه د عجز ده، مثلاً یو سړی غلا وي کوي د خلګو کورو ته ورلوېږي، وروسته په سترګو ړوند سي یا شل سي بیا وایي چي خدایه زما توبه ده له غلا څخه، دا توبه نه ده داسي توبه خو فرعون هم وکښه چي په دریاب کي غرق سو او اوبو پورته کړی ده داسي وویل لا الہ الا الله الذي آمنت به بنو اسرائیل یعني توبه یې وکښل، دې قول ته توبه د ایاس وایي، په یوه حدیث کي راغلي دي چي: الله افرح بتوبة العبد (هر آئینه خدای ﷻ ډېر زیات خوشحاله کېږي په توبه د بنده) من المضل الواجد (د یو چا څخه چي شی ورک سي او پیدا یې کړي) ومن العقیم الوالد (چي د سړي عیال نه کېږي ډېره زمانه، یعني وچ وي او والد وګرځي یعني عیال خدای ورکړي) ومن الظمآن الوارد (تر ډېر تږي چي اوبو ته ورسېږي)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَ یَعۡفُوۡا عَنِ السَّیِّاٰتِ

او خدای پاک عفو کوي د ګنهو صغیرها و کبیرها بالتوبة وبلا توبة لمن شاء، بخاري او مسلم له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ قال رجل لاهله (یعني چي هیڅ کار د خیر یې نه ؤ کړی خپلو قریبانو ته یې وویل) اذا مات فحرقوه (چي دی مړ سي یعني زه مړ سم ما په اور وسوځئ، بیا نیمایي د ایرو مي په دریاب کي وپاشئ او نیمایي په وچه کي) فو الله لئن قدر الله علیه (قسم دی زما په خدای که خدای قادر سو پر ما)

سوال: د دې سړي خو د خدای جل جلاله په قدرت تامه کي شک ؤ، نو دا سړی خو مسلمان نه ؤ؟

ځواب: دا سړی امي ؤ په دې جهل او شک کي معذور دی.

لیعذبنه عذابًا لایعذبه احدًا من العالمین (خامخا به عذاب ور کړي ده ته دومره عذاب چي هیڅ چا ته یې د عالمیانو به دومره عذاب نه وي ور کړی) فلما مات (نو څه وخت چي هغه سړی مړ سو ورثه ؤ یې دده وصیت پر ځای کړی یعني و یې سو او په بحر او بر کي یې دده ایرې وپاشلې، نو خدای پاک دریاب امر کړی فجمع ما فیه (دریاب هغه دده ایرې راجمع کړې، او بر یې امر کړی هغه هم ایرې راجمع کړې ما فیه) نو هغه سړي ته خدای جل جلاله وویل چي دا کار دي ولي وکړی؟ قال من خشیتک یا رب (ستا له ېېري څخه ای زما ربه) وانت اعلم (او ته زما په حال ښه خبر یې) فغفرله، وروی احمد عن ابی الدرداء رضی الله عنه انه سمع النبي ﷺ یقول علی المنبر یعني پر منبر ولاړ ؤ داسي یې وویل: ولمن خاف مقام ربه جنتان (هغه چا لره چي بېرېږي له دریدو څخه و خدای ته یعني په ورځ د قیامت دوه جنته دي) ابو الدرداء رض وایي ما ورته وویل وان زنٰی وان سرق یا رسول الله، بیا دوهم وار علیه الصلوة والسلام هغه آیت مکرر کړی، بیا ما دوهم وار ورته وویل وان زنٰی وان سرق یا رسول الله؟ بیا دریم وار رسول الله ﷺ هغه آیت تلاوت وکړی، ابو درداء رض وایي چي بیا ما ورته وویل وان زنٰی وان سرق یا رسول الله؟ فقال وان رغم انف ابی الدرداء، که څه هم پزه د ابو الدرداء په خاورو کښېږي. فقیر وایي چي دا یوه مقوله ده چي عرب یې په ذلت کي استعمالوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ﴿٢٥﴾

او خدای علم لري پر کارو چي تاسي يې فعل کوئ، يعني من الطاعة و العصيان، په يوه روايت کي راغلي دي چي يو سړي د الدينوري څخه پوښتنه وکړه "ما اصنع فكلما وقفت على المولى صرفني البلوى (زه څرنګه وکړم حتی چي زه هر وخت ودريږم پر دروازې د مولی يعني د خدای ﷻ زما څخه بلوئی نه دفع کوي) دينوري ورته وويل: كن كالصبي مع امه فكلما ضربته يجزع بين يديها ويتضرع فلا يزال كك حتى تضمه اليها، ترجمه: او سه د خدای ﷻ سره لکه کوچنی د مور سره چي مور هر وار چي دا خپل زوی په چپلاخه مثلاً ووهي کوچنی ورته ژاړي مورته عجز کوي، رفته رفته مهربانه موريې اخير په غېږ کي ونيسي نو هغه د کوچني مقصد که يې تی غوښتی که يې ډوډۍ وغيره غوښتل ورته حاصل کړي، په يوه صحيح حديث کي راغلي دي چي بعض ګناه کاران لاسونه پورته کړي خدای ﷻ ته يعني دعاء د مغفرت د ګنهو څني کوي فلا ينظر اليه بالرحمة يعني خواست يې نه کړي قبول ثم يدعوا ثانيًا فيعرض عنه بيا په نظر د رحمت نه ورته ګوري، دريمه پلا بيا زاری او عجز ورته وکړي، نو خدای ﷻ ملکو ته وو ايي: يا ملايكتي قد استحيت من عبدي وليس له رب غيري فقد غفرت له، ما بخښلی دی.

درويش وايي: چي حياء په جناب کي د خدای ﷻ مجاز دی، وقد مر بيانه في سورة البقرة في تفسير قوله تعالى ان الله لا يستحيي ان يضرب مثلاً الى اخير الآية... بيت

کرم بين ولطف خداوندگار ..... گنه بنده کرده است واو شرمسار

بايزيد البسطامي قدس سره سلطان العارفين په يوه مناجات کي و خدای ﷻ ته داسي د عجز بيت ويلی دی:

چهار چيز اورده ايم شاها که در گنج تو نيست
عـاجـزی و مسـکينی فقر و گناه اورده ايم

درويش په خپل وار خدای ﷻ ته دا بيتونه وايي:

الهـی يـا الهـی يا الهی ..... ندارم جـز اميدت تکيه گاهی
نـدارم تـوشـۀ راه قيامت ..... بجز شـرمـندگی و روسـياهی

Maktaba Tul Ishaat.com		Scanned by CamScanner

ندارم طاعت مقبول درگاه ..... اشـــک نـدامـت آه آهی
شفیع آورده ایم روئ محمد ..... مرا از ذنب خود کن عذر خواهی
بحق و حرمت فـرقان اعظم ..... کـرم کـن بر من گم کرده راهی

وَيَسْتَجِيبُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

دا جمله عطف ده پر يقبل. قبلوي خواست د هغو کسانو چي ايمان يې راوړی وي او اعمال صالحه يې هم کړي وي که مالي وي او که بدني وي، که ظاهري وي او که باطني وي.

سوال: يستجيب خو متعدي بنفسه نه دی، نو دلته يې څرنګه متعدي بنفسه ګرځولی دی و الذين ته؟

ځواب: لام جاره ورسره محذوف دی کما في قوله تعالی واذا کانوهم ای کانوا لهم، او عطاء" د ابن عباس" څخه روايت کړی دی چي معنی د آيت يې داسي کړې ده "ويثبت الذين آمنوا بالقول الثابت" الی اخيره، او بيضاوي" وايي چي معنی د استجابة الاثابت علی الطاعت.

وَيَزِيدُهُمْ مِنْ فَضْلِهِ ۚ وَالْكَافِرُونَ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ۝

او ورکوي خدای پاک دوی ته زائد پر هغه شي چي دوی يې خواست کاوه يا يې دوی مستحق وه، او ابو صالح" له ابن عباس" څخه روايت کړی دی چي د يستجيب معنی ده "يستجيب الذين آه" چي د دوی شفاعت قبلوي په اخوان کي د دوی او يزيدهم من فضله چي شفاعت د دوی په اخوان الاخوان کي، او کافرانو لره دی عذاب سخت.

پوه سه: چي مراد له شدت څخه شدت في نفسه دی او يا معنی دا ده چي نسبت و بعضو مؤمنانو ته که چېري وکړل سي لکن عذاب دومره نه وي لکه د کافر في الکم والکيف فتأمل، دا جمله عطف ده پر هو الذي يقبل التوبة.

پوښتنه: بعض کسان خدای ته په عاجزی، درخواستونه وکړي لکن خواست يې نه وي قبول سوی يعني هغه شی چي ده له خدايه غوښتی وي هغه په لاس نه وي ورغلی؟

ځواب: (۱) په صحيح حديث کي راغلي دي چي سعد بن وقاص و عليه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام ته وویل چي ته خدای ته خواست وکړه چي زما خواست دي قبلوي، علیه الصلوٰة والسلام ده ته وویل یا سعد اجتنب الحرام فان کل بطن دخله لقمة من الحرام لایستجاب دعوته اربعین یومًا (ای سعده له حرامو څخه اجتناب وکړه، ولي چي یوه ګوله د حرام که چېري د چا نس ته داخله سي، نو څلوېښت ورځي به د هغه دعاء نه قبلېږي) (۲) او په بل صحیح حدیث کي راغلي دي چي ان الرجل یطیل السفر ای في طریق (لکه مثلاً حج یا عمرې ته روان وي) اشعث (سرېي بېروي) اغبر (پښېي پېي سپېرې وي) یقول یا رب (یعني د یو شي خواست خدای ته کوي) لاسونه یې د اسمان و خوا ته پورته نیولي وي) و مطعمه حرام و شربه حرام (د خوراک او څیښاک شی یې حرام وي) وغذا بالحرام (او غذاء یې له حرامو څخه وي) فاني یستجاب لذالک الرجل دعائه (نو چېري به قبلونه وسي د دغه سړي د دعاء)

په تفسیر بحر العلوم کي وایي چي د نیابت د اجابت مضامین ټول له مسلم دي او مقبول دي، ولي چي آیتونه پر دې دلالت کوي چي د مطیع لربه خواستونه ټول مقبول دي علی کل حال، او دا نه ده لازمه ان یستجاب لکل مؤمن فان بعض الذنوب یمنع الاستجابة ویرد الدعوت کما اذا کان المطعوم والمشروب حرامًا والقلب لاهیًا غافلاً، یعني دعاء یې صرف په خوله وي زړه یې غافل په لهو کارو کي فکروهي په خوله دعاء کوي.

درویش وایي: چي په نننی زمانه کي دعاء پر شرطو د استجابت ډېره نادره ده الا من بعض اولیاء الله والخواص من العباد لان اکل الحرام لایخلو عنه الا من شذ وندر.

(۲) ځواب: د عمومي خلکو دا خیال دی چي قبلونه د دعاء فقط دا ده چي هغه شي چي ده غوښتی له خدای څخه هغه شی خدای ورکړي لکن استجابت په دغه کي حصر نه دی، ګاهي یو بنده یو شی له خدایه غواړي مثلاً چي ماته یو ښه موټر د سپرلي لپاره راکړې خدای پاک د هغه په عوض کي تر هغه ښه شي ورکړي، مثلاً ښه صالح عالم زوی خدای ورکړي، او ګاهي یو سړی له خدایه زوی غواړي لکن په علم د خدای زوی دده لپاره شر وي، خدای په عوض کي د هغه یو شر چي ده ته متوجه وي ځني دفع کړي مثلاً یو دښمن چي دده د قتل نیت یې کړی وي د زړه یې ځني وباسي.

(۳) ځواب: د بعضو دعاګانو د اجابت خدای پاک دده لپاره ذخیره وګرځوي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د آخرت، کما ورد چي په ورځ د قيامت بعض مؤمنان چي خپل جنت ته ورسي جنت تر خپلو اعمال صالحه ؤ ډېر بالا په خيال ورسي، ولي په جنت کي د هر عمل صالح عوض جلا دی، نو ددې سړي چي په جنت کي دده تر عمل بالا شيان په خيال ورسي من قصور و غلمان وحور، نو دی په جناب کي د رب العزة پوښتنه وکړي چي دا بالا شيان زما لپاره په جنت کي د څه سببه دي، خدای پاک ورته ووايي چي دا بالا بود شيان له دې کبله دي چي تا به ماته خواستونه کول يعني د دنيا د يو شي چي هغه کار په ذخيره په جنت کي درته درکړل سو، نو هغه داسي تمنا وکړي چي کاشکي په دنيا کي زما غوښې خلکو په غچيو پرې کولای او ما خدای ته خواست کولای او هغه خدای ته قبلولای او د اخيرت لپاره يې ذخيره کولای.

(۴) څلورم ځواب: که څوک اطاعت د خدای د امر نهي وکړي يعني استجابت د خدای د دعوت وکړي، خدای به دده استجابت کړی وای.

(۵) پنځم ځواب: علماء وايي چي استجابت د دعاء ګاهي طول زمان غواړي په علم کي د خدای لکن داعي يې ژر غواړي نو چي خدای د داعي مطلوب بالدعاء شی ده ته نه کړي ور، نو دی وايي زما دعاء قبوله نه سوله، فقير وايي الی غيره من الجوابات، حاصل دا دی چي روايت سوی دی چي دعاء او عجز و خدای ته عبادت دی کما ورد في الحديث الصحيح "الدعاء مخ العبادة" نو مسلمان ته په کار ده چي د يو ادنٰی شي چي محتاج سي د الله عزوجل څخه دې غواړي د مخلوق طمع دي له زه څخه وباسي، د ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی قال قال النبي ﷺ ان الله يغضب على من لا يسئله ولا يفعل ذالک احد غيره تعالی، انتهی.

وَلَوْ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهٖ

که خدای ﷻ فراخه کړي رزق و خپلو بندګانو ته، چي مراد ځني مؤمنان دي، البغوي وايي چي خباب بن الارت وايي چي دا آيت په موږ يعني مساکينو کي نازل سوی دی، ولي چي موږ به و کتل بني قريضه او بني النضير او بني قنقاع ته چي د يهودانو د درو قبيلو نومان دي، يعني چي دا قبيلې په عيش کي د دنيا وې، نو موږ مساکينو هم دا تمنا وکړه چي کاشکي موږ هم په ورته عيش او نوش کي وای، فنزلت هذه الآية ولو بسط الله الرزق لعباده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَبَغَوْا فِي الْأَرْضِ

دوی به تکبر او فساد کړی وای په مځکه کي يعني لبغي بعضهم على بعض استيلاءً واستعلاءً، قال ابن عباس رضي الله عنه بغيهم طلبهم منزلة بعد منزلة ومركبا بعد مركب وملبسا بعد ملبس كما هو عادة الاغنياء في الدنيا خصوصا الكفرة.

پوه سه: چي اصل بغي تجاوز دی تر حد د اعتدال او اقتصاد فيما يتجرى كمية وكيفية.

پوه سه: چي لزوم د بغي پر بسط باندي بناء پر غالب دی، والا فقد يكون فقيرا متكبرا وظالما لكن البغوي مع الكبر اقل، ولي چي فقر يې اكثر سبب د انكسار دی والبغي في الاكثر مؤدي الى البغي، حسين كاشفي وايي: واين در غالب است كه ذى النورين رضي الله عنه مالدارترين مردم بود بروگز ايشان بغي وطغيان ظاهر نه شد، و گفته اند مال دنيا بمثال باران است كه بر تمام زمين ميبارد و از هر قطعه ازان گياه ديگر رويد ... بيت:

باران كه در لطافت طبعش خلاف نيست .... در باغ لاله رويد ودر شوره بوم

قال عليه الصلوة والسلام: هغه ډېر چي زه ېرېږم پر امت خپل زهرة الدنيا وكثرتها.

ع:.... نفس را بد خونباز ونعمت دنيا مكن.

وَلٰكِنْ يُّنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَآءُ ۚ اِنَّهٗ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرٌۢ بَصِيْرٌ ۝

خدای تعالیٰ نازلوي ارزاق ددوی په اندازه د حکمت خپل چي و غواړي، په تحقيق خدای پاک په خپلو بندګانو سره ښه خبر دی او ليدونکی دی چي ددوی پټ احوال ورته معلوم دي، او مآل د امورو ددوی هم ورته معلوم دی (كلمه د ما موصوله ده مفعول به ده د ينزل، و بقدر حال دی منه مقدم عليه)

فائده: اخرج الحاكم وصححه چي دا آيت په اصحاب صفه ؤ کي نازل سوی دی چي فقراء د مسلمانانو وه او په صفه کي د مسجد نبوي به او سېدل دوی به ويل: لو ان لنا اموالا فتمنوا الغنى، وهذا حديث مروي عن علي كرم الله وجهه.

درويش وايي: چي مظهري د بغوي رحمه الله يو طويل حديث را نقل کړی دی چي ډېر متشابهات عبارات پکښي دي چي مبتدي بلکي ډېر ملايان يې په تأويل نه پوهېږي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو فقير له دې كبله نه كړي را نقل چي مطالعه كونكي د تفسير ايوبي د نفع اخستلو په ځای كي واقع نه سي، انما الاعمال بالنيات، حديث في صحيح البخاري فافهم.

پوښتنه: ته خو يې په تأويل سره خبر يې، نو ته يې تأويل وكړه؟

ځواب: زه خو يې په خپله تأويل نه سم كولای البته د متأخرينو له كتابو څخه به يې تأويلونه را نقل كوم، زه په خپله ډېر يرېږم چي غلط تأويل را څخه ونسي، ولي د متأخرينو په كتابو كي مختلف تأويلات د مذكوره حديث كړل سوي دي، زه كوم تأويل را نقل كړم، يا دا چي مطالعه كونكو ته د تفسير ايوبي څه ګټه نه لري.. بيت:

نه مجتهد يم، نه قاضي يم، نه مفتي .... خوشه چين د كتابو د اهل تفسير يم

حاصل دا چي لوی بار بايد څوک نه كړي په شا امكان لري چي ملا يې ماته كړي.... بيت:

آ‌ئے تھے ہم مثل بلبل سیر گلشن کر چلے .... دیکھ مالی باغ اپنا ہم تو اپنے گھر چلے

وَهُوَ الَّذِي يُنَزِّلُ الْغَيْثَ

خدای هغه مقتدر خدای دی چي نازلوي باران.

بوه سه: چي غيث هغه نافع باران ته وايي چي خلک وساتي له جدت څخه ای القحط.

بوه سه: چي جمله د وهو الذي عطف ده پر وهو الذي يقبل التوبة آه باندي، او په مابين كي جمله شرطيه يعني ولو بسط الله آه جمله معترضه ده.

مِنْ بَعْدِ مَا قَنَطُوا وَيَنْشُرُ رَحْمَتَهُ وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ ﴿٢٨﴾

چي خلک له نزول څخه د باران نا اميده سوي وي... بيت:

چہ خوش باشد کہ بعد از انتظاری .... باميد رسد اميد واری

"وينشر رحمته" او وېشي پر خلكو خپل رحمت چي باران دی يا مراد له رحمت څخه رزق دی په سهل ځمكه كي او په غرو او ښاره ځمكو كي من النباتات للانس والحيوانات "وهو الولي الحميد" "خدای" دی چي تولی او تصرف كوي د خپل مخلوق په احسان سره او په نشر د باران، او خدای مستحق د حمد دی في ذاته وعلى احسانه، يعني اولاً خدای مستحق د حمد دی في ذاته ولو لم يجده احد او بيا په احسان سره، روی عن عمر ﷺ چي چا ورته وويل: اشتد القحط

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وقنط الناس (سخته سوه كاختي د باران او خلگ هم نا اميده سوه له باران څخه) فقال مطروا اذن (باران به وسي چي قحط سخت سو، او خلگ نا اميده سوه واشار الى هذه الآية.. مثنوي معنوي:

تا فرو د آيد بلائي دافعي .... چون نباشد از تضرع شافعي

تا سقاهم و بهم آيد خطاب .... تشنه باش والله اعلم بالصواب

وفي الحديث القدسي: لو ان عبادي اطاعوني سقيتهم المطر ليلاً (زه پر اوروم باران د شپې، يعني دوى به غمه خپل خوب وكړي او كالي يې په اوبو لانده نه سي) واطلعتم الشمس (او پر دوى را خېژوم لمر د ورځي تاچي خپل كار او كسب وكړي، تجارت، مزدوري، دكانداري وغيره) وما اسمعتم (او زه په دوى د تالندي اواز نه اورم، ولي چي دوى به د تالندي د رېغ په وخت كي په خواړه خوب بيده وي) وجاء في الحديث الصحيح المرفوع: ما من سنة بامطر من الاخرى (نسته يو كال چي ډېر باران دي پكښي اوري تر بل كال) لكن اذا عمل قوم بالمعاصي حول الله ذالك الى غيرهم (لكن چي عمل وكړي يو قوم د ګنهو خداى دغه حصه باران ددوى وبل چاته واړوي) فاذا عصوا جميعًا صرف الله ذالك الى الضيافي والبحار (او چي ټوله په عصيان اخته وي خداى هغه ددوى برخه باران واړوي و بيابانو او دريابو ته)

درويش وايي: چي صاحب د روح البيان الشيخ اسماعيل حقي البرسوي چي وفات يې په (۱۱۷۲ هـ) كي سوى دى په خپل تفسير كي وايي چي انسان بايد لايضحك دائمًا يعني چي په حالت كي د بسط وي، ولايبكى دائمًا چي حال د قبض وي، يعني بسط او قبض يتعاقبان على الانسان، ده د خپل ځان يوه قصه رانقل كړې ده، دى وايي چي ډاكو ګانو د عرب غارت وكړى په لاره كي د شام نو زه هم په دغو حاجيانو كي وم، نو ما په خپل اختيار سره ټوله ما معي من الاموال والنقود ځان مي مجرد كړى يو قميص او يو پرتوګ مي اغوستي وُ په دې سبب چي غله دښمنان د مال دي، فمشيت على وجهي ماته په زړه كي وويل سول چي پر راسته طرف ولاړ سه، ما هم هغسي وكړه حتى لم يبقى لي طاقة على المشي من الجوع والعطش، نو زه د لوږي او د تندي له كبله غخار سوم پر ريګ باندي او له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ژوندہ نا امیدہ سوم، ولیس معي احد الا الله تعالی فقیل لي في سمعي یعني ما ته په غوږ کي وویل سول یعني ما واورېدل.. قول الشاعر:

عسی الکرب الذی امسیت فیه .... یکون لمرئه فرج قریب

فخرج الله بعد ساعات مما یطول بیانه بل یجب اخفائه.

وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

او بعض د دلائل د قدرت تامه او د توحید د خدای وصفات جلاله وجماله. پیدا کول د اسمانو او د مځکي دي، ولي چي اسمانونه او مځکه په خپل ذات او صفاتو او حالاتو دلالت کوي پر وجود د صانع حکیم قادر مطلق بلا مشارکة احد في خلقه. کریمه: لو کان فیهما آلهة الا الله لفسدتا. فقیر ترجمه په بعض سره وکړه یعني من یې د تبعیض لپاره وباله لان دلائل قدرته الکاملة وتوحید و وجوب وجوده لیست منحصرة في خلق السمٰوات آه. قال السعدي الشیرازي قدس سره:

برگ درختان سبز درنظر هوشیار ..... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

وَمَا بَثَّ فِيْهِمَا مِنْ دَآبَّةٍ

او هغه چي خدای متفرق کړي دي په مځکه کي.

فائده: وما من عطف دی پر سمٰوات یا پر خلق، او دابة په اصل کي ما یدب علی الارض ته وایي (چي حرکت کوي پر مځکه، نو چونکه حرکت پر مځکه سبب یې حیوة دی نو لفظ د دابة په معنی د حيْ دی یعني اطلاق د اسم د مسبب دی پر سبب، نو پر دې تقدیر یشمل لفظ الدابة للملائکة والجن والانس والشیاطین وسائر الیحوانات.

درویش وایي: چي ابن المنیر" پر دې باندي سخت اعتراض او انکار کړی دی، ده ویلي دي چي اطلاق د دابة علی الاناسي بعید في عرف اللغة فضلاً علی الملائکة. ده ویلي دي اصح داده دأب في الأرض علی عرف اللغة لاغیر.

سوال: دواب په معنی لغوي سره خو یوازي په مځکه کي دی په آیت کي خو ما بث فیهما راغلی دی یعني په اسمانو او مځکه کي، نو په اسمانو کي خو دابة په معنی لغوي نسته؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: ابن المنير ؒ ددې په ځواب کې ويلي دي چې ما في احد الشيئين لکه دواب په مځکه کې دا پر صادق کېږي چې په دواړو کې چې دي يعني په اسمانو او مځکه کې في الجملة کما في قوله تعالى: يخرج اللؤلؤ والمرجان يخرجان من الملح، والدليل على قول ابن المنير ؒ قوله تعالى في سورة البقرة: وبث فيها (اى في الارض) من كل دابة.

القول الفصيل: درويش وايي چې که نظر وکړل سي و معنٰی لغوي ته د دابة، نو قول د ابن المنير ؒ پر ذروة د تحقيق دی، او که نظر و بيان ته د قدرت شامله د بيان د الله عزوجل، نو هغه د مخه معنٰی چې ذکر مسبب دی مراد ځنې سبب دی اولی بالارادی، والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

وَهُوَ عَلٰى جَمْعِهِمْ اِذَا يَشَآءُ قَدِيْرٌ ﴿٢٩﴾

او هغه پر ټولـه هغـه ځـه باندې چې اراده يې سي قدرت لرونکی دی. يعني فيجمعهم يوم القيامة.

وَمَآ اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ

پوهـه: چې کلمه د شرطيه يا موصوله ده متضمن معنٰی لره د شرط ده، هم دا سبب دی چې په خبر کې يې فاء راوړه.

ترجمه: هغه شی چې تاسي ته ورسېږي د يو مصيبت ځنخه، تنوين د مصيبت لپاره د تحقير دی، يعني که څه هم لږ مصيبت وي په سبب د هغو معاصيو چې تاسي کړې وي.

وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ﴿٣٠﴾

او خدای عفو کوي د ډېرو ګنهو، يعني په عوض کې مصيبت نه درنازلوي، الحسن ؒ وايي چې دا آيت نازل سو قال رسول الله ﷺ والذي نفسي بيده، زما دې قسم وي په هغه خدای ؒ چې زما روح د ده په قدرت کې دی، ما من خدش (يو ځوز چې په سرې جګ سي) ولا عنترة قدم (يا نوک ووهي يا يې پښنه و ښوييږي) ولا اختلاج غرق (يا يو رګ يې حرکت وکړي) الا بذنب (مګر د يوې ګناه په سبب دی)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وما عنه اكثر، الديفاوي وايي چي دا آيت مخصوص دى په مجرمينو سره يعني په ګناه کارانو سره و اما غيرهم لکه کامل مسلمانان او اولياء الله هغه ته چي مصيبت رسيږي هغه د نورو اسبابو له کبله يعني يا اجر عظيم ورکوي په سبب د صبر پر هغه مصيبت. الا ترى ايوب عليه السلام مبتلا سو په ډېري ناجوړى حتى چي بدن يې چينجيان وکړه چي قصه يې مشهوره ده او مخته تاسي ته په تفسير کي تېره سوه، نو دا خو سبب د ګناه نه وُ بلکي لپاره د رفع د درجاتو دده، لان الانبياء عليهم السلام معصومون من المعاصي (درويش په دې باره کي يوه رساله ليکلې ده چي نوم يې کشف الغطاء عن عصمة الانبياء چي يو وار د مخه چاپ سوې وه او اوس به بيا عنقريب ان شاء الله تعالى له چاپه راووځي، په ذريعه د مکتبة القرائت والتجويد للقاري فضل الحق سامحه الباري چي اوله طبعه يې تقريبًا و درجې ته د غايت ندرة رسېدلې وه او غوښتونکي يې ښځي ډېر وه)

البغوي وايي قال عکرمة ما من نکبة اصاب عبدًا فما فوقها الا بذنب لم يکن الله ليغفره الا بها او درجة لم يکن الله ليبلغه الا به، وروى البغوي بسنده عن علي رضي الله عنه چي ده وخلکو ته وويل چي زه تاسي خبر نه کړم په افضل آيت سره د کتاب الله عزوجل چي ما ته بيان کړى دى رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه آيت "وما اصابكم من مصيبة فبما كسبت ايديكم ويعفوا عن كثير" كما مر مع الترجمة، او رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل سافسرها لک يا علي (ژر دى چي زه به د هغه تفسير درته وکړم اى علي (هغه دادى) يا علي ما اصابكم.

درويش وايي: چي که څه هم مخاطب علي رضي الله عنه وُ لکن د دې سببه چي احکام د شريعت عام دي، نو که عليه الصلوٰة والسلام ضمير د کم جمع راوړى دى من مرض او عقوبة (مرض تر عقوبت عام دى) او بلاء في الدنيا فبما كسبت ايديكم والله اكرم من ان يثنى عليهم العقوبة في الآخرة (او خداى ډېر مهربان دى چي پر فاعل د ګناه دي پر کونکو د ګنهو دي عذاب مکرر وګرځوي په اخرت کي) وما عفا الله في الدنيا فالله احکم ان يعود (اى جزاء ته د هغې ګناه چي ده عفو په دنيا کي و بنده ته کړې وه، رواه احمد وغيره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوه سه: چي حكيم الترمذي "په نوادر الاصول كي وايي چي بلا پر دري قسمه ده (١) تعجيل العقوبة للعبد، لكه يوسف عليه السلام ته چي پيښه سوه من لبثه في السجن بقوله واذكرني عند ربك فانساه الشيطان ذكر ربه ولبث في السجن بضع سنين (٢) دده امتحان تاچي ښكاره سي دده ما في الضمير او خلكو ته دده په نېز د خداى "كما نزل بايوب عليه السلام قال الله تعالى انا وجدناه صابرًا نعم العبد انه اواب (٣) چي دده كرامت ښكاره سي او قرب الى الله تعالى كما نزل بيحيى بن زكريا عليهما السلام مع ان يحيى "لم يعمل خطيئة ولم يهم بها فذبح ذبيحًا او دده سريې و يو رنديږ ته د بني اسرائيلو په لاس ور كړى.

فائده: رسول الله ﷺ د ټولو ورته عقوباتو څخه پناه غوښتې حيث قال واسئل الله العافية من كل بلية.

وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ﴿٣١﴾

تاسي نه ياست عاجزه كونكي د د خداى په مځكه كي چي پر تاسي باندي دي ما اراد من المصائب نه كړي نازل، او نسته تاسي لره ماسوى له خداى "څخه يو دوست چي تاسي دي عقوبت څخه د خداى وساتي او نه كومكي چي عذاب د خداى ستاسي څخه دفع كړي بالغلبة والقهر.

فائده: دا جمله حال ده له مفعول څخه د ما اصابكم او پر دې جمله عطف دى قوله تعالى "ومن آياته"

بوه سه: چي په مابين كي د ولي او نصير عموم و خصوص من وجه دى ولايخفى على الذكي مادتى الافتراق ومادة الاجتماع، فتدبر فيها.

وَمِنۡ ءَايَٰتِهِ ٱلۡجَوَارِ فِي ٱلۡبَحۡرِ كَٱلۡأَعۡلَٰمِ ﴿٣٢﴾

د خداى د دلائلو څخه د قدرت كامله دده دي دريابونه (كلمه د من لپاره د تبعيض ده ولي چي آيات د قدرت د خداى "لاتعد ولا تحصى دي چي جوار مذكوره يې بعض دي.

بوه سه: چي جوار جمع د جارية ده چي مراد څني كښتياني دي په درياب كي "كالاعلام" لكه غرونه، دا صفت د جوار دى، وجه التشبيه يې د غرو سره دا ده چي په كښتيو كي د ېر خلك او هغه خوراكي مواد او تجارتي مالونه پكښې وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنْ يَشَأْ يُسْكِنِ الرِّيحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلَىٰ ظَهْرِهِ

كه د خداى اراده سي باد به ودروي چي هغه سبب د جريان د كښتئ دى، نو به وګرځي ولاړي ته پر شا د درياب، يعني حركت به كوي پر يو خوا ولي چي د كښتئ حركت په باد سره مربوط ؤ او باد خو ودرېدى.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿٣٣﴾

په دغه مذكوره بيان د كښتيو دلائل دي د قدرت رباني هر هغه چا لره چي پر مصائبو صبر كوي او د نعمتو د الله عزوجل شكر وايي، دواړه لفظه لپاره د مبالغې دي اى كثير الصبر و كثير الشكر مراد ځني مؤمنان دي، قال رسول الله ﷺ الايمان نصفان نصفه في الصبر ونصفه في الشكر.

فائده: دا جمله معترضه ده په مابين كي د احوال د كښتئ.

أَوْ يُوبِقْهُنَّ بِمَا كَسَبُوا وَيَعْفُ عَنْ كَثِيرٍ ﴿٣۴﴾

عطف دى على يظللن يعني كه خداى دوام وركړي و سكون ته د ريح، نو دا كښتئ به هلاكي كړي، يعني اهل د كښتيو، او كلمه د بما سببيه ده او يا مصدريه ده اى كسببهم من الشرك والمعاصي. او يا ما موصوله دى عائد يې محذوف دى اى بما كسبوه، او نجات وركوي بعض كسانو ته، چي سواريان د كښتيو دي. عفو كوي نو كښتئ يې غرقه نه سي بلكې سالمه د سواريانو سره تر درياب راووځي.

وَيَعْلَمَ الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِنَا مَا لَهُمْ مِنْ مَحِيصٍ ﴿٣۵﴾

او چي پوه سي هغه كسان چي ناحقه بحثونه كوي زموږ په آياتو كي په تكذيب او په ابطال سره يعني چي زموږ آيات قرآنيه له منځه ځخه يوسي، نسته دوى لره ځاى د خلاصون له عذابه ځخه د خداى: والمعنى اى يعلمون چي ودوى ته معلومه سي يعني هغه كسانو ته چي تكذيب د قرآن د آياتو يې كاوه او اعتبار يې نوركاوه و آياتو ته د رحمان چي دوى خداى لره ورسي بعد البعث چي ځاى د تېښتي له عذاب ځخه د خداى نسته دوى لره.

پوهه: چي ليعلم الذين عطف دى پر علت مقدره مثل لينتقم الله منهم وليعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

هغه شي چي تاسي ته درکړه کيږي (يعني په دنيا کي من المال والنعم والعيش وغيرها) د نفع شيان دي د دنيا چي تاسي به نفع پر اخلئ په دې نژدې ژوند کي.

پوهسه: چي دنيا صفت دی د حيوة، نو که دنيا مشتق وي د دنو چي معنی يې نژدېوالی ده، نو د دنيا معنی قريبي يعني تر اخروي ژوند نژدې ده او که دنيا مشتق د دناءت څخه سي چي معنی يې حقارت دی، نو حاصل دا دی چي يو څو ورځي به نفع پر واخلي مدة حياتکم يا به تاسي ځني ځئ، او ما اوتيتم به پاتيږي يعني د آخرت تو بنه يې نه وي، نو مسلمان د دې په طلب کي بايد ډېر حريص نه وي بلکي په قدر د ضرورت يې طالب وي.

درويش وايي: چي په اوسني زمانه کي پر ما يکفي صبر کول ډېر شاذ او نادر دی الا من شاء الله تعالی.

وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى

او هغه شيان چي د خدای سره دي، چي جنت و نعيمها دي هغه ډېر ښه دي تر نعمتو د دنيا.

پوهسه: چي نعمتونه د آخرت کمًا و کيفًا تر نعمتو د دنيا ډېر دي يعني په عدد کي هم پر اخه دي لان جميع تلک النعم مقدارها في علم الله او تر ټولو نعمتو د دنيا په خوند کي او په لذت کي هم تر بالا دي.

لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ۝

د هغه خلکو لپاره چي ايمان يې راوړی وي او توکل او اعتماد يې پر کړی وي پر خدای، والحاصل في هذه الآية بيان ان المؤمن والكافر سره برابر دي في ان الدنيا متاع لهما يتمتعان بها فاذا صاروا الى الآخرة كان ما عند الله خير للمؤمنين وعذاب للكافرين.

وَالَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ

او هغه کسان چي پرهېز کوي د لويو څخه د ګنهو، دا جمله عطف ده پر هغه جمله للذين آمنوا. بعض مفسرين وايي چي فواحش تفسير د کبائرو دی، او السدي وايي هي الزنی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: فواحش څو جمع ده او زنٰی څو یو فعل دی؟

جواب: جمعیت یې په اعتبار د فاعلانو د زنٰی دی، او مقاتلؒ وایي چې فواحش هغو ګناهو ته وایي چې حد شرعي پکښې لازم وي لکه زنٰی، سرقه، قطع الطریق وغیرها، په کشف الاسرار کي وایي چې اضافت د کبائر یې واثم ته وکړی فان الاثم هي الصغیرة وهي مغفورة اذا اجتنب الکبائر، د مثال په توګه مسه کول د ښځي یا مچه ځني اخستل صغیره دي او زنی یې کبیره ده کما في قوله ان تجتنبوا کبائر ما تنهون عنه نکفر عنکم سیئاتکم، او ترجمان القرآن عبدالله بن عباس رضی الله عنهما وایي چې کبائر الاثم تولـه معاصي المؤبقة ته وایي وهي الشرک بالله ای الکفر مطلقًا که څه هم عبادت د بت نه وي (۱) وقتل النفس بغیر حق سواء کان نفسه او غیره (۲) وقذف المحصنة (یعني نسبت د زنٰی کوي دی و هغې ښځي ته چې مکلفه یعني صغیره نه وي او مسلمانه وي او زنٰی او نور قبائح افعال هم نه وي پکښې (۳) والزنٰی (چې معنی یې ده وطي کول په قبل کي د ښځي چې خالي وي د ملک النکاح او ملک الیمین څخه، نو وطي د خرې وغیره من البهائم واللواطة زنٰی نه ده) (۴) والسحر ویقتل الساحر ذکرًا او انثی اذا کان سعیه بالافساد یعني په مځکه کي فساد کوي او خلک په سحر هلاکوي (۵) واکل مال الیتیم (یعني الا باجازة الشرع لکه، د یتیم د باغ باغواني چې خپل مزدوري څني خوري، قال الله تعالی ولاتقربوا مال الیتیم الا بالتي هي احسن (۶) وعقوق الوالدین المسلمین او احدهما الا اذا کان مؤدیًا الی اضاعة حق الله لکه مثلاً پلار زوی ته ووایي ورسه فلانی سړی مړ کړه (یعني بغیر حق) والا فلا طاعة لمخلوق في معصیة الخالق، او که والدین کافران وه نو په کفر کي دې په خوله نه کوي او نور احسان دي ورسره کوي (۷) والالحاد في الحرم او ګناه کول په حرم شریف کي ولو صغیرة فالکبیرة فیه کبیرتان (۸) واکل الربوا.

پوه سه: چې مراد د اکل څخه اخستل دي د سود که یې خوري که یې په بل مصرف کي صرفوي.

نکته: اکل یې ذکر کړی لانه معظم منافعه (۹) والسرقة.

پوه سه: چې نصاب د سرقة یعني غلا په نیز د امام المسلمین ابو حنیفة غفرله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الباري قدر عشرة دراهم عينًا كان او قيمة وهذا نصاب السرقة في حق قطع اليد او په باره کي کي د ګناه کم تر عشرة دراهم ګناه ده (۱۰) وشرب الخمر وبيعه وشرائه.

درويش وايي: چي د خمر په باره کي مسائل او ماهيت د شرابو د فقه شريفي په کتابو کي مطالعه کړئ (۱۱) وقطع الطريق: لار قطع کول پر مسافرو خصوصًا اذا كان مع اخذ اموالهم فانه فوق السرقة (۱۲) وشهادة الزور: او شاهدي په دروا غو اداء کول چي په صحيح حديث کي راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام چي په لړ کي د کبيره ګنهو شهادة الزور ته راورسېدی داسي يې وويل: الا وشهادة الزور درې واره يې دا کلمه مکرره وويل (۱۳) واليمين الغموس.

پوه سه: چي يمين غموس هغه قسم ته وايي چي پر ما مضى کار باندي ناحقه قسم واخلي يعني دی په خبر وي چي داسي نه ده پيښه، پر دې قسم په نيز د امام اعظم" کفاره نسته بيله توبې، او بل قسم يمين لغو دی چي پر ما مضى شي باندي قسم واخلي چي د ده په خيال ځان صادق بولي او په واقع کي هغه شی نه وي په دې قسم کي نه ګناه سته او نه کفاره سته، دريم قسم يمين منعقدة دی چي پر مستقبل شي باندي قسم واخلي مثلاً بالله چي زه د راتلونکي جمعې په ورځ روژه نسم، نو حکم يې دادی چي که يې روژه ونيول خو خبره خلاصه سول او که يې روژه نه ونيول قضاء يې هم پر سته او ګناه هم ده لهتک حرمة اسم الله تعالى.

(۱۴) وسوء الظن بالله: بد ګماني پر الله عزوجل (۱۵) حب الدنيا: د دنيا محبت يعني امور شرعيه لکه د جماعت لمونځ پر قضاء کول يا دروا غ ويل يا ناحقه قسمونه اخستل، نفس محبت يې ګناه کبيره نه ده، عبد الرحمن بابا" وايي:

بنه ده بنه ده دا دنيا چي توبنه ده د عقبٰی
که فقير ته يې ورکړې فقير درومي په خندا

مطلب دادی چي په نيت د ښو کارو د دنيا سره محبت کول يعني چي مثلاً يو مسجد په جوړ کړم يا د يو قريب سره صلة الرحم په وکړم يا به حج يا عمره په وکړم يا نور ورته کارونه به وکړم، نو داسي محبت د دنيا ګناه کبيره نه ده بلکي صغيره هم نه ده (۱۶) وسب الرجل والديه: که بې واسطې وي لکه په او سني زمانه کي بعض جهال مور او پلار ته او يا يوه ته ددوی ښکنځل وکړي، يا په واسطه سره مثلاً يو سړی د چا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مور او پلار ته ښکنځل وکړي هغه سړی دده مور او پلار ته ښکنځل وکړي، نو ګویا ده ښکنځل خپل مور او پلار ته وکړه (١٧) ازار رسول دي و علیه الصلوة والسلام ته، کڅه هم وروسته تر مرګ وي. فان هذه الاذية فوق عقوق الوالدين (١٨) سب و دوو زومانو ته د علیه الصلوة والسلام یعني عثمان او علي رضي الله عنهما، په خلاصه کي وايي کفر نه دی. لکن دا خبره مشکل ده لان سب اهل العلم عمومًا اذا کان کفرًا فکیف لایکون سب الختنین کفرًا (١٩) سب العالم بالعلوم الدینیة علی وجه المزاح کبیرة. تعزیر دي قاضي ورکړي (٢٠) الاصرار علی الصغیرة: ولي چي په حدیث شریف کي راغلي دي چي لاصغیرة مع الاصرار ولا کبیرة مع الاستغفار، انتهی.

درویش وایي: چي ددې سبب دادی چي استغفار چي دی وایي نو په معنی کي دی پر هغه ګناه پښېمانه دی، والندم هو التوبة (٢١) ومنها الغنا: یعني سروز، علاؤ الدین الترکستاني الحنفي رحمه الله په منظومه کي وایي چي غناء له کبائرو ګنهو څخه ده وهو رفع الصوت بالاشعار والابیات علی وجه مخصوص.

درویش وایي: چي لکه ددې زمانې په ودو کي چي بعض جاهلان يې کوي چي د نرو مېلمنو لپاره په اصطلاح شوقیان راولي چي ربابونه، تبلې او باجې ورسره وي، او د ښځو لپاره مسلیانې چي ښځې دي غزلي وایي، امام همام ابو حامد محمد الغزالي رحمه الله په احیاء العلوم کي وایي: واحتجوا علی حرمة الغناء بما رواه ابو امامة رضي الله عنه عن النبي ﷺ انه قال ما رفع احد صوته بالغناء (یعني علی الوجه المذکور) الا بعث الله له شیطانین علی منکبیه یضربان باعقابها علی صدره حتی یمسک.

درویش وایي: چي مراد له شیطانانو څخه هغه شي دی چي حرکت ورکوي زړه ته بما هو مراد الشیطان من الشهوة ومحبة النساء الی غیر ذالک لا ما یتحرک الشوق الی الله تعالی کاشعار اهل الله من العاشقین (٢٢) ومنها الظلم (٢٣) ومنها الغیبة والبهتان (٢٤) والتجسس: د چا د بدو افعالو پلټنه کول (٢٥) والتخفیف: کمښت کول په ترازو کي یا په پیمانه کي شی کم ورکول (٢٦) والکبر: کبر کول والعجب خود بیني کول او تر چا ځان غټ ګڼل (٢٧) والحسد: د چا سره حسد کول یعني حب زوال النعمة منه (٢٨) ترک الوفاء بالعهد چي د چا سره وعده نه پر ځای کوي (٢٩) ترک الصوم بلا عذر (٣٠) ترک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الزكوة: يعني د نقود وغيرها زكوة نه وركول (٣١) والحج: حج پر فرض وي د هغه نه كول چي مانع نه وي (٣٢) هېرول د قرآن كريم. فقهاء وايي چي په قرآن كريم كي نسي ويلاى لا مجرد عدم الحفظ (٣٣) پټول د شاهدي ولو كان على قريبه من الاب والاخ وغيرهما (٣٤) قطع د صله رحمي عند الاحتياج (٣٥) والسعي بين الاثنين بالفساد چي د دوو كسانو په منځ كي شيطانت كوي (٣٦) والحب لغير الله (٣٧) والسجدة للمخلوق كالصنم يا رئيس ته د قوم (٣٨) والحلف بغير الله. قسم په ماسوا د خداى اخستل. لكه پښتانه چي وايي زما دي په كعبه شريفه قسم وي و الى غير ذالك، حتى پښتانه وايي چي زما دي په شاه آغا قسم وي.

سوال: په محاكمو كي د افغانستان به قرآن كريم ايښوول كېدى، نو قرآن كريم خو هم غير الله دى، نو قاضيانو ولي په قرآن كريم سره قسم وركاوه؟

ځواب: قاضيانو به داسي ويل چي ستا دي قسم په الله عزوجل وي او پر دې قرآن كريم لاس كښېږده.

حكايت: په افغانستان كي د دوو كسانو سره دعوه وه، يو منكرؤ يعني مدعي عليه، نو دوى فقير ته راغله، نو فقير منكر ته وويل چي ته به وايي چي زما دي قسم په خداى وي او پر دې قرآن لاس كښېږده، منكر راته وويل والله بالله كه د مدعى دعوى پر ما حق ده لكن قرآن والله كه واخلم چي دا ويا له راكوي.

حكايت: يوه بله ورځ هم دوه كسان په مخاصمت كي فقير ته راغلل چي مدعي شاهدان نه درلوده ما مدعى عليه ته وويل چي پر تا قسم كېږي په نامه د خداى جانب مخالف يعني مدعي راته وويل چي ته څرنګه قسم وركوې؟ ما ورته وويل چي په خداى به قسم اخلي او پر قرآن كريم به لاس ايږدي، نو مدعي راته وويل چي پر ما دې سړي ډېر ظلم كړى دى ته داسي قسم ورته كښېږده چي د دې سړي كور ورخراب كړي، فقير ورته وويل چي هغه نو كوم قسم دى؟ مدعي راته وويل چي دى دي د شاه آغا و خوا ته داووه ګامه ولاړ سي پر اووم ګام دي و وايي چي زما دي په شاه آغا قسم وي كه د ده دعوه پر ما صحيح ده چي شاه آغا يې كور ورخراب كړي. فقير ورته وويل چي د داسي قسم په شرع كي حق نه پر لري. سړى راهي سو چي بل قسم زه نه وركوم (وذالك لغاية جهله)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: دا جهالت په پښتنو کي له څه پیدا دی؟

ځواب: د کوچنیو الي څخه دوی پر هر شي وايي والله بالله که دا کار دا سي دی، نو د خدای د نامه عزت او عظمت د دوی له زړو څخه وتلی دی ولي چي عادت سوي يې دي، له ابو هریره ﷺ یا غیره څخه روایت دی چي صحابه کرامو به خپل کوچنیان پر دي کلمه وهل یعني والله بالله تاچي عادت يې نسي، والله اعلم.

(۳۹) وترک الجمعة والجماعة: چي عذر نه لري قصداً يې نه کوي (۴۰) ان یقول لمسلم یا کافرًا یا یهودي وغیر ذالک (۴۱) او د امیر جائر (یعني ظالم) سره مصادقت یعني همکاري ورسره کول (۴۲) ونکاح الکف: یعني په لاس کي ځان انزالول، په یو حدیث کي راغلي دي "ناکح الید ملعون" کذا في شرح المنار لابن الملک، لکن امام رهاوي وايي: لم اجد في کتب الحدیث وانما ذکره المشائخ في حواشي البخاري، الاستمناء بالید حرام (ای تحریمًا) نو له ګناه کبائرو څخه ده لقوله تعالی: والذین هم لفروجهم حافظون الا علی ازواجهم او ما ملکت ایمانهم الی قوله تعالی: فاؤلئک هم العادون ای المتجاوزون من الحلال الی الحرام، نو ناکح الید خو په ماوراء کي داخل دی.

مسئله: په نېز د امام اعظم او د امام احمد استمناء بالید روا ده چي سړی پر ځان له فتنې څخه ېرېږي ای الزنی، او یا مراد تسکین د شهوت یعني لا لمجرد اللذة، وکذا یباح الاستمناء بید امرئته او امته عند الضرورة مثلاً ماینه يې ناجوړې وي د جماع طاقت نه لري وهکذا الامة (۴۳) والقصاص بغیر عدل: مثلاً یو چا د بل سړي زوی یا ورور وژلی ؤ او حکومت اسلامي نه وي په ملک کي، نو د مقتول وارث په خپله قصاص اخستلو ته مجبور ؤ نو چي قدرت يې پر قاتل پیدا کړی اول يې پزه او غوږونه مثلاً ځني پرېکړه بیا يې قتل کړی او سره ددې چي قاتل داغسي نه وه کړي (۴۴) والخلوة بالاجنبية: د بیګانه ښځي سره خلوت کول (یعني چي مانع د جماع نه وي او د هر سالخورده سپین ږیری نه وي) (۴۵) د خپلي ماینې سره د حیض په وخت کي جماع کول، یعني په فرج کي نه تر فرج لاندي په ورنو کي (۴۶) وترک العدل في القسم یعني د سړي متعددي ماینې وي، نوبت یعني شپه تېرول د هري یوې سره نه کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: په محبت قلبي د يوې سره ګناه نه ده، ولي چي دا محبت په اختيار دده نه دی، او داغه رنګه د يوې مابيني سره په نوبت کي د هغې جماع ورسره کوي او د بل مابيني سره جماع نه کوي مثلاً يا سپين سرې وي يا ډېره بدرنګه وي، ولي چي آله د جماعو دده په اختيار کي نه ده (۴۷) د حيوان مثلاً د خرې يا د يو بل حيوان سره جماع کول.

حکايت: يو جاهل باحکام الشرع چي ډېر زاهد او عابد ؤ او ماينه يې نه درلوده، نو يوه خره يې درلودل چي دده مريدانو به يې ډېر خدمت کاوه، يو وخت يو عالم دده د زهد په سبب دده ملاقات ته ورغلی ؤ هغه عالم چي فکر وکړی چي دا د زاهد مريدان ددې خرې ولي دومره خدمت کوي او دا زاهد ماينه ولي نه کوي؟ حتی چي عالم په يو فرصت او خلوت کي له دې زاهد څخه پوښتنه وکړه چي تا ماينه ولي نه ده کړې؟ زاهد په جواب کي ورته وويل چي د خدای له ذکر څخه پر وځم، ماينه خو نفقه غواړي او که يې عيالونه پيدا سي هغه هم نفقه او کالي او فراش مثلاً کمبله، تلتک وغيره غواړي، بيا عالم ورته وويل چي دا خره نو څه کوي؟ جاهد زاهد ورته وويل چي ګاهي چي شهوت زور راباندي وکړي نو د دغي خرې سره جماع وکړم، نو عالم ده ته وويل چي ماينه کول سنت د انبياء عليهم السلام دی او د مابيني او د عيال نفقه وغيره خو عبادت موجب د ثواب دی، او د خرې سره جماع کول خو حرام قطعي دی، نو هغه زاهد دستي طلب د نکاح وکړی ماينه يې پيدا کړه او خره يې خرڅه کړه (۴۸) واللواطة ولو کان مع زوجته (۴۹) او له کبائرو ګنهو څخه دی تصديق د کاهن يعني غيب ګوی چي د امور آتيه ؤ بيان کوي، نو که يې څوک تصديق وکړي هغه ګناه کبيره ده (۵۰) ومنها القمار: پر هر شي که پر کتاروي چي څوارلس ګيټي پر ايږدي او که پر شترنج وي او که د کرکانو يا د زرکو پر جنګو وي او يا پر بل شي، قال صاحب الهدايه" يکره اللعب بالترد والشطرنج والاربعة عشر لانه ان کان قامر بها فالميسر (يعني قمار حرام دی بالنص او ميسر د هر قمار نوم دی) وان لم يقامر بها فهو عبث وان لم يکن کبيرة، او امام شافعي" يې لپاره د تيزوالي د اذهانو مباح بولي خلافاً لابی حنيفة" (۵۱) او بل له ګناهو څخه نياحة دی يعني پر مړي په زوره چغي وهل يا کالي پر ځان څيرل يا د سر وېښتان شکول لکه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعض ښځو چې عادت دی او مباح یې ګڼل (یو دادی چې په وخت کې د مصیبت د سرې اوښکې تر سترګو راځي هغه غیر اختیاري دې ګناه نه ده، په بخاري وغیره کې راغلي دي په روایت د ابن مسعود رضی الله عنه چې ابراهیم علیه السلام چې د رسول الله ﷺ اخیري زوی ؤ د ماریه رضی الله عنها څخه چې د دایې په کور کې رضیع ؤ د شیدو میاشتو په شاوخوا کې ناجوړی سو او علیه الصلوة والسلام یې پوښتنې ته ورغلی او د ابراهیم رضی الله عنه زګندن ؤ علیه الصلوة والسلام په غیږ کې کښېښوی او تر سترګو مبارکو یې اوښکې جاري سوې، یو صحابي رضی الله عنه ورته وویل وانت یا رسول الله ﷺ؟ یعنې ته هم ژاړې، د هغه صحابي دا خیال ؤ چې مطلق ژړا به ممنوع وي. علیه الصلوة والسلام ورته وویل هذه رحمة دا ژړا یعنې نفس اوښکې تویول رحمت دی، وانما یرحم الله من عباده الرحماء ثم اتبعه باخری وقال انا بفراقک یا ابراهیم لمحزون ولا نقول الا انا لله وانا الیه راجعون او کما قال رسول الله ﷺ (۵۲) بلکه ګناه کبیره اظهار د صلاح دی او اخفاء د فسق ده لکه بعض ټګان پیران چې یې کوي.

تاریخ وایي: وایي چې یو ټګ پیر ؤ چې ډېر مریدان یې عم درلوده او یو ډېر مالدار سړی په سبب د ده د ظاهري کار لیدلو څخه د هغه شیخ مرید سوی ؤ، نو رفته رفته رفت ؤ آمد شروع سو، یوه ورځ مالدار مرید ورته وویل چې ننه شپه زما مېلمه یې سره د صاحب زاده یعنې زوی، شیخ دعوت قبول کړی او سرمایه داره مرید ډېر فوق العادة خواړه په کور کې پر خپل کور والا باندې زېرمه کړي وه چې ننه شپه پیر صاحب زموږ مېلمه دی باید ښه خواړه تیار کړئ، خیر ماښام چې پیر صاحب او زوی راغله او سترخوان هوار سو رقم رقم خواړه پر کښېښول سوه، پیر صاحب یو څو ګولې د یو قسم خوړو څخه وخوړلې او دا غه رنګه د بل قسم خوړو څخه یعنې په محدود ډول یې وخوړلې، نو پیر صاحب تر شا سو ډوډی یې بس کړه، سرمایه دار مرید ورته وویل چې صاحب ډوډی دې ولې بس کړه؟ پیر صاحب ورته وویل چې ډېره ډوډی خوړل سړي ته ډېر خوب ورولي او د شپې زموږ د وظائفو مانع ګرځي، هر څه ټینګار چې سرمایه داره مرید وکړی پیر صاحب انکار کاوه، او د پیر صاحب زوی په ماره نس ډوډی وخوړل، سترخوان چې ټول سو مرید ورته وویل چې تبرګا به د ماخستن لمونځ موږ ته په دې مهمان خانه کې په جماعت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راکوي، پیر صاحب د مخه سو جماعت پسي محدود نفر و دریدل، سرمایه دار او د
هغه مزدوران او د پیر صاحب زوی پسي ودریدل، پیر صاحب په ډېره خشوع او په
نهایت تعدیل الارکان لمونځ وکړی او یوازي دوه رکعته سنت یې وکړه وتریې و
تهجد ته پرېښول، خیر پیر صاحب د خپل سرمایه دار مرید څخه رخصت واخستی
دی او زوی یې کور ته راهي سوه، پیر صاحب چي کور ته ورغلی ماینې ته یې
وویل چي ستر خوان راواخله ډېر وږی یم، ماینې یې ورته وویل چي د مهمانی
څخه څرنګه وږی راغلې هورې په دي ځان ښه موړ کړی وای، پیر صاحب پر ماینې
منت وکړی چي څرنګه ناپوه یې، که ما هورې ځان موړ کړی وای د سرمایه داره
مرید زما څخه عقیده او ښته چي دا څرنګه ښېټور پیر دی، خیر ماینې یې وچه
ډوډی راواخستل، پیر صاحب د اوبو په کومک ځان تر پزې په موړ کړی، زوی
ورته ګوري، پیر صاحب چي له ډوډی څخه فارغه سو، زوی یې ورته وویل چي
بابا لمونځ دي هم راو ګرځوه، ولي تا خو کور داسي لمونځ نه کاوه لکه د سرمایه
داره په کور کي چي دي په خشوع و خضوع او تعدیل الارکان سره وکړی (۵۳) او
بله ګناه عیب ویل دي پر یو چا مثلاً د پلاني پزه پیته ده د فلاني پند شوندان دي
لکه د خره الی غیر ذالک، روایت دی لقمان حکیم په رنګ ډېر بد رنګه ؤ یو چا
ورته وویل چي حکیم صاحب ته څومره بدرنګه یې؟ لقمان ورته وویل که
اعتراض د بدرنګی پر ما کوې زما خو دا بد رنګ په اختیار کي نه ؤ یعني خدای
دغه بدرنګ راکړی دی او که پر خالق د دې بد رنګ ویل کوې نو کافر یې (۵۴) او
بله ګناه کبیره استماع الملاهي: اوریدل د سروز لکه رباب او تبله الی غیر ذالک،
وفي الحدیث استماع صوت الملاهي (په اختیار سره، د فقیر په دې قید کي غرض
دادی چي په اوسنی زمانه کي د بعض جاهلانو د زوی یا ورور واده وي، نو
سروزو ته ګویا وي کښېږدي چي تر نژدې کورو پوري ټولو ته اواز د سروز رسیږي
او بې اختیاره یې هر څوک اوري، نو هغه بې اختیاره اوریدل یې کبیره نه ده)
اوریده د اواز د ملاهي معصیت دی، والجلوس علیها فسق والتلذذ بها کفر.

درویش وایي: چي دا تهدیداً او زجراً دی کما في قوله علیه الصلوة والسلام
لا صلوة لجار المسجد الا في المسجد الی غیر ذالک من التهدیدات والزواجر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: که تنبور، رباب، ډولک وغیره چا په کور کي ایښی ؤ لکن استعمال يې نه کاوه ګناه کار دی، لان امساکها عادة للهو (۵۵) او بله کبیره ده پر رباب وغیره رقص کول (۵۶) و نامحرمه کور ته ورتلل بیله اجازې (۵۷) د بل و کور ته د دروازې تر چولو کتل (۵۸) و ښائسته هلک ته په شهوت کتل.

پوه سه: چي حد د شهوت دا دی چي آله يې پورته سي والا فصغیرة.

مسئله: د صبیح الوجه حکم د ښځي دی باید ستر په وکړي او پلار دې کوښو ته نه پرېږدي ولي فتنه ورته پیښه نه سي، ولذا قیل مع کل امرئة شیطان ومع صبیح الوجه شیطانان، په تاریخ کي د امام الائمة ابو حنیفة علیه من الله الرحمة التامة راغلي دي چي امام محمد الشیباني رحمه الله صبیح الوجه ؤ چي پلار يې د امام اعظم ودرس ته راوستی، نو امام اعظم" به دی یعني امام محمد" په درس کي تر شا کښېناوه یا تر شا د تنبې د مسجد حتی لا یقع علیه بصره مخافة خیانة الاعین من کمال تقواه.

فائده: په بستان کي د فقیه ابو اللیث السمرقندي" وایي چي سړی دي د نو سنو ځوانانو یا کوچنیانو که څه هم صبیح الوجه نه وي یا د بې عقلانو سره دي ناسته ولاړه نه کوي ولي د سړي آبرو او مهابة ته نقصان دی (۵۹) او بله کبیره ګناه ترک د امر بالمعروف او نهي عن المنکر دی حتی الوسع (۶۰) بله کبیره ګناه د عوامو مسخرې دي (۶۱) بله کبیره ګناه اخستل دي د اعطاء او صلة الرحم من اهل الجور، او بعض علماء وایي چي صلات د بادشاهانو روا دی و غني او فقیر ته چي ته ده یقیناً نه وي معلوم چي دا صلات حرام دي، نو که حرامي وي په واقع کي نو ګناه يې پر معطي ده پر آخذ نه ده، امام غزالي" په احیاء العلوم کي وایي چي که ظاهر د سړي یعني معطي صلاح وه او حال يې مستور ؤ فلا حرج علیک في قبول صلاته وصدقته (او خیرات د هغه) او پر تا نه ده لازم چي تجسس د حال او د مال د هغه کوې فان تلک سوء الظن علی الرجل المسلم وهو حرام انتهی.

پوښتنه: د عقائدو په کتابو کي کبائر ګنهونه یو اوویا (۷۱) هم ذکر سوي دي تا ایوبي نه وړېبول؟

ځواب: فرق يې د کلیاتو او جزئیاتو دی یعني کلیات يې (۴۱) دي او جزئیات يې (۷۱) دي فافهم هداک الله تعالی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاِذَا مَا غَضِبُوْا هُمْ يَغْفِرُوْنَ ﴿۳۷﴾

دا جمله عطف ده پر يجتنبون باندي او ظرف يعني اذا متعلق دی په يغفرون پوري، والحاصل چي سړي ته درد ورسي پر يو بل چا په يو سبب دوی بخښنه ورته کوي، ولي چي بخښنه اولی او افضل ده، قال عليه الصلوة والسلام اتقوا الغضب (له غضب څخه ځان ساتئ) ولي چي غضب لکه سکروټه د اورده في قلب بني آدم الم تروا في انتفاخ اوداجه وحمرة عينيه (تاسي نه وينئ چي د غاړي رګونه يې وپړسېږي او سترګي يې سري سي) وهم مبتداء ده ويغفرون خبره، والمغفرة ههنا بمعنی العفو والتجاوز والحلم والکظم، په يو حديث کي راغلي دي چي بعض انبيا عليهم السلام ته خدای ﷻ وحي وکړې چي ته چي صبا له کوره ووځې اول چي هر شی په مخه درغلی هغه وخوره، او دوهم وار چي په مخه درغلی هغه پټ کړه او دريم چي په مخه درغلی مخ څني واړوه، نو نبي ؑ چي صبا له کوره ووتی اول لوی غر په مخه ورغلی، نبي ؑ امتثالاً لامر الله د غره و خوړلو ته اراده وکړه که څه هم خورک د غره له امکانه لېري کارؤ نو څرنګه چي ده د خوړلو اراده ورته وکړه هغه سيب سو يعني منه په مزه يې وخوړی فوجدها الذ شيئاً، دوهم واري يو د سرو زرو لګن پيدا کړی نو ده چي هر څو کوشش د پټېدو وکړی يو ځای به يې ښکاره سو، دريم وار د مردار يو اچولو ځای باندي پيښنو په اصطلاح تپ يې بولي، نو ده مخ څني واړاوه، فقيل اما الجبل فشدة الغضب فعند ظهورها يری کالجبل، نو چي ده صبر پر نوشولو د غضب وکړی يعني عفو يې مختاره کړه نو ډېر مزه داره شي جوړ سو يعني که ده پر مقتضی د غضب رفتار کړی وای جنګ و جدل به جوړ سوی وای... بيت:

تحمل نمايد چو زهرت نخست ❁❁ ولی شهد ګردد که در طبع رست

يعني صبر کول پر شدت لکه زهر وتا ته معلومېږي اول وار، مګر شهد ګرځي چي سړی ورسره اموخته سي.

او هغه د سرو زرو لګن چي ده به پټاوه هغه به ښکاره کېدی عبادت د خدای ؑ دی چي هر څو يې دی پټوالی کوي الله ﷻ يې ښکاره کوي... بيت:

اګر مسک خالص نداری مګوی ❁❁ وګر هست خود فاش ګردد به بوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني د مشکو بوی خپله ښکاره کېږي او ستا په وینا سره چي اصلي مشک نه وي مشک نه ګرځي.

وَالَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ

پوه سه: چي استجابوا په معنی د اجابوا دی والمعنی چي دوی قبلونه کړې ده د هغه شي چي خدای دوی ته دعوت ورکړی يعني طاعت او عدم العصيان.

"واقاموا الصلوة" او دوی کوي پنځه وخته لمونځونه.

فائده: د اقامة الصلوة معنی دا ده چي په مراعات د واجباتو او سنن او تعديل الارکان سره وي.

فائده: په قرآن کريم کي هر ځای چي اقامة الصلوة راسي يا به لفظ د مصدر وي او که په لفظ د مشتق وي لکه مقيمي الصلوة معنی دا غه ده بخلاف القيام الی الصلوة کما جاء في وصف صلوة المنافقين واذا قاموا الی الصلوة قاموا کسالی الخ.

سوال: تخصيص د لمانځه يې ولي وکړی او نور عبادات يې ذکر نه کړل کالزکوة والصوم مثلاً؟

ځواب: ولي چي نسته په منځ کي د عبد او د ايمان الا اقامة الصلوة ګويا نسته په منځ کي د عبد او کفر الا ترک الصلوة، ولذا ورد في الحديث الصحيح الصلوة عماد الدين فمن اقامها فد اقام الدين ومن هدمها (ای الصلوة) فقد هدم الدين او کما قال رسول اللهﷺ، وايضًا قد ورد في الحديث اول ما يحاسب العبد يوم القيامة عن الصلوة فان صلحت افلح وانجح (نو له عذاب څخه يې خلاصون پيدا کړی او کامياب سو) وان فسدت فقد خاب وخسر (ناکام او نا اميده سو) ... بيت:

روز محشر که جان گداز بود ❊❊❊ اولين فرسش نماز بود (يعني في حقوق الله)

مسئله: د مثال په توګه که يو چا دواړه لاسونه د مرفقينو سره پرېوه او يا يې دواړي پښې د کعبينو سره پرېوې فمحل وضوئه پاته اند امونه دي.

وَاَمْرُهُمْ شُوْرٰى بَيْنَهُمْ

او کار د دوی (يعني په امر مهم کي) يو د بل سره مشوره کول، يعني تلوار نه کوي څو مشوره ونه کړي لان التعجيل اولاً صدر من الشيطان چي خدای پاک ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته وویل چي آدم ته سجده وکړه، ده عجولاته وویل انا خیر منه.

پوهه: چي یو مسلمان چي د بل مسلمان سره مشوره وکړي پر ده واجب ده چي په خیر سره به یې امر کوي یعني چي دده خیر په دنیا او آخرت کي وي دده په عقل، قال رسول الله ﷺ المستشار مؤتمن، رواه مسلم، وعن علي ﷺ المستشار مؤتمن (هغه څوک چي دده څخه بل سړی مشوره وغواړي هغه امین د هغه بل سړي دی، نو لازمه داده چي داسي مشوره دي ورکړي یعني د خیر لکه د ځان لپاره)

وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ یُنْفِقُوْنَ ﴿۳۸﴾

او بعض د هغه مال څخه چي موږ ورکړی دی په موارد او ځایو کي د خیر انفاق وکړي لکه صلة الرحم او یا و غزاتو ته د مؤمنانو مالي کومک ورکړي الی غیر ذالک.

فائده: د رویښ لفظ د بعض وو ایه له دې سببه چي اعطاء د جمیع المال حال دی د اخص الخواص کابی بکر الصدیق ﷺ حیث تصدق بجمیع ماله في سبیل الله في غزوة تبوک، علیه الصلوة والسلام چي پوښتنه څني وکړه چي عیال ته دي څه پرېښول؟ ده ورته وویل الله ورسوله، لکن میانه خوی مؤمنانو له صرف د بعض مال محمود دی.

وَالَّذِیْنَ اِذَآ اَصَابَهُمُ الْبَغْیُ هُمْ یَنْتَصِرُوْنَ ﴿۳۹﴾

او هغه کسان دي چي دوی ته ورسېږي ظلم او عدوان د یو چا له خوا څخه (هم ینتصرون) یعني دوی خپل کسات او انتقام اخلي له ظالم څخه بېله تجاوز تر خپل حق.

پوهه: چي ابن زید ؒ وایي چي خدای ؒ مؤمنان دوه صنف ګرځولي دي، یو صنف هغه کسان دي چي عفوه کوي و خپل ظالم ته او بل قسم هغه دی چي انتقام او کسات اخلي له ظالم څخه پر دوی، وهم الذین ذکروا في هذه الآیة، قال عطاء المراد في هذه الآیة هغه مؤمنان چي دوی کافران د مکې مجبور کړه دوی چي مکه مکرمه پرېږدي بغیر حق الا بان قالوا ربنا الله وحده، بیا هغو مظلمانو ته خدای ؒ قدرت ورکړی په مځکه کي، نو دوی خپل انتقام د هغو څخه واخستی، او بیضاوي ؒ وایي چي خدای ؒ موصوف کړه مؤمنان په امهات الفضائل سره چي یو په کراهة التذلل دی و ظالم ته او دا منافي نه دی د غفران او عفو و خپل ظالم ته ولي چي د غفران لار دوی هلته غوره کول چي ظالم به د تذلل لار خپله کړه توبه بې وکښل دوی بخښه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورته كول، والحلم والعفو عن العوام محمود والحلم عن المتغلب والخصم المقاوم مذموم، ولي وداسي سړي ته حلم كول اجراء على البغي باعث كول دي د هغه پر نور ظلم باندي، بعض مفسران وايي كه دغه ظالم متعدي پر حق الله ؤ وعامة المؤمنين ؤ فـلاولى بـل الواجب انتقام دى چي ددې فتنې دروازه بنده سي او هغه ظالم متعدي پر يوه سړي ؤ نو د هغه انتقام اخستل من غير تجاوز كه څه هم روا دى لكن عفو او اصلاح بهتر ده لان دفع السيئة بالحسنة افضل.

وَجَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا

جزاء د بد عمل (تانيث په اعتبار د خصلة دى) چي څو يې وكړي د بل سره.

يوه سه: چي دا جمله بيان دى د حق د منتصر يعني چي كسات كاږي.

سوال: جزاء د سيئه خو بد كار نه دى بلكې خپل حق غوښتل دي؟

ځواب: لپاره د مشاكلة ده او بل جواب دادى چي مثلها چي يې وويل لپاره د اشاره و دې ته ده چي انتصار كه څه محبوب دى لكن په شرط د مماثلت چي منتصر دي د جاني تر فعل بالا بود نه كوي په انتصار كي، وهذا امر عسير جداً وفيه حث على العفو احتياطًا تاچي په انتصار كي بالابود ځني ونسي فافهم.

فَمَنْ عَفَا وَاَصْلَحَ فَاَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ

كه چا عفوه وكړه و جاني ته او اصلاح يې وكړه يعني د جاني له جنايت څخه يې سترګي پټي كړې، نو ثواب يې پر خداىٴ دى يعني رب جل وعلا اعظم الجزاء وركوي، له الحسنؒ څخه روايت دى اذا كان يوم القيامة نادىٰ مناد من كان اجره على الله فليقم فلا يقوم الا من كان عفى عن الجاني.

اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ۝

په تحقيق د خداىٴ نه دى خوښ يعني يبغضهم، له ظالم څخه دلته مراد يا ابتداءً ظلم كونكى دى او متجاوز تر حد په كسات اخستلو كي. او ابن عباس رضي الله عنهما وايي چي مراد له ظالمين څخه هغه كسان دي چي ابتداءً يې ظلم كړى وي، د ابن عباس رضي الله عنهما د قول دليل هغه حديث ګرځېداى سي، المستبان اثمهما على البادي منهما لافعلى منهما حتى يتعدى المظلوم (دوه كسان چي يو و بل ته ښكنځل سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کوي ګناه يې پر شروع کونکي د ښکنځلو ده تر هغو چې له مظلوم څخه تجاوز ونسي تر خپل حد) رواه احمد، مسلم و ابو داؤد عن ابی هریرة رضی الله عنه.

فائده: له دې حديث څخه دا معلوميږي چې شروع کونکی د ظلم اظلم دی او مجيب ته نوع د رخصت سته، له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې يو منافق ښکنځل وکړه و ابوبکر رضی الله عنه ته والنبي ﷺ جالس فيتعجب (يعني وحلم ته د ابوبکر او تبسم يې کاوه او هغه منافق مکرر وارونه ښکنځل ورته کول، اخيرًا ابوبکر رضی الله عنه ته درد ورغلی نو ابوبکر رضی الله عنه جواب ورکړی فغضب النبي ﷺ وقام، نو ابوبکر رضی الله عنه پسي ولاړ سو فقال يا رسول الله هغه سړي چې ما ته ښکنځل کول او ته ناست وې چې ما د بعض ښکنځلو ده جواب ورکړی تا ته درد درغلی او ولاړ سوې عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل چې تا چي جواب نه ورکاوه ستا سره ملکه وه هغې به ستا جواب ورکاوه ولما رددت بعض قوله وقع الشيطان، نو زه ولاړ سوم د شيطان سره ناسته ما مناسب نه بلل. وروسته وويل عليه الصلوٰة والسلام يا ابابکر ثلاث لهن حق ما من عبد ظلم مظلمة (نسته يو بنده چې پر ده يو څوک ظلم وکړي) نو دی بخښه د هغه ظلم ورته وکړي لپاره د خدای جل جلاله (يعني نه د بيري څخه) الا اعزه الله بها نصرة (مګر خدای جل جلاله وده ته نصرت ورکوي) الی آخير الحديث، وفي الحديث الذي رواه مسلم عن عياض بن حماد رضی الله عنه لايکون اللعانون (چې يو بل ته لعنت وايي) شهداء ولا شفعاء يوم القيامة.

وَلَمَنِ انْتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهٖ

پوه سه: چې ظلمه مصدر مضاف دی و مفعول ته ای ظلم الظالم اياه، يعني پر ده باندې ظالم ظلم وکړی او ده خپل کسات څني واخستی.

فَأُولٰٓئِكَ مَا عَلَيْهِمْ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۱﴾

نو دغه کسان نسته پر دوی باندې مواخذه او ګناه.

فائده: اولئک اشاره ده و من ته او عليهم ضمير هم و من ته راجع دی.

سوال: من خو مفرد دی اشم اشاره او ضمير خو دواړه جمع دي؟

خواب: جمعيت يې په اعتبار د معنٰی د من دی، وجه د نفي د السبيل پر دوی لانهم فعلوا ما ابيح لهم من الانتصار.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَظْلِمُونَ النَّاسَ

لار د عذاب د آخرت او عتاب و مواخذه په دنيا کي پر هغو کسانو ده چي شروع او ابتداء د ضرر رسولو و خلکو ته کوي په ځانو کي د هغو يعني يا ضرب و کوب ور کوي يا شتم و ښکنځل ورته کوي يا په اموالو کي د هغو چي نقود په زوره ځني غواړي يا يې آبروی کړي يعني داسي خبري او تهمت پر وايي چي د هغه بې آبرويي پکښې وي.

وَيَبْغُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۚ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ

او ظلم او تجاوز کوي په مځکه کي ناحقه او ځان پر خلکو لوړ بولي تکبراً، داسي کسانو لره عذاب دردناکه سته په دنيا او آخرت کي.

وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ

هر آئينه څوک چي صبر وکړي پر ظلم د ظالم او دده تر ازار و رتېرسي يعني انتقام نه ځني واخلي، نو په تحقيق د غه غفر او صبر د معزوماتو کارو څخه دی (يعني عزم مصدر دی په معنی د مفعول دی) يعني مطلوب شرعاً دی. او الزجاج" وايي: يؤتي الله صبره ثواب جزيل فالرغبة في الثواب اتم عزم، روايت دی چي په مجلس کي د الحسن البصري" يوه سړي بل سړي ته سخت ښکنځل وکړه هغه مسبوب صبر وکړی يعني جواب يې نه ورکاوه لکن پر تندي به يې خوله راتله له درد څخه. نو ده به خوله پاکول وروسته دی ولاړ سو او دا آيت يې ووايه ولمن صبر الآية. الحسن" وويل دا سړی په دې ايت پوهېدلی دی عقلها وفهمها اذضيعها الجاهلون.

وَمَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ وَلِيٍّ مِنْ بَعْدِهِ

او څوک چي خدای گمراه کړي نو نسته هغه لره کومک کوونکی يعني چي هدايت دي ورته وکړي او له عذاب څخه د خدای دې خلاص کړي. يعني وروسته تر خزلان د خدای.

پوښتنه: بعض جاهلان دا سوال کوي چي د غه سړی چي خدای" گمراه کړی ؤ نو دا خو مجبور دی نو بيا عذاب په ورځ د آخرت ولي ورکوي؟

ځواب: دا گمراه کول تکويني نه دی لکه د چا مرگ عند انقضاء الاجل بلکې دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اختیاري کار دی د بنده نسبت و خدای ته چې و کړی له دې سببه چې خدای پاک امر تکویني سره و ده ته هدایت و نه کړي لان مدار الثواب والعقاب هو الفعل الاختیاري.

درویش وایي: چې دا مذهب د اهل السنة والجماعة دی چې متوسط په مابین کي د مذهب د جبریه ؤ دی چې بندګان په ایمان او کفر، طاعت او عصیان کي مجبور محض بولي، فقیر وایي چې پر دې مذهب منحوس ارسال ته د رسولانو او انزال د کتب الهیة ؤ څه ضرورت سته او په ورځ کي د قیامت چا ته جنت ورکول او چا ته دوزخ ورکول ظلم علی اهل النار تعالی الله عن ذالک علوًا کبیرًا، وایضًا یلزم الترجیح بلا مرجح وهو خلاف العقل، او په مابین کي د مذهب د قدریه ؤ چې بنده خالق د خپلو افعالو من الایمان والکفر والطاعة والعصیان بولي فقیر وایي وهذا المذهب خلاف قوله تعالی: والله خلقکم وما تعملون، التفصیل في کتب علم الکلام کشرح العقائد وشرح المقاصد کلیهما للعلامة الثاني سعد الملة والدین التفتازاني رحمه الله والمواقف وشرحه للسید الجرجاني وغیرها.

وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ

ته به ووینې یعني په ورځ د اخرت (دا خطاب دی و مخاطب غیر معین ته، والغرض منه ان هذه الرویة غیر مخصوص بالرائي دون الرائي) هغه وخت چې دوی ووینې عذاب.

سوال: رأوا خو ماضي ده او دا رؤیت په مستقبل کي یعني په ورځ د قیامت راځي؟

ځواب: هغه شی چې حتمًا راتلونکی وي مستقبل یې لکه ماضي دی.

يَقُوْلُوْنَ هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۴﴾

آیا سته ورد ته د دنیا یوه لار.

بوه سه: چې دا قول استفهام دی لفظًا معنی یې سوال دی د رجعت و دنیا ته، غرض د دوی په دې سوال کي دا دی چې که مونږ و دنیا ته رد سوو مونږ به ایمان راوړو پر وحدانیت د خدای جل جلاله او د هغه ذات والاصفات به طاعت کوو، لکن هیهات الرد الی الدنیا بعد اذ رأو العذاب -- بیت

توبیش از عقوبت درعفو کوب ❁❁❁ که سودی ندارد فغان زیر چوب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَتَرٰىهُمْ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا

ستا به علم راسي پر دوی چي دوی پيشيږي او رته.

پوښتنه: ضمير مؤنث د عليها خو نار ته راجع دی (چي مؤنث سماعي دی) او د نار لفظ خو د مخه نه دی ذکر سوی، نو اضمار قبل ذکر المرجع به نه وي؟

ځواب: ذکر د مرجع لفظًا شرط نه دی په ارجاع کي د ضمير بلکي ذکر حکمي هم کافي دي او دلته لفظ د عذاب دال دی پر نار، ولي چي عذاب د يوم القيامة محضور دی پر نار فافهم.

خٰشِعِيْنَ مِنَ الذُّلِّ يَنْظُرُوْنَ مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ

"خاشعين" اى خاشعين متذللين په سبب د ذلت اى مما يلحقهم من الذلة، دا جمله "ينظرون آه" حال بعد الحال ده له فاعل څخه د يعرضون، کلمه د من لپاره د ابتداء ده اى يبتدء نظرهم من تحريک لاجفانهم (بانوګان) له جهته څخه د خوف او ذلت، په پښتو کي د سترګو تر کونجيانو لکه يو څوک چي محکوم بالقتل سي د سياف و توري ته د سترګو تر کونجيانو ګوري يعني په پوره نظر نه سي ورته کتلای.

وَقَالَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَاَهْلِيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

او وايي هغه کسان چي ايمان يې راوړی وي يعني په دنيا کي چي په تحقيق لوی تاوانيان هغه څوک دي چي په خسران کي يې اچولي وي خپل ځانونه او اتباع د دوی په کفر کي.

پوه سه: چي "ان الخاسرين" تر پايه پوري مقوله د "قال الذين آه" ده.

اَلَآ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ فِيْ عَذَابٍ مُّقِيْمٍ

په ورځ د قيامت (يوم ظرف دی د خسران) آګاه اوسه چي په تحقيق ظالمان يعني کافران په عذاب دائم کي دي. دا جمله يا تمامه ده د قول د مؤمنانو يا تصديق دی د خدای ﷻ له خوا د دوی د قول.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنْ أَوْلِيَاءَ يَنصُرُونَهُم مِّن دُونِ اللَّهِ

نسته دوی لره یعني کافرانو لره دوستان چي له دوی څخه دي عذاب دفع کړي ماسوی له خدای څخه (حال دی من اولیاء)

وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِن سَبِيلٍ ﴿٤٦﴾

او هغه څوک چي په علم ازلي کي د خدای گمراه وي نو نسته هغه لره لار و حق ته في الدنيا والی الجنة في العقبیٰ یعني بندي دي تولي لاي د خیر پر دوی.

اسْتَجِيبُوا لِرَبِّكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهُ مِنَ اللَّهِ

تاسي قبلونه وکړئ د داعي الی الله محمد رسول الله ﷺ (فالعبارة بحذف المضاف ای لداعي ربکم) د مخه تر دي چي راځي هغه ورځ یعني یوم القیامة چي ردېدل یې نسته د خدای له خوا چي راغله.

مَا لَكُم مِّن مَّلْجَإٍ يَوْمَئِذٍ وَمَا لَكُم مِّن نَّكِيرٍ ﴿٤٧﴾

نسته تاسي لره ځای د پناه یعني له عذاب څخه د خدای په هغه ورځ او نه هم انکار کول له خپلو اعمالو څخه (نکیر مصدر دی پر وزن د فعیل) انکار په دې نسي کولای چي ستاسي د اعمالو په صحائفو کي نوشته دي او که تاسي هغه نه منئ یعني دا چي په موږ پسي ناحقه کرام کاتبین نوشته کړي دي بیا به ستاسي ژبي او نور اعضاء د جسد ستاسي به پر تاسي شاهدي اداء کوي کما جاء في الحدیث الذي رواه البخاري وغیره.

فَإِنْ أَعْرَضُوا فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ۖ

که دوی روی گرداني وکړه ستا له اجابت څخه یا محمد (ﷺ) نو ته نه یې استولی موږ پر دوی رقیب محافظ د اعمالو ددوی.

پوهنه: چي اصل جزاء د شرط محذوفه ده دلیل د جزاء یې په ځای کي د جزاء ور درولی دی، والتقدیر فان اعرضوا فلا تحزن (ته غم مه کوه) لانا ما ارسلناک علیهم رقیبًا چي د دوی پر اعراض پر تا اعتراض وي د خدای.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنْ عَلَيْكَ إِلَّا الْبَلٰغُ

نسته پر تا باندي مګر رسول د اوامرو د خدای وقد بلغت حق التبليغ مرات وكرات ليلاً ونهارًا وقد اوذيت في ذالک نهاية الاذى.

وَإِنَّآ إِذَآ أَذَقْنَا الْإِنسَانَ مِنَّا رَحْمَةً فَرِحَ بِهَا

او چي مونږ ورسوو (وليس من ذوق الفم، او پوه سه: چي مراد جنس انسان دی) زمونږ له خوا څخه نعمت په دنيا کي، ابن عباس رض وايي اى الغناء والصحة، نو دی خوشحاله سي په هغه نعمت سره کما هو تبع الانسان.

درويش وايي: چي ذکر ددې دوو نعمتو على سبيل التمثيل دی په قول د ابن عباس رض من دوران هذين المذكورين والا فلا تنحصر انعم الله في ذالک:

وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَإِنَّ الْإِنسَانَ كَفُورٌ ۝

که دوی ته ورسېږي يو تکليف (لکه کاختي يا فقريا مرض وغير ذالک) يعني په سبب د ګنهو ددوی، هغه انسان چي په نعمتو کي خوشحاله ؤ (کفور) صيغه د مبالغې ده ای بليغ الکفران يعني د هغو سابقو نعمتو يعني هغه يې هېر سي يا منکر سي (يعني باقل شيئ من الشدة) دی هېر کړي ټول له نعم الهيه سابقه او دا موجوده سيئه د شکايت په توګه يې ذکر کوي.

پوه سه: چي تعبير په "ايدي" سره په سبب ددې دی چي اکثره افعال په لاسو کول کېږي.

سوال: دا احکام خو د مجرمانو دي، او تا دمخه وويل چي لام د جنس دی؟

ځواب: هو چونکه په هر عصر کي مجرمان ډېر دي، نو ددې اسناد د افعالو ددوی و جنس ته يې وکړی، البته که فقير لام د استغراق بللی وای، نو دا سوال به وارد بدلای.

فائده: د رحمت په بيان کي يې اذا راوړی چي دال پر تحقق دی لان الرحمة واصابت النعمة عادته تعالى في جميع الازمنة، او د سيئه په بيان کي يې ان راوړی چي لپاره د محتمل الوقوع شيانو استعمالېږي ولي اصابة السيئة محتمل الوقوع ده. فتدبر بالعقل السليم.

راغب اصفهاني رح وايي: کفر النعمة وکفرانها سترها (پټول د نعمت دي)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بترک اداء شکرها، واعظم الکفر جحودهم (انکار ددوی دی یعني انکار) للوحدانیة او النبوة او الشریعة والکفران في جحود النعمة اکثر استعمالاً، والکفر في الدین اکثر استعمالاً والکفور په داوړو کي جمیعًا یعني کفر النعمة والکفر في الدین، امام ماتریدي ؒ فرموده که کفران مؤمن آنست که ترک شکر کند آه ــــــع: درشکر همچو چشمه ودرصبر همچو خاره ایم

وقال علي رضي الله اقل ما یلزمکم من الشکر ان لا تستعینوا بنعمة الله في معاصیه.

لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ يَخْلُقُ مَا يَشَاۗءُ ۭ

خدای ؒ لره ده بادشاهي د اسمانو او مځکي، نو ده لره دی تصرف په دواړو کي کیف یشاء که چا ته انعام ورکوي او که انتقام ځني اخلي، پیدا کوي هغه شی چي دده ورته اراده سي، دا جمله علت ده د ماقبل جملې او دا وروسته جمله بیان دی للخلق علی حسب المشیة.

يَهَبُ لِمَنْ يَّشَاۗءُ اِنَاثًا وَّيَهَبُ لِمَنْ يَّشَاۗءُ الذُّكُوْرَ ۝

ورکوي خدای ؒ بعض انسانانو ته فقط لوڼې، ولا یکون له ولدًا ذکرًا، او بعض خلکو ته ورکوي خالص زامن چي لور هیڅ نه لري.

فائده: بعض اکابر وایي چي له برکت ښځه د ښځي دادی چي اول یې لور پیدا سي وروسته زوی لان الله بدء بالانثی.

تنبیه: لوڼې یې د مخه کړې علی رغم انف المشرکین چي دوی به لوڼې ژوندي ښخولې.

اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّاِنَاثًا ۚ وَيَجْعَلُ مَنْ يَّشَاۗءُ عَقِيْمًا ۭ اِنَّهٗ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ۝

او ورکوي بعض کسانو ته زامن او لوڼې ګډ وډ، او ګرځوي بعض کسان بې عیاله چي په پښتو یې وچ بولي چي نه زوی لري او نه لور، نو هغه خدای عالم دی په ما یخلق او قادر دی پر ما یشاء فیفعل بحکمته واختیاره لیس له شریک في الملک والخلق.

درویش وایي: چي اولاد که نروي او که ښځي له مواهب ښځه د رحمن دي وعطایاء، له دې سببه چي چا ته زېری وسي د ولد، نو سنت دی چي اظهار د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوشحالي ورکړي او له نعمت څخه د خدای ﷻ دې بولي.

فوائد شتې: (۱) عيسیٰ عليه السلام عقيم وُ يعني اولاد يې نه درلودی، ولې چې ده ازدواج نه دی کړی، نعم وروسته تر نزول دده له اسمان څخه په اخير الزمان به نکاح وکړي او يو ازې يې لونې پيدا کېږي، او يحيیٰ عليه السلام که څه هم تزوج کړی وُ لکن لم يقرب يعني وطي يې نه دي ورسره کړي لکی عزيمت فلي شريعته يعني نکاح دي وکړي لکن نزدېکت دي نه سره کوي يعني صرف په نکاح کولو سره به موافقت د نور انبياوُ حاصل کړي.

(۲) قد ورد في الحديث النبوي ﷺ الولد في الدنيا نور وفي الآخرة مسرور، وفي حديث آخر ريح من ريح الجنة، وفي الحديث آخر سواد (توره ښځه) ولود (چې عيال يې کېږي) خير من حسناء (تر ښائستې ښځې) چې عقيم وي يعني وچه وي.

(۳) عقيم د ښځو هغه ده چې مني د زوج يې رحم نه ساتي، ولې چې د رحم د خولې کشان يې سست وي د نر مني بيرته ځني راتوی سي په سبب د يو آفت، او نر هم عقيم کېدای سي سبب يې دادی چې په نطفه کي يې تخم نه وي، والله اعلم بحقيقة الحال.

وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ اِلَّا وَحْيًا

نه ده ممکنه او نه ده صحيح هيڅ بشر لره چې خبري دي ورسره وکړي خدای ﷻ، بغوي ؒ وايي چې يهودان راغله و نبي عليه السلام ته او وه يې ويل چې که ته نبي يې د خدای سره خبري وکړه، او ورته وګوره لکه موسیٰ ؑ چې خبري ورسره وکړې او خدای يې هم وليدی، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې د موسیٰ ؑ خبري د خدای ﷻ سره صحيح دي لکن خدای ﷻ يې نه دی ليدلی، فانزل الله تعالی هذه الآية نو معنی د آيت داده چې نظر و خدای ﷻ ته عند الوحي په دنيا کي شرط نه دی نو مراد د وحي څخه القاء د کلام بسيط في القلب ده.

"او من وراء حجاب" څخه مراد هغه کلام مسموع دی بلا توسط ملک کما اتفق لموسیٰ عليه السلام في طوی والطور چې موسیٰ عليه السلام خبري د خدای ﷻ اورېدې بېله توسطه د ملکي لکن خدای ﷻ يې نه ليدی، کذا قال البغوي ؒ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَوْ مِنْ وَّرَآئِ حِجَابٍ اَوْ یُرْسِلَ رَسُوْلًا فَیُوْحِیَ بِاِذْنِهٖ مَا یَشَآءُ

او يا ورته واستوي رسول، يا جبرئيل يا بله ملكه، نو وحي وكړي دغه ملكه د مرسل اليه سره په اجازه د خداى چي د خداى ورته اراده وي لكه جبرئيل اكثراً د قرآن كريم د آياتو يا د سورتو القاء وعليه الصلوة والسلام ته كوله، حاصل دا چي تكلم د خداى حصر دى په دوه قسمه كي بلا واسطة الملك ويقابله ارسال الملك بكلامه تعالى الى الانبياء، له عائشي ﷺ څخه روايت دى چي حارث بن هشام پوښتنه وكړه د رسول الله ﷺ څخه: يا رسول الله كيف يأتيك الوحي؟ تاته څرنگه وحي راځي؟ فقال رسول الله ﷺ احيانًا يأتيني مثل صلصلة الجرس يعني لكه مسلسل رنگ چي څوک وهي، وهو اشد علي (دا صورت د وحي پر ما ډېر سخت پرېوځي، ولي فهم د خبرو د مسلسل رنگه څخه ډېر گران دى) بيا هغه رنگ قطع سي او ما هغه خبري په ياد كړي وي يعني د قلب اطهر مقدس پر ورقو نوشته سوي وي، واحيانًا تمثل لي الملک رجلاً (گاهي ماته ملک په صورت كي د رجل راسي، چي په صورت د دحية بن خليفة الكلبي وي) زما سره خبري وكړي زه يې په ياد كړم.

تفريع: نو اول قسم تكلم د خداى بېله واسطې دى، او دوهم قسم په واسطه د ملكي دى، سيدتنا وامنا عائشة ﷺ وايي چي ما ليدلي دي چي پر ده مبارک به وحي نازلېدې (تعني مثل صلصلة الجرس) في اليوم الشديد البرد چي ډېره يخه ورځ به هم وه، وحي چي به قطع سوې د عليه الصلوة والسلام پر تندي به خولې روانې وې، بخاري مسلم، او د عباس ﷺ څخه روايت دى اقام رسول الله ﷺ بمكة خمس عشر سنة (۲۵) كاله رڼا به يې ليدل او اواز به يې اورېدى ولا يرى شيئًا (هيڅ شى به يې نه ليدى، او اته كاله وحي ورته كېدې (يعني دواړه قسمه) واقام المدينة (۱۰) كاله وحي جاري وې، وتوفى بالمدينة ۶۵ متفق عليه.

اِنَّهٗ عَلِیٌّ حَكِیْمٌ ﴿۵۱﴾

الله عزوجل لوړ دى له صفاتو څخه د مخلوق، هر كار يې له حكمت سره دى يعني عبث كار نه كوي (يعني گاهي د چا سره خبري بلا واسطه كوي كما في مثل صلصلة الجرس، او گاهي په واسطه سره د ملكي)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا

او داغه رنګه لکه مونږ بیان تاته وکړی مونږ وحي وتاته کړي د روح چي مراد ځني قرآن دی (ولي په قرآن سره حیوة د زړو دی لکه چي په روح متعارف سره حیوة د ابدانو دی) کذا قال الکلبي ومالک بن دینار، او الربیع وایي چي له روح ځنځه مراد جبرئیل دی، نو پر دې تقدیر مراد له اوحینا ځنځه ارسلنا دی او ابن عباس وایي چي مراد له روح ځنځه نبوت دی، وقال الحسن چي مراد له روح ځنځه رحمت دی، نو مراد ځني هم قرآن دی فان القرآن اثر الرحمة والنبوة دی "من امرنا" ظرف مستقر دی ای روحًا کائنًا من امرنا.

مَا كُنْتَ تَدْرِيْ مَا الْكِتٰبُ وَلَا الْاِيْمَانُ

ته نه وې خبریا محمد یعني د مخه تر وحي (چي تاته به څه شی راسي یعني من النبوة والوحي والقرآن) "ما الکتاب" ساد مسد د معفولي د تدري دی "ولا الایمان" مراد له ایمان ځنځه نفس تصدیق په وحدانیت د خدای نه دی لان الانبیاء علیهم السلام معصومون من ذالک، بلکې مراد هغه شرائع او احکام دي چي بیله سمع لا رورته نه وي کالصلوة والزکات والصوم وغیرها.

درویش وایي: چي که تفصیل د انبیاء علیهم السلام قبل النبوة و بعدها څوک غواړي، نو رساله په نامه د کشف الغطاء عن عصمة الانبیاء، چي د فقیر تصنیف دی په غور سره دې مطالعه کړي، حاصل دادی چي انبیاء علیهم السلام ته الهام کېدی د علم پر صانع المتوحد بصفات الکمال المنزه عن النقص والزوال، مظهري تبعًا للبیضاوي وایي وماقیل ان النبي ﷺ کان قبل الوحي یعبد الله علی دین ابراهیم فشیئ لایصاعده العقل والنقل ولي چي رسول الله ﷺ خو نبي امي ؤ یعني لم یقرء الکتاب ولم یکن دین ابراهیم شائعًا في قریش لانهم کانوا یعبدون الحجارة، لکن روح البیان په نقل د ابن قتیبة ځنځه وایي لم تزل العرب (همېشه عرب) پر بقایا د دین اسماعیل بن ابراهیم علیه السلام وه په ډېرو کارو کي من الحج والختان (سنتي) والنکاح وایقاع الطلاق، والغسل من الجنابة وتحریم نکاح ذوات المحارم لکه مور خور لور وغیرها، یا په مصاهرة سره ناروا لکه خوابنې یا جمع د دوو خوندو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په نکاح وکان رسول اللهﷺ على ما نوا عليه في مثل هذه الاحكام ويبغض اللات والعزى وغيرهما من الاصنام وكانﷺ يحج ويعتمر ويتبع شريعة ابراهيمؑ انتهى قول روح البيان والنقل عن القتيبي، والله اعلم بالصواب.

وَلٰكِنْ جَعَلْنٰهُ نُوْرًا نَّهْدِيْ بِهٖ مَنْ نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ؕ

او موږ کړځولی ؤ هغه (ابن عباسؓ وايي يعني الايمان وما قال السدي يعني القرآن فهو تفصيل لقول ابن عباسؓ) نهدی ای نوصل به العقيدة الحقة في الدنيا والى الجنة ومراتب القرب الى الله.

وَاِنَّكَ لَتَهْدِيْۤ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۙ

په تحقيق ته يا محمد (ﷺ) هر آئينه هدايت کوې تولو انسانانو ته (نو مفعول د تهدی محذوف دی ای کافة الناس) و هغې لارې ته چې اسلام دی چې موصل الى الجنان ورضي الرحمن ده.

پوهه: چې د هدايت دوې معناوې دي، يوه معنى ارائة الطريق ده يعني لار ښوونه که څوک عمل په وکړي او که يې نه په وکړي، په دې معنى عليه الصلوة والسلام هادي د کافة الناس دی په دې سره نفي د عليه الصلوة والسلام روا نه دي، او بله معنى يې دلالت موصله دی چې په هغه آيت کې مراد دی انک لاتهدي من احببت الآية، په دې معنى سره هدايت خاص په خدای ﷻ سره دی ځکه په مذکور آيت کې نفي د عليه الصلوة والسلام څخه وکړې.

صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ

لاره د الله "صراط الله" بدل دی د اول صراط څخه، ده لره دي يعني ملکًا وخلقًا هغه شيان چې په اسمانو کې دي لکه ملائکه، لمر او سپوږمۍ، ستوري وغيرهن، او چې په ځمکه کې دي يعني يا پر ظاهره د ځمکې دي لکه حيوانات او نباتات او درختې وغيرها يا په مابين کې د ځمکې دي لکه معدنيات.

اَلَاۤ اِلَى اللّٰهِ تَصِيْرُ الْاُمُوْرُ ۧ

اى امور الخلائق كلها في الآخرة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي په دې آيت کي وعد حسن دی د مطيعينو سره د خدای په دنيا کي او وعيد عظيم دی للمجرمين ای الکافرين.

درويش وايي: چي د سهل بن ابی الجعد څخه روايت دی چي يو وخت قرآن مبارک اور واخستی ټولي اوراقي يې وسوځلې الا قوله تعالى الا على الله تصير الامور، والمعنى اګاه اوسه چي ټوله امور د خلګو خدای ته راجع کېږي، والسر في ذالک ان هذه الاية کالحاصل لجميع آيات القرآن چي وعد دی للمؤمنين او وعيد دی للکافرين او امثال او قصص قرآنيه د دې دوو څخه خالي نه دي کما لايخفى على المتدبر في الآيات القرآنية والله اعلم بالصواب.

درويش وايي: چي تفسير د سورة الشورى په اخير کي د ربيع الثاني په وخت کي د ظهر وپای ته ورسېدی، وروسته به تفسير د سورة الزخرف شروع سي ان شاء الله تعالى سنه (١٤٣٢ هـ) وصلى الله تعالى على سيدنا خير خلقه ونور عرشه محمد وآله وصحبه اجمعين --- مصرع:

دا باران چي پر همه وو مځکو اوري ❁❁❁ مشرف يې کړی ذات د کېميا ولي

صبا مدينے میں مصطفیٰ سے ہم غریبوں کا سلام کہنا ❁❁❁ نہیں کوئی بجز تمھاری بس میرا اتنا پیام کہنا

جميع العلم في القرآن لکن ❁❁❁ تقاصرت عنه افهام الرجال

متل: دریاب که لوی دی چمچې دي خپل ده.

مناجات بدرگاه قاضي الحاجات:

الهی عبدک العاصي اتاکا ❁❁❁ مقرا بالذنوب وقد دعاکا

فان ترحم فانت لذاک اهل ❁❁❁ وان تطرد فمن ترحم سواکا

روز محشر ہر کہ آید تصویر جانان در بغل ❁❁❁ من نیز حاضر میشوم تفسیر قرآن در بغل

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ٠٧٤٩٨٤٩٥٦٩

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة الزخرف مكية وهي تسع وثمانون اية وسبع ركوعات

بسم الله الرحمن الرحيم

حمٓ ۝١ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝٢

پوه سه: چي حم د متشابهات قرآنيه څخه دی، او کلمه د واو لپاره د قسم ده يعني قسم دی په هغه قرآن کريم سره چي بيانونکی د هدايت او د ضلالت دی چي څوک په غور سره په خالي زړه د حسد او عناد څخه دده آياتو ته وګوري سبب د ايمان او تصديق په شرائع سره چي ثمره يې فلاح د دنيا او آخرت دده وګرځي.

اِنَّا جَعَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ۝٣

موږ ګرځولی هغه کتاب (دا جمله جواب د قسم ده) په عربي ژبه.

فائده: خدای پاک قسم واخستی په قرآن سره پر دې چي قرآن يې په عربي ژبه ګرځولی دی لتناسب المقسم به والمقسم عليه، وهذا من البدائع.

پوه سه: چي لعل په معنی د لام کی دی، يعني موږ وګرځاوه قرآن په لغت ستاسي ددې لپاره تاچي تاسي يې معاني وفهموئ او د قرآن بلاغت او فصاحت به تاسي ته معلوم سي چي د طوق څخه د بشر خارج دی بل هو كلام خالق القوي والقدر دی فتؤمنوا به ومن جاء به يعني محمد ﷺ.

وَاِنَّهٗ فِيْٓ اُمِّ الْكِتٰبِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيْمٌ ۝٤

هذه الجملة عطف على انا جعلناه، والضمير راجع الى القرآن، د ام الكتاب څخه مراد لوح محفوظ دی، وجه تسميه اللوح المحفوظ بام الكتاب لانه اصل لكل كتاب منزل على الانبياء عليهم السلام (لدينا) اى محفوظة لدينا يعني محفوظ من التغيير (لعلي) اى رفيع شانه في الكتب السماوية لكونه معجز من بين الكتب الالهية يعني چي څوک اتيان په مثل سره نه سي کولای فالقرآن معجزة لرسول الله ﷺ كر الازمان مر الدهور بخلاف غير القرآن من الكتب السماوية فانها ليست بهذه المثابة.

اَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا

همزه لپاره د انکار دی او فاء عطف ده پر مقدر، والتقدير انهملكم (آيا تاسي مهلت درکړم) الذکر اى القرآن يعني قرآن له تاسي څخه بند کړم او پر تاسي يې نه کړم نازل له تاسي څخه يې لېري کړم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي وروسته تر دې چي خدای ﷻ لوړ شان د قرآن بیان کړی وحقق جل وعلا چي انزال یې په لغت د عربو دداې لپاره دی چي اهل مکه په پوه سي او د تکبر او عناد څخه خالي له عقل څخه کار واخلي او ایمان پر راوړي او موافق د قرآن عظیم الشان د ښوونکو احکامو سره عمل وکړي، وروسته خدای ﷻ په استفهام انکاري سره چي خلاف ددې نسي کېدای افنضرب عنکم الذکر چي د آیت ترجمه مو عنقریب واوربدل.

فائده: په دې عبارت کي مجاز دی له هغه محاورې څخه منقول دی "ضَرَبَ الْغَرَائِبَ عَنِ الْحَوْضِ" وه یې شړل ناولده اوښان له خپل حوض څخه یعني مشابه یې کړی ځان د قرآن عظیم الشان او تنحیه عن اهل مکة بحال غرائب الابل د خپل حوض څخه بیا یې مستعمل کړی ما کان في تلک القصة، دلته په حال کي د قرآن په دې عبارت کي خدای ﷻ تنبیه وکړه پر دې چي حکمت الهي تقاضا لري چي حتمًا به دا ذکر او قرآن دوی ته متوجه کېږي.

درویش وایي: چي ورته عبارت ته په علم بیان کي استعاره تمثیلیه وایي چي تفصیل به یې پر متعلمینو ګران پرېوزي الا العلماء بفن اقسام الاستعارات المذکورة فیه، ژوندی مثال یې قول د حجاج بن یوسف دی چي ده په خپله خطبه کي د اهل عراق د تهدید (د بېرولو) لپاره وواېه "لاضربنکم وضرب غرائب الابل عن الحوض آه)

اَنْ كُنْتُمْ قَوْمًا مُّسْرِفِيْنَ ۝

په سبب ددې چي تاسي په کفر کي ډېر تر حد تجاوز کړی دی، وحاصل معنی الآیة افترک عنکم الوحي ونمسک عنکم القرآن فلا نأمرکم ولا نهاکم من اجل اسرافکم في الکفر، فافهم والله اعلم بمراده في کتابه.

وَكَمْ اَرْسَلْنَا مِنْ نَّبِيٍّ فِي الْاَوَّلِيْنَ ۝

او ډېر را استولي دي موږ نبي په اولینو امتو کي.

فائده: کم خبر دی مفید د کثرت دی په محل کي د نصب دی چي مفعول مقدم د ارسلنا دی او من نبي یې تمیز دی د کم او في الاولین متعلق دی په ارسلنا پوري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا يَأْتِيهِم مِّن نَّبِيٍّ إِلَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِءُونَ ۝

نه راتلى دوى ته (نو ضمير د يأتيهم راجع دى و اولين ته)

پوهه: چي دا حكايت د حال ماضيه دى لان ما انما تدخل على مضارع في معنى الحال يعني ان عادة الامم الماضية الذين يدعونهم الى الدين الحق (چي انبياء به دوى بلل و دين حق ته چي ايمان او توحيد دى) او دوى به پسخند په واهه او تكذيب به يې كاوه، غرض په دې آيت كي تسلي ده و عليه الصلوة والسلام ته چي بايد د خپل قوم د تكذيب او استهزاء څخه ډېر مغموم نه سي لما قيل ان المصيبة اذا عمت خفت، او پښتانه وايي: بلا چي عامه سي اسانه سي.

فَأَهْلَكْنَا أَشَدَّ مِنْهُم بَطْشًا وَمَضَىٰ مَثَلُ الْأَوَّلِينَ ۝

او موږ هلاك كړي سخت تر مجرمينو يعني تر قوم اهل مكه، يعني د مخه تېري سوي په قرآن عظيم الشان كي قصص عجيبه د هغو چي حق يې دا ؤ چي متلونه گرځېدلي واى.

فائده: اشد حال دى له مفعول محذوف څخه د اهلكنا وتقدير الكلام فاهلكنا الاولين (هذا هو المفعول المحذوف) حالكونهم اشد من مشركى مكة (بطشا) ازروى قوة، دا تمييز د نسبت څخه د اشد يا مفعول مطلق دى د اهلكنا من غير لفظه، په دې كي وعده ده د عليه الصلوة والسلام سره چي تا ته به هم نصر دركړم پر مشركينو د مكې و وعيد للمشركين المستهزئين به عليه الصلوة والسلام، وبالفارسية اقربائى ايشان را هلاك كرديم وشدت وشوكت ايشان مارا عاجز نداشت.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِيزُ الْعَلِيمُ ۝

او كه ته يا محمد (ﷺ) د اهل مكه د مشركانو څخه پوښتنه وكړې (كلمه د لام لپاره د قسم ده) چي چا پيدا كړي دي اسمانونه او مځكه، نو دوى به وايي چي خداى پيدا كړي دي دغه اسمانونه او مځكه عزيز غالب، او ښه خبر دى په حال د هر چا خداى.

پوښتنه: دا سوال له كفارو څخه په ډېرو ځايو كي د قرآن كريم كړه سوى دى، په جواب كي د دوى فقط لفظ الله ويلى دى، او دلته يې عزيز حليم ورسره زيات كړى، وجه يې څه ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: دا لازم ددوی د قول سره دی چې اسم جليل د الله دی لان الله اسم للذات العزيز العليم وغيرهما من الصفات الجليلة، نو دلته هغه لازم ددوی د قول سره چې الله ؤ په ځای د ملزوم ودراوه لا لزام الحجة عليهم.

سوال: دا وروسته صفات يعني الذي جعل آه د څه حکمت لپاره راوړي دي؟

ځواب: هغه يعني الذي جعل لكم او معطوف پر هغه يعني والذي نزل من السماء الى اخيره جمل مستانفه دي لپاره د بيان د العزيز العليم فافهم.

الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ مَهْدًا وَّجَعَلَ لَكُمْ فِيْهَا سُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿١٠﴾

هغه خدای ؒ دی چې ګرځولې يې ده ځمکه فراش چې تاسي پر ګرځئ من موضع الى موضع وتنامون عليها، د مثال په توګه لکه زانګو د طفل چې د هغه خوابګاه ده او د استراحت ځای دی، او پيدا کړي دي خدای پاک په ځمکه کې ستاسي د نفع لپاره لاري چې د هغو لارو په ذريعه د تجارت او نورو مقاصدو لپاره رفت او آمد وکړئ.

پوهه: چې لعل په معنٰی د لام کی دی ای کی تهتدون الى مقاصدکم او تهتدون الى حکمة الصانع بالتفکر فيها.

وَالَّذِيْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ ۚ

او هغه خدای ؒ دی چې را اوروي له اسمان يا د وريځي څخه (لان كل ما علاك سماء) اوبه يعني بارانونه په اندازه سره چې په فائده سره ستاسي د کښتو او باغو تمامېږي، او ضرر نه رسوي يعني داسي نه دی لکه طوفان نوح ؑ.

سوال: عادي بارانونه ګاهي د بعض خلګو ضعيفه وداني ونړوي؟

ځواب: ترک د خير کثير لپاره د دفع د شر قليل خارج له قانون څخه د حکمت الهي دی وايضًا قال الشاعر:

نقصان ز قابلست وګرنه علی الدوام — فيض سعادتش بهمه کس برابر است

يعني باران د سعادت و ټولو انسانانو برابر دی لکن نقصان په زړه خونه کې ؤ چې د باران له سببه ونړېده.

فَأَنْشَرْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ كَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ﴿١١﴾

نو موږ ژوندی کړی په هغو اوبو سره (فانشرنا) په دې عبارت کې التفات دی له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غیبت ځکه چې په ماقبل عبارتو کې ؤ و تکلم ته، وهذه الانتقالات من التکلم الی الغیبة او الخطاب او من الغیبة الی التکلم والخطاب او من الخطاب الی التکلم و غیبت ته چې مجموع شپږ دي د محسناتو ځکه د عربیت کما تقرر في علم البیان، معنی د انشرنا احیینا ده، بلدة ته په معنی معروف نه دی یعني ښار، بلکه یو ځای او مځکه چې د مخه تر او ربښت مړه وه (مرګ د مځکي عدم النباتات علیها) (کذالک ای اخراجًا وانشاءً مثل انشاء الارض بالمطر، تاسي به راوځي له قبرو ځکه او حیث ما کنتم امواتًا یعني ژوندي به سي عند نفخة الصور الثانیة لاسرافیل۔

درویش وایي: چي بخاري او مسلم چي په اصطلاح د اهل الحدیث یې شیخان بولي او ددوی دوو کتابو ته صحیحین بولي، روایت کړی دی ابو هریره رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ما بین النفختین اربعون، خلکو ورته وویل یا ابا هریرة اربعون یومًا؟ (څلوېښت ورځي دي) ده ورته وویل "ابیت" (زه له دې ځکه ابا کوم یعني نه وایم چي څلوېښت ورځي دي) قالوا اربعون شهرًا؟ قال ابیت، قالوا اربعون عامًا؟ قال ابیت، راوي وایي چي سبب د ابیت ویلو د ابی هریره رضی الله عنه دا دی چي دده لفظ مسموع د علیه الصلوة والسلام ځکه هېر ؤ، ثم قال ابو هریرة رضی الله عنه ثم ینزل الله من السماء ماءً، بیا خدای باران شروع کړي (وفي روایة ختهه او به لکه نطفه) نو دا انسانان له مځکي ځکه راووځي لکه وانبه د مځکي له تخمو ځکه؛ ابو هریره په روایت د علیه الصلوة والسلام وویل: لیس من الانسان شیئ الا ابتلی (هیڅ شی له انسانانو ځکه نسته یعني صحیح اندام نسته مګر خاوري کېږي او زړېږي) الا عظمًا واحدًا وهو عجب الذنب (مګر نه یو هډوکی چي ګردی هډوکی دی هغه نه خاوري کېږي او نه ورستېږي) پر هغه د انسان ترکیب کېږي لکه پر تخم چي ترکیب د نبات کېږي، او ابن ابی حاتم له ابن عباس رضی الله عنهما ځکه روایت کړی دی چي وروسته روحان راخوشي کړل سي او د خدای جل جلاله له خوا امر ورته وسي چي هر روح دي خپل بدن ته داخل سي چي په دنیا کي ؤ.

پوښتنه: هر روح خپل بدن څنګه پېژني؟

ځواب: په حدیث شریف کي راغلي دي لکه هر انسان چي په دنیا کي خپل کور ته ورتلی د بل چا په کور نه ور ننوتی، همدا رنګه د روح مثال دی.

درويش وايي: ولا يدرك قدرة الله الا هو، نو دا د حيرانتوب خبره نه ده نظر و قدرت تامه كامله ته د خداى ﷻ بلكې يجب الايمان به.

وَالَّذِىْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ

پوهه: چي ازواج دلته په معنى معروف سره نه دى بلكې په معنى د اصناف الخلائق، او له ابن عباس ؓ څخه روايت دى چي ازواج دلته په معنى د انواع او اقسام دى كالحلو (شيرين) والحامض (تريخ) والابيض (سپين) والاسود (تور) والذكر (نر) والانثى (ښځه)

وَجَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْفُلْكِ وَالْاَنْعَامِ مَا تَرْكَبُوْنَ ﴿۱۲﴾

او ګرځولي يې دي يعني پيدا كړي يې دي ستاسي د نفع لپاره له كښتيانو څخه او د چارپايانو څخه يعني چي صالح د سپرتيا وي لكه اوښان او غوايي نه پسه يا بزه، هغه شيان چي تاسي پر سپرېږئ.

پوهه: چي كلمه د ما موصوله ده عائد يې محذوف دى اى تركبونه.

پوهه: چي ركوب نظر و كښتۍ ته متعدي په حرف جر ده وهو في كما في قوله تعالى: واذا ركبوا في الفلك، بخلاف الركوب بالنظر لا اليه فانه يتعدى بنفسه كما في قوله تعالى لتركبوها. نو په دې آيت كي يې تغليب وركړى و متعدي بنفسه ته يعني كلمه د في يې نه راوړه لقوته على المتعدي بحرف الجر. او يا يې تغليب وركړى و هغه شي ته چي مخلوق د خالق د ركوب لپاره وي لكه انعام پر مصنوع باندي لكه كښتۍ لكونه مصنوع الخالق القدير. يا يې تغليب وركړى و غالب ته پر نادر باندي، فافهم كذا في روح المعاني مفصلا وفي المظهري اجمالاً وفي روح البيان بين الاجمال والتفصيل وكذا في البيضاوي والتفسير الكبير للامام الرازي ؒ.

لِتَسْتَوٗا عَلٰى ظُهُوْرِهٖ

چي تاسي برابر سئ يعني سپاره سئ پر شاؤ د ما تركبون.

سوال: د مخه خو كلمه د ما مفرده راغلي وه، نو د ظهوره و ما مفرد ته څرنګه صحيح كېږي؟

ځواب: كلمه د ما كه څه هم مفرد ده لفظًا لكن جمع ده معنًى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثُمَّ تَذْكُرُوا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ إِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ

دريه ياد کړئ په زړو کي خپل د رب نعمت چي تاسي سپاره سئ پر مرکوب بحري چي کښتی ده، او پر مرکوب بري چي غالبًا اوښ دی چي موږ مسخر کړي دي، افراد د ضمير يې په سبب د تأويل په مرکوب سره يا په اعتبار د لفظ ما.

وَتَقُولُوا سُبْحٰنَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ ﴿١٣﴾

او تاسي ووايا ست په ژبه حمد د دې نعمت.

پوښتنه: تقسيم د مرکوب يې په بري او بحري کي وکړی فقط او هوايي مرکوب چي طياره ده نه يې وکړی؟

ځواب: په زمانه کي د نزول القرآن هوايي مرکوب نه ؤ.

(سبحان) اى اسبح سبحان، يعني پاکي ده هغه قادر على الاطلاق ذات لره چي مسخريې کړځولي دي موږ ته دا مرکوب بري او بحري او موږ نه ؤ مطيقين د دوی د تسخير بحولنا وقوتنا لان الضعيف لا تطيق تخسير القوي.

فائده: جمله د ماكنا الخ حال ده يا د لفظ څخه د هذا يا د ضمير د لنا.

درويش وايي: چي چونکه په اوسني زمانه کي مرکوب هوايي چي طياره ده هم موجوده ده ځکه طياره چلونکي په ابتداء کي د طياره پوره ته کولو دغه آيت وايي: سبحان الذي سخر لنا هذا الى اخيرها.

وَإِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ ﴿١٤﴾

او په تحقيق موږ و خداى ته راجع کيږو يعني په ورځ کي د قيامت.

پوښتنه: د دې آيت په ماقبل آيتو سره حکمت يې څه دی؟

ځواب: حکمت يې دا دی رکوب مطلقًا لپاره د نقل وي د يوه ځای څخه بل ځای ته والنقلة العظمىٰ هو الانقلاب الى الله المتعال، ولي لکه نقل د بحر او بر د خطره سره ملګری وي كذا الانقلاب الى الله المتعال ته د لوی خطر سره ملګری دی فينبغي للعاقل ان لا يغفل عنه، او هغه انتقال لپاره لويه سرمايه ده عبادا تو له ځان سره يوسي، روى ابو داؤد والترمذي والنسائي والبغوي عن علي ابن ابى طالب ﷺ چي دده به پښه په رکيب کي د آس يا د اوښ کښېښول قال بسم الله فلما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

استوی چي برابره به کښېنستی نو اول به یې الحمد لله وروسته به یې ماقبل آیت تر پایه پوري ووایه. یعني سبحان الذي سخرلنا هذا تر پایه پوري وروسته به یې درې واره حمد د خدای ﷻ ووایه او الله اکبر به یې درې واره ووایه، وروسته به یې وویل لآ اله الا انت ظلمت نفسي فاغفرلي ذنوبي فانه لایغفر الا انت. وروسته بې وخندل. چا پوښتنه ځني وکړه چي د خندا سبب څه دی یا امیر المؤمنین؟ ده ورته وویل چي رسول اللهﷺ فعل مثل ما فعلته یعني اقتداءً برسول اللهﷺ مي دا افعال او اقوال وکړه. وروسته مونږ علیه الصلوة والسلام ته وویل چي څه شي تاته خندا پیدا کړه یا نبي الله؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي ماته تعجب او خندا پر دغو تعجب آمیزه کلماتو د بنده راغله (یعني چي په دربار کي د خدای څومره ځای د قبول پیدا کړی) حتی چي خدای ﷻ هم ددې اقوالو د بنده اظهار د تعجب وکړی.

سوال: د تعجب معنی په خدای ﷻ کي څرنګه متصور کېږي لانه ادراک امر عجیب ولا عجیب في علمه تعالی؟

ځواب: معنی د تعجب په خدای ﷻ کي اظهار د کامل رضا ده د بنده څخه.

درويش وايي: چي مظهري خو د علي ﷺ حديث پوره راوړی دی لکن د خدای د تعجب ځای یې نه دی پکښې راوړی یا سهواً یا د کاتبانو څخه د کتابت پاته سوی دی، والله اعلم.

وَجَعَلُوا لَهُ مِنْ عِبَادِهِ جُزْءًا

ګرځولی دی دوی خدای لره له بندګانو څخه جزء، ومعنی الجعل الاعتقاد به. دا څو قبیلې وې د عربو، یوه قبیله بنوا الملیح وه او بله د خزاعه قبیله وه. دوی به ویله چي خدای پاک د سرواتو یعني د خانانو د جنیاتو سره خویښي یعني ددوی لوڼې یې په نکاح کړي دي او ملائکه یې لوڼې ځني پیدا سوي دي.

یوه سه: چي دا جمله معطوف ده علی قوله "ولئن سئلتهم من خلق السموات آه" وجه د تناسب بین المعطوفین تناقض. ولي چي دوی اقرار وکړی چي انه تعالی خالق السموات والارض کما في المعطوف علیه، بیا توصیف کوي چي ده لره جزء سته او سره ددې عقل اباء کوي ما یتجزی محاله ده چي هغه دي واجب الوجود هم وي او خالق دي هم وي. لان ما یتجزی في معرض الفناء. فکیف یکون واجبًا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والمراد قولهم ان الملائكة بنات الله كمامر، و وجه تسمية الولد بالجزء لان الولد مايكون مخلوقًا من نطفة الوالد والنطفة جزء من الوالد ولهذا قال رسول الله ﷺ فاطمة بضعة مني فمن اغضبها اغضبني، رواه البخاري عن المسور بن مخرمة.

إِنَّ الْإِنسَانَ لَكَفُورٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾

په تحقيق انسان جاهل دی بنكاره مفرط دی په جهل كي ولي هغه شيان چي د خدای سره لائق وي نه يې پيژني، او خدای ﷻ ته د مالايبغي لكه ولد او شريک نسبت كوي چي پر خدای محاله دی.

أَمِ اتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ بَنَاتٍ وَأَصْفَاكُم بِالْبَنِينَ ﴿١٦﴾

يوه سه: چي كلمه د ام په معنی د بل آه ده، بل لپاره د انتقال دی من قوله وجعلوا له آه، او همزه لپاره د انكار دی، آيا گرځولي دي خدای له هغه مخلوق څخه چي ده پيدا كړي لوڼي (چي كافرانو به ويل ملائكه بنات الله دي) او تاسي يې مختاره كړي ياست په زامنو سره.

يوه سه: چي دا جمله مستأنفه ده مقدر په قل سره ده، تقديره قل لهم ام تخذوا مما يخلق بنات واصفاكم بالبنين، او سره ددې چي ابغض د اولادو و كفارو ته لوڼي وې كما قال الله واذا بشر احدهم بالانثى ظل وجهه مسودا وكظيم (هغه وخت چي زيري وسي و يوه ته ددوی يعني المشركين په لور سره مخ يې تور سي د خواشنی او د غمه ډک وي، كما سيئاتي، او بل ځای په قرآن كي خدای پاک فرمايي: الكم الذكر وله الانثى تلك اذًا قسمة ضيزي.

وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحْمَٰنِ مَثَلًا

او چي زيري وسي و يوه ته ددوی په هغه ولد سره (يعني لور ده) په هغه شي سره چي دوی د الرحمن لپاره مثل گرځولی دی ای بالجنس الذي جعلوا له تعالى مثال اذ الولد لابد ان يماثل الوالد او يا مراد د مثل څخه وصف او حال دی يعني چي تاسي د خدای اصل وصف گرځولی دی، فالمعنى اذا بشر احد منهم بالوصف والحال الذي جعلوا للرحمن.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿١٧﴾

وګرځي مخ دده شدید السواد له سببه د ډېر غم، او ډک وي زړه دده له کرب او اضطراب څخه.

سوال: د اصفاکم خطاب و چا ته دی؟

ځواب: دا جمله مستأنفه ده په تقدیر د قول تقدیره قل لهم ام اتخذ مما یخلق بنات واصافکم بالبنین فصاروا مخاطبین فافهم، که دا تقدیر نه وای نو اصفاکم په منځ کې د دوو غائبو لفظو راغلی دی یعني (۱) وجعلوا له من عباده جزء (۲) واذا بشر احدهم.

أَوَمَن يُنَشَّؤُا فِي الْحِلْيَةِ وَهُوَ فِي الْخِصَامِ غَيْرُ مُبِينٍ ﴿١٨﴾

آیا هغه څوک چې تربیه یې کېږي یعني ښځې، ولې د ښځو حسن مخ دی په صورت کې نو دوی ځانونه ښائسته کوي په زرو او زېورو سره او په سرخي او سفیده سره تا چې نور یې هم حسن زیات سي، بخلاف الرجال ولې چې د دوی ښائست په اوصافو سره دی لکه فصاحت او بلاغت او علم وغیرها سره وذالک غیر محتاج الی الحلیة الظاهرة؛ نو نر لره نه ده په کار او نه ورسره ښایي چې لکه ښځه په زینت ظاهري لاس پوري کړي او دا عیب دی د نر لپاره، پښتانه وایي: پلانی ښځونک دی.

بوه سه: چې همزه لپاره د انکار مکرر دی چې کفار ملائکه بنات الله بولي او ښځي یې بولي لکه د انسانانو ښځې، او د ښځو حال دا دی چې ینشؤ في الحلیة نو دا نسبت و خدای ته کول سخت منکر نسبت دی.

او هغه (ضمیر راجع دی و من ته چې مراد ځني ښځې دي) د خولې په خصومت کې یا د تېري (یعني بل څوک تېری پرو کړي) په خصومت کې خپل دلیل نسي بیانولای لضعف عقولهن ولنقصان قلوبهن.

درویش وایي: چې دا حالات د ښځو په اعتبار د غالب دي والا فقد قال معاویةؓ ما رئیت ابلغ من عائشةؓ او په دلائلو کې تر ډېرو نرانو بالا وه.

وَجَعَلُوا الْمَلَٰئِكَةَ الَّذِينَ هُمْ عِبَٰدُ الرَّحْمَٰنِ إِنَٰثًا ؕ

او ګرځولي دي کفارو ملائکه چې هغوی بندګان د رحمٰن دي یعني علحده مخلوق دی چې نه لکه نر د انسانانو دي او نه لکه ښځې، دوی یعني کافرانو ښځې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وګرځولې یعني د متعارفو ښځو ګمان پر لري، دا جمله عطف ده په هغه قول د خدای ع
وجعلوا له من عباده جزء، حاصل د دې دوو آیتو دادی چې کافران توصیف د خدای ع
بما لایلیق به وهو ان له ولد من جنسه وذالک تحقیر لشانه تعالی او توصیف د
ملائکي یې وکړی چې خیار عباد الله وي په ښځو سره وفي ذالک استحقار شانهم.

اَشَهِدُوا خَلْقَهُمْ

الاستفهام للانکار آیا دوی یعني کافران حاضر وه په پیدائش د ملکو کې چې
دوی ښځې دي، یعني دوی ورته حاضر نه وه فکیف یحکمون، وفي هذه الآیة
تجهیل (اظهار د جهل د دوی دی)

پوښته: چې شهود په معنی د حضور دی لا بمعنی الشهادة المعروفة لان حکم
الانوثة علی مخلوق الله فرع الحضور بلکې دا خبره دوی یعني الکافرون في زمن
رسول الله انما سمعوه من آبائهم وهم کذابون جاهلون وهلم جرًا، نو دوی د منجمانو
دي او اهل الحکمة الموهبة دی، ولې چې د دوی په قاصرو عقلو سره د غیب د
اخبارو خبرونه نشر کوي، عماد الکاتب وایي چې یو برجسته عالم دی چې په سنه
۵۸۲ هـ کې منجمانو د دنیا دا اعلان وکړی چې بلاد د شعبان په میاشت کې د باد د
طوفان له سببه خرابیږي، نو ملکو د پارس او روم په غرو کې غارونه کیندل شروع
کړه چې په فلانی شپه لکه منجم چې اخبار ورکړی ؤ په دغو غارو کې پټ سوه سره د
اهل او عیال، او مسکینان چې د غره د کیندلو طاقت یې نه درلودی د خدای ع پر
توکل ناست وه، منجمینو خو د داسې تیز باد خبر ورکړی لکه باد د عاد د قوم، ملا
عماد رح وایي چې په هغه شپه سلطان ناست ؤ او د بر شمان یې لګولي وه شپه تېره سوه
دومره باد نه سو پیدا چې دغه شمان مړه کړي، نو دا وه قصه د ښکرورو دروغو د
منجمانو، آورده اند که یک غیب ګوی در کدام وطن بود که خبرهای ملائکه
در آسمانها بمردم بیان میګرد که به اصطلاح اورا کاهن می ګویند، روزی آن کاهن
بخانه خود آمد بازن او شخص بیګانه دید که بازی می کند ولب بوسی وخد بوسی
میکرد دشنام داد ودر محل او فتنه وغضب برخاست مردم محله جمع شدند،
صاحب دلی یعنی شخص ولی الله این خبر شنید، وچنین ګفت:

تو بر اوج فلک چه دانی که چیست ... چون ندانی که در خانه تو کیست

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ وَيُسْـَٔلُوْنَ ﴿١٩﴾

ژر دی چي نوشته به سي شاهدي ددوی (يعني کفارو پر ملکو د انوثت) په
ديوان کي د اعمالو ددوی، او له دوی څخه به پوښتنه وسي په ورځ د قيامت لپاره
د توبيخ، مقاتل او کلبي وايي چي اهل مکه چي دا قول وکړی چي ملکي د خدای
لوڼي دي عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي تاسي نو څه خبر ياست؟ دوی ورته
وويل چي موږ ته زموږ نيکه ګانو ويلي دي او زموږ پلرونو او نيکه ګانو هيڅ کله
دروا غ نه دي ويلي، او ابن المنذر له قتاده څخه روايت کړی دی چي بعض
منافقانو دا ويل چي خدای د جنياتو لوڼي او خوندي په نکاح کړي دي دا ملکي
تولي د خدای لوڼي دي تعالی شانه وذاته من ذالک.

وَقَالُوْا لَوْ شَآءَ الرَّحْمٰنُ مَا عَبَدْنٰهُمْ ؕ

وويل کفارو د مکې (دا جمله عطف ده پر وجعلوا الملائکة) که د رحمٰن اراده
وي (مفعول د شاء محذوف دی يعني ان لا تعبد الملائکة) موږ به عبادت د ملکو
نه کولای.

پوهسه: چي دا قول د قتاده، مقاتل او الکبي دی، او مجاهد وايي يعنون
الاوثان، وعلی کل حال مراد د دوی دادی چي چونکه مشيت د خدای د ملکو د
عبادت يا د بتانو د عبادت مستلزم دي لره دی چي دا دواړه عبادت بنه کار دی فلا
معنی النهي عنهما لکه په دين کي د اسلام چي نهي څني راغلي دي او دا خبره ددوی
کذب محض دی ولي مشيت د خدای لپاره د ترجيح د بعض ممکناتو علی بعض که
مأمور به وي او که منهي عنه که حسن او که قبيح وي لکن د تکليف منات حسن او
قبح ده چي خدای په راضي وي او فرق د مشيت او د رضاء تر مابين من قاف الی
قاف، قال الله تعالی ولا يرضی لعباده الکفر (يعني ولا العصيان) قال الله ردا عليهم.

مَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۚ اِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ﴿٢٠﴾

چي دوی يې دعوه کوي چي ملائکه بنات الله او يا بتان شرکاء الله او
خدای ﷻ د هغو په عبادت سره راضي دي (من علم) چي يا حسي دليل وي يا
عقلي صحيح دليل پر دوی (ان هم آه) دا جمله تاکيد ده ماقبل ده يعني نه دي مګر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درواغ وايي فان الخرص الكذب وكل قول بالظن والتخمين سواء طابق الواقع اولا چي په پښتو يې اټكل بولي، كذا قال الراغب الاصفهاني.

اَمۡ اٰتَیۡنٰہُمۡ کِتٰبًا مِّنۡ قَبۡلِہٖ فَہُمۡ بِہٖ مُسۡتَمۡسِکُوۡنَ﴿۲۱﴾

كلمه د ام متصله ده او معادلة د همزه في قوله تعالى اشهدوا خلقهم والمعنى اشهدوا وقت خلقهم اى الملائكة حتى چي په سترګو يې ليدلي واى چي ملائكه ښځي دي او يا په اسماني كتاب چي پر دوى نازل سوى دى (من قبله) اى من قبل القرآن المجيد يا د مخه تر دعولى د دوى چي هغه كتاب پر صحت د ماقالوا دلالت كوي (فهم به آه) نو دوى په هغه كتاب سره تمسک وايي يعني دليل پر صحت د خپلي دعوې وايي.

بَلۡ قَالُوۡۤا اِنَّا وَجَدۡنَاۤ اٰبَآءَنَا عَلٰۤی اُمَّۃٍ وَّ اِنَّا عَلٰۤی اٰثٰرِہِمۡ مُّہۡتَدُوۡنَ﴿۲۲﴾

عطف على قوله ام اتيناهم، حاصل الآية چي كفار خو خلق ته د ملائكهؤ حاضر نه وه تا چي په حس ورته معلومه سوې واى چي ملكي ښځي دي نو بې تفريع كړې واى چي د خداى پاک نعوذ بالله لوڼې دي، او نه كوم دليل عقلي صحيح پر انوثيت د دوى لري او نه يو كتاب اسماني چي په هغه كتاب كي دي انوثة د ملكو بيان سوي وي، بلكې دا قول د دوى تقليداً كوي حيث قالوا (انا وجدنا آبائنا على امة) په تحقيق موږ پيدا كړي دي خپل پلرونه پر يو ملت يعني يو دين (يعني المذكور ان الملائكة اناث وبنات الله) او موږ موجودين في زمن النبي ﷺ پر آثارو د خپلو پلرو پر هدايت روان يو يعني نه دليل حسي لرو او نه عقلي او نه كتاب سماوي بلكې دغه تقليد د خپلو لرو د هدايت لاره ده، گفته اند: بيت

آن كس كه نداند وبداند كه بداند ... در جهل مركب ابد الدهر بماند
وآن كس كه نداند وبداند كه نداند ... او اسپ خود از گنبد فيروزه جهاند

فتدبر في البيتين تعلم حال المقلدين لابائهم الضالين.

مسئله: په دې آيت كي ذم تقليد دى چي معنى يې قبول د قول ده بېله دليله لكن تقليد روا دى په فروع كي د دين يعني العمليات ولايجوز في اصول الدين والاعتقاديات بل لابد من النظر والاستدلال على ذالک، سعدي وايي:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار ..... هر ورقي دفتريست معرفت كردگار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي دا هم نظر او استدلال دی چي د یو صحرايي څخه چا پوښتنه وکړه چي د خدای پر وجود او صفاتو څه دلیل لرې؟ ده ورته وویل البعرة تدل على البعيرة والاقدام على المسير فكيف لايدل هذا العالم الكبير على الصانع الخبير، وما احسن ماقاله.

درویش وايي: چي اول ایمان واجب دی پر خدای بالعقل... بیت:

گر انبیاء هم نامدی نی شرع بودی در جهان — واجب شدی مؤمنان ایمان بخالق مقتدر

وتفصيل هذا الكلام في علم الكلام. اوس خدای پاک د رسول اللهﷺ د تسلي لپاره وايي:

وَكَذَٰلِكَ مَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَآ

او دغه رنګه لکه ستا قوم چي جواب په تقليد د اباؤ درکړی، نه دی استولی موږ تر تا دمخه په یوه قریه کي یو بېرونکی یعني له عذاب څخه د یوم القيامة چي انبياء عليهم السلام على كثرتهم مګر نه په داسي حال کي چي مالداران.

پوه سه: چي قريه نفس وطن ته وايي که ښاروي او که کلی، که ډېروي او که لږ.

إِنَّا وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم مُّقْتَدُونَ ﴿٢٣﴾

وقد مر تفسير الآية والمهتدون والمقتدون بمعنى واحد، حاصل د تسلي و عليه الصلوة والسلام ته دادی چي ضلال د تقليد في الدين ضلال قديم او د دوی متقدمين یعني نیکه ګان دین مستند وهيڅ شي ته نه ؤ بلکې هلم جرا دوی داغه خبره کول چي انا وجدنا الى اخير الآية.

فائده: تخصيص د متنعمين چي وکړی له دې سببه چي په هغو کي غرور او تکبر دی نو متابعت د یو شخص چي نبي دی سر نه کښته کوي.

قَٰلَ أَوَلَوْ جِئْتُكُم بِأَهْدَىٰ

ويل به هر نذير من اولئك المنذرين لاممهم چي بهانه به وکړه چي موږ په دې خبرو او افعالو کي تقليد د آباؤ کوو، الهمزة لاستفهام الانكار والواو للحال والتقدير اتتبعون اباكم ولو جئتكم (باهدى) اى بدين وطريقة اهدى يعني دين د نبي الوقت دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مِمَّا وَجَدْتُّمْ عَلَيْهِ اٰبَآءَكُمْ ۚ قَالُوْٓا اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۲۴﴾

ترهغه دين چي تاسي پيدا كړي دى پر هغه دين خپل پلرونه (قالوا) اى قال الكافرون في جواب المنذرين، يعني كافرانو د وخت د هر نبي، په تحقيق موږ په دين سره چي تاسي په راستول سوي ياست كافران او منكران يو كه څه هم ستاسي په خوله هغه دين اهدى وي په دې قول كفارو من كل الوجوه نا اميده كړي نذير ددې څخه چي موږ دې ستا په دين كي نظر وكړو يا دې فكر و وهو.

سوال: په دې آيتو كي خو بيان سوال و جواب د هر قوم د خپل نذير سره او نذير د هر قوم خو يو دى فما معنى الجمية في قولهم بما ارسلتم به؟

ځواب: مراد په جمع سره نبي و من تبعوا دى.

فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۲۵﴾

يعني انتقام ځني واخستى په استيصال سره، نو وګوره ايها الناظر الغير المعين چي څرنګه سو اخير كار د عذاب د المكذبين وهو الاستيصال عن وجه الارض.

درويش وايي: چي ددې ټولي قصې څخه مطلب دا دى چي ستا د زماني مكذبين هم بايد عبرت واخلي چي پر دوى به هم عذاب راسي او په عين حال كي تسلي ده و عليه الصلوة والسلام ته چي ته ددوى په تكذيب مه غمجن كېږه ولي چي ستا د مكذبينو څخه به هم انتقام واخسته سي وقد انجز الله هذه الوعد ..... في البدر وفي فتح مكة... بيت:

پند گير از مصائب ديگران..... تا نگيرند ديگران ز تو پند
زود مرغ سوئى دانه فراز..... چو بيند مرغ ديگر اندر بند

حكايت: له شعبي څخه روايت دى چي يو وخت زمري، لېوه او ګيدړه په ښكار وتلي وه، نو يوه د غره پسه (چي حمار وحشي يې بولي) ښكار كړى، او بل د هوسۍ كېلى، او بل سوى، نو زمري و لېوه ته وويل چي دا سره تقسيم كړه، لېوه وويل چي د غره پسه چي اعلى د ښكار سوي حيوانا تو دى د حضرت الملك الوحوش دى، او كبلى يې زما او سوي يې د ګيدړي، زمري چمبه پورته كړه لېوه يې پر سر په وواهه چي روح يې وركړى يعني لېوه، بيا زمري ګيدړي ته وويل چي

Maktaba Tul Ishaat.com	Scanned by CamScanner

ته نو اوس وپش وکړه. ګيدړي وويل چي د غره پسه دي حضرت الملک د څابنت په وخت کي نوشجان کړي او کبلی دي د ماښام په وخت کي وخوري او سوي دي د ماپښين په وخت. نو زمري ورته وويل چي څه عجيب قضاوت دي وکړی دا قضاوت چا درښوولی دی؟ ګيدړي ورته وويل چي دا قضاوت هغه چمبي راښوولی دی چي حضرت الملک لپوه په وواهه.

درويش وايي: چي که رشتيا هم نه وي د عبرت لپاره ښه تمثيل دی.

وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ إِنَّنِي بَرَاءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ ﴿٢٦﴾

په ياد کړه ته يا محمد ﷺ و قوم ته خپل هغه وخت چي وويل ابراهيم ؑ خپل پلار آذر ته چي مشرک ؤ او خپل قوم ته چي هغوی هم مشرکان وه، په تحقيق زه بېزاريم.

فائده: په يادول د قصې د ابراهيم ؑ و پلار او قوم ته چي عليه الصلوة السلام مامور په ذکر کولو سره و کفار ته د مکې لان مشرکی مکة يقولون نحن علی ملة ابراهيم، نو خدای ﷻ پر دوی په دې آيت کي رد وکړی، حاصل د رد يې دادی چي ابراهيم خو پر خپل پلار او قوم د شرک څخه بېزاري ښکاره کړه او تاسي اهل مکه خو مشرکين ياست، نو څرنګه دعوی د ملت ابراهيم ستاسي صحيح ده.

مصرع: ... اين خيال است و مال است و جنون

پوه سه: چي براء اصلاً مصدر دی، دليل يې دادی چي براء نه تثنيه کېږي او نه جمع کېږي کما هو القانون في المصدر فيقال زيد براء وزيدان براء وزيدون براء.

سوال: نو چي مصدر دی حمل يې څرنګه صحيح دی پر ضمير د متکلم؟

ځواب: تاويله مشهور اما بالحمل علی المبالغة واما بحذف المضاف ای ذو براء، واما بجعله بمعنی المشتق ای بريئ کما ذکر النحات تلک التوجيهات في زيد عدل فافهم.

پوه سه: چي کلمه د ما يا مصدريه ده ای من عبادتکم الاصنام يا موصوله ده ای معبودکم وهو الاصنام.

إِلَّا الَّذِي فَطَرَنِي فَإِنَّهُ سَيَهْدِينِ ﴿٢٧﴾

مګر نه د هغه خدای څخه چي زه يې پيدا کړی يم.

فائده: که مراد د ماتعبدون څخه اصنام سي نو دا استثناء منقطع ده ولي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الذي فطرني خو يازي خداى دى بتان خو مافطرني نه دي، نو مثال يې داد ي
جاءني القوم الاحمار، او كه ما تعبدون چي ما موصوله سي او العلم ته هم شامل
سي نو استثناء متصل ده فافهم كانوا يعبدو الله والاصنام

سوال: ابراهيم ﷺ خو پر هدايت وُ چي نبي وُ نو د سين د استقبال څه معنیٰ ده؟
ځواب: معنیٰ د استقبال داده سيثبتني على الهداية وهو مستقبل او يا معنی
داده چي ماته به ارشاد وکړي بالا تر هغه چي ماته هدايت کړی دی لان درجات د
هدايت الله غير متناهية.

وَجَعَلَهَا كَلِمَةً بَاقِيَةً فِي عَقِبِهِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ

او وګرځول ابراهيم ؑ دغه کلمه (اى كلمة التوحيد المفهومة من قوله انني براء
الى قوله سيهدين) باقي کلمه په پس مانده ګانو کي. قتاده رحمه الله وايي چي همېشه په
اولاد کي د ابراهيم ؑ داسي کسان موجود وه چي د خداى جل جلاله د توحيد معتقد وه.
قرطبي رحمه الله وايي جعل الله وصية ابراهيم باقية في نسله وذريته كما قال الله تعالى
ووصى بها ابراهيم بنيه ويعقوب الآية، دا هلته چي دی د اور د نمرود خلاص سو
او خداى جل جلاله ده ته اولاد کبار ورکړه فكانوا فيه نسلاً بعد نسل من يوحد الله
ويدعوا الناس الى التوحيد وخاتمة تلك الدعوة الى التوحيد سيد الاولين
والآخرين شفيع المذنبين حبيب العالمين محمد رسول الله ﷺ.
(لعلكم يرجعون) يعني دا قول د ابراهيم ؑ چي ته و اهل مكه ته ذكر كړي شايد
اهل مكه له شرک څخه و توحيد ته رجوع وکړي.

بَلْ مَتَّعْتُ هَٰؤُلَاءِ وَآبَاءَهُمْ

پوه سه: چي دا کلمه د بل اضراب دی من قوله لعلهم يرجعون يعني رجوع د
اهل مكه خو امكان نه لري بلكي ماتمتع وركړی وه يعني دنياوي فائده (هؤلاء)
يعني كفار و ته د مكې چي معاصرين د نبي ﷺ وه، او هغه نيكه ګانو ته د دوی چي
پر شرک مړه وه. د تمتع معنی داده چي دوی عذاب پر کفر د دوی نه وُ ورکړی.

حَتَّىٰ جَاءَهُمُ الْحَقُّ وَرَسُولٌ مُبِينٌ

تر دې پوري چي راغلی دوی ته حق يعني القرآن وقيل الاسلام، او رسول چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ظاهر الرسالة ؤ بالمعجزات، او يا معنى داده چي مظهر د توحيد ؤ بالحجج والبينات والآيات او يا معنى داده چي مظهر د احكامو د خداى ﷻ ؤ.

وَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ وَّاِنَّا بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۰﴾

هغه وخت چي راغلى دوى ته حق چي قرآن عظيم الشان دى، وويل دوى چي دا سحر دى او موږ له دې څخه انكار كوو، د سحر نوم يې په دې پر كښېښنو چي دوى يې له اتيان بالمثل څخه عاجزه وه، كريمه: ان كنتم في ريب مما نزلنا على عبدنا فأتوا بسورة مثل منه، وغيره من آيات التحدي.

شان نزول: ابن جرير بالواسطة له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت كړى دى چي څه وخت چي الله ﷻ محمد ﷺ مبعوث كړى عربو دده له نبوت څخه انكار وكړى او دوى د حجت وايه چي د خداى شان لوړ دى تر دې چي رسول دده بشر وي، فانزل الله في ردهم اكان للناس عجبًا ان اوحينا الى رجل منهم، وايضًا انزل وما ارسلنا من قبلك الا رجالاً، نو كفارو د مكې وويل چي كه چېري رسول د خداى بشر كېداى سي نو غير د محمد (ﷺ) كان احق بالرسالة، نو ددې سبب دوى داسي بيان كړى.

وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيْمٍ ﴿۳۱﴾

دوى وويل چي ولي نه نازلېدى دا قرآن پر يو سړي د دوو قريو چي مكه او طائف دي (عظيم) بالجاه والمال، ولي چي دوى وايي چي رسالت يو لوى منصب دى لايليق الا لعظيم بالجاه والمال وغير ذالک او دوى په دې نه پوهېږي چي رسالت يوه روحاني رتبه ده استعداد او كمال روحاني او نفس قدسي مطهر او صبر كامل پر اذيت د كافرانو غواړي لا الرحازف الدنيوية، ابن المنذر رحمه الله له قتاده رحمه الله څخه روايت كړى دى چي وليد بن المغيرة به ويل چي لو كانت الرسالة من الله حقًا كما يقوله محمد لانزل هذا القرآن پر ما باندي چي يو مشرک كثير المال شخصيت يم په مكه كي، او يا پر مسعود بن عمرو الثقفي په طائف كي چي يو مشهور بالدار ذى جاه شخصيت ؤ په طائف كي فنزلت هذه الآية.

درويش وايي: وهذا هو القول المشهور، او بغوي رحمه الله وايي چي مجاهد وايي چي مقصود د دوى عتبه بن ربيعه ؤ په مكه كي او عبد يا ليل ؤ په طائف كي، او بعض روات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي چي په مکه کي وليد بن المغيرة، او په طائف کي حبيب بن عمر بن عمير الثقفي دی، دا روايت له ابن عباس رضي الله عنهما څخه مروي دی، فرد الله عليهم بقوله اهم يقسمون رحمت ربک، آيا دوی يعني اهل مکه تقسيم کوي د رحمت د خدای چي نبوت دی.

پوه سه: چي دا استفهام انکاري د توبيخ او د بيان د جهالت د دوی دی چي د خدای ﷻ په ماشاء کي يې هم مداخلت شروع کړی.

أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا

موږ وېشلي دي د دوی د ژوندانه رزق او معيشت په اشياء، د دوی د دنيا په ژوند کي مطابقًا لما يقتضي مشيته تعالى مشتملاً على الحكم والمصالح.

وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ

پورته کړي موږ بعض د انسانانو لوړ تر بعض يعني په رزق کي په ډېرو درجو سره يعني بعض انسانان مساکين وي على تفاوت درجات المسكنة، او بعض اغنياء وي على تفاوت درجات غناهم تفاوتًا عظيمًا بحيث لا يدرک ذالک التفاوت الاعلام الغيوب.

لِيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا

تاچي ونيسي (متعلق دی په رفعنا پوري) بعض د دوی چي مالداران دي بعض د دوی چي مساکين د دوی دي مسخرًا في العمل بعض مزدوران.

پوه سه: چي يا د نسبت ده. قتاده رح او الضحاک رح وايي اى يملک بعضهم بعضًا بالعبودية والملک، دا هغه وخت ؤ چي مريان وه او س چونکه مريان نسته نو ځکه يې ما ترجمه په مزدورانو سره وکړه.

وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ ﴿٣٢﴾

او رحمت د خدای چي نبوت دی او ولايت دی او قرب الهي دی وامثالها چي تول يې د توابع څخه د نبوت دي، غوره دي له هغه څه څخه چي کافران يې جمع کوي من حطام الدنيا، نو څوک چي قادر نه وي چي د ځان لپاره دي رفعت په دنيا کي حاصل کړي لا ذالک في مشيت الله کما يدل عليه قوله تعالى ورفعنا بعضهم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فوق بعض درجات، نو هغه د نبوت چي اعلی درجه د انسانیت ده څرنګه خواهش کوي كما يدل عليه قوله تعالى لولا نزل هذا القرآن على رجل من القريتين عظيم.

فائده: حاصل د دې آیت دا دی چي عظیم عند الله من رزق النبوة لکه محمد ﷺ لا من رزق متاع الدنيا لکه وليد بن المغيرة یا مسعود بن عمر الثقفي په طائف کي.

فائده: چونکه د کافرانو په نېز عظمت د سړي په ډېر والي د اموالو او د جاه وجلال او د بنګلو په درلودلو سره دی، خدای ﷻ په دې آیت سره قدر د دنیاوي تولو درجو حال بیان کړی دی چي دنیا حقیر او ذلیل او مبغوض ده په نېز د خدای.

وَلَوْلَآ اَنْ يَّكُوْنَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً

که نه وای چي خلک به ټوله وګرځي ټوله یو ملت یعني کافران ولي چي خلک محبت د دنیا عاجلي د نعمتو لري او د اخروي نعمتو اجله څخه غافله دي.

فائده: کلمه د ان سره د مدخول خپل مبتداء ده او خبر یې محذوف دی ای حاصل و جواب لولا قوله تعالی دی.

لَّجَعَلْنَا لِمَنْ يَّكْفُرُ بِالرَّحْمٰنِ لِبُيُوْتِهِمْ سُقُفًا

موږ به ګرځولې هغه چا لره چي په رحمن خدای سره کافران وي یعني مشرکان (لبيوتهم) بدل اشتمال دی د لمن يكفر لره یا علت دی كقولك وهبت له ثوبًا لقميصه.

پوه سه: چي (سقفًا) بعض قاریان لکه ابن کثیر او ابو جعفر په فتح د سین او په سکون د قاف یعني پر صیغه د مفرد وایي.

سوال: بیوت خو جمع دی نو د ډېرو خونو خو یو بام نه وي؟

ځواب: مراد د سقف مفرد څخه معنی جنسي ده الصالح للواحد والاثنين والجماعة. او نور قاریان دا لفظ په ضمه د قاف او د سین وایي چي جمع د سقف ده مثل رَهن و رُهُن. قال ابو عبيدة ولا ثالث لهما معنی د قول مذکور دا ده چي جمع لره د فُعُل پر فَعل ما سوی د سُقُف او سَقف او رهن او رهن بل په عرب ژبه کي مثال نشته.

فائده: جمع د ضمير د بیوتهم په اعتبار د معنی د من لکه افراد د مستتر ضمیر په یکفر کي په اعتبار د لفظ د من دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مِّنْ فِضَّةٍ وَّمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُوْنَ

اى متخذة د سپينو زرو څخه (معارج) جمع د معرج ده عطف پر سقفا دی، پر هغو ځينو به پورته وخېژي بامو ته.

پوه سه: چي معرج چي سلم يې هم بولي په فارسي يې نردبان او په اردو يې سيړهی بولي او په پښتو يې ځينې بولي، والمراد چي ځينې به يې هم د سپينو زرو وي ولم يذكم مع المعارج ذالک بذكرها مع المسقوف عليه اعني سقفا.

وَلِبُيُوْتِهِمْ اَبْوَابًا وَّسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِـُٔوْنَ وَزُخْرُفًا

او د دوی خونو لره به دروازې وي او چارپايي يا پلنګ الى غير ذالک من الاسماء يعني د سپينو زرو به وي، بيوت جمع د بيت ده او سرر جمع د سرير ده، پر هغو پلنګانو به يې تکيه کړې وي (وزخرفا) اى زينة عطف دی پر سقف باندي يعني نور د زينت شيان به ورکړي كالثياب الفاخرة والبساتين المثمرة والمطعومات الشهية، او بعض مفسرين وايي چي مراد له زخرف څخه سره زر دي فهو معطوف على محل من فضة.

پوه سه: چي تخصيص چي يې په کفارو سره وکړی كما سمعت لانها مبغوضة عند الله فيؤتي المبغوض للمبغوض.

وَاِنْ كُلُّ ذٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

بتأويل المذكور لانها امور متعددة نو بايد تلک يې ويلي وای من سقف الفضة ومعارجها وابوابها وسررها وزخرفها.

پوه سه: چي عاصم او حمزه کلمه د لما مشدد وايي نو پر دې قرائت کلمه د ان نافيه ده او کلمه د لما په معنى د الا ده، فالمعنى نه دي دغه مذکوره شيان مګر د تمتع شيان په دې ژوند ناقص كي لابقاء لها ولا اعتداد له بها عند الله او باقي قراء لما په تخفيف د ميم وايي، کلمه د ان مخفف د مثقله څخه دی اسم يې ضمير شان محذوف دی وکل ذالک مبتدا، ده لما متاع الدنيا خبر دی وما زائدة.

وَالْاٰخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِيْنَ

او ورځ د قيامت مع مافيها من النعماء التي لاعين رئت ولا اذن سمعت ولا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خطرت على قلب بشر، په نيز د رب ستا اى متحققة في علمه وقضائه (للمتقين) من الشرك والمعاصي.

فائده: له دې آيت څخه معلومه سوه چي عظيم هغه څوک دی چي په اخرت کي عظيم وي لا عظيم الدنيا لکه د مشرکانو چي ګمان وُ، او تنبيه پر دې ده چي زخارف د دنيا يې ټولو مؤمنانو ته ورنه کړه بلکې بعض يې و اعداء ته ورکړه لانها مبغوضة عند الله حرية ان تجعل كلها للكافرين لكن لم يفعل كذالك مخافة اجتماع الناس على الكفر ولو كانت زخارف الدنيا حسنة عند الله، نو نه به يې واى ورکړي کافرانو ته هيڅ شى، له سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دی قال رسول الله ﷺ که چېري دنيا د وزر د غوماشي قدر پر خداى درلوداى ما سقى كافرًا شربة ما.

سوال: په دې آيتو کي خداى ج داسي وويل که چېري بېره ددې نه واى چي خلک به ټوله پر کفر سره جمع سي که زخارف د دنيا به يې ټوله کافرانو ته يې ورکړي واى کما مر تفصيله في آية ولو لا انيكون الناس ملة واحدة (يعني كافران) لجعلنا الآية.

سوال: نو پوښتنه داده چي زخارف د دنيا به يې مسلمانانو ته ورکړي واى تا چي انسانان ټوله پر اسلام جمع سوي واى؟

ځواب: پر دې تقدير خو اجتماع د خلګو پر اسلام لپاره د طلب د دنيا به واى وهذا الايمان ايمان المنافقين، نو حکمت الهي تقاضا وکړه ددې چي پر مسلمانانو بعض تنګي او اذيت مسلط کړي تا چي دخول ددوی په اسلام کي محضًا لپاره د رضاء د خداى ج سي او لپاره د طلب د نعيم الآخرة وګرځي ليس الا ذالک.. بيت:

بقدر الكد تكسب المعالي .... يغوص البحر من طلب اللالى

سوال: څه حکمت الهي دی چي خداى ج مختار کړی دی د خپل نبي لپاره فقر او هم عليه الصلوة السلام د خپل ځان لپاره فقر سره ددې چي په حديث شريف کي راغلي دي لو شئت لدعوت ربي عزوجل فاعطاني مثل ملک کسرى وقيصر؟

والجواب عنه: چي که چېري عليه الصلوة السلام غني د خلګو واى، نو بعض کسان به په دين کي دده داخلېداى طمعًا لدنياه وماله، فاختار العدله الفقر تاچي دا معلوم سي چي هر څوک چي دده په دين کي داخلېږي لپاره د طلب د نعيم الآخرة، او بل جواب دادی چي تسلي د زړه د فقير وسي په فقر سره د سيد البشر ﷺ کما يتسلى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الغنی بماله، او بل جواب دادی چي فقر د سید البشر ﷺ دلیل دی هوان د دنیا پر خدای ج باندي کما مر في الحدیث المروي عن سهل بن سعد رضي الله عنه قریبًا فتذکر.

درویش وایي: چي مظهري رح په ډېرو روایاتو سره دا حدیث را نقل کړی دی عن ابي هریرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ الدنیا سجن المؤمن وجنة الکافر، قال المظهري رح رواه احمد ومسلم في صحیحه والترمذي.

پوه سه: چي د دې حدیث معنی داده چي مؤمن که څه هم په دنیا کي ډېر نعمتونه او جاه و جلال لري لکن دنیا د ده لپاره نسبت و هغه نعمتو ته چي خدای ج د ده لپاره آراسته کړي دي په جنتو کي بندي خانه ده، او کافر که څه هم په دنیا کي په ډېرو غمو او مصیبتو او فقر او مسکنت کي وي لکن نسبت و هغه عذابو ته د دوږخ به دنیا جنت ورته معلومېږي.

پوښتنه: تمتع په دنیا سره چي حرام لحق الله نه وي او نه حرام لحق العبد وي خو رواه ده، و طلب د ژوندانه معاش خو هم روا دی بلکي فریضه ده، کما روی ان النبي ﷺ قال طلب الحلال (ای الرزق الحلال بالکسب والتجارة) فریضة (ای لنفقة العیال وغیرهم من ذوی المحارم المحتاجین الفقر) بعد الفریضة (یعني فریضة الله من الصلوات والصیام) رواه الطبراني والبیهقي، عن ابن مسعود رض نو څه ده حرمت د حب الدنیا؟

ځواب: مراد د حرمت د حب الدنیا داده چي دنیا یې پر آخرت مختاره کړې وي او غرق وي په کټلو کي د دنیا او په لذاتو کي د دنیا بحیث یغفل عن اکتساب الثواب واجتناب العذاب والحرص علی جمع المال من ای وجه کان وطول الامل او یا عقیده یې دا وي چي اغنیاء تر فقراء بهتر دي او تعظیم د اغنیاؤ بالا کوي تر تعظیم د فقراؤ صرف په سبب د غنی نه له دې سببه چي له ضرر څخه یې بېرېږي یا مکافات د یو احسان چي غني ور سره کړی وي ور کوي الی غیر ذالک من غرض مشروع، او یا غرض د سړي په کټلو کي د دنیا علوًا او فسادًا وي. واما طلب المعاش وکسب چي له ذکره څخه د خدای ج نه وي غافل او د لمونځو او زکوة ور کولو څخه نه وي غافل بلکي غرض یې انفاق پر ځان وي لپاره د دې چي پر عبادت د خدای ج قوت او یا د نفقې د زوجې او د عیال اداءً لحقوقهم فلیس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بمکروه وایضًا للانفاق في سبیل الله چي د غزاتو سره کومک وکړي فهو جائز بل واجب لکه د نفقې د عیال لپاره یا د نفقې د کوډ او شل د ذوی الارحام لپاره الی غیر ذالک من الحقوق الواجبة.

وَمَنۡ يَّعۡشُ عَنۡ ذِكۡرِ الرَّحۡمٰنِ

څوک چي اعراض له ذکر څخه د رحمن وکړي چي مراد څني قرآن عظیم الشان دی او ځان لکه ړوند وګرځوي په سبب د کثرت اشتغال په لذاتو کي د دنیا او ډوب وي په شهواتو کي، خلیل بن احمد چي استاذ دی د سیبویه په نحو کي وایي اصل العشو في اللغة النظر الی الشيئ بالنظر الخفیف.

فائده: عشو ګاهي متعدي په الی سره وي نحو عشوت الی فلان عشوًا ای قصدته مهتدیا به، ګاهي متعدي په عن سره وي کما یقال عشوت عن فلان اذا اعرضت عنه، نو په دې کي چونکه متعدي په عن سره ځکه یې تو له مفسرین ترجمه په اعراض سره کوي.

نُقَيِّضۡ لَهٗ شَيۡطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِيۡنٌ ۝

مقرر به کړو او مسلط به کړو پر ده شیطان (فهو له قرین) یعني نه به څني جلا کیږي او ګناه به ده ته ښائسته ښکاره کوي او ده ته به وایي چي ته پر عین هدایت یې.

پوښتنه: د هر انسان سره خو د مرګ تر وخته پوري شیطان سته ولو کان مؤمنًا حقًا ووليًا قویًا فما معنی نقیض له شیطانًا؟

ځواب: مراد له دې شیطان څخه هغه ملګری شیطان نه دی بلکې دا بل شیطان دی کما یدل علیه الحدیث قال رسول الله ﷺ اذا اراد الله بعبد شرًا قیض له شیطانًا قبل موته بسنة (تر مرګ د مخه یو کال) فلا یری حسنًا الا قبحه نو دا شیطان هر ښه کار په نظر کي د سړي بر ایسوي حتی لایعمل به ولا یری قبیحًا الا حسنة فلا یعمل به کذا في روح البیان، یو عارف بالله لنفسه وایي:

درلغ و درد که با نفس بد قرین شده ایم	وزین معامله بادیو همنشین شده ایم
بیارګاه فلک بوده ایم رشک ملک	زجور نفس جفا پیشه اینچنین شده ایم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ السَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ مُّهْتَدُونَ ﴿٣٧﴾

نو دغه شیطان (که څه هم شیطان د مخه په صیغه د مفرد راغلی دی لکن جمعیت یې د ضمیر د لته نظر و معنی ته ده من موصوله دی وهم العاشون) نو دوی منع کوي له لاري څخه د هدایت، او گمان کوي عاشون چي دوی پر عین هدایت دي.

یوه سه: چي دا جمله حال ده له ضمیر څخه د لیصدونهم.

حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَنَا

تر هغه وخته پوري هذه غاية لحسابهم اهل عراق غیر له ابی بکر رح څخه جاءنا مفرد وایي فالمعنى حتى اذا جاء العاشي او نور قاریان یې پر صیغه د تثنیه وایي یعني اذا جاء انا فالمعنى اذا جاء العاشي وشیطانه چي په یوه ځنځیر سره تړلي وي.

قَالَ يَٰلَيْتَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ الْقَرِينُ ﴿٣٨﴾

ووایي یعني العاشي لشیطانه، یا هذه الکلمة للتنبیه او یا یې منادی محذوفه ده تقدیره یا قرین، کاشکي زما او ستا تر منځ لیري والی وایي د مشرق او مغرب (نو په مشرقینو کي تغلیب د مشرق پر مغرب وکړی نو یې مشرقین ووایه) یا مراد له مشرق څخه مراد ژمی او دوبی دی (فبئس القرار) ته بد ملګری یې زما، ابو سعید الخدري رض وایي چي کافر چي په ورځ د قیامت راژوندی سي د خپل قرین شیطان سره وتړل سي نو نه سره جلا کېږي تر څو چي دوږخ ته لوېږي.

وَلَن يَنفَعَكُمُ الْيَوْمَ إِذ ظَّلَمْتُمْ أَنَّكُمْ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٩﴾

او نفعه نه و کړه تنه ورځ په اخرت کي یعني عذر ویل یا طلب د رد و دنیا ته، چي معلوم سو تاسي ته چي تاسي شرک په دنیا کي کړی ؤ او ظلم مو پر ځان کړی ؤ کلمه د اذ بدل ده من الیوم (انکم في العذاب مشترکون) دا دلیل دی د عدم النفع یعني حق ستاسي ایها المشرکون ان تشترکوا انتم وقرنانکم من الشیاطین في العذاب، ولي چي تاسي سره شریکان واست په سبب کي د دغه عذاب په دنیا کي وهو الکفر.

أَفَأَنتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ أَوْ تَهْدِي الْعُمْيَ وَمَن كَانَ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٤٠﴾

یا محمد آیا ته اوریدلای سې په کڼیانو یعني خپل دعوت د توحید یا ته لار ښودلای سې و ړندیانو ته.

Maktaba Tul Ishaat.com	Scanned by CamScanner

پوهه: چي مراد د ګونګوالي څخه يا د ړوند والي څخه کوڼوالی يا ړوندوالی د زړه دی يعني قلوبهم ای المشركين افت رسيده دي لا رد هدايت نسته ورته (ومن كان آه) عطف دی پر اعمٰی باعتبار تغاير الوصفين والاستفهام للانكار والتعجب من حال محمد ﷺ حيث طمع هؤلاء الايمان، والفاء للعطف على محذوف تقديره وانت تريد ان تهديهم هذا هو المحذوف المقدر افانت تسمع العمى يعني لست تقدر على هداية هؤلاء الكفار بعد تمرنهم على الكفر واستغراقهم في الضلال بحيث صار ظلمة الكفر عليهم غشاوة على اعينهم ووقراً في اذانهم كانهم لايسمعون كلامك ولايبصرون طريقًا لتهديهم اليه.

فَإِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ فَإِنَّا مِنْهُم مُّنتَقِمُونَ ﴿٤١﴾

اصله ان ما فان شرطيه اتصلت بما الزائدة المؤكدة بمنزلة لام القسم، يا يې نون د تاكيد ورته راجلب کړی يعني که موږ وفات کړو د مخه تر ليدو د عذاب ددوی چي ستا زړه په خنک سي او د مؤمنانو زړونه په ساړه سي.

لاتحزن ولي موږ ددوی څخه انتقام اخستلای سو په دنيا او اخرت کي.

أَوْ نُرِيَنَّكَ الَّذِي وَعَدْنَاهُمْ فَإِنَّا عَلَيْهِم مُّقْتَدِرُونَ ﴿٤٢﴾

او که موږ وويښو په تا يا محمد (ﷺ) يعني په دنيا کي، هغه شی چي موږ يې وعده کړې ددوی سره ای العذاب نو موږ پر دوی قادريو يعني پر تعذيب ددوی يعني زموږ څخه نه پاتېږي تعذيب ددوی متى شئنا، مراد ځني كفار د مكې دي چي خدای[٣] انتقام ځني واخستی په ورځ د بدر چي اوويا کسه مخ کښه کسان په شمول د فرعون الامة ابوجهل ستاسي په لاسو ووژل سول او اوويا کسه يې په حصارت ستاسي په لاس درکړه، وهذا قول اكثر المفسرين.

فائده: وفي هذه الآية تسلية للنبي ﷺ بان الله ينتقم من اعدائه ومنكريه يا په حال کي د حيات دده په واسطه دده کما في يوم بدر کما مرّ او بغير واسطته[٤] كما كان في زمن ابی بكر ﷺ چي وروسته تر وفات د عليه الصلوة السلام قبائل د عربو غير الحرمين الشريفين له زكوة څخه يې انكار وکړی ابوبكر ﷺ فوج كشي پر وکړه تر هغه بيرته د زكوة د فرضيت قائل سول وقصته طويلة مذكورة في كتب الاحاديث الشريفة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي مظهري د الحسن او قتاده څخه يو روايت راوړی دی چي د سباق او سياق له دواړو څخه مخالف دی والله اعلم.

فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِيْٓ اُوْحِيَ اِلَيْكَ ۚ اِنَّكَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۴۳﴾

ته يا محمد (ﷺ) محکمه ونسه هغه شی چي تاته يې وحي کړه سوي دي (که متلو وي لکه قرآن کريم او که وحي غير متلو وحي مما جاء في الاحاديث الشريفة لانه قال الله تعالى ماينطق من الهوى ان هو الا وحي يوحى او عمل په وکړه، فاء سببية ده دا آيت متصل دی په هغه آيت پوري "انا جعلناه قرآنا عربيا" او په منځ کي جمل معترضې دي فافهم) ته پر داسي لاريې چي سمه ده هيڅ کږوالی نسته پکښي، دا جمله دليل د استمساک دی.

وَاِنَّهٗ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ ۚ وَسَوْفَ تُسْـَٔلُوْنَ ﴿۴۴﴾

او دغه يعني القرآن الکريم (چي ستاسي په ژبه دی ای العربي) ذکر دی يعني شرف دی ستا لپاره او ستا د قوم لپاره يعني قريش لپاره هم فخر او شرف دی چي سيد د ټولو کتب الهية ستاسي په لغت دی، "وسوف تعلمون" او ژر دی چي له تاسي څخه به سوال وکړل سي، يعني يوم القيامة عن شکر نزول القرآن فيکم وعما يلزمکم من بحق القرآن بالعمل بموجبه.

فائده: دا جمله حال ده له فاعل څخه د استمسک، البغوي رح وايي چي الضحاک له ابن عباس رض څخه داسي روايت کړی دی چي د رسول الله ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه لمن هذه الامر بعدک ای بعد موتک؟ (پوه سه: چي مراد له امر څخه سياست الناس دی) ده جواب نه ورکاوه حتى نزلت هذه الآية، نو وروسته ددې آيت چي به چا پوښتنه ځني وکړه قال لقريش، وکذا روى عن علي رض او له عمر رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ووېل لايزال هذه الامر في قريش ما بقى اثنان، وعن معاوية رض قال سمعت رسول الله ﷺ يقول مادام هذا الامر في قريش ددوی سر به څوک په دې امر د خلافت نه کوي مگر خدای ج به هغه پر مخ باندي اوږته وغورځوي ما اقاموا الدين چي دوی يعني قريش پر دين باندي ثابت قدم وي.

درويش وايي: چي په دې قيد سره دفع سوه کثير من السوالات بان الامر ای الخلافة قد نقل الى غير قريش کرات ومرات بعد رسول الله ﷺ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَسۡـَٔلۡ مَنۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رُّسُلِنَآ أَجَعَلۡنَا مِن دُونِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ءَالِهَةٗ يُعۡبَدُونَ ﴿٤٥﴾

ته یا محمد (ﷺ) سوال وکړه له هغه چا څخه چي موږ را استولي وه تر تا دمخه رسولان زموږ، آیا موږ ګرځولي وه (یعني دوی لره) بیله خدایه خدایان چي عبادت به یې کړل کېدی، البغوي رح وایي چي د علماؤ اختلاف دی په دسو مسؤلینو کي عطاء رح له ابن عباس رض څخه روایت کړی دی چي رسول الله ﷺ چي په شپه د معراج اسمانو ته تلی نو خدای پاک وده ته ژوندی آدم علیه السلام او اولاد د هغه چي رسولان وه نو جبرئیل علیه السلام آذان وکړی بیا یې اقامت وکړی وقال یا محمد تقدم وصل بهم (دا واقعه په مسجد کي د بیت المقدس اجراء سوه)

دران مسجد امام انبیاء شد   صف پیشینان را پیشوا شد

ورسته جبرئیل علیه السلام واسئل یا محمد من ارسلنا قبلک من رسلنا الآیة فقال رسول الله ﷺ لاتسئل واکتفیت زما ددوی ددې پوښتني څخه کفایت کړه سوی دی وهذا قول الزهري وسعید بن جبیر وابن زبیر دوی وایي جمع له الرسل لیلة اسری به وامر ان یسئلهم فلم یسئل ولم یشرک، وقال اکثر المفسرین معنی الآیة واسئل امم من ارسلنا من قبلک وعلماء دینهم یعني مؤمني اهل الکتاب وهذا قول ابن عباس رض په تولو روایتو کي چي دده څخه چا کړي دي وقول مجاهد وقتادة والضحاک والسدي والحسن والمقاتل وبدل علیه قرائة د ابن مسعود رض وابی بن کعب رض وسئل الذین ارسلنا الیهم قبلک من رسلنا پر هر تقدیر مقصد د امر بالسوال تبکیت دی د مشرکی د مکې او د قریش او تعلیم دی دوی ته انه لم یأت رسول ولا کتاب بعبادة غیر الله عزوجل نو ستاسي د عبادت د بتانو یا د ملکو یا د ستور دین مستحدث دی په ټوله دور کي د بني آدم فقط وفقط پر تاسي باندي حصر دی د لوی جم غفیر څخه مخالفت کول ولا ریب انه خطاء فاحش.

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ فَقَالَ إِنِّي رَسُولُ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٦﴾

لام موطئه د قسم دی، والمعنی والله په تحقیق موږ استولی ؤ موسی ع سره د آیتو او معجزاتو چي په سر کي یې عصا او ید بیضاء او په مجموع کي نهه (۹)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وې و فرعون ته او اشرافو ته دده د قوم، نو موسیٰ ؑ وویل دوی ته چې رسول رب العالمین یم وتاسي ته.

فائده: ددې قصې په راوړلو کې تسلي ده و علیه الصلوٰة السلام ته او یقین دی د رد د قول ددوی بیانول دي چې لولا انزل الکتاب علی رجل من القریتین عظیم والاستشهاد بدعوت موسیٰ فرعون وملائه ته یعني سره ددې چې فرعون خو د قریشو او د طائف د قریبو تر مشرانو ډېر عظیم ؤ چې مدعي د الوهیت ؤ او ټولو یې الوهیت منلی ؤ او د قریشو د عظیم او د طائف عظیم د فرعون په صف الفعال کې نه وه.

فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِاٰيٰتِنَآ اِذَا هُمْ مِّنْهَا يَضْحَكُوْنَ ﴿۴۷﴾

نو هر کله چې راتګ وکړ دوی ته موسیٰ ؑ په معجزاتو سره چې دال قر صدق دده وې په دعوی کې د رسالت کالعصاء والید البیضاء، اذا هم منها یضحکون دوی او ددوی اهل پر ده خندل استهزاءً فکر او غور یې په معجزاتو کې نه کاوه.

وَمَا نُرِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ

مونږ نه لیدل په دوی کې یو آیت یعني علامه د عذاب الهي لیؤمنوا (۱) لکه څو کاله کاختي (۲) طوفان یعني ډېر باران چې او به یې په کورو ورننوتې چې سرې به ناست ؤ او به به یې تر غاړې پورې وې.

فائده: هر ډېر باران چې ډېر مضر عام وي طوفان یې بولي (۳) والجراد: ملخ یې خدای ؑ پر کښتو او مېوه داره درختو داسي په کثرت سره مسلط کړه چې کښت او مېوې خو څه کوې د درختو پوستکي یې هم وخوړل (۴) والقمل: شپوږي (هغه شپوږي چې پر دانو د غنمو یا د جوارو یا اوربشو مسلط سي ماینن د دغو دانو ټول وخوري خالي پوستکی پر پږدي (۵) والضفادع: چنګوښي چې سړی به بیده سو په خوله به یې چنګوښه ننوتل یا به یې صافي او به په لوښي کې واچولې او سر به یې هم پټ ؤ، نو څرنګه چې به یې او به د څښلو لپاره خولې ته پورته کړې اول به یې چنګوښه په خوله ورننوتل، داغه رنګه د ښوروا د کاسې څخه چې به یې ګوله را پورته کړه تر ګولې دمخه به یې چنګوښه په خوله ورننوتل (۶) والدم: او ویني چې د څښلو او به به یې پر سر پورته کړې سرې ویني به وې که څه هم او به یې د صاف ځاه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځنځه راکښېلي وای او د لوښي سر به یې په تو کړې ټ کړی وُ لکن چي پر سر به یې پورته کړې سرې ویني به وې (۷) والطمس: او په مالو او کښتو او مېوو کي به یې بې برکتي وه (۸) اولین آیت خو لکړه وه چي مار کېدل به (۹) دویم آیت ید بیضاء وُ.

إِلَّا هِيَ أَكْبَرُ مِنْ أُخْتِهَا ۖ وَأَخَذْنَاهُم بِالْعَذَابِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٤٨﴾

مګر دغه آیت به لوی وُ په ضرر کي تر د مخه آیت، او موږ د وی ونیول یعني فرعون او دده قوم په عذاب سره چي آنفًا یې ذکر تېر سو (لعل) په معنی د لام کی دی ای لکی یرجعوا عن الکفر و الشرک.

سوال: په دې مذکوره آیتو کي خو هره یوه تر مخني آیت بالا نه ده؟

ځواب: مقصود له دې آیت ځنځه دادی چي هر یو په دغه مذکوره آیتو کي په بالغ و نهایت اعجاز ته دی چي د ناظر به دا ګمان سو چي هره یو ددوی اکبر دی تر نورو آیاتو، دا معنی د اختها نه ده چي تر مخني آیت لوی ده، والمراد وصف الکل بالکبر في نفسها کما قول القائل رئیت رجالا کل واحد منهم افضل من غیره، ولي دا معنی تفضیلي ده پر هریوه پر ټولو خو امکان نه لري کما لایخفی، بلکي مراد له دې قول ځنځه دادی چي هر یو افضل في نفسه وُ، یا په دې قول کي د شاعر:

من تلق منهم فقد لاقیت سیدهم .... مثل النجوم یسری بها الساري

وَقَالُوا يَا أَيُّهَ السَّاحِرُ

وویل فرعون او قوم دده ای ساحره.

فائده: دوی خپل ایمان معلق کړی په کشف الضر سره ددوی ځنځه او موسیٰ ته یې طمع ورکړه په ایمان کي خپل او اهتداء په هدایت سره دده علی دعائه بکشف الضر عنهم ومع ذالک داسي یې نه ورته وویل یا ایها النبي بلکي د ساحر په نامه یې یاد کړی، له دې سببه چي دوی د مخه په دغه نامه یادا وه، دا له ډېر شدت ځنځه ددوی پر کفر باندي او له سببه ځنځه د ډېري خرکری او حماقت، وقال الزجاج دعوه بذالک الاسم لما تقدم له (ای لموسیٰ) من انهم یسمونه بذالک الاسم فکانهم جروا علی المعتاد عندهم من التسمیة، او بعض علماء وایي چي دا تسمیه په ساحر سره اهانة نه وه لمنافات الاهانة لمقام الضراعة له في دعاء کشف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الضر عنهم بدعائه كما لايخفى بلكې ددوى په عقيده دا تسميه تعظيمًا لموسىٰ ؑ عندهم ولي چي سحر ددوى علم عظيم ؤ او لوى صفت د مدح ؤ گويا دوى داسي ورته وويل يا ايها العالم الكامل الحاذق في علم السحر، لكن دا توجيه وجيه نه ده ولي دوى اول وار دده ته ساحر وويل تحقيرًا له حين انكروا نبوته حيث قالوا ان هذا (اى العصا واليد البيضاء) لسحر مبين، وقال موسىٰ ؑ ردًا عليهم اتقولون للحق لما جائكم اسحر هذا الآية، وقيل يا ايها الساحر الذي غلبنا بسحره عند المقابلة بسحرة جمع فرعون لهم لپاره د مقابلې د موسىٰ ؑ سره، نو موسىٰ ؑ پر هغو غالب سو او هغو ايمان راوړى.

ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ إِنَّنَا لَمُهْتَدُونَ ﴿٤٩﴾

خواست وكړه زموږ د كشف العذاب (بما عهد عندك) متعلق دى په ادع سره يعني تا ويلي دي موږ ته چي زما خداى ؑ زما سره وعده كړې چي كشف الضر كوم چي ته يې خواست وكړې، نو موږ به پر هدايت سو يعني ايمان به راوړو كه دا كشف الضر له موږه خداى ستا په دعاء سره وكړى او ستا په نبوت سره به ايمان راوړو، نو موسىٰ ﷺ د كشف الضر له دوى څخه خواست خداى ﷻ ته وكړى طمعًا في ايمانهم كما وعدوه، نو هغه خداى ؑ له دوى څخه دفع كړى.

فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِذَا هُمْ يَنكُثُونَ ﴿٥٠﴾

نو څه وخت چي موږ لرې كړى عذاب له دوى څخه يعني بدعاء موسىٰ ؑ، كلمه د فاء د مفاجات ده يعني ناببره به دوى وعده د ايمان راوړلو ماته كړه و خپل كفر ته به يې دوام وركړى وروسته تر كشف العذاب.

وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِ

او نعره وكړه فرعون په خپل قوم كي، يعني د دوى په يو اجتماع كي بعد كشف العذاب بدعاء موسىٰ ﷺ له ببري ددې چي بعض كسان ايمان رانه وړي او د موسىٰ ؑ رسالت ونه مني، مضمون د نداء دا ؤ.

قَالَ يَا قَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ الْأَنْهَارُ تَجْرِي مِن تَحْتِي ۖ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٥١﴾

وويل اى قومه زما (كسره د ميم عوض د مضاف ده) آيا نسته ما لره (الاستفهام للانكار ونفي النفي اثبات يعني سته) سلطنت د مصر او دغه ويالي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ای انهار النیل چي لوی ویالې څلور وې نهر الملک، نهر طولون، نهر دمیاط او نهر طینس، قوله وهذه الانهار عطف علی ملک مصر (تجري من تحتي) چي بهېږي تر ما لاندي یعني تحت قصوري او تحت امري (دده خبیث مراد دا ؤ چي دا ټوله زما په امر بهېږي ولې ده خو ځان خدای معرفي کړی ؤ) او بین یدي في البساتین، دا جمله حال ده (افلا تبصرون) تاسي په سترګو نه وینئ.

اَمْ اَنَا خَيْرٌ مِّنْ هٰذَا الَّذِيْ هُوَ مَهِيْنٌ ۙ وَّلَا يَكَادُ يُبِيْنُ ﴿۵۲﴾

کلمه د ام په معنی د بل آه ده بل لپاره د اضراب او انتقال دی، ماقبل او همزه لپاره د تقریر دی یعني زه سره دده د فراخه مملکت د مصر بنه او بهتر نه یم (من هذا) یعني موسیٰؑ چي دی حقیر او ذلیل دی قابل د ریاست د مصر نه دی (یعني مراد د خبیث دا ؤ چي د موسیٰ غرض په دعوی کې د رسالت ریاست کول دي پر موږ باندي) "ولایکاد یبین" قریب نه ده چي دی دي خلاصي فصیح خبري وکړي یعني په ژبه کې بندېږي چي لکنت یې بولي، دا لکنت له دې سببه څخه ؤ چي تو ده ډېره ده په کوچنیوالي خولې ته اچولې وه، چي ټوله قصه د مخه په تفسیر ایوبي کې تېره سوې ده.

درویش وایي: چي موسیٰ ﷺ چي نبي سو دا خواست یې خدای ته وکړی واحلل عقدة من لساني یفقهوا قولي، نو دده د دعاء په اثر خو یې لکنت د ژبې ډېر کم سو لکن څه اثر یې پاته ؤ، والله في کل امر یفعله حکم لا نعلمها.

فَلَوْلَآ اُلْقِيَ عَلَيْهِ اَسْوِرَةٌ مِّنْ ذَهَبٍ

نو ولې نه واچول سوه پر موسیٰؑ، یعني له جانبه څخه د خدایؑ دده.

بوه سه: چي اسورة جمع د سوار ده چي په پښتو یې بنګړي بولي او عربي نوم یې سوار دی او فارسي نوم یې دست برنجن دی او اردو نوم یې کنګهن دی، مجاهدؒ وایي چي د پخوا خلکو دا رواج ؤ چي سړي ته بادشاه د وخت سرداري او ریاست نافذ الحکم ورکاوه نو په لاس به یې بنګړی د سرو زرو ور په لاس کړی او په غاړه کې به یې طوق د سرو زرو ور واچاوه چي دا به دده د سرداری دلیل ؤ، نو غرض د فرعون دا ؤ چي موسیٰؑ که رسول نافذ الحکم وای پر موږ د خدای له خوا نو خو رب د موسیٰؑ به ده ته بنګړیان د سرو زرو ور کړي وای چي بعض به یې په لاس وای او بعض به یې په د غاړي طوق وای نو موږ به دده اطاعت کولای، واذ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ليس على موسىٰ اسورة الذهب فليس رسولاً وسيداً يجب علينا اطاعته.

درويش وايي: چي خبيث د قوم د غولولو لپاره لپاره سيادت او رسالت د خداى د خوا يې قياس كړى پر سيادت د ملوك الناس د خوا، لكن بينهما بون بعيد لان السيادة والرسالة د خداى له خوا مبني دي پر قلب صافي او استعداد عالي د رسول دى چي تحمل د ازار د خلكو كولاى سي او د هر مشكل سره چي مخامخ سي د تبليغ لار نه پرېږدي الى غير ذالك من الصفات العالية بخلاف السيادة من ملوك الدنيا، چنانچه يزيد پليد چي د پلار معاويه رضي الله عنه خلافت قبضه كړى او په عين وخت كي عبد الله بن الزبير رضي الله عنه چي د عليه الصلوة والسلام د خوښني اسماء بنت ابو بكر رضي الله عنها چي د سيدتنا عائشه رضي الله عنها خور وه مكه والو د هغه سره بيعت د خلافت كړى ؤ، نو يزيد پليد چي په خبر سو په خلافت د عبد الله بن زبير رض نو په سيادة د الحجاج بن يوسف چي اظلم ؤ كما يشهد به التواريخ الاسلامية د شام څخه يې د روند فوج ورسره كړى او د مكې پر خوا يې راهي كړى چي عبد الله بن الزبير رضي الله عنه قتل كړي او د مكې والو څخه د يزيد پليد لپاره بيعت واخلي، مكې وال چي خبر سوه د دې درانه فوج سره يې د جنګ توان او طاقت يې نه درلودى يوه خوا او بلي خوا ته وتښتېدل، عبد الله بن الزبير رض په حرم محترم كي پناه واخسته، حجاج بن يوسف پر جبل ابى قبيس باندي منجنيق ورته بسته كړى چي په پخوانى زمانه كي د توپ كار ور څخه اخسته كېدى، خو نه د كعبې مباركي يې هدف وګرځول چي كعبه شريفه يې له مځكي سره مځكه وګرځول بالآخرة حرم ته داخل سو او عبد الله بن زبير رضي الله عنهما يې ونيوى او د زمزم پر غاړه يې قتل كړى دست بسته الى اخير القصة، مطلب د درويش په نقل كي د قصې دا دى چي سيادة د ملوك الدنيا چي په دې ځاى كي يزيد پليد ؤ و داسي چا ته وركړى لكه حجاج بن يوسف چي اظلم الناس ؤ او د حرم محترم او د كعبې مباركي دومره هتك د حرمت يې وكړى، وروسته حجاج بن يوسف كعبه بيرته تعمير كړه دا چي ولاړه د كعبې بناء ده دا د حجاج بن يوسف بناء ده، دا ؤ فرق د سيادة د خداى ج د خوا چي رسالت دى او د ملوك الدنيا د خوا فافهم وكن على ذكر منك، اوس بيرته د فرعون لعين پر لور.

أَوْ جَآءَ مَعَهُ الْمَلٰٓئِكَةُ مُقْتَرِنِيْنَ ۝

يا به راغلي واى د موسىٰ ؑ سره ملكي پر له پسې چي شاهدي په صدق د موسىٰ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې ورکولای او د موسیٰ سره به يې کومک کولای.

فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهٗ فَاَطَاعُوْهُ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿٥٤﴾

فرعون سپک استعمال کړه، عطف دی علی نادیٰ يعني فرعون خپل قوم قبط جهال وبلل چي دا دده دروداغ مني چنانچه (فاطاعوه) فيما امرهم بنقض العبد مع موسیٰ ﷺ يعني دوی به هر وار د دفع الضر په پاره کي موسیٰ ﷺ ته د ايمان راوړلو وعده ورکول کمامر (انهم کانوا فاسقين) نو دوی فاسقانو د فرعون چي فاسق اعظم وُ په خوله کول.

فَلَمَّاۤ اٰسَفُوْنَا انْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿٥٥﴾ۙ

چي موږ ته يې غضب راوستی په سبب د افراط في العناد والکفر والعصيان، موږ خپل انتقام يعني کسات څني واخستی په نزول سره د عذاب في الدنيا وهو معطوف علی اطاعون، نو غرق مو کړه دوی په رود نيل کي من اولهم وآخرهم.

پوهه: چي اسف شدت غضب ته وايي في محاورة العرب.

فروش وايي: چي دا قصه په ډېر طول سره د مخه تېره سوی ده په تفسير ايوبي کي.

تنبيه: فرعون او دده قوم قبط چي څو واره وعده د ايمان راوړلو د موسیٰ ﷺ سره ماته کړه، نو د رب جل شانه چي د غضب پيمانه يې لبرېزه سوه نتيجه د غرق د ټوله قوم يې رود نيل ور په برخه کړه نعوذ بالله من غضب الحکيم الجبار.

حکايت في نتائج الوفاء بالعهد: راويان د تاريخ وايي چي نعمان بن المنذر من ملوک العرب دوې ورځي په کال کي د ځان لپاره ګرځولي وې اوله ورځ چي به راووتی دا يې د يوم النعمة په نامه نامزده کړې وه نو په اوله ورځ چي به هر څوک په مخه ورغلی سل (١٠٠) اوښان يې ورکول او نور نعمت يې هم ورکاوه، او دويمه ورځ يې د يوم بوس په نامه مشهوره کړې وه په دې ورځ چي به دی راووتی هر سړی چي به اول په مخه ورغلی هغه يې قتل کاوه، نو په ورځ د بوس چي دی راوتلی وُ اول چي په مخه ورغلی يو سړی په نامه د طائي، نو د هغه يقين سو چي وژني مې، نو دا خبره يې ملک المنذر ته وکړه حي الله الملک ژوندی دي لري خدای ملک، وروسته يې ورته وويل چي ضرورت او احتياج زه باعث کړم پر راوتلو په دې ورځ کي لکن لايتفاوت القتل الآمر في قتلي في اول النهار واخيره نو که د ملک خوښه وي چي ماته فرصت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او اجازه را کړي چې زه خپل اهل او عیال ته د ننني ورځې نفقه ورسوم او رخصت او خدای پاماني به ځني واخلم بیرته به راسم ملک به مي قتل کړي، د ملک المنذر زړه پر وسو ملک نعمان بن المنذر ورته وویل چې ضامن به را کوې که ته رانه غلې زه هغه ضامن قتل کوم، هغه سړي ورته وویل چې شریک ابن علي زما ضامن دی هغه هم، هغه هم ضمانت قبول کړی فذهب الطافي ثم رجع قريبًا من المساء (یعني تر ماښام دمخه راغلی) فلما راه النعمان سريې کښته واچاوه وروسته يې سر راپورته کړی او ويې ويل ما رئيت مدة الدهر اعجب منكما اما انت ايها الطافي فما تركت في الوفاء لاحد مقامًا يفتخر به واما انت يا شريك بن علي فما تركت لكريم سماحة (جوان مردي) چې د طافي د خلاصون لپاره دې جوانمردي په خپل قتل سره وکړه فلا اكون اخس الثلاثة، آګاه اوسئ چې ما یوم بؤس ترا بده له خلګو څخه پورته کړه کرامة لكما، بیا يې لوی احسان د طافي سره وکړی او دا يې ورته وویل چې ته څه شي باعث کړې چې د مرګ ځای ته دې وفاء بالعهد وکړه؟ طافي ورته وویل چې زه خپل دین باعث کړم اذ من لا وفاء له فلا دين له. انتهی الکلام.

فَجَعَلْنٰهُمْ سَلَفًا وَّمَثَلًا لِّلْاٰخِرِيْنَ﴿۵۶﴾

نو وګرځول موږ دوی (یعني فرعون و قومه متقدمين في التعذيب تاچې پند واخلي له دوی څخه وروستني قومونه، نو سلف جمع د سالف ده لکه خدم جمع د خادم ده یا مصدر دی حمل يې مبالغة دی) ومثلًا للآخرين: ای قصة عجيبة لکه متلونه لکه یو قوم چې خدای پاک هلاک کړي خلک وايي فلانی قوم لکه فرعونیان خدای هلاک کړه، روایت کړی دی په صحیح سند سره بخاري او طبراني هم د ابن عباس ﷺ څخه روایت کړی دی چې رسول اللهﷺ وویل و قریشو ته ليس احد يعبد من دون الله فيه خير (نسته هیڅ څوک چې عبادت يې کیږي بیله خدایه چې په هغه معبود کې دې خیر وي لکه معبودان د قریشو چې بتان وه جمادات ولاينفع ولايضر) قریشو سوال پر وکړی چې تا دا نه دي ویلي چې عیسی عبد صالح او نبي ؤ او سره دد دې چې د عیسی خو هم عبادت کړه کېدی، فانزل الله تعالی:.

وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا

څه وخت چې وګرځول سو عیسیٰ بن مریم مثل یعني د قریشو له خوا څخه، او دغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رنګه له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی قال جاء عبد الله بن الزبعری الی رسول الله ﷺ فقال یا محمد انک تزعم (زعم په معنی د قول دی) ای تقول انکم وما تعبدون من دون الله حصب جهنم انتم لها واردون؟ قال ﷺ نعم، نو الزبعری ورته وویل قد عبدت الشمس والقمر والملائکة وعزیر وعیسی علیه السلام فکل هؤلاء في النار؟ (دا ټول به په دوزخ کي وي سره زموږ د خدایانو) فنزلت ان الذین سبقت لهم منا الحسنی اولئک عنها مبعدون وایضًا نزلت هذه الآیة ولما ضرب ابن مریم مثلاً الی قوله خصمون.

إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ ۝٥٧

ناګاه ستا قوم له هغه څخه اعراف کوي، وقال الضحاک رحمه الله تعجبون وقال القرطبي یفجرون زړونه یې تنګ سي، وقال قتاده دا آیت چي نازل سو قریشو به ویل ما یرید محمد منا الا ان نعبده و نتخذه الهًا کما عبدت النصاری عیسیٰ.

وَقَالُوا أَآلِهَتُنَا خَيْرٌ أَمْ هُوَ ۚ

آیا زموږ خدایان خیر دي یا محمد (ﷺ) ددوی غرض دا دی په دې استفهام کي چي موږ د محمد اطاعت وکړو او خپل معبودان پرېږدو، او ابن زید او سدي وایي چي ضمیر د هو راجع دی و عیسیٰ علیه السلام ته نو غرض ددوی دا دی چي محمد خو وایي ان من عبد من دون الله في النار فنرضی انیکون الهتنا مع عیسی وعزیر والملائکة في النار.

مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلًا ۚ

دوی تا ته نه دی ویلی دا مثل مګر نه د جدل او خصومت بالباطل لپاره لا للتمیز بین الحق والباطل، ولي چي دوی خو په دې نه پوهېدل چي محمد ﷺ لا یرید عبادة نفسه او دوی په دې پوهېدل چي کلمه د ما خو د غیر ذوی العقول لپاره ده، نو انکم وما تعبدون من دون الله حصب جهنم مراد څخني ددوی بتان دي لا عیسی وعزیر والملائکة لانهم من ذوی العقول وکلمة ما کما مر آنفًا لغیر ذوی العقول.

بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُونَ ۝٥٨

بلکي دوی یعني اهل مکه یو قوم دی شداد الخصومة حریص پر بي فائده جدال باندي خصومت بالباطل یې عادت ګرځېدلی دی، عن ابی امامة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ما ضل قوم بعد هدی کانوا علیه الا اوتوا الجدل ثم قرء ما ضربوه لک الا جدلا بل هم قوم خصمون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنَاهُ مَثَلًا لِّبَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿٥٩﴾

نه دی هغه یعني عیسی مگر عبد یعني لیس ابنه تعالی، موږ انعام کړی دی پر هغه، بالنبوة والقرب الی الله تعالی، او موږ دی گرځولی دی یو امر عجیب کالمثل السائر او آیة او عبرة چي په ده کي عظیم قدرت د خدای عزوجل معلومیږي، یعني الله یخلق مایشاء حیث خلقه من غیر اب (لبني اسرائیل) لپاره د بني اسرائیلو چي باید د اشاعت د ذکر عیسی په باره کي دوی سرگرم کوشان وایي تا چي دوی ته هم انعام الهي رسېدلی وای لکه عیسی ﷺ ته.

وَلَوْ نَشَاءُ لَجَعَلْنَا مِنكُم مَّلَائِكَةً فِي الْأَرْضِ يَخْلُفُونَ ﴿٦٠﴾

که زموږ مشیت وای (جمله معترضه ده بیان د قدرت د خدای ﷻ) یعني موږ به پیدا کړي وای ستاسي انسانانو څخه په طریقه د ولادت لکه عیسیٰ ؑ چي یې بې پلاره پیدا کړی دی او آدم ؑ یې له خاورو څخه پیدا کړی دی او له ده څخه یې بیا حواء پیدا کړې ده، ولي چي قدرت د خدای ﷻ خلق د آدم ؑ او عیسیٰ ؑ بغیر اب (یخلفون) یعني دوی به خلافت ستاسي کولای په مځکه کي یعني تعمیر د مځکي بې کولای او زما عبادت بې کولای او اطاعت به یې هم کولای لکن لم یفعل الله ذالک لعدم مشیته ذالک.

وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ

او د عیسیٰ ﷺ نزول له اسمان څخه علامه د قرب د قیامت ده، او بعض قراء لعلم بفتح اللام وایي والمعنی واحد. د حذیفه بن اسید الغفاري ؓ څخه روایت دی چي یوه ورځ موږ یعني بعض صحابه سره ناست وُ د قیامت په باره کي مو بحث سره کاوه چي علیه السلام راغلی او وه یې فرمایل چي څه بحث مو سره کاوه؟ موږ ورته وویل چي موږ د قیامت په باره کي بحث سره کاوه، نو علیه الصلوة والسلام راته وویل چي قیامت نه قائمیږي چي تاسي تر هغه د مخه لس نښانیاني نه وویني، فذکر علیه السلام (۱) الدخان (۲) والدجال (۳) ودابة الارض (۴) وطلوع الشمس من مغربها (۵) ونزول عیسیٰ بن مریم ؑ من السماء (۶) ویاجوج وماجوج، او دري خسفه (۷) خسف بالمشرق (۸) وخسف بالمغرب (۹) وخسف بجزیرة العرب (۱۰) نار تخرج من الیمن تطرد الناس الی محشرهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي په ترتيب کي د دغو لسو علاماتو اختلاف دی او په تفصيل کي يې بحث طويل سته چي په احاديث مبارکه وُ کي مذکور دي.

فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُونِ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾

کلمه د فاء لپاره د سبب ده ای لما کان عيسیٰ سببًا للعلم بقيام الساعة فلا تشکن في قيام الساعة (واتبعون) زما متابعت وکړئ په هدايت کي او اتبعوا شرعي او اتبعوا رسولي، دغه لار چي زه تاسي ورته رابولم لار ده سمه واصل ده ورضا ته د رب عزوجل يا جنت ته.

وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطَانُ ۖ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٦٢﴾

تاسي دي منع نه کړي شيطان له متابعت زما څخه يعني زما د امرت به ونهيت عنه څخه، په تحقيق شيطان تاسي لره دښمن دی ظاهر العداوة چي دی له لاري څخه د سلوک منع کوي چي ايمان او اسلام دی او د اور لار درته ښائسته کوي چي کفر او ضلال دی.

وَلَمَّا جَاءَ عِيسَىٰ بِالْبَيِّنَاتِ قَالَ قَدْ جِئْتُكُم بِالْحِكْمَةِ وَلِأُبَيِّنَ لَكُم بَعْضَ الَّذِي تَخْتَلِفُونَ فِيهِ ۖ

او هغه وخت چي عيسیٰ ؑ راتګ وکړی په معجزاتو سره (لکه ابراء الاکمه والابرص وغير ذالک) او يا په آياتو سره د انجيل او يا په شرائعو سره چي تهول واضحات الدلاله دي پر نبوت دده "قال قد جئتکم" وويل عيسیٰ ؑ ما تاسي ته په علوم حقه وُ سره راتګ کړی دی (ولابين لکم) متعلق دی په محذوف پوري تقديره وجئتکم لابين بعض هغه څه چي تاسي اختلاف پکښي کوي وذالک ان اليهود صار وبعد موسیٰ (۷۱) فرقې چي متابعت د خپلو خواهشاتو يې کاوه، نو چي عيسیٰ ؑ راغلی منع يې کړه يهود د ټولو عقائدو باطله وُ څخه او ښوونه يې وذوی ته وکړه د حق او صواب د لاري کما جاء في الحديث النبوي افترقت اليهود علی (۷۱) فرق وتفرقت النصاری علی (۷۲) فرقة وتفترق امتي علی (۷۳) فرقة، رواه ابو داؤد وابن ماجه والترمذي والنسائي، او عيسیٰ ؑ وويل:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۶۳﴾ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿۶۴﴾

او له خدايه وبېرېږئ او زما اطاعت وکړئ فيما امرکم به، په تحقيق خدای ج زما رب دی او ستاسي رب دی نو بايد يوازې دده عبادت وکړئ، دا توحيد د معبود او اتباع د شرائعو سمه لار ده.

فائده: هو ضمير فصل لپاره د حصر دی، حاصل دآيت داده چي اعتقاد د توحيد دی والتعبد بالشرائع وهذا بيان لما امرهم بالاطاعة في قوله واطيعوني.

بوه سه: چي جمله (هذا صراط مستقيم) هم د کلا څخه د عيسیٰ ؑ ده يا جمله مستانفه ده له جانب څخه د خدای ج.

فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ مِنْۢ بَيْنِهِمْ

احزاب جمع د حزب ده معناه الجماعة، مظهري د من بينهم ضمير يوازې نصاریٰ ؤ ته راجع کړی دی، او روح البيان ويهودانو او نصاریٰ ؤ دواړو ته راجع کړی دی، او مظهري بيان د اختلاف ددوی نه دی بيان کړی فقط پر هغه حديث مبارک يې اعتماد کړی دی چي په باره کي د نصاریٰ ؤ راغلی دی کما مر من اختلاف النصاریٰ (۷۲) فرقة، او روح البيان د دواړو د يو عظيم اختلاف بيان کړی دی حيث قال چي عيسیٰ يهودان او نصاریٰ دواړو ته مبعوث ؤ، نو يهودانو لعنهم الله وايي چي زنئ کړې مور د عيسیٰ نو دی ولد الزنیٰ دی (نعوذ بالله من ذالک) او نصاریٰ درې فرقې دي (۱) اوله فرقه وايي چي عيسیٰ په خپله خدای دی (۲) فرقه وايي چي عيسیٰ ابن الله دی (۳) فرقه وايي چي يو الله دی بل عيسیٰ وامه يې له خدايان دي، عيسیٰ ؑ ثالث ثلاثه بولي.

فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْ عَذَابِ يَوْمٍ اَلِيْمٍ ﴿۶۵﴾

پس هلاکت دی (ويل هلاکت ته وايي مبتداء ده) د هغه چا لپاره چي ظلم يې کړی دی پر خپلو ځانو په متابعت د هوای نفساني او ترک د ما نطق به الکتاب والسنة (يعني د دغو احزابو څخه) له عذاب څخه د ورځي چي ورځ د قيامت ده چي هغه عذاب درد ورکونکی دی. الفاء في قوله فويل لپاره د سببيت دی ولي چي د دوی دغه اختلاف سبب د ويل او هلاک دی.

Maktaba Tul Ishaat.com 　 Scanned by CamScanner

سوال: ويل خو نکره محضه ده مبتداء نسي واقع کېدای؟

ځواب: دا نکره محضه نه ده بلکې تنوين د تعظيم دی ای هلاک عظيم کما قال النحاة في قوله القائل شر اهر ذاناب (لوی شر دی چې پر غپا يې راوستلی ذاناب چې مراد ځني سپی دی)

هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا السَّاعَةَ أَن تَأْتِيَهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٦٦﴾

آيا دوی نه ګوري (مراد ځني قريش دي) چې ظلم يې پر ځان کړی دی په سبب د شرک، او لاينظرون په معنی د لاينتظرون دی يعني انتظار نه کوي د هيڅ شي (نو استثناء مفرغ ده) يعني مستثنی منه يې محذوف دی والتقدير لاينتظرون شيئ من الاشياء الا الساعة (الا الساعة) مګر نه د قيامت (ان تاتيهم) بدل دی د الساعة ځنځه ای اتيان الساعة (بغتة) په پښتو وايي ناببره په اردو وايي اچانک، او دوی به نه وي خبر په راتګ ولې چې دوی به مشغول وي د دنيا په کارو او د قيامت به منکره وي.

پوهه: چې قيامت درې قسمه دی (۱) القيامة الکبریٰ هغه هلته دی چې خلک راژوندي سي او دوی سوق سي و محشر ته لپاره د جزاء بالجنة او النار (۲) والقيامة الصغریٰ وهي وقت موت کل احد کما قال رسول اللهﷺ من مات فقد قامت قيامته، ولهذا ورد القبر روضة من رياض الجنان او حفرة من حفرات النيران (۳) والقيامة الوسطی وهي موت جميع الخلائق بنفخة صور اسرافيل الاولی، ولايعلم وقوعه وقيام هذه الوسطی الا الله نعم هذه القيامة بالعلامات المنقولة من رسول اللهﷺ، منها يرفع العلم ويکثر الجهل او ډېره به سي زنی وشرب الخمر، او لږ به سي رجال او ډېرې به سي ښځې حتی يکون لخمسين (۵۰) امرئة قيم واحد ولې چې نران به په فتنو د جنګو قتل کېږي ښځې به پاتېږي، وعن علي رضي الله عنه چې را به سي پر خلکو داسې زمانه چې نه بسي پاته د اسلام ځنځه الا اسمه ولا من الدين الا رسمه ولا من القرآن الا درسه (يعني درس کېږي به عمل به نه وي) مساجد به يې په ظاهر الصوري ډېر ښايسته وي محکم به وي لکن له ذکر ځنځه به خراب وي. شر اهل هذا الزمان علمائهم منهم تخرج الفتنة واليهم تعود.

الْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ ﴿٦٧﴾

ای المتحابين في الله، روی البغوي عن علي رضي الله عنه في هذه الآية چې دوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوستان وه مؤمنان او دوه دوستان وه كافران دا يو مؤمن وفات سو، نو خداى ﷻ ته يې خواست وكړى چې فلاني چې هغه ژوندى دوست يې مراد ؤ ده به زه ستا او ستا د رسول په اطاعت امر كولم يأمرني بالخير وينهاني عن الشر، او ما ته به يې ويل چې مو ړ په اخرت كي د خداى ﷻ سره ملاقي كېدونكي يو يا رب فلا تضله بعدي واهده كما هديتني واكرمه كما اكرمتني، نو چې هغه ژوندى خليل دوست يې مړ سو خداى پاک سره جمع كړه او خداى پاک ورته وويل چې هر يوه د تاسي دوو د هغه بل صفت وكړى فيقول كل واحد في حق الآخر نعم الاخ ونعم الخليل ونعم الصاحب، واذا مات احد الكافرين فيقول يا رب ان فلانا يعني الكافر الحي ينهاني عن طاعتك وطاعة رسولك ويأمرني بالشر وينهاني عن الخير، او دا به يې راته ويل چې قيامت نسته فيقول بئس الاخ وبئس الخليل وبئس الصاحب.

له ابو هريره ﷺ څخه روايت دى قال قال رسول الله ﷺ لو ان عبدين تحابا في الله عزوجل (د دوو بندګانو چې د خداى ج په لاره كي سره محبت وي) واحد في المشرق واخر في المغرب لجمع الله بينهما يوم القيامة يقول (اى الله) هذا الذي تحبه في (زما په لار كي)، عبيد بن عمر رح وايي چې د يو سړي دړې اشنايان وه، يو اول نمبر چې دې سړي د هغه خدمت كړى ؤ او ډېر ګراوونه ددې دوست پر تېر سوي وه، بل اشناى يې تر هغه اول خو لږ كم ؤ خو بيا هم ددې اشناى هم پر دې سړي ډېر ګراوونه تېر سوي ؤ، د دريم اشناى لپاره پر ده ډېري خواري نه وې تېري سوي، دې سړي ته داسي مشكل ورپېښ سو چې بل وطن ته تلى د لاري ملګري ته يې ضرورت درلودى او داسي ملګرى چې دده د مشكل تر خلاصېدو پوري به دده سره ورسره واى، نو دا سړى اول هغه اول اشناى ته ورغلى او خپل حال يې ورته وواېه هغه اشناى يې ورته وويل چې زه ستا د كور اشناى يم ستا سره مسافري نسم كولاى. بيا دوهم اشناى ته ورغلى هغه ورته وويل چې زه ستا سره صرف دومره كولاى سم چې د مشكل تر ځايه مي ته ورسولې زه بېرته در څخه راځم، بيا دريم اشناى ته ورغلى ماجرى يې ورته وويل، هغه ورته وويل چې زه پر كور هم اشناى وم په سفر هم درسره ځم او تر هغو چې ستا مشكل نه وي حل سوى درسره به يم.

درويش وايي: چې هر اهل عقل ته ددې درو اشنايانو حال بيان كړل سي نو بلا توقف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

به وواییي چي دریم اشنای بهترین اشنای دی، اوس د دې درو اشنایانو د بیان حال پر لور، اول هر سړي د باغ او بنګلې په تعمیر کي ډېر کړاو ونه پر ځان وړي دي وخت د سفر دده و قبر ته رارسېږي باغونه بنګلې اسائش الدار، ځای پر ځای یې له سفره انکار وکړي، بل اشنای چي زامن او نور قریبان دي چي د هغو لپاره مسافر القبر ډېري خواری، کښلي وې ورته وواییي چي د مشکل تر ځایه پوري موږ درسره ملګري یو یعني چي تر هغه ځای مو ته ورسولې یعني موږ بېرته در ځخه راځو، دریم اشنای ورته وواییي چي زه دې پر کور هم ملګری وم په سفر کي هم ملګری یم او د مشکل تر ځای هم ملګری یم او چي ستا مشکل حل سوی نه وي زه نه در ځخه جلا کېږم دا ملګری عمل صالح دی او عبادت د خدای ﷻ دی چي تر هغه وخته پوري درسره ملګری دی چي دا سړی یې و جنت ته نه وي رسولی نو رشتیا دریم اشنای په اشنایي ارزي لکن عمل برعکس دی، اللهم الا بتوفیقک لمحبة الصديق الاخروي العمل الصالح.

يٰعِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَلَآ أَنْتُمْ تَحْزَنُونَ ﴿٦٨﴾

ای زما بندګانو (الاضافة لتشريف المضاف كما في بيت الله يعني يقول الله للمتحابين چي یو د بل سره محبت کوي، المتقين) بېره نسته پر تاسي نن ورځ (یعني يوم القيامة) او نه به تاسي غمجن یاست.

پوه سه: چي خوف په ائینده پوري تعلق لري او حزن په ماضي پوري مثلاً د یو چا زوی ناجوړی وي بېرېږي چي مړ نه سي دا خوف دی، او یا د چا زوی مړ سي پسي غمجن وي دا حزن بولي، د بخاري په روایت عن معتمر بن سليمان عن ابيه قال سمعت رسول الله ﷺ چي خلک چي بعث سي ليس منهم احد الا فزع فنادى مناديا يا عبادي لا خوف الآية فيرجوا الناس (یعني امید د خلاصون د خوف او حزن وربیدا سي)

الَّذِينَ آمَنُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا مُسْلِمِينَ ﴿٦٩﴾

هغه کسان دي چي ایمان یې راوړی زموږ پر آیاتو باندي یعني آیات د قرآن عزيز دا موصول صفت دی د منادی چي عبادي دی (وكانوا مسلمين) دا جمله حال ده له فاعل ځخه د آمنوا.

فائده: دا آیت تاکید دی د آمنوا نو په دغه نداء سره نا امید سي تو له انسانان غیر له مسلمانانو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ اَنْتُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ تُحْبَرُوْنَ ﴿۷۰﴾

داخل سئ و جنت ته تاسي او ستاسي مايني چي مؤمنات وي (تحبرون) اى تسرون خوشحاله او سئ چي د خوشحالى اثار مو پر مخانو معلومېږي، يا معنى داده چي تاسي زيب او زينت کوئ، مشتق دى له حبر څخه چي حسن الهيئة ته وايي او يا معنى داده چي تکرمون اکرامًا بليغًا او دا جمله هم صفت د منادى دى يعني خطاب و عبادي ته دى.

پوه سه: چي انتم مبتداء ده او ازواجکم پر عطف دى او تحبرون يې خبر دى.

فائده: په علماء کي هغه ته وايي چي د اثارو څخه د علم دده په زړو کي د خلکو پاته وي او تصانيف دده په علوم دينيهؤ کي خلګ لاس پر لاس د فائدو اخستلو لپاره کوي او آثار د حسنهؤ دده چي مقتدى بها وي موجود وي.

يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِصِحَافٍ مِّنْ ذَهَبٍ وَّاَكْوَابٍ

طواف کړه کېږي پر دوى چي په بل ځاى کي د قرآن مجيد په معلوم صيغه سره راغلى دى ويطوف عليهم ولدان مخلدون (بصحاف) جمع د صحفة دى فراخه کاسې ته وايي په دې کاسو کي دوى ته مطعومات شهيه راوړل کېږي (من ذهب) د سرو زرو (واکواب) جمع د کوب ده کوب هغه د څښلو ظرف او لوښي ته وايي چي نه لاستى لري او نه چښکه چي په پښتو يې آب خورى يا سروبى بولي ددې لوښي فائده داده چي پر هر ځاى يې سرى خوله کښېږدي او به څښل کېږي، نو دا اکواب هم د ذهب وي وان لم يذکره قياسًا على المعطوف عليه يعني بصحاف.

وَفِيْهَا مَا تَشْتَهِيْهِ الْاَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْاَعْيُنُ وَاَنْتُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۷۱﴾

او په دې کي يعني په جنت کي هغه شيان سته چي د زړو د جنتيانو هوا نه ورته کېږي من الماکولات والمشروبات والمنکوحات من الحور العين، او لذت پر اخلي سترګي، غالبًا سترګي پر بنائسته مخانو خوند اخلي من زوجات الدنيا چي د جنتي پر نکاح مړې وي و حورات الجنات المعدة للجماع.

درويش وايي: چي علماء د اسلام ټوله وايي چي جنتي داسي خواهش نه کوي د منهي عنه په دنيا کي لکه لواطت چي په ټولو اديانو کي ناروا دى ولو في دبر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

امرئته لان الحكمة في الوطي الحرث يعني كښت چي عيال دی، والدبر موضع الغرث اى النجاسة.

درويش وايي: چي دغه دی د قرآن عظيم الشان د كلماتو جامعه ؤ ځكه لجميع نعيم الجنة يعني قوله تعالی كمامر ماتشتيهه الانفس وتلذ الاعين.

(وانتم فيها خالدون) او تاسي به په جنت كي همېشه ياست، يعني وتل له جنت ځكه مو نسته لكه په دنيا كي چي راوتلاست.

فائده: په دي جمله كي التفات دی له غيبت ځكه چي په دمخه جمله ؤ كي و خطاب ته په انتم راغلی وهذا من محسنات العربية.

تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيٓ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿۷۲﴾

او دغه جنت هغه ځای دی چي په ميراث دركړه سو تاسو ته په سبب د هغه شي چي تاسي يې عمل كاوه په دنيا كي (كلمة ما موصولة والعائد محذوف اى بالذي كنتم تعملونه فالضمير هو العائد المحذوف) له ابی هريرة ﷺ ځكه روايت دی چي ده وويل قال رسول الله ﷺ چي په هر يوه د اهل النار ليدل كېږي ځای دده په جنت كي يعني كه دی مسلمان وای لپاره د زيادت حسرت دده، نو دی له دې حسرت ځكه وايي لو ان الله هداني يعني في الدنيا لكنت من المتقين زه به پرهېزګار وای يعني مؤمن صالح به وای يعني نو دغه جنت به زما ځای وای، او هر جنتي ته ځای دده په دوږخ كي وربنكاره كېږي نو دا جنتي داسي وايي ما كنا لنهتدی لو لا ان هدانا الله دا خبره دی شكرًا كوي، فذالک قوله تعالی وتلک الجنة اورثتموها الآية.

فائده جليله: په دې آيت كي يعني په لفظ كي د اورثتموها اشاره ودې ته ده چي دخول د جنت لكه ميراث د دنيا بلا اختيار الوارث دی كذالک دخول الجنة فضل من الله عزوجل بلا اختيار من العبد او تقسيم د درجاتو په سبب د اعمال حسنه ؤ دی.

لَكُمْ فِيهَا فَٰكِهَةٌ كَثِيرَةٌ مِّنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿۷۳﴾

تاسي لره په جنت كي مېوې سته چي د هغو به تاسي خورک كوئ، له ثوبان ﷺ ځكه رايت دی قال سمعت رسول الله ﷺ يقول چي ده وويل چي نه شكوي يو سړی له اهل جنت ځكه يوه مېوه له مېوو ځكه د جنت مگر نه چي د هغې په ځای كي مثل د هغې مېوې پيدا كېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي فاكهة په دې دنيا كي هغه مېوې ته وايي چي سړى صرف خوا پر پاكوي يعني د غذاء لپاره يې نه خوري لكه په دنيا چي يو څوك غوبښي يا ورجي و خوري او نس په ډك كړي وروسته يا مالټې يا نارنج يا كېله يا يو بوتل د كاكولا پسي وچښي يا الو بالو پسي وخوري وغير ذالك من فواكه الدنيا.

پوښتنه: تولې مېوې د جنت يې ولې فاكهة وبللې؟

ځواب: چونكه ابدان د جنتيانو د تغير او تبدل څخه محفوظ دي او غذايي موادو ته ضرورت نه لري نو ټوله مېوې دوى صرف د تفكه لپاره خوري لا للغذاء.

پوهه: چي البزار له ابى موسىٰ الاشعري عن النبي ﷺ څخه روايت كړى دى چي الله عزوجل چي آدم ﷺ له جنت څخه را ايستى د ټولو مېوو د جنت توښه يې ورسره وركړه او د ټولو فائدې او صفت يې ورته بيان كړى، عليه الصلوة والسلام زياته كړه ثماركم هذه (اى في الدنيا) من ثمار الجنة غير ان هذه (اى ما في الدنيا) تغيير پيدا كوي وتلك (اى ما في الجنة) لا تتغير يعني تكون على حالها ابداً. له ابن عباس څخه روايت دى چي يوه مېوه له مېوو څخه د جنت طول يې دوولس گزه دى ليس لها عجم (مندكي نه لري)

إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي عَذَابِ جَهَنَّمَ خَالِدُونَ ﴿٧٤﴾

يعني كامل په جرم او گناه چي كافران ځني مراد دي په هر نوع كافر چي وي يعني مشرك وي او كه يهودي او نصارى بعد بعثة رسول الله ﷺ (دليل د ارادې د كامل في الجرم دادى چي مقابل د مؤمنانو مطلق كافران دي) په اور كي د دوږخ به همېشه يعني ابد الآبدين وي لا يموتون چي په استراحت سي.

لَا يُفَتَّرُ عَنْهُمْ وَهُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴿٧٥﴾ وَمَا ظَلَمْنَاهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا هُمُ الظَّالِمِينَ ﴿٧٦﴾

تخفيف نه كېږي د عذاب د دوى (عرب وايي: فترت عنه الحمى) يعني سپكه سوه د فلاني تبه، (وهم فيه) اى في عذاب النار نا اميده وي له نجات څخه، او موږ ظلم نه دى كړى پر دوى لكن دوى وه ظالمان يعني پر خپلو ځانو باندي.

پوهه: چي هم ضمير فصل دى لپاره د انحصار د ظلم پر دوى فافهم هداك الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَنَادَوْا يٰمٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ۖ قَالَ اِنَّكُمْ مّٰكِثُوْنَ ﴿٧٧﴾

او دوږخيان كافران نارې كړي اى مالک چي مشر د دوى سرفرست دى، پر موږ دي حكم وكړي ستا رب يعني مړه دي مو كړي تاچي مستريح سو، ووايي (اى الله تعالى او يا مالک زر كاله بعد) "انكم ماكثون" يعني مقيمون في العذاب لاخلاص لكم بموت ولا بغيره، له ابن عباس څخه په ډېر روايا تو ثابته ده د دې آيت په تفسير كي چي ده وويل چي كافران چي دا ووايي (ونادوا يا مالک) مالک د دوى څخه ساكت وي زر كاله وروسته جواب ور كړي انكم مكثون.

پوه سه: چي كافران بيا داسي تضرع و خداى ته وكړي او اسي نداء و خداى ته وكړي، ربنا غلبت علينا شقوتنا (غالبه سوه پر موږ بدبختي زموږ چي كفر دى) وماكنا قومًا صالحين (موږ په دنيا كي ګمراهان ؤ) ربنا اخرجنا منها (اى زموږ ربه موږ وباسه له دې اوره څخه يعني دنيا ته) فان عدنا فانا ظالمون (نو موږ ظالمان يو او د هر عذاب مستحق يو) فيذرهم مثل الدنيا مرتين (نو دوى پرېږدي په مثل د عمر د دنيا دوه واره يعني جواب نه ور كوي نه په لا او نه په نعم، وروسته جواب ور كړه سي د رب العزت له خوا څخه) اخسئوا فيها (ذليل او سپړئ په دوږخ كي) ولا تكلمون (زما سره خبري مه كوئ يعني هيڅ زاري او عجز مه كوئ) فما استمعكم بعدها ابدًا (نو په دوږخ كي د زفير او د شهيق بغاري سي چي د خره دوه اوازه دي، خداى د اخير جواب وروسته داسي ورته ووايي)

لَقَدْ جِئْنٰكُمْ بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ﴿٧٨﴾

موږ تاسي ته راتګ كړى ؤ په حق سره چي توحيد ؤ بارسال الرسل وانزال الكتب لكن اكثره ستاسي له حق څخه كارهون يعني بد مو ځني وړه، ولي د هوا سره د نفس سره مخالف وه او د تقليد سره د اباؤ ستاسي يې سمون نه درلودى، وانما قال اكثركم لان العدد القليل قد امنوا.

حكايت د مقام په مناسبت: راوي وايي چي يو وخت الشبلي النعماني قدس سره ناجوړى ؤ نو قريبانو په هسپتال كي داخل كړى، نو علي بن عيسى چي وزير ؤ خليفة المسلمين ته ماجرى نوشته كړه چي الشبلي په بيمارستان كي مريض دى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داخل دی، خليفة المسلمين تر ټولو طبيبانو مقدم چي نصراني ؤ هسپتال ته ورواستاوه او ډېر تاکيد يې ورته وکړی چي دا مريض زما شخصي مريض دی بلکې د ټوله ملت اسلامي ستر مريض دی، نصراني طبيب چي هر څه علاج وکړی نه سو کامياب، نو يې الشبلي ؒ ته وويل چي که ماته معلومه سي چي زما د غوښو په ټوټه ستا علاج کېږي ما به خپلي غوښي دريړې کړي وای، الشبلي ؒ ورته وويل چي په لږ شي ستا د بدن تر غوښو زما علاج کېږي؟ طبيب ورته وويل چي هغه نو څه شی دی چي په دې سره ستا علاج کېږي؟ شبلي ؒ ورته وويل چي زنار د نصرانيت د غاړي وکاږه او د اسلام تناؤ په غاړه کي واچوه، طبيب على الفور وويل اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمد رسول الله، خليفة المسلمين ته چي دا خبر ورورسېدی وه يې ژړل چي زموږ په عقيده موږ مقدام الاطباء مريض ته واستاوه لکن خبر نه ؤ چي په حقيقت کي موږ مريض (يعني نصراني طبيب چي په مرض د نصرانيت مريض ؤ) طبيب ته واستاوه چي الشبلي قدس سره دی چي هغه مريض نصراني د مرض کفر د الشبلي ؒ په دعاء او دعوت او کرامت د رب العزة جوړ کړی.

أَمْ أَبْرَمُوٓا۟ أَمْرًا فَإِنَّا مُبْرِمُونَ ﴿٧٩﴾

بوه سه: چي ام منقطعه دی په معنی د بل دی، او همزه لپاره د انکار دی له ابرام الامر څخه يعني بايد دوی ته وای کړی، او بل لپاره د اضراب دی عن كراهة الحق والى الترقى فيها، والمعنى بل احكموا (امرًا) يعني مکر و عليه الصلوة والسلام ته او امرًا في تكذيب الحق ورده اى كلمة التوحيد ولم يقتصروا على كراهة لکن کامياب به نسي ولي (فانا مبرمون) موږ حکم کړی امر د مجازات دوی كما في غزوة بدر.

بوه سه: چي ابن له محمد بن كعب القرظي ؒ څخه روايت کړی دی په مابين کي د کعبې او د پوښ د هغې دوه قرشيان او يو ثقفي او يا دوه ثقفيان وه او يو قرشي ؤ، نو يوه د دوی څخه وويل چي ستاسي څه رايه ده خدای ؒ به زموږ خبري اوري او که نه، بل د دوی څخه ورته وويل چي که موږ په زوره خبري وکړو نو يې اوري او که يې کراري وکړو نو يې نه اوري، فنزلت هذه الآية.

أَمْ يَحْسَبُونَ أَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَىٰهُم ۚ بَلَىٰ وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُونَ ﴿٨٠﴾

ام منقطعه دی همزه لپاره د انکار دی او يا لپاره د اضراب دی، آيا دوی گمان لري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(يعني دا گمان يې غلط دی) چي موږ نه اورو يعني پټي خبري د دوی په زړو کي وي (ونجواهم) يعني کرار خبري (بلی) هو يعني موږ يې اورو او زموږ رسولان چي ملائکه حفظه دي چي د دوی سره هميشه ورسره دي هغه عملونه د دوی نوشته کوي.

قُلْ إِن كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ ﴿٨١﴾

، ته ورته ووايې چي که چيري خدای ﷻ لره ولد يا نر يا ښځه وای لکه نصاری چي وايي عيسی ابن الله يا يهودان وايي عزير ابن الله يا بعض اهل مکه وايي الملائکة بنات الله، زه به يې اول د عابدانو وای، ولي چي نبي خو اعلم د خلکو دی بما يصح علی الله وما لايصح، او خبردار وي په تعظيم د ما يوجب تعظيمه او هغه څوک چي تعظيم د والد کوي چي الله دی تعظيم د ولد د هغه که بالفرض والمحال وای پر لازم او واجب دی، ولهذا قال رسول الله ﷺ فاطمةؓ بعضة مني (فاطمهؓ زما جزء ده) فمن اغضبها اغضبني (که چا د دوی سره بغض کاوه او يا يې دا په غضب راوستلي وه، نو زه يې په غضب راوستلم يا يې زما سره بغض وکړی) رواه البخاري، مظهري دلته د متعلمينو تر فهم لوړي خبري کړي دي، نو ځکه درويش نه راوړي.

سُبْحَانَ رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٨٢﴾

پاکي ده هغه چا لره چي خالق او مالک د اسمانو دی او خالق او مالک دی د عرش چي هغه په عالم اجسام کي تر ټولو يې بنا ده له هغه شي څخه چي کافران يې و ده ته نسبت کوي چي خدایؒ لره ولد سته.

فَذَرْهُمْ يَخُوضُوا وَيَلْعَبُوا حَتَّىٰ يُلَاقُوا يَوْمَهُمُ الَّذِي يُوعَدُونَ ﴿٨٣﴾

پرېږده دوی يا محمد (ﷺ) چي دوی خبري ناوړه کوي په باره کي د خدایؒ چي ولد ورلره سته.

پوه سه: چي يخوضوا مجزوم دی جواب د امر دی يعني فذرهم، او دوی په دنيا کي خپل سات تېروي، تر هغه وخته پوري چي دوی ملاقي کېږي د هغه ورځي سره چي د دوی سره يې وعده کړل سوې ده يعني يوم القيامة چي په هغه ورځ د دوی سره د عذاب النار وعده سوې ده.

فائده: په دې آيت کي يعني فذرهم الآية اشاره ودې ته ده چي ته يا محمد (ﷺ)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ددوی له لهو ولعب سره خپل مبارک زړه د پر په غم کي مه اچوه، ولي چي دوی
مطبوع پر کفر دي او کفر ددوی جهل مرکب دی او متابعت د هوا نفساني دی.

وَهُوَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ إِلَٰهٌ وَفِي الْأَرْضِ إِلَٰهٌ ۚ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ

او الله هغه ذات دی چي په اسمانو کي هم اله دی او په مځکه کي اله دی، يعني
مستحق د عبادت په اسمان او مځکه کي هم دی دی چي مستحق د عبادت په دواړو
بل څوک نسته چي مضمون د لا اله الا الله دی او چيري چي عبادت د غير الله کول
کيږي هغه باطل او بغير الاستحقاق دی (وهو الحکيم) خدای په تدبير د خپل
مخلوق خپل حکمت دی يعني د خدای پاک په صنع کي عبث شی نسته (العليم) د
خپل مخلوق په هر حال خبر دی، نو ځکه مستحق د معبوديت يعني لا اله الا هو.

وَتَبَارَكَ الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَعِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ
وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ

پوه سه: چي تبارک ماضي معلوم ده و معناه کثير الخير او عظيم المرتبة دی هغه
څوک چي ده لره سلطنت دی د اسمانو او د مځکي او د مابين د اسمانو او مځکي
چي کائنات الجويې بولي من الصواعق والبرق والسحاب وغير ذالک، او خاص
په خدای پوري علم د وقوع د قيامت کبری دی چي نه ملک مقرب په خبره ده او نه
نبي مرسل کما يدل عليه تقديم الظرف يعني عنده (واليه ترجعون) يعني يوم
القيامة فيجازيکم باعمالکم من الخير والشر والظاهرة والباطنة.

وَلَا يَمْلِكُ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ الشَّفَاعَةَ

او مالکان نه دي هغه شيان چي مشرکان يې عبادت کوي (چي عبارت له بتانو څخه
دي) ماسوی له خدای جل جلاله څخه (الشفاعة) شفاعت د خپلو عابدانو لکه مشرکانو
چي به ويل هؤلاء شفعاء الی الله دا بتان به زموږ شفاعت وخدای ته کوي.

إِلَّا مَن شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ

استثناء ده د شفاعت کونکو څخه مګر هغه څوک شفاعت کولای سي د
شفاعت کونکو څخه چي شاهدي اداء کوي (بالحق) يعني بقوله لا اله الا الله چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انبیاء علیهم السلام او ملائکه دي او سائر مؤمنان (وهم یعلمون) او دوی عقیده لري په زړو کي په ماشهد به السنتهم، په دې سره منافقان ویستل سوه ولي دوی خو په من شهد بالسنتهم کي داخل وه لکن په هم یعلمون سره ووتل.

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٨٧﴾

کد ته له دوی څخه (یعني د کفارو څخه د مکې) پوښتنه وکړې چي دوی چا پیدا کړي دي، نو دوی حتمًا وایي چي خدای پیدا کړي یو، ولي کفار مکه په دې قانع وه چي خالق زموږ خدای دی وبس لعدم امکان الاستناد لخلق الی الجمادات. او سره د دې عبادت د غیر الله یې کاوه چي بتان وه (فانی یؤفکون) نو سره د دې اقرار چي خالق زموږ خدای دی زموږ بتان نه دي نو څرنګه مصروف سواست له عبادت څخه د خدای او عبادت ته د جماداتو بلکې لائق د اقرار سره په خالقیت د خدای باید تاسي عبادت خپل خالصًا د خدای کولای لا غیره چي بتان دي... ع: این خیال است و محال است و جنون.

وَقِيلِهِ يَا رَبِّ إِنَّ هَٰؤُلَاءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾

بالجر و کسر عطف علی الساعة یعني عنده علم الساعة وعلم قوله ﷺ هذا علی قرائة عاصم و همزه (یا رب آه) یعني کفار مکة (قوم لا یؤمنون) یو داسي قوم دی چي ایمان نه راوړي.

فَاصْفَحْ عَنْهُمْ وَقُلْ سَلَامٌ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٨٩﴾

نو ته یا محمد (ﷺ) اعراض وکړه د دوی له دعوت څخه د دوی و ایمان ته، یعني د ایمان راوړلو څخه یې طمع قطع کړه (وقل سلام) سلام دی زموږ او ستاسي تر منځ. دې ته سلام د متارکة وایي یعني تسلمون منا ونسلم منکم (فسوف یعلمون) ژر دی چي دوی وپوهیږي په جزاء د عقائدو خپلو او د اعمالو خپل او د اقوالو خپل.

درویش وایي: چي لله الحمد والمنة والصلوة والسلام علی خیر البریة وآله واصحابه البررة چي تفسیر د سورة الزخرف من التفسیر الایوبي په ورځ د پنج شنبې ساعة (۱۰) قبل الزوال سنه (۱۴۳۲) هجري في کوټه باکستان ختم سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة الدخان مكية وهي تسع وخمسون اية وثلث ركوعات بسم الله الرحمن الرحيم

رب يسر علي ولا تعسره وتممه بالخير والعافية.

حٰمٓ ۝ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۝

درويش وايي: چي لکه په نورو مقطعات قرآنيه ؤ کي چي اختلاف د مفسرين سته په حم کي هم هغه ته ورته اختلاف سته، لکن حقه خبره داده چي علمها عند الله ولا يعلم تأويله الا الله، واما نحن فنقول نحن نؤمن بما اراد الله بتلك وتسمى تلك الاسماء بالحروف المتشابهة چي تحقيق يې په اول کي د سورة البقرة تېر سوى دى (والكتاب المبين) الواو للقسم، والجواب وروسته آيت دى، والمعنى زما دي قسم وي په کتاب سره چي مراد ځني قرآن مجيد دى چي مبين د حلال او حرام دى او مظهر د حق او باطل دى الى غير ذالک.

اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ

په تحقيق موږ نازل کړى دى دغه کتاب، اى القرآن په مبارکه شپه يو په دې سبب مبارکه شپه وه چي قرآن کريم مبارک کتاب دى چي منافع دينيه او دنيويه پکښې موجود دي او هم په دغه شپه ملائکه د رحمت نازلېږي او اجابة د دعاء پکښې کېږي چي ليلة القدر ده، قتاده رح او ابن زيد رح وايي چي انزل الله القرآن في ليلة القدر من ام الكتاب چي لوح محفوظ دى و اول اسمان ته يعني جبرئيل ع يې امر کړى په نسخ د قرآن د لوح محفوظ څخه و بيت العزة ته چي په اول اسمان کي دى، وروسته بيا جبرئيل ع له هغه ځايه و رسول الله ﷺ په په درويشت (۲۳) کاله کي نجمًا نجمًا و سورةً و آيةً آيةً يې راوړى (روح البيان) او بعض مفسرين وايي چي مراد د دغه ليلة مباركة څخه ليلة النصف من شعبان فهو نداء من بعيد وليس بشيئ لمخالفة القرآن العزيز، قال عز من قائل شهر رمضان الذي انزل فيه القرآن آه وقوله تعالى انا انزلناه في ليلة القدر الى اخير السورة.

سوال: په روايت د القاسم بن محمد عن ابيه عن جده رض عن رسول الله ﷺ انه قال ينزل الله عزوجل ليلة النصف من شعبان فيغفر لكل نفس الا الانسان الذي في قلبه الشحناء (اى البغض والعداوة مع مؤمن او مشركًا بالله) رواه البغوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي هذا الحديث من المتشابهات لان النزول الانتقال من صفات الاجسام فيكتفى على تشابهه، او يؤول بتاويل صحيح مطابقًا للقطعيات يعني رحمته تعالى ونسبته النزول الرحمة مجاز باعتبار الحامل لها فافهم؟

نو ددې جواب دادی چي دا حديث خو صرف پر برکت او عظمت د ليلة النصف من شعبان دلالت کوي ونحن لاننکره ولايدل على نزول القرآن فيه والمقصود ههنا نزول القرآن، فتدبر ولا تعجل.

إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ ﴿٣﴾

موږيو بېرونکي د خلکو له عذاب څخه په ذريعه د نزول القرآن، دا جمله مستأنفه ده يا بدل اشتمال ده من قوله انا انزلناه آه.

پوښتنه: نزول د قرآن کريم په شپه د قدر وسو نه په ورځ کي سريې څه دی؟

ځواب: من وجوه (۱) شپه وخت د احبهؤ ده د محبوب سره د وصال، او ورځ د فراق الاحبة وقت ده، ولهذا وقع معراج النبي ﷺ په شپه کي کريمه "سبحان الذي اسرى بعبده ليلاً من المسجد الحرام الآية (۲) په شپه کي زړونه فارغ وي و ذکر ته حضرت المحبوب فهو اطيب ده عند الابرار من النهار (۳) شپه نمونه د جنت ده يعني لکه جنت چي ځای د ارام او راحت دی شپه هم وخت د ارام له تعب څخه د ورځي، او ورځ شبه د دوزخ لري يعني لکه دوزخيان چي په دوزخ کي ناقراره وي د ورځي هم هر سړی په سرگردانی د دکان، تجارت، روزانه، دواخانه، قلبه کشي الى غير ذالک سراسيمه او سرگردان وي (۴) د شپې وږوږ ارام وي په عبادت کي يا په لمانځه کي نه خطاوزي او د ورځي چي ناړې او وږوږه پروي سړی په فارغ زړه عبادت نسي کولای نو له دې سببه د تهجد لمونځ افضل د نوافلو دی الى غير ذالک من الفوائد في الليل.

فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ ﴿٤﴾

په ليلة القدر فعل اقضاء کېږي، هر کار محکم يا متلبس بالحکمة يا اسناد مجازي دی ای حکيم صاحبه.

پوهه: چي دا جمله صفت ثانيه دی د ليلة. البغوي رحمه الله وايي چي ابن عباس رضي الله عنهما وايي چي په ليلة القدر کي د لوح محفوظ ملائکه کرام نقل کوي د وروسته کال تر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بل کال شب قدر پورې آجال د انسانانو او ارزاق، ناجوړي خير او شر جنګونه يا امن حتی چې د حاجيانو تګ راتګ فلان و فلان الی غير ذالک، ورته و دې روايت ته په تغيير د الفاظو د الحسن، مجاهد او قتاده رحمهم الله څخه هم مروي دی.

أَمْرًا مِّنْ عِنْدِنَا ۚ إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ ﴿٥﴾

پوه سه: چې امرًا منصوب دی په حذف د اعني تقديره اعني هذا الامر امرًا مقضيًا من عندنا على المقتضى حكمتنا، وفيه مزيد تفخيم الامر ويجوز انيكون امرًا منصوبًا على انه حال من كل امر او من الضمير المستكى في حكيم، ويحتمل انيكن الامر بمعنى الطلب على سبيل الاستعلاء، وقع مصدرًا ليفرق والتقدير يفرق فرقًا صادرًا بامرنا (انا كنا مرسلين) په تحقيق موږ يو استونکي د محمد ﷺ ومن قبله من الرسل، بدل دی من قوله انا كنا منذرين، والتقدير انا انزلنا القرآن لان من عادتنا الانذار وارسال الرسل بالكتاب الى العباد.

رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ۚ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٦﴾

دا رحمت دی ستا د رب له خوا يا محمد ﷺ. اعراب: رحمة مفعول له للارسال او لتفريق كل امر حكيم يا مفعول له دی د مرسلين "السميع" ای يسمع اقوالهم ويعلم احوالهم.

فائده: داسي يې نه وويل رحمة منه لانه تعالى ذكر فيما قبل ملكه، نو اسم ظاهريې راوړی يعني ربک اشعارًا بان ربوبية تعالى اقتضت ذالک.

فائده: هذين الاسمين وكذا مابعده يعني رب السموات آه لپاره د تحقيق د ربوبية د خدای ج دی ولي ربوبيت نه حاصلږي الا لمن له هذه الصفات.

رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ إِنْ كُنْتُمْ مُّوقِنِينَ ﴿٧﴾

وړاندې د دې آيت معنی تېره سوه.

فائده: رب السموات آه يا مجرور دی بدل من قوله من ربک يا مرفوع دی چې خبر د مبتداء محذوف دی ای هو يا صفت دی د السميع العليم (ان كنتم مؤمنين) كه تاسي ياست ايمان راوړونکي والمعنى ان كنتم مؤمنين بان الله رب السموات والارض فايقنوا ان محمدًا رسول الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ

اى لايستحق العبادة غيره تعالى اذ لا خالق سواه.

فائده: هذه الجملة مقررة د رب السموٰات والارض ده (يحيى ويميت) خداى دى خالق د حيوة او د موت په انسانانو وغيرهم من الحيوانات دا خو مشاهد؟ كافرانو ته معلوم دى، جمله حال ده له هو ځخه.

رَبُّكُمْ وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۸﴾

رب دى ستاسي او ستاسي د پلرو چي تر تاسي اقدم وه، نو يوازي اباء اقربين بلاواسطه نه دي مراد بلكې معنى شامل الاجداد ولو بوسائط ولي چي عرب جد ته هم اب وايي.

بَلْ هُمْ فِىْ شَكٍّ يَّلْعَبُوْنَ ﴿۹﴾

بلكې دوى په شك كي دي من البعث بعد الموت او من القرآن.

پوه سه: چي د شك ځخه معنى متعارف ده اهل معقول نه ده مراد چي تساوي د طرفينو د اثبات او نفي ده بلكې معنى عام چي انكار ته هم شامله وي لانهم منكرون من ذالک.

پوه سه: چي كلمه د بل لپاره د اضراب ده له ايقان ځخه يعني يقين كول پر بعث يا پر قرآن نه لري (يلعبون) حال دى له ضمير ځخه د في شك اى يلعبون بالقرآن سات تېروي او پسخند وهي په تا يا محمد (ﷺ)

فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَاْتِى السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۰﴾

يعني اذا كان امر كک نو ته انتظار وكړه يا محمد (ﷺ) هغي ورځي ته چي راتګ وكړي اسمان په دود ښكاره.

پوه سه: چي لفظ د يوم په دې آيت كي ظرف نه دى بلكې مفعول به د ارتقب دى.

درويش وايي: چي په دخان كي د مفسرينو اختلاف دى ابن عباس او ابن عمر او الحسن وعن آبائهم ﷺ چي دا دخان له علاماتو ځخه د قيامت دى يعني نفخة الصور الاولى كما جاء في الحديث اخرج ابن جرير والثعلبي والبغوي من حديث حذيفة ﷺ ده وويل قال رسول الله ﷺ اول الآيات الدخان ونزول عيسىٰ بن مريم ونار تخرج من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قعر عدن ابين (بالفتح نام شخصيت كه اين شهر را بنا كرده دريمن) تسوق الناس الى المحشر اى الشام وبين المقدس، قال حذيفة رضي الله عنه وما الدخان فتلا هذه الآية ويملأ ما بين المشرق والمغرب (او ډک به وي دود په مابين کي د مشرق او مغرب) څلوېښت ورځي به جاري وي مؤمن ته به هيئت د زکام وريښس سي، واما الكافر كالسكران دا دخان به وزي تر غوږو دده او تر سږمو دده يا تر دبره دده.

يَغْشَى النَّاسَ هٰذَا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١١﴾ رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ إِنَّا مُؤْمِنُونَ ﴿١٢﴾

دا يو عذاب درد دهنده دی. د "ربنا اكشف آه" سره قول مكرر دی اى قالوا اى زموږ ربه زموږ څخه پورته کړې دا عذاب موږ ايمان راوړو.

أَنَّىٰ لَهُمُ الذِّكْرَىٰ وَقَدْ جَاءَهُمْ رَسُولٌ مُّبِينٌ ﴿١٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَقَالُوا مُعَلَّمٌ مَّجْنُونٌ ﴿١٤﴾

له کومي خوا سته دوی لره پند اخستل؟ الاستفهام للانكار يعني دوی پند نه اخلي، والحال انه قد جائهم يعني امثال ددې دخان په ذريعو د رسول عظيم الشان (فالتنوين للتعظيم) چي ښکاره کړي دوی ته تر دې دخان لوی موجبات د پند اخستلو شيان من الآيات والمعجزات "ثم تولوا عنه" دوی اعراض وکړی د هغه نبي څخه يعني ايمان يې نه راوړی، او وويل يعني بعض ددوی چي دا نبي ته يو څوک ښوونه کوي چي غلام اعجمي د بني ثقيف آهنګرؤ چي عليه الصلوة والسلام به بعض وخت د هغه پر دکان کښېنستی ددې لپاره چي هغه غلام نصراني ؤ عليه الصلوة والسلام به دعوت د اسلام ورته کاوه، مکي والو به ويل چي محمد ده هغه غلام عجمي څخه زده کړه کوي، ولنعم ما قيل:

چشم بند انديش كه بركنده باد   عيب نمايد شهرش در نظر

او بعض کفار د مکې به ويل چي محمد (ﷺ) لېونی دی.

درويش وايي: چي دا ؤ تعصب او عداوت د کفارو د مکې چي دومره عقل والا او نبي ته دې لېونی وو ايي، قال الله تعالى:

إِنَّا كَاشِفُو الْعَذَابِ قَلِيلًا ۚ إِنَّكُمْ عَائِدُونَ ﴿١٥﴾

اى زمانا قليلاً (نو قليلاً ظرف او کشفا قليلاً نو مفعول مطلق دی، المراد به الکشف ۴۰ ورځي) "انكم عائدون" تاسي بيرته کفر ته وګرځئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرٰى ۚ اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ ﴿١٦﴾

بطشة الكبرى اى يوم القيامة (ظرف دى لقوله، انا منتقمون) موږ له دوى څخه انتقام اخلو يعني په عذاب النار سره.

درويش وايي: چي مظهري وايي چي ابن مسعود رض له دې تفسير څخه انكار كاوه يعني چي مراد له دخان څخه حقيقت دخان دى كما روى البغوي عن ابى الضحى عن مسروق قال بينما رجل من كندة (د قبيلې نوم دى) بيان يې كاوه چي په ورځ د قيامت به يو دود پيدا سي، فيأخذ بأسماع المنافقين وابصارهم ويأخذ المؤمنين كهيئة الزكام ففزعنا (موږ وبېرېدلو) نو زه ابن مسعود رض ته ورغلم د هغه كندي بيان مي ورته وكړى ابن مسعود رض تكيه كړې وه درد ورغلى راكښېنستى، وقال من علم فليقل (كه څوك په يو شي خبر وي نو خو بيان دي وكړي) ومن لم يعلم فليقل الله اعلم (څوك چي نه پوهېږي تفويض د علم دي و خداى ج ته وكړي) فان من العلم ان يقول لما لا اعلم الله اعلم (چي د علم لويه حصه داده چي په يو شي چي نه پوهېږې داسي ووايي الله اعلم) فان الله قال لنبيه ﷺ قل اسئلكم من اجر وما انا من المتكلفين (مراد د متكلف څخه دادى چي په شي خبر نه وي د ځانه يې اختراع كوي) ابن مسعود رض زياته كړه چي قريشو تاخير وكړى له ايمان څخه فدعى عليهم النبي ﷺ (ښېرا يې ورته وكړه) فقال اللهم اعني عليهم بسبع كسبع يوسف (ماته كومك راكړې پر دوى يعني قريشو په اووه كاله كاختى لكه اووه كاله كاختي د يوسف عليه السلام يعني چي اووه كاله بارانو نه د اهل مكه څخه بند وي) فاخذهم سنة (كاختى) حتى اهلكوا فيها (چي بعض كسان د لوږي مړه سوه) او دوى مردار شيان خوړل او هډوكي يې خوړل، نو ابو سفيان راغلى و عليه الصلوة والسلام ته او وه يې ويل چي ته خلك امر كوې په صلة الرحم سره او ستا قوم هلاكېږي د لوږي او قحط څخه. فادع الله ته خداى ته خواست د دفع د دغه قحط وكړه، او په هغه وخت كي د كاختى په مابين كي اسمان او د مځكي كتل په خيال كي دود ورتلى لضعف ابصارهم.

درويش وايي: چي د ابن مسعود رض غرض داوُ چي په دې آيت فارتقب يوم تأتي السماء بدخان مبين آه دغه هيئت د دود دى د لوږي له سببه حقيقت دود نه دى. نو عليه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام هم دعاء وکړه خدای پاک ورته وویل انا کاشفوا العذاب قلیلاً، نو علیه الصلوة والسلام استسقاء وکړه باران نه شروع سوه او دوی یعني قریشو ایمان رانه وړی کما قال الله تعالی انا کاشفوا العذاب قلیلاً انکم عائدون، قال ابن مسعود رض نوم تبطش البطشة الکبری ای یوم بدر، بغوي رح له ابن مسعود رض څخه روایت کړی دی چي پنځه شیان تېر سوي دي اللزام، والبطشة، والقمر، والدخان، والروم انتهی.

درویش وایي: چي هغه دخان چي علیه الصلوة والسلام په علاماتو کي د قرب قیامت راوړی دی چي د قعر عدن څخه به راوزي الی اخیره هغه اور او هغه اور بلا ریب حقیقة اور دی، د ابن مسعود رض غرض رد دی پر تفسیر د کندي کما رواه البغوي رح چي په ورځ د قیامت به یو دود پیدا سي الی اخیره وقد مر قریباً.

وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَآءَهُمْ رَسُولٌ كَرِيمٌ ﴿١٧﴾

لام موطئه د قسم دی یعني جواب د قسم محذوف دی، موږ امتحان کړی دی په بل عبارت ابتلاء مو کړې ده د مخه تر کفارو د مکې (په ښوو کلونه د مخه) د قوم د فرعون، تنوین په "رسول کریم" کي د تعظیم دی ای رسول عظیم الشان چي موسٰی علیه السلام دی.

فائده: قوم یې ذکر کړی لان فرعون رأس ذالک القوم کما قال انا ربکم الاعلی فلا حاجة الی ذکره.

سوال: هارون علیه السلام خو هم رسول ؤ نو د هغه ذکر یې ولي نه وکړی؟

ځواب: اصلاً په کوه طور کي خو یوازي موسٰی علیه السلام رسول سو لکن د ده په غوښتنه واجعل لي وزیراً من اهلي هارون اخي اشدد به ظهري واشرکه في امري ای النبوة، ولهذا په بل ځای کي د قرآن رسولا راغلی دی، یعني په تثنیه.

فائده جدیدة: د عمالقه د قوم دا رواج دی چي هر څوک چي د دوی سلطان وي فرعون یې بولي ورنه د دې فرعون نوم ولید بن الریان ؤ او هر څوک چي د حبشه سلطان وي نجاشي یې بولي، که څه هم د علیه الصلوة والسلام په عصر کي د حبشې د سلطان نوم اصحمه ؤ، او هر څوک چي د ترکانو سلطان وي نوم چي یې هر شی وي خاقان یې بولي، او هر څوک چي د فارسیان سلطان وي نوم یې هر شی چي وي کسری یې بولي، او هر څوک چي د رومیانو سلطان وي نوم چي یې هر شی وي قیصر یې بولي، او هر څوک چي د حمیر د قبیلې سلطان وي تبع یې بولي. او په

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

اسلام کي په زمانه قديم کي يعني تر عصر نبوي ﷺ وروسته هر څوک چي د امارت واګي په لاس کي ولري امير المؤمنين يې باله تر انتهاء پوري د دورې د خلفاء راشدينو ﷺ، څه زمانه وروسته بيا دا لفظ ګرانمايه بيا بدل سو په خليفة المسلمين، او هر څوک چي د فرنګيانو بادشاه وي جورج يې باله نوم يې هر شی چي وي، په ورستنيو زمانو کي بيا رئيس الجمهور يا فلاني شاه خان ورته وايي.

اَنْ اَدُّوْٓا اِلَیَّ عِبَادَ اللّٰهِ ؕ اِنِّیْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِیْنٌ ﴿۱۸﴾

کلمه د ان مصدريه ده چي زما په لاس راکړه او ماته تسليم کړه بنده ګان د خدای ﷻ يعني بني اسرائيل وارسلوهم معي الى الشام او له مړيتوب څخه يې ازاد کړه او عذابونه مه ورکوه، او بعض مفسرين يې ترجمه داسي کوي چي ماته ادا کړه حق د خدای ﷻ يعني الايمان بتوحيده ورسالتي او زما قبول کړې يا عباد الله په حذف د حرف نداء نو پر دې تقدير مراد د عباد الله څخه فرعون او قوم دده دی، وفيه نظر لان هذه الاضافة لايليق بشانهم فتدبر "اني لکم آه" په تحقيق زه و تاسي ته رسول يم يعني د خدای ﷻ له خوا څخه، او امين يم په وحي کي يعني متهم په دروغو سره نه يم لاجل دلالة المعجزات على رسالتي اليکم.

وَّاَنْ لَّا تَعْلُوْا عَلَی اللّٰهِ ۚ اِنِّیْۤ اٰتِیْكُمْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِیْنٍ ﴿۱۹﴾

عطف على قوله ادوا، او تکبر مه کوئ پر خدای ﷻ چي استهانت کوي په وحي سره د خدای ﷻ او په رسول د خدای او استخفاف او سپکاوی د بندګانو د خدای چي بني اسرائيل دي مه کوئ. په تحقيق ما راتګ کړی دی تاسي ته په ښکاره دليل پر نبوت خپل چي مشهوره عصا او يد بيضا دي. ولذا ذکر الامين مع رسول، ومع عدم التعلى السلطان وروسته فرعون او دده قوم و موسیٰ ته پېښ رو ورکړی چي موږ به دی په ډبرو سنګسار کړو، ځکه موسیٰ ﷺ وويل.

وَاِنِّیْ عُذْتُ بِرَبِّیْ وَرَبِّكُمْ اَنْ تَرْجُمُوْنِ ﴿۲۰﴾

او زه پناه غواړم په رب سره زما او په رب سره ستاسي.

درويش وايي: چي په دې عبارت کي موسیٰ ﷺ و دې ته اشاره وکړه چي زموږ او ستاسي رب يو دی او ستا د خدايي دعوی باطله ده کما قال فرعون انا ربکم الاعلى (ان ترجمون) چي تاسي به ما رجم کوئ او په ډبرو به مي وژنئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: کسره د نون عوض له یا ء څخه د اضافت ده.

وَإِنْ لَّمْ تُؤْمِنُوا لِي فَاعْتَزِلُونِ ﴿۲۱﴾

تاسي تصدیق زما نه کوئ په دعوی کي د رسالت زما څخه ګوښه ګرځئ یعني ما ته تعرض په بدو سره مه کوئ وقیل معناه لالي ولا علي.

فَدَعَا رَبَّهُ أَنَّ هَٰؤُلَاءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُونَ ﴿۲۲﴾

نو موسیٰ ؑ خواست وکړی خدای ج ته (وروسته تر دي چي فرعون او قوم دده و تکذیب ته ادامه ورکړه او په ازار دده یې لاس ونه پورته کړه) "ان هؤلاء" په تحقیق دغه کسان یعني فرعون او قوم دده قوم مجرمون یعني جرم او تجاوز ددوی پېشه ده یعني مشرکان دي په دي ویلو کي د موسیٰ ؑ تعریض و بنېرا ته د هلاک د فرعون او قوم دوُ له دي سببه سمي دعاء.

لَا رَيْبَ فِيهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾

هيڅ شک نشته د قيامت په ورځ کي (لانه موعود الله و موعود الله لابد ان يحقق والعقل لايأباه لان من يقدر على الابداء يقدر على الاعادة والحكمة يقتضى المجازات) لکن ډېر خلک چي کفره دي په قدرت د خدای ﷻ نه پوهېږي لقلة تفكرهم وقصور نظرهم وقياس قدرة الله الكاملة غاية الكمال على قدرتهم النافعة غاية النقصان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَّخْسَرُ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۲۷﴾

هذا بيان تعميم قدرة الله عزوجل بعد تحقيقها، خدای لره ده بادشاهي د اسمانو او د مځکي، او هغه ورځ چي قائم سي قيامت ظاهر سي خسران د هغو کسانو چي په صدد کي د ابطال د دين الاسلام وه، چي د خسران ظهور يې دا دى چي دو ورځ ته ډکېل سي.

پوهسه: چي فقير ترجمه په ظهور د خسران وکړه لان خسرانهم يکون في الدنيا ايضًا.

وَتَرٰى كُلَّ اُمَّةٍ جَاثِيَةً ۟

ته به ووينې اى مخاطب غير معين هر امة "جاثية" پر زنګنو، البغوي رح وايي چي جثى يا جثو پر زنګنو ناسي ته وايي لکه يو مخاصم چي په نېز د حاکم کښېني په انتظار د قضاء، د امير المؤمنين علي ﷺ روايت دى چي په اول کي د سورة الحج ئي بيان تېر سوى دى، د سلمان فارسي ﷺ څخه روايت دى چي په ورځ کي د قيامت يو ساعت دى چي طول يې لس کاله دى چي پراته وي خلک په هغه ساعت کي جثات على ركبهم، حتى ابراهيم ﷺ ناري وهي نفسي لا اسئلك غير نفسي .. بيت:

بجای که دهشت خورد انبياء ..... تو غذری گناه را چه داری بيا

او بعض مفسرين وايي چي د كل امة جاثية معنى داده اى مجتمعة من الجثوة وهي الجماعة په صحيح حديث کي راغلي دي چي احمد يې روايت کړى دى له عبد بن ثانيه څخه قال رسول الله ﷺ كاني اراكم بالكرم حول جهنم جاثين، قال الحافظ ابن حجر رح المراد بالكرم المكان العالي الذي عليه محمد ﷺ، سعدى قدس سره ميگويد:

درآن روز كز فعل پرسند وقول ..... اوالعزم را تن بلرزد زهول.

كُلُّ اُمَّةٍ تُدْعٰۤى اِلٰى كِتٰبِهَا ۗ اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۸﴾

هره ډله بلل کېږي و خپل کتاب ته يعني صحيفه د اعمالو خپل ته كريمه: اقرء كتابك كفى بنفسك اليوم عليك حسيبًا، له انس رض څخه روايت دى عن النبي ﷺ قال الكتب (يعني عملنامې) لاندي تر عرش دي، فاذا كان الموقف (چي پر ځاى د حساب ودرېږي خلک) بعث الله الريح فتطيرها بالايمان والشمائل يعني مؤمنانو ته په راسته لاس کي واقع کېږي او د كفارو دا په چپه لاس کي ورکړه کېږي د هري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عمل نامې په اول کې هغه د مخنې آيت نوشته وي اقرأ كتابك الآية.
"اليوم تجزون آه" صفت ثاني لقوله كل امة كلمه د ما موصوله ده و العائد محذوف اى ما كنتم تعملونه، ترجمه: نن ورځ تاسي ته جزاء در کول کېږي د هغو شيانو يعني هغه عملونه چې تاسي يې عمل کاوه د هغو کارو ان خيراً فخير وان شر فشر.

هٰذَا كِتٰبُنَا

دا زموږ ليکلي کتابونه دي يعني صحيفه د عملو ستاسي چې کرام کاتبين ليکلي دي زموږ په امر، نو چونکه دا عملنامې ،لکو ليکلي وي د خداى ج په امر نو ځکه يې خداى ج نسبت و ځان ته وکړى يعني کتابنا.

يَنْطِقُ عَلَيْكُمْ بِالْحَقِّ ۚ إِنَّا كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٩﴾

اى يشهد عليكم "بالحق" په رشتيا سره بلا زيادة السيئة ولا نقصان الحسنة كريمه: لاظلم اليوم، موږ طلب د کتابت کاوه د کرام کاتبينو څخه د نوشتې د هغو عملونو چې تاسي به کوله، نو کلمه د ما موصوله ده عائد يې محذوف دى "تعملون"

فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُدْخِلُهُمْ رَبُّهُمْ فِي رَحْمَتِهِ ۚ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْمُبِينُ ﴿٣٠﴾

كلمة الفاء للتفصيل احوال العباد هر چې هغه کسان دي چې ايمان يې راوړى وي يعني پر وحدانيت د معبود او پر نبوت د نبي الوقت او عملونه د صالحاتو يې هم کړي وي من الفرائض و الواجبات و السنن و المستحبات من الاعمال و الاقوال، نو داخلوي دوى رب د دوى په خپل رحمت کې چې حاصل د رحمت يې جنت دى (اى على تفاوت اعمال العمال) "ذالک هو الفوز المبين" دغه دخول د رحمت کاميابي ده ښکاره.

وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا ۟ أَفَلَمْ تَكُنْ آيٰتِي تُتْلٰى عَلَيْكُمْ

او هر چې هغه کسان دي چې په دنيا کې يې کفر کاوه يعني فيقال لهم، آيا نه وه آيات زما په کتب منزلو کې چې تلاوت يې کېدى تاسي ته.

پوهه: چې همزه لپاره د انکار دى او انکار د نفي اثبات دى د نفي و كلمة الفاء للعطف على محذوف تقديره الم يأتيكم رسلي فلم تكن تتلى الخ فحذف فيقال لهم و المعطوف عليه للفاء اكتفاءً بالمقصود و اعتماداً على القرائن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَاسْتَكْبَرْتُمْ وَكُنْتُمْ قَوْمًا مُّجْرِمِينَ ﴿٣١﴾

تاسي روى گرداني وكړه او تاسي واست چي عادت ستاسي كفر او جرم وُ او د اياتو څخه انكار كما هو عادة بني نوعكم.

وَإِذَا قِيلَ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَالسَّاعَةُ لَا رَيْبَ فِيهَا

اوچي كله وويل سول تاسي ته، عطف على استكبرتم، په تحقيق وعده د خداى ج يعني بعث بعد الموت "حق" يعني كائن لا محالة او قيامت چي دى شك نسته په راتگ كي د هغه، ولي چي په وعده او اخبار كي د خداى ج خلاف محال دى.

قُلْتُمْ مَا نَدْرِي مَا السَّاعَةُ إِنْ نَظُنُّ إِلَّا ظَنًّا وَمَا نَحْنُ بِمُسْتَيْقِنِينَ ﴿٣٢﴾

تاسي به ويل ايها الكفار الزنادقة من غاية عتوكم (سركښي ستاسي) چي موږ نه پوهېږو چي ساعت يعني قيامت څه شي دى يعني د تعجب له لاري وايا ست.

پوښتنه: نظن خو بې مصدر ده ظن بل احتمال نه لري نو دا خو استثناء د شي د نفس څخه سوه وهو لايجوز؟

ځواب: مفسرين وايي چي اصل كلام داسي وُ ما نحن بحال من الاحوال الا نظن ظنًا، او بعض مفسرين وايي چي تنكير د ظنًا لپاره د تحقير دى، فالمعنى ان نظن الا ظنًا حقيرًا لان الظن مقول بالتشكيك لان بعض الظنون قريب الى مرتبة العلم وبعض الظنون قريبة الى درجة الوهم.

"وما نحن بمستيقنين" موږ نه يو چي پر ساعت يقين ولرو دا جمله تاكيد د نفي د ظن ده.

وَبَدَا لَهُمْ سَيِّئَاتُ مَا عَمِلُوا

اى ښكاره سوه دوى ده جزاء د سيئاتو (بحذف المضاف) د عملو د دوى په دنيا كي.

سوال: ښكاره والى د جزاء د سيئاتو د ماعملوا في الدنيا خو په آخرت كي ده نو د بدا په صيغه د ماضي څه توجيه ده؟

ځواب: د مستقبل متيقن الوقوع څخه په قرآن كريم كي د ېر ځايونه په ماضي سره تعبير راغلى دى لانه بمنزلة الماضي في التحقيق.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٣٣﴾

ای نزل (توجيه التعبير بالماضي قدمر قريبًا) ای جزاء استهزائهم چي دوی په دنيا کي استهزاء کول، او دا هم احتمال سته چي د حاق څخه دي مراد دوږخ وي يعني احاطه وکړه او نازل سو اور د دوږخ پر دوی چي په هغه اور به دوی استهزاء کول يعني انبيا عليهم السلام به يې ذکر ورته وکړی دوی به پسخند په واهه.

درويش وايي: چي هغه دوهم احتمال ددې وروسته آيت سره ډېر سمون لري يعني.

وَقِيلَ الْيَوْمَ نَنسَاكُمْ كَمَا نَسِيتُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا

وويل سي يعني د خدای ﷻ له خوا څخه په واسطه د ملکو، نن ورځ موږ تاسي پرېږدو يعني په عذاب کي د اور لکه د سړي چي يو شی يو ځای هېرسي هوري پاته سي (نو اطلاق د نسيان مسامحة دی) "كما نسيتم لقاء يومكم هذا" ای كما تركتم ملاقات ددې ورځي د قيامت چي تياری ددې ورځي لپاره مو نه کاوه په ايمان راوړو سره په دنيا کي.

پوه سه: چي اضافت د لقاء ويوم ته اضافت دی و ظرف ته، والحقيقة يوم لقاء ربكم في هذا اليوم او يوم لقاء جزاء اعمالكم في هذا اليوم.

وَمَأْوَاكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّاصِرِينَ ﴿٣٤﴾

ځای ستاسي د قرار اور دی، نسته ستاسي کومک کونکي چي له دې عذابه مو خلاص کړي، نه ستاسي بتان چي جمادات دي او نه انبياء عليهم السلام چي ستاسي شفاعت دي وکړي او نه ملائکه وغير ذالک.

فائده: دا دوې جملې يا عطف دي پر مقول د قيل يا حال دي له مفعول څخه د ننساكم.

ذَٰلِكُم بِأَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ هُزُوًا

دا ترک ستاسي په عذاب مؤبد کي "بانكم" په دې سبب دی چي تاسي اتخذتم ايات الله "هزوا" مصدر دی په معنی د مهزو به دی يعني تاسي به په هغو آيتو د قرآن چي بيان د دوږخ به پکښې ؤ پسخند واهه او فکر مو نه پکښې واهه او سره ددې چي راوړونکی د قرآن يعني النبي ﷺ مؤيد بالمعجزات الباهرات ؤ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَغَرَّتْكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۚ فَالْيَوْمَ لَا يُخْرَجُونَ مِنْهَا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ۝

او تاسي غولولي وا ست ژوند د دنيا او شهوات د دنيا او مال او منال د دنيا حتى شيطان غرور په زړو كي دراچولى ؤ چي بل ژوند نسته، نو نن ورځ نه خارج كېږي دوى له اور څخه "ولاهم يستعتبون" الاستعتاب الاسترضا، يعني نه طلب د رضى د خداى اوس يعني يوم القيامة، دوى دي اوس خداى ج راضي كړي په توبه سره ولي وخت د توبې تېر سو اوس وخت د جزا دى، وفي الحديث قال رسول الله ﷺ لا بعد الموت من مستعتب يعني ليس بعد الموت نسته وروسته تر مرګ رضا د خداى ج طلبونكي لانها بالاعمال وقد انقضت زمانها تېره سوه زمانه د عملو.

فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَرَبِّ الْاَرْضِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝

خداى لره حمد دى چي وفا يې په وعده د مؤمنين او مكذبينو سره وكړه "رب السموات" بدل دى د لفظ الله څخه يعني چي خالق او مالك د اسمانو دى او چي مالك او خالق دى د ځمكي (يعني مع ما عليها و ما فيها) "رب العالمين" تعميم دى وروسته تر تخصيص.

فائده: لفظ د رب يې مقرر راوړى لان ربوبيته تعالى لكل شيئ نعمة مستقلة دالة على كمال قدرته تعالى وذكر العاطف بين السموات والارض لتغاير ما بينهما، وترك العاطف في رب العالمين لان السموات والارض معظم افراد العالم نو ګويا سموات والارض عين عالمين دي.

وَلَهُ الْكِبْرِيَآءُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۖ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝

او ده لپاره كبريا، يعني اثار د غاية عظمت او د نهايت قدرت دده سته په اسمانو كي من الشمس والقمر والنجوم وغيرها او په ځمكه كي من الحيوانات والاشجار والنباتات وغير ذالك مما لا يعلم جميعًا الا الله "وهو العزيز" خداى دى غالب پر ما اراده څوك يې مانع د مشيت او ارادې نسي كېداى "الحكيم" په هر شي كي حكمت لري او عبث كار نه كوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي بحمده تعالى وحسن توفيقه تفسير د سورة الجاثية په تفسير ايوبي كي پر ځلور بجې د ماپښين د ورځي د جمعې مباركي پر لس د شعبان المبارك سنه (۱۴۳۲) هـ ق پای ته ورسېدی ومع ذالک جزء ۲۵ اليه يرد هم پایته ورسېده، وروسته سورة الاحقاف شروع كېږي ان شاء الله العزيز ومع ذالک پاره او جزء ۲۶ حم شروع كړه كېږي.

درويش وايي: چي فقير په دې تفسير فخر نه كوم لانه قد ورد في الحديث الصحيح ان الله قد يؤيد هذا الدين بالرجل الفاجر فلعل اكون ذالک الرجل الفاجر، لكن دا وايم:... كه فاسق يم كه فاجريم ... پر تفسير باندي مين يم

روز محشر هر كه آيد تصوير جانان دربغل
من نيز حاضر ميشويم تفسير قرآن دربغل

يا الله يا الله يا الله هذا التفسير منک واليک، يوه لويه رابطه په دې تفسير كي فقير د سيد المرسلين شفيع المذنبين ﷺ لري چي هر ځای چي د رسول كريم ﷺ ذكر په اوږدو كي د دې تفسير راغلی دی په پوره ﷺ سره فقير بدرګه كړی دی يعني په اشاره د "يا صلعم يې كفايت نه دی كړی، اميد د فقير دادی چي امكان لري چي دا به د فقير سبب د شفاعت د شفيع المذنبين ﷺ وګرځي.

ع:... با كريمان كارها دشوار نيست

او په صحيح حديث كي راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام وويل: من صلى علي (كه چا درود وو ايه پر ما په يو كتاب كي) لايزال الملائكة يستغفرون له ما دام اسمي في ذالک الكتاب (همېشه به ملائكه طلب د بخښني كوي د خدای ﷻ څخه د دغه مصلي لپاره ترهغو چي نوم زما په هغه كتاب كي وي)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ وَعَلٰى آلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سكين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الجزء السادس والعشرون

حمٓ ٢٦

تفسير الروح حنفي

حضرت مولانا محمد حبيب الله الأيوبي

الحنفي النقشبندي القندهاري

مكتبة القراءة والتجويد

كاسي رود كوئته بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

اما بعد: درویش وایي چي که څه هم د جزء (۲۵) تفسیر په خیر او عافیت سره پای ته ورسېدی، لکن فقیر ابتداء د تفسیر د جزء (۲۶) وځنډاوه و ورځي ته د یکشنبې تبرګا یخلق الله عزوجل چي ده ابتداء د خلق الارض والسماء د احد له ورځي څخه شروع کړی ؤ، نو اوس ورځ د یکشنبې د ماپښین د رې بجې د شعبان د میاشتي د وولسم تاریخ چي سنه (۱۴۲۳) هجري ده، نو شروع په دې ډول ده.

سُوْرَةُ الْاَحْقَافِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

حٰمٓ ۝ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ۝

پوه سه: چي د متشابهات مقطعاتو د قرآن کریم د اختلافاتو بیان په اول کي د تفسیر بقرة تېر سو خو مختاره د اکثر المفسرین دا ده چي دا اسرار د قرآن عزیز دی بناء علی الوقف اللازم علی قوله تعالی في حقها وما یعلم تأویله الا الله ط. والیه ذهب امام الائمة ابو حنیفة رحمه الله وروسته د آیت ترجمه داده چي نزول په تدریج د کتاب یعني چي مشتمل دی پر دې سورة یعني القرآن الکریم له جانبه څخه د الله عزوجل چي هغه غالب دی یعني چي یو شي ته اراده وکړي څوک یې مانع نسي کېدای او خاوند د حکمت په خپل مخلوق کي عبث کار نه کوي یعني که یې څوک په حکمت پوهېږي او که نه پوهېږي.

پوه سه: چي تنزیل الکتاب مبتداء ده او من الله العزیز العلیم یې خبر دی په دې کي رد دی پر اهل مکه چي دوی به ویل چي قرآن مجید علیه الصلوة والسلام له ځانه جوړوي، او بعضو به ویل یعلمه بشر، او دا هم احتمال سته چي تنزیل الکتاب آه خبر د مبتداء محذوفي وي ای هذا تنزیل الکتاب آه.

فائده: تنزیل چي باب د تفعیل دی لپاره د تدریج په کار کي چي قرآن مبارک هم پر علیه الصلوة والسلام تدریجاً نازل سوی دی په (۲۳) کاله زمانه کي د نبوت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او د قرآن په باب د انزال لفظ هم راغلی دی خو هغه باب د افعال یې بولي چي په عربي کي دفعةً واحدةً وکړل سي هغه ته وايي لکه تورات او انجیل چي دفعةً نازل سوي دي، نو قرآن کریم ته لفظ د انزال استعمالول هم صحیح دي، ولي چي قرآن کریم د لوح محفوظ څخه په یوه وار جبرئیل نسخ کړی دی او په بیت العزة د اول اسمان یې محفوظ ایښی دی، له هغه ځای څخه تدریجًا بیا نازل سوی دی.

مَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ مُّسَمًّى ۭ

موږ نه دي پیدا کړي اسمانونه او مځکه او په منځ کي د اسمانو او مځکي چي کائنات الجو یې بولي لکه وریځ صاعقه، پیلبو وغیرها الا متلبسًا بالحق چي دلیل دی پر وجود د صانع قدیم حکیم وعلی البعث بعد الموت لاجل المجازات کما یقتضیه الحکمة "واجل مسمی" ای بتقدیر اجل مسمی چي پر دې تقدیر به اسمانونه و پای ته ورسېږي.

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَمَّآ اُنْذِرُوْا مُعْرِضُوْنَ ③

یعني کفار مکة وغیرهم چي دوی په بېرول کېږي.

بوه سه: چي که ما مصدریه سي نو معنی یې عن الانذار دی او که ما موصوله سي نو عائد یې محذوف دی تقدیره عما انذروا به في القرآن یعني عذاب د ورځي د قیامت اعراض کونکی دی یعني لایتفکرون فیها ولایستعدون لها چي ایمان یې راوړی وای سره ددې چي ورځ د قیامت خو لـه ممکناتو څخه ده او واجب الوقوع د سمعًا بشهادة المعجزات علی صدق المخبربها وهو رسول اللهﷺ او د بتانو عبادت کوي مع عدم الدلیل النقلي والعقلي علی صحة عبادتها بلکې دلائل عقلیه والنقلیة قائمة علی عدم صحت عبادتها لانها جمادات لاتضر لمن لایعبدها ولاینفع لمن یعبدها فکیف یصح عبادتها؟

قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَرُوْنِيْ مَاذَا خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ

ووایه ای محمدﷺ "ارأیتم" حاصل یې دادی بالاتفاق تاسي خبر راکړئ، او دا استفهام لپاره د تقریر دی ای حمل المخاطب علی الاقرار لیسکته في المناظرة "ما تدعون" ای تعبدون نه کلمة د ما موصولة والعائد الیها محذوف کما اشرت الیه "من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دون الله" ماسوی له خدای څخه چي مراد څني بتان دي "اروني" تاسي ماته وواياست (دا تاكيد دی د ارأيتم) كوم شی دوی پيدا كړی دی له ځمكي څخه.

پوه سه: چي من الارض بيان د ما دی او كلمه د ما استفهاميه منصوب محلاً مفعول به د خلقوا.

اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمٰوٰتِ ۖ

يا دوی لره شراكت سته د خدای ؐ سره "في السمٰوات" ای في خلق السمٰوات.

پوه سه: چي ام منقطعه دی په معنی د بل آه، كلمه د بل لپاره د انتقال ده، ماذا خلقوا او همزه يې لپاره د انكار دی.

درويش وايي: چي علامه بغدادي ؒ د من الارض معنی داسي كړې ده ای من اجزاء الارض ای بقاعها بيا يې دا احتمال راوړی دی چي مراد ما علی وجه الارض حيوان وغيره بتقدير المضاف بيا يې ويلي دي چي احتمال سته چي د ارض څخه دي مطلق سفليات مراد وي قال هو اولی، بيا ده السمٰوات اراده د مطلق علوياتو اولی بللې ده، وحاصل الكلام دا دی چي تاسي خبر راكړئ د حال د خپلو خدايانو بعد فكر وترك التعصب چي آيا دا ستاسي عقلونه مني چي ستاسي خدايانو دي يو شی د اجزاء څخه د عالم سفلي يا علوي پيدا كړی وي يا دي د خدای ؐ سره شريكان وي په خلق كي، وكل منهما لايقبله عقل سليم من التعصب فكيف تجعلونها شركاء لله في استحقاق الشركة في العبادة معه تعالى: مصرع:

اين خيال است و محال است و جنون

نصيحت يناسب الانسانية والمخاطب فيها الرجال دي ظاهراً.. بيت:

ياد داری زرو ز زائدن تو ..... خلق خندان بودند وتو گريان

يعني پلار مور او قريبان به خوشالي كولې، چا به ويل زوی مي پيدا سو چا به ويل وررور مي وزېږېدی، او تا به ژړل چي له شېريني مور څخه مي د نو پيوند په چاره پرې سو كما يدل عليه التجربة چي د كوچني چي دايي يې له مور څخه په چاره پيوند پرې كړي دی لويه بغاره وكړي.

همچنان زی كه روز مردن تو خلق گريان باشند وتو خندان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي پيدا سوې تا ژړل خلکو خندا کړه
هسي مړ سې چي ته خاندې خلک ژاړي

نو که انسان اراده په داسي ژوند وکړي په طاعت کي د رب العزة چي په ورځ د مرګ ستا خلک يعني مور، پلار او ورونه مثلاً ژاړي څوک وای زوی مي مړ سو څوک وايي ورور مي مړ سو، او ته خاندې ولي ملکو به په زکندن کي پر تا زيری کړی وي چي لاخوف عليک ولاحزن، نه بېره سته پر تا ولي چي د اصحاب الجنة څخه يې او نه غم چي دنيا عبث را باندي تېره سوه، ولي د دنيا د ژوند حق دي پر ځای کړی وي په ايمان او په طاعت کي کما حقه.. مصرع

دا باران چي پر همه وو مځکو اوري .... مشرف يې کړی ذات د کيميا ولي

ايْتُوْنِيْ بِكِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ هٰذَآ اَوْ اَثٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ۝

تاسي ماته راوړئ يو کتاب من عند الله چي هغه کتاب شرک حق بولي د مخه تر دې قرآن چي ناطق بالتوحيد دی.

فائده: په قاموس کي وايي چي اثارة من الاثرة البقية من الشئ ځکه روح البيان يې داسي ترجمه کړې ده ای بقية کائنة من علوم الاولين شاهدة باستحقاقهم (ای الاصنام للعبادة) او روح المعاني بعينه دغه ترجمه کړې ده او تفسير کبير يې هم ورته ترجمه کړې ده وهکذا البيضاوي والقرطبي، او احمد د ابن عباس رض عن النبي ﷺ څخه روايت کړی دی چي مراد له اثارة څخه خط دی (يعني يا يو خط راوړئ) "من علم" يعني له علم څخه د انبياء اولينو چي مستند و وحي قطعي ته وې چي شرک حق دی او هغه معنی مراد ده د مجاهد او عکرمه "بقولهما او رواية "ان کنتم صادقين" که تاسي ياست ای مشرکانو چي ان الله امرنا بعبادة الاوثان.

سوال: ان کنتم آه خو شرط دی جزاء يې څه شی ده؟

ځواب: جزاء يې له ماقبل څخه فهمېږي (يعني فأتوني بها) وحاصل الآية چي هيڅ دليل عقلي يا نقلي پر صحت د عبادت د بتانو نسته بلکې عقل او نقل دواړه پر ضد د هغه دلالت کوي، سعدي شيرازي رح وايي:

برگ درختان سبز درنظر هوشيار ..... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ يَدْعُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ مَنْ لَا يَسْتَجِيبُ لَهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَائِهِمْ غَافِلُونَ ۝

الاستفهام للانكار اى لا احد اضل عطف دى پر مقوله د قول يعني ارئيتم "ممن يدعوا" تر هغه چا چي عبادت کوي او حاجات غواړي، چي قبلونه يې نه سي کولای ولو سمع دعائهم فرضًا "الى يوم القيامة" اى ما دامت الدنيا.

"وهم عن دعآئهم غفلون" الواو للحال اى والحال چي دوى يعني ماسواء الله چي دوى خواست ورته وکړى د دعا څخه ددوى غافله دي، ولي چي معبودات ددوى يا جمادات دي يعني بتان چي لايسمع ولايعقل يا عباد الله چي مشغول په خپلو احوالو سره دي لکه عيسىٰ چي نصارىٰ ؤ ابن الله باله، يا عزير چي يهودان يې ابن الله بولي، يا ملائکه چي بني خزاعة يې بنات الله بولي او عبادت يې کوي.

سوال: والى يوم القيامة چي غاية د عدم استجابة د دعاء داسي فهمېږي چي وروسته تر ورځي د قيامت د هغو معبودانو استجابة کېږي لان مفهوم الغاية معتبر بالاجماع؟

ځواب: مفهوم الغاية هلته معتبر دى چي د صريح منطوق څخه مخالف نه وي وههنا يخالف منطوق قوله تعالى واذا حشر الناس کانوا لهم اعداء الاية.

درويش وايي: چي علامه آلوسي ددې سوال په دفع کي ډېري اوږدې خبري کړي دي ولا حاجة الى نقلها لان ما اوردنا کاف في دفعه کما لايخفى.

وَإِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوا لَهُمْ أَعْدَاءً وَكَانُوا بِعِبَادَتِهِمْ كَافِرِينَ ۝

او چي حشر کړل سي خلک يعني جمع کړل سي وهو يوم القيامة وي دا بتان چي د کافرانو معبودان وه، نو دې خلکو لره چي ددوى عبادت يې کاوه دښمنان يعني ضرر يې ور رسېږي نفع يې نه ور رسېږي لکه د عابدينو چي خيال ؤ يعني چي موږ ته يې نفع را رسېږي، کريمه: هٰؤلاء شفعائنا الى الله "وکانوا بعبادتهم کافرين" او وي دغه بتان په عبادت سره د عابدينو منکر او ددوى تکذيب کوي چي دوى زموږ عبادت کاوه بلکې د شيطان عبادت يې کاوه او بتان خداى پر خبرو راولي تبرئنا اليک ما کانوا ايانا يعبدون الآية.

درويش وايي: چي مفسرينو چي بزبان الحال ورسره زيات کړى لاحاجة اليه،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حاصل د آیت دادی چې د بتانو په دنیا کې عابدینو ته نفع نه رسېږي لکو نها جمادات او په اخرت کې خو یې نفع نسته کما ظنوه بلکې ضرر دی ددوی لقوله تعالی وکانوا بعبادتهم کافرین، بلکې په حدیث شریف کې راغلي دي چې دغه بتان په اور کې ددوی سره یو ځای کړې چې داغ په ور کوي او کما قال ثبت مضمون قوله تعالی ومن اضل الآیة یعني ددې بتانو عبادت یې کاوه و ترکوا عبادة الله یعني علی وجه التوحید مع ان الله سمیع بصیر الخبیر النافع یعني لمن یوحده الضار لاعدائه یعني المشرکین الذین اشرکوا هؤلاء الجمادات معه في العبادة.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ

چې تلاوت به وکړل سو پر دوی زموږ د آیتو چې مراد ځني آیتونه د قرآن عظیم الشان دي "بینات" چې واضح الدلالت وه پر حقیقت د هغو آیتو چې د اعجاز دلائل پکښې وه، کریمه: وان کنتم في ریب مما نزلنا علی عبدنا فأتوا بسورة الآیة.

پوه سه: چې واذا تتلی آه عطف دی علی قوله تعالی والذین کفروا عما انذروا معرضون.

قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلْحَقِّ

دا جزاء د اذا ده، ویل به هغه کسانو چې کافران للحق یعني په شان د حق چې مراد ځني آیاتنا دی.

سوال: آیات خو دمخه ذکر سوی دی نو په ځای د للحق یې ولې ضمیر راجع و ایاتو ته نه راوړی یعني لها، او دغه رنګه کافران خو هم دمخه ذکر سوي وه، نو الذین کفروا په ځای کې ضمیر د علیهم ولې نه راوړی؟

ځواب: اسم ظاهر د حق چې یې راوړی په ځای د ضمیر د لها لپاره د حکم پر آیاتو په حقیت سره او په صدق سره او علیهم ضمیر د ضمیر یې په ځای کې چې الذین کفروا د اعلان د کفر ددوی والانهماک في الضلالة والله اعلم.

لِلْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُمْ هَٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٧﴾

یعني بالفور بېله غور کولو په آیاتو کې تا په د سحر بې پر ولګول "هذا" ای القرآن په دې غرض دفع د سوال ده چې دمخه خو قرآن نه دی ذکر سوی بلکې ایاتنا ذکر سوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی، نو باید هذه په تانیث سره ذکر سوی وای، وحاصل الجواب چي ایاتنا او قرآن یو شی دی "سحر مبین" دا قرآن سحر دی او سحر والی یې هر چاته ښکاره دی.

أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ قُلْ إِنِ افْتَرَيْتُهُ فَلَا تَمْلِكُونَ لِي مِنَ اللَّهِ شَيْئًا ۖ

ام منقطعه دی په معنی د بل آه بل یې لپاره د اضراب دی من قولهم انه سحر الی قولهم انه مفترا او همزه لپاره د انکار او تعجیب دی (یعني در تعجب انداختن مردم را از قول ایشان) ته ووایه چي که ما قرآن افتراءً په خدای پوري تړلی وي نو تاسي قادر نه یاست پر دې چي د ما څخه دي دفع کړئ د عذاب څخه د خدای یو شی، نو زه به ولي دلاوري کوم او خپل ځان به وعقاب ته د خدای اماده کوم او سره د دې چي په دې افتراء علی الله کي ما ته څه نفع راجع کیږي او نه دفع د ضرر را څخه کیږي ستاسي له خوا څخه. او زه هم سلیم العقل یم دې کار ته یعني افتراء علی الله ته به څرنګه دست اندازي کوم.

هُوَ أَعْلَمُ بِمَا تُفِيضُونَ فِيهِ ۖ كَفَىٰ بِهِ شَهِيدًا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ۖ

او خدای خبر دی په هغه خبرو چي خوض یعني بحث کوي په هغو خبرو کي کفار د مکې یعني چي تکذیب د آیاتو د خدای کوي او سحر "کفی به" الباء زائده په صله کي د کفی في جمیع القرآن لان کفی متعدي بنفسه دی. نو ضمیر د به مرفوع محلاً دی فاعل د کفی دی "شهیداً بیني وبینکم" یعني خدای شاهد دی زما پر صدق په دعوی کي د رسالت بسبب خلق المعجزات الباهرات علی یدي، او خدای شاهد دی پر دروغو ستاسي په نسبت کي سحر او د افتراء پر ما وهو وعید شدید لهم لجزاء ذالک في الدنیا لکه په بدر کي او په اخیرت کي یعني بالادخال في دار البوار جهنم ذات القرار.

وَهُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿٨﴾

او خدای پاک غفور دی لمن تاب عن الشرک او مهربان هم دی چي تعجیل په عقوبت د کفارو نه کوي مع عظیم جریمتهم.

فائده: کل من السحر و الافتراء علی الله کفر لکن الافتراء علی الله اشنع من السحر فتدبر.

حکایت: از ابو یزید البسطامي قدس سره قومي پرسیدند که قومي میگویند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

که کلید بهشت لا اله الا الله است، بایزید گفت بلی ولکن کلید بی دندان در باز نه کشاید و دندان او چهار است، زبان از دروغ وغیبت وبهتان دور کردن ودل از مکر وخیانت صافی، وشکم از حرام وشبهت خالي وعمل از هوا وبدعت پاک انتهی قوله الجامع للخیرات.

قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَمَآ أَدْرِي مَا يُفْعَلُ بِي وَلَا بِكُمْ

ته ورته ووایه و کفارو ته د مکې چي زه نه یم بدیعًا (یعني نوی) یعني اول د رسولانو چي ما دعوی د رسالت کړې ده چي تر ما دمخه دغه دعوی د رسالت هیڅ چا نه ده کړې بلکي تر ما دمخه خدای د ډېر رسولان را استولي دي، نو تاسي ولي انکار زما له رسالت څخه کوئ بعد شهادة المعجزات علی صدقي، البته که په نوع کي د انسان دعوی د رسالت چا نه وای کړې نو تاسي ته به تعجب معلومېدای، نو که تاسي زه مفتر بللی حق په جانب واست لکن چونکه خدای چي د انسانو نوع یې په مخکي کي نشر کړې ده د هغې سره یې دعوی د رسالت هم پرانېزلې ده، د دعوی د رسالت زما ځای د انکار او تعجب نه دی البته د محق او مبطل په دې دعوی کي د رسالت په کار دی هغه معجزاتي دي چي د طوق د بشر وتلي دي، نو تاسي ته هیڅ دلیل د انکار نسته فما لکم لا تؤمنون.

پوه سه: چي مخکني آیت کي اول ما نافیه دی او دوهم ما یا موصوله دی منصوب دی په یفعل سره یا استفهامیه دی مرفوع، او کلمه د لا لپاره د تاکید د نفي ده، بعض مفسرین وایي یعني په دنیا کي مثلاً چي نصرت او غلبه به زما نصیب وي او که ستاسي. او بعض مفسرین وایي چي په یوم القیامة کي.

درویش وایي: چي دا آیت چي نازل سو مشرکان خوشحاله سوه او وه یې ویل واللات والعزی ما امرنا وامر محمد عند الله الا واحد وماله علینا بفضیلة او که دی مبتدع په دعوی کي د رسالت نه وای نو هغه چا چي دی را استولی ؤ دی به یې خبر کړی وای په ما یفعل به. فانزل الله لیغفر لک الله ما تقدم من ذنبک وما تاخر، نو صحابه کرامو ویل هنیئًا یعني مبارک دی ستا یا نبي الله قد اعطاک الله ما یفعل بک لکن لا نعلم یفعل بنا فانزل الله لیدخل الله المؤمنین والمؤمنات جنات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الآية. وايضًا انزل وبشر المؤمنين بان لهم من الله فضلاً كبيرًا فبين الله مايفعل بهم. قال البغوي وهذا قول انس وقتاده وعكرمه رحمهم الله.

درويش وايي: چي دا قول که څه هم بغوي و هؤلاء السادات المذكورين ته منسوب کړی دی لکن شايد په اسنادو کي د بغوي تر هؤلاء السادات پوري يا ضعيف يا انقطاع وي، له دې کبله مخلص خاص د بغوي يعني المظهري داسي ويلي دي، وهذا القول عندي غير مرضي، ولي يو سورت له سورتو څخه غالبًا که مکي وي او که مدني وي په هغه سورت وعده د مؤمنين (يعني وعده د ثواب او د جنت في يوم القيامة) او د وعيد د کافرانو (يعني وعده د عذاب او دوږخ في يوم القيامة د کافرانو سره) دواړه وعد او وعيده موجود دي. نو څرنګه به صحيح وي ولا ادري ما يفعل بي ولابكم (يعني په اخرت کي)

پوه سه: چي اول وحي راغلي دي چي خدای پاک و عليه الصلوة والسلام ته وويل وانذر عشيرتک (يعني بعذاب الله ان لم يؤمنوا) نو له دې آية څخه خو صراحةً دا معلومه سوه چي و عليه الصلوة والسلام ته خو حال د کافرانو په قيامت کي معلوم ؤ او هم په دغه سورت کي راغلي دي وهذا كتاب لسانًا عربيًا لينذر الذين ظلموا (ای کفروا) وبشر المحسنين، نو له دې آيت څخه هم دا معلومه سوه چي عليه الصلوة والسلام د کافرانو او د مؤمنانو په ورځ د قيامت معلوم ؤ (يعني په نزول د دې آيت د قرآن) وايضًا قال الله عزوجل ان الذين قالوا ربنا الله ثم استقاموا فلا خوف عليهم ولاهم يحزنون، اولئک اصحاب الجنة الآية. يعني چي وروسته بيا د کافرانو حال بيان سوی دی اولئک اصحاب النار، نو د دې آيتو د وعد او وعيد په رڼا کي څرنګه ممکنه ده چي عاقبت د مؤمنانو او کافرانو يعني د ورځي د قيامت غير معلوم و عليه الصلوة والسلام ته وي فماذا نقول في جواب هذه الآيات، او پر دې تقدير چي دا حالات د مؤمنانو او د کافرانو په قيامت کي د عليه الصلوة والسلام ته معلومي نه وي خو هغه اعتراض د کافرانو کما مر، يعني ما امرنا وامر محمد عند الله الا واحدًا ومانری لک (يا محمد) علينا من فضل فای فائدة في ترک دين الآباء واتباع الرسل.

درويش وايي: چي هغه خبره چي بعض مفسرينو کړې ده لپاره د تصحيح د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

احتمال د ورځي د قیامت په آیت کي د وما ادري آه (ای تفصیلاً) یعني چي د مؤمنانو په جنت کي کوم قسم قسم میوې سته او ښومره حوري او غلمان سته او په دوږخ کي ښونه لړمان او ماران او شجرة الزقوم سته الی غیر ذالک فلایدفع سوال الکافرین ما امرنا و امر محمد ؑ آه کما لایخفی.

درویش وایي: چي ددې آیت وما ادري ما یفعل آه روح البیان یو ډېر زیبا او په زړه پوري تفصیل کړی دی، دی وایي وما اعلم ای شیئ یصیبنا فیما یستقبل من الزمان والی ما یصیر امرنا و امرکم في الدنیا، ولي چي بعض انبیاء علیهم السلام قد کان سالمًا من المحن و منهم من یمتحن بالهجرة من الوطن و منهم یبتلوا بانواع الفتن وکذالک امم الانبیاء في الدنیا منهم من اهلک بالخسف و منهم من هلک بالقذف بالحجارة وکذا بالمسخ بالقردة والخنازیر، و منهم هلکوا بالریح و منهم بصیحة جبرئیل ؑ و منهم من هلکوا بالغرق الی غیر ذالک ثم عرفه الله (ای النبي ﷺ) حاله بالهجرة من مکة الی المدینة و علمه بالعصمة من الناس، و اخبره ان دینه یظهر علی الادیان کلها و یسلطه علی اعدائه الی غیر ذالک انتهی.

پوښتنه: البغوي ؒ په خپل سند سره د خارجة بن یزید ښخه روایت کړی دی چي ده وویل ام العلاء الاریة چي څه وخت چي مهاجرین د مکي مکرمې مدینې منورې ته راغله (نو چونکه مهاجرینو نه کور درلودی نه ډوډی، نو په امر د علیه الصلوة والسلام انصارو رض قرعه کشي وکړه پر سکنی وغیر ذالک د مهاجرینو چي دی په هغه زمانه کي اخوة وویل کېدی یعني ورورولي) نو زموږ په قرعه کي عثمان بن مظعون رض په برخه سو في السکنی یعني وغیرها من الامور الضروریة، څو زمانه وروسته عثمان بن مظعون رض مریض سو، دا وایي چي موږ یې د دوا وغیره دده ډېر حسب الطاقة خدمت وکړی اخیر الامر داعي الاجل ورسېدی وفات سو. علیه الصلوة والسلام دده له وفات ښخه خبر سوی ؤ نو زموږ کور ته راغلی ام العلاء رض وایي چي زه هم ورغلم ما داسي وویل رحمة الله علیک ابا السائب (چي د عثمان بن مظعون رض کنیت ؤ) شهادتي (یعني زه شاهدي اداء کوم چي) اکرمک الله. فقال النبي ﷺ ما یدریک ان الله قد اکرمه قلت لا والله لا ادري (قسم په خدای دی چي زه په اکرام د خدای دده له نه یم خبره) فقال رسول الله ﷺ اما هو فقد اتاه الیقین (ای الموت) من ربه و اني لارجوا له الخیر (زما امید دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي ده ته به خدای خیر ورکړي) والله ما ادري و انا رسول الله ما يفعل بي ولابكم، ام العلاء وايي چي فوالله لا ازکی احدًا بعده ابدًا، دا وايي چي څو ورځي وروسته ما عثمان رض په خوب ولیدی چي یوه چینه د جاري اوبو يې درلوده، نو خوب مې وعليه الصلوة والسلام ته ووایه، فقال ذالک عمله، نو حاصل د سوال دادی چي د دې حديث په ښکاره طور معلومېږي چي قول د هغه چي وايي معنی د آيت متلوه يعني ما ادري ما يفعل بي ولا بكم سره مراد د احوال د يوم القيامة ده والا فما معنى هذا الحديث؟

الجواب: معنى د دې حديث دا ده انه لايجوز الحكم قطعًا على شخص معين لكه عثمان بن مظعون رض بالنجات والاكرام عند الله او العذاب عند الله في يوم القيامة لانه ادعاء د علم الغيب ده ولا علم بالبواطن والسرائر الا لله سبحانه وتعالى، او قبلاً چي موږ ویلي وه چي حال د اخرت د مسلمانانو او کافرانو في يوم القيامة په قرآن سره ثابت دی هغه خو داؤ چي دا ثابته په قرآن سره ده چي مؤمنان مطلقًا على الاجمال اهل النجات دي او كافران مطلقًا اهل العذاب دي. ولا منافات بين عدم جواز الحكم بالاكرام عند الله على شخص معين لانه من الغيب الذي لا يعلم الا الله وبين الحكم على طائفة المؤمنين والكافرين على الاطلاق لانه ثابت بالقرآن، وحٍ المراد في هذا الحديث بقول النبي ﷺ وما ادري وانا رسول الله ما يفعل بي ولا بكم في جزاء كل عمل مخصوص وانما قال ذالک مبالغة في سد دعوى علم الغيب، ولا يجوز مثل هذا التأويل في الآية المتلوه يعني وما ادري ما يفعل بي ولابكم لان الحكم هنالک مردد بين الذات الانور ﷺ وبين ذوات الخبيثة للكفرة فان كان حال يوم القيامة فهو معلوم بالقرآن فما معنى النفي بخلاف احوال الدنيا كما مر نقلاً من روح البيان.

سوال: احوال د دنيا خو هم په قرآن سره ثابت وه قال الله انا لننصر رسلنا الآية؟

ځواب: دا خو يو شخصي حكم د دنيا دی مقصود په لا ادري ما يفعل بي نفي جميع احوال د دنيا دي فافهم.

درويش وايي: چي و الكلام في تفسير الآية المذكورة وان افضى الى التطويل لكن د شكوكو او د شبهاتو قمع او قلع من كل الوجوه وسوه ان شاء الله العزيز بتوفيق الملک العزيز.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ وَمَا أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ۝

زه متابعت نه کوم مګر نه د هغه شي چي ماته یې وحي کړه سوي دي (یعني له جانبه څخه د خدای ﷻ) چي قرآن مبارک دی یعني لا اترکه ابدًا.

شان نزول: د مکې کفارو اراده درلوده له رسول الله ﷺ څخه چي ته زموږ د دین متابعت وکړه او دوی طمع و علیه الصلوٰة والسلام ته ورکول د جمع د اموال کثیره دده لپاره چي اغنی الناس به په مکه کي دی وي او په نکاح ورکولو د ډېرو لونو خپل بلا سوق مهر، او دی به یې ډېر ازاراوه او بېراوه به یې پر ترک د اتباع د دوی د دین، نو مقتضی د مخ د آیت او ددې آیت داده چي علیه الصلوٰة والسلام دوی ته خبر ورکړی چي انه لایطمعهم ولا یخافهم کما قالوا. او دا یې ورته وویل چي تاسي قدرت نه لرئ پر هغه شي چي تاسي یې اراده وکړئ (یا نفع یا ضرر و ماته) بل النفع والضرر کلاهما من الله یحکم ما یشاء ویحکم ما یرید فمعنی الآیة السابقة لا ادري ما یفعل ولا بکم من النصر والهزیمة یعني ترک النصر چي شکست ورته وایي وانا لا اتبعکم علی شیئ من التقادیر بلکې ان اتبع الآیة. بیضاوي په شان نزول کي د آیت متلوه داسي ویلي دي چي آیت جواب د هغه غوښتني د کافرانو د مکې دی چي ته موږ ته اخبار د هغه وکړه چي تا ته یې وحي نه وي کړه سوي.

درویش وایي: چي دا شان نزول غیر مرضي دی ولي دوی په غیب څه پوهېدله البته که د دوی مراد داوي چي موږ ته قصه د روستم او اسفندیار وکړه چي تا ته یې وحي نه دي کړه سوي او دوی دا قصه د تاریخ د لاري اورېدلي وه لکن لقول البیضاوي وجه فافهم. او بعض مفسران وایي چي بعض مسلمانان د ژر خلاص والي له ازاره څخه د کفارو تعیین د تاریخ غوښتی وبه قال البغوي، او بعض مفسرین وایي لما اشتد البلاء بالمسلمین في مکة نو علیه الصلوٰة والسلام چي دی په مکه کي ؤ خوب یې لیدی چي یوې ځمکي ته چي اکثره یې بنره وه او د خورما درختي هم پکښې وې چي ته به دغي ځمکي ته هجرت کوې فقال له اصحابه متی تهاجر فسکت ونزل ان اتبع الا ما یوحی الي، کذا قال ابن عباس.

فائده: علم بالغیب مختص دی بالذات په خدای ﷻ پوري. واما اخبار الانبیاء علیهم السلام والاولیا رحمهم الله فبواسطة الوحي والالهام. ومن هذا القبیل اخباره علیه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام عن اشراط الساعة وما يظهر في اخير الزمان من غلبة البدع والاهواء كما في كتب الاحاديث الشريفة، وكذا اخباره ﷺ لاصحابه اول من يدخل من هذا الباب رجل من اهل الجنة (نو اصحابو ټولو و هغې دروازې ته سترګي نيولي وې) چي عبد الله بن سلام ﷺ داخل سو، نو بعض صحابه کرامؓ ور ولاړ سوه نو عبد الله بن سلامؓ يې په ما قالؓ سره خبر کړی او اصحابوؓ ده ته وويل که مونږ خبر کړې په اوثق عمل سره خپل چي ته اميد ورته لرې، ده ورته وويل چي زه ضعيف يم وان اوثق ما ارجوه سلامة الصدر (يعني من النفاق والشکوک) او بل ترک ما لا يعنيني (او بل هغه زه نه کوم چي هغه زما په بنه نه راځي) ومثل هذا الالهام ما نقل عن سيد الطائفة الجنيد البغدادي قدس سره، دی وايي چي ما ته زما ماما وويل يعني السري السقطيؒ چي تکلم على الناس چي سبا خبري يعني وعظ وکړه خلکو ته، جنيدؒ وايي چي ما خپل ځان قابل د وعظ او تبليغ لائق نه باله، نو ما نبي ﷺ په خوب وليدی چي شپه هم د جمعې وه، ما ته يې وويل چي په ورځ د جمعې خلکو ته وعظ او تبليغ وکړه، فقعد (اى للوعظ) من غد چي ورځ د جمعې وه، دمخه تر دې دروازې ته د ماما يعني السري السقطيؒ ورغلم چي د خوب قصه ورته وکړم، نو زما د بيان کولو دمخه مي ماما راته وويل: لم تصدقنا (زما تصديق دې نه کاوه يعني چي ما درته وويل چي ته وعظ وکړه) حتى قيل لک يعني من جانب رسول اللهﷺ، نو هغه وُ چي د جمعې په ورځ و تبليغ او وعظ ته په مجمع عظيم کي کښېنستم، نو ډېر په زړه پوري وعظ مې وکړی.

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كَانَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَكَفَرْتُمْ بِهٖ

ته ووايه يا محمد (ﷺ) و کفارو ته د مکې چي تاسي خبر راکړئ چي ستاسي حال به څه وي، که وي قرآن له جانب څخه د خدای؟، يعني لکه زه چي درته وايم "وکفرتم به" دا جمله حال ده په تقدير د قد کما هو القانون النحوي في الماضي الواقع حالاً، والتقدير قد کفرتم به ايها المشرکون.

وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى مِثْلِهٖ

"وشهد شاهد" دا جمله هم حال ده په تقدير د قد او شاهدي اداء کړې وه يعني تصديق د قرآن يې کړی وُ "من بني اسرائيل" له بني اسرائيلو څخه، قتادهؒ او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الضحاک وايي چي دا شاهد عبدالله بن سلام بن الحارث د يوسف عليه السلام له اولاد څخه (يعني بالوسائط) يعني يوسف بن يعقوب بن اسحاق بن ابراهيم عليهم السلام "عَلَى مِثْلِهِ" بعض مفسرين وايي چي لفظ د مثل زائد دی وضمير مثله راجع الى القرآن فالمعنى شهد شاهد على القرآن يعني انه من عند الله، او يا لفظ د مثل زائد نه دی فالمعنى شهد شاهد على مثل ما قلتم ايها المشركون يعني ان القرآن من عند الله نه دی ای قبل الاسلام او روح البيان يې هم زائد نه بولي ای مثل القرآن من المعاني المندرجة في التورات من التوحيد والوعد والوعيد والجنة والنار وغير ذالک، فان ذالک الامور التي آمن به عبد الله في التوراة مثل ما في القرآن بل عينها في الحقيقة.

درويش وايي: چي مسروق له دې څخه منکر دی چي نزول د دې آيت دې په عبدالله بن السلام کي وي، وقال (يعني په صريح قسم سره) والله ما نزلت فيه لان سورة آل حم نزلت بمكة او اسلام د عبدالله بن السلام خو په مدينه منوره کي ؤ. ده زياته کړې ده چي دا آيت په دليل ويلو کي د رسول الله ﷺ د خپل قوم سره (چونکه پر مسروق دا سوال وارديږي چي ستا پر تقرير د شهد شاهد من بني اسرائيل څخه نو په دې آيت کي څوک مراد دی؟) ده په جواب کي داسي ويلي دي چي مراد شهادت د موسى عليه السلام دی او شهادت د موسى عليه السلام ما في التورات من خبر بعثة محمد ﷺ على مثله ای مثل القرآن وهو ما في التورات من الآيات المصدقة للقرآن فآمن موسى واستكبرتم يا معشر قريش عن الايمان بمحمد ﷺ والقرآن، وجواب الشرط وهو قوله تعالى ان كان من عند الله آه محذوف تقديره فمن اضل منكم او لستم ظالمين انتهى قول مسروق.

درويش وايي: چي کله د ايمان د عبدالله بن السلام ټوله قصه راوي کړې وای نو انکار د مسروق به پای ته رسېدلی وای، وتمام قصة داده: روى البخاري والبيهقي عن موسى بن عقبة وعن ابن شهاب قال عبدالله بن السلام لما سمعت رسالة محمد ﷺ وهو بمكة او ما د خلکو څخه دده نوم او هيئت هغه ټوله د تورات سره برابر وه و علمت انه الذي نتوقع (وهذا منه الايمان من عبد الله في الحقيقة بنبوته) عبدالله بن السلام وايي فكنت مسرًا كذالک، دا حال ما پټ ساتلی ؤ او پټه خوله وم حتى قدم رسول الله ﷺ نزل معنا في بني عمر بن عوف فاخبرني رجل بقدومه او زه د خورما د درختي په

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

سر کي وم خورما مي تولوله، او زما عمه خالده بنت الحارث لاندي د خورما تر درختي ناسته وه فلما سمعت بقدوم رسول اللهﷺ نو ما په لوړ اواز الله اکبر ووايه، عمه مي راته وويل والله لو کنت سمعت بموسىٰ بن عمران ما رئيت منک مثل ذالک السرور اى بقدوم محمدﷺ، عبد الله ؓ وويل اى عمه هو والله اخو موسىٰ بن عمران وعلى دينه بعث بما بعث به يعني موسىٰؑ في التوحيد واصول الدين فقالت فذاک اذاً قال عبد الله ؓ ثم خرجت الى رسول اللهﷺ فلما ان رئيت وجهه المبارکة عرفت ان وجهه ليس بوجه کذاب، فاول ما سمعت منه اى من النبيﷺ قوله يا ايها الناس اطعموا الطعام وافشوا السلام وصلوا الارحام وصلوا بالليل والناس ينام تدخلوا الجنة بسلام.

درويش وايي: چي وروسته عبد الله بن السلامؓ د خپل ايمان بالغيب پر عليه الصلوٰة والسلام کمامر د مزيد تائيد لپاره او د ايمان بالمشاهدة لپاره داسي و عليه الصلوٰة والسلام ته وويل: يا محمد زه ستا څخه سوال کوم د درو شيانو چي لايعلمهن الا نبي (۱) ما اول اشراط الساعة (څه شى ده اوله علامه د قيامت؟) (۲) و ما اول طعام اهل الجنة (څه شي به اول خورک د جنتيانو وي يعني په جنت کي) (۳) وما ينزع الولد الى ابيه يعني په رنګ کي او الى امه ايضاً په رنګ کي، فقالؑ اخبرني بهن جبرئيلؑ، عبد اللهؓ ورته وويل جبرئيلؑ خبر درکړى؟ عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل نعم قال عبد اللهؓ ذالک عدو اليهود من الملائکة اما اول اشراط الساعة فنار تخرج على الناس من المشرق (اى من المشرق الى المغرب) يعني فتساوق الناس الى جهة المغرب واما اول طعام يأکله اهل الجنة فزيادة کبد حوت (د اينې په زړه کي د ماهي) واذا سبق ماء الرجل اى نطفته ورحم ته د ښځي تر نطفي د ښځي (يعني اول تر انزال سي مني په رحم کي د ښځي قرار ونسي، او وروسته ښځه پر انزال سي نزع الولد، نو ولد د پلار وخوا ته کيږي واذا سبق ماء المرئة نزعت الولد يعني د امور و خوا ته کيږي) فقال عبد الله بن السلامؓ اشهد ان لا اله الا الله وانک يا محمد رسول الله، وروسته عبد اللهؓ کورته ولاړى وامر اهل بيته بالاسلام فامن کل من اقاربه وابناء عمه.

درويش وايي: چي اوس مخ پر لور د جواب د انکار د مسروق چي عنقريب تېر سو حاصل د جواب داد ى چي مسروق په هغه ايمان د عبد الله بن السلامؓ چي هنوز

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عليه الصلوة والسلام په مکه کي او ده په علاماتو د تورات چي ده په تورات کي لیدلي وې ایمان يې راوړی وُ، وروسته بالمشافهة په مدينه منوره کي ايمان راوړی، مسروق ته فقط ايمان راوړه په مدينه منوره کي معلوم وُ نو ځکه يې مذكور سوال ذکر کړی، اوس بیرته د عبدالله بن السلام رض د بقيه قصې پر خوا، وروسته عبدالله رض و عليه الصلوة والسلام ته وويل چي يهودان به خبر دي چي زه سيد د دوی يم او ابن سيد هم واعلمهم يعني بالتورات وابن اعلمهم او يهودان داسي قوم دی چي بهتان ويونکی دی، اوکه دوی زما په اسلام خبر سي پر ما به ستا په مخ کي بهتان ووايي، نو زما دا خوښه ده چي ته ما په يوه خونه کي پټ کړې او د يهودانو مشران راوغواړې زما پوښتنه ځني وکړې، نو عليه الصلوة والسلام هم داغسي وکړه مشرانو د يهودانو چي عبدالله ورښوولي وه راغوښته، نو دوی چي راغله عليه الصلوة والسلام ورته وويل يا معشر اليهود ويلكم اتقوا الله فوالله الذي لا اله الاهو انكم لتعلمون اني رسول الله (يعني د تورات له معلوماتو ښخه) ولقد جئتكم بالحق ای بدين الحق فاسلموا، يهودانو ورته وويل چي ستا په نبوت موږ هيڅ خبر نه يو، بيا عليه الصلوة والسلام پوښتنه ځني وکړه چي ای رجل فيكم عبدالله بن السلام (دوی ورته وويل چي اوس خو په موږ کي حاضر نه دی) لكن خيرنا وابن خيرنا وسيدنا وابن سيدنا واعلمنا وابن اعلمنا، عليه الصلوة والسلام چي تاسي ماته ووایاست چي که عبدالله بن السلام ايمان راوړي قالوا اعاذه الله من ذالک (خدای دي پناه ورکړي عبدالله چي ايمان به راوړي) قال عليه الصلوة والسلام اخرج اليهم فخرج فقال اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمدًا عبده ورسوله، عبدالله رض زياته کړه يا معشر اليهود واتقوا الله واقبلوا ماجائكم به (يعني محمد ص من دين الاسلام) فوالله انكم لتعلمون انه لرسول الله حقًا تجدونه مكتوبًا في التورات عندكم اسمه وصفته (ای مولده ومهجره) عبدالله رض زياته کړه فاني اشهد انه لرسول الله واومن واصدقه واعرفه فقالت اليهود انت اشرنا وابن اشرنا او ډېر نور بهتانونه يې پر وويل، نو عبدالله بن السلام رض و عليه الصلوة والسلام ته وويل هذا الذي يا رسول الله الم اخبركم انهم قوم بهت اهل غدر وكذب وفجور فاظهر الاسلام على رؤس الاشهاد واسلام اهل بيت وامنت عمته ابنة الحارث فحسن اسلامها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي دا د تفصيل د ايمان د عبدالله بن السلام رض او تفصيل د هغه آيت و شهد شاهد من بني اسرائيل الآية بقدر الوسع والطاقة لعبده الذليل الجهول محمد عبيدالله الايوبي غفرله الباري.

فَاٰمَنَ وَاسْتَكْبَرْتُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝

نو يې ايمان راوړی (يعني عبدالله بن سلام رض) او تاسي كبر مختاره كړی د ايمان راوړو څخه يا معشر اليهود، په تحقيق خدای هدايت موصله الى المطلوب نه كوي هغه كسانو ته چي پر ظلم باندي ثابت قدم وي.

پوښتنه: افعال د شرط اعني كان من عندالله وكفرتم به وشهد شاهد من بني اسرائيل فامن واستكبرتم كلها مجزوم (يعني يقيني واقع كېده) وقوعها فما معنى د ان فيها وهي تستعمل فيما يشك في وقوعها.

ځواب: ان كلمة الواو في الجمل كلها للجمع واستعمل كلمة الشك وهي ان فيها للتوبيخ وايراد المجزوم الوقوع موقع الشك الدلالة انه لايجوز عند العقل السليم الكفر مع كونه من عندالله واستكبار مع اهل العلم يعني عبدالله بن سلام واهل بيته و ايمانه واما قوله تعالى ان الله لايهدي القوم الظالمين فجملة مستانفة.

درويش وايي: چي د مسروق رح د سوال جواب كمامر الكلبي رح داسي وركړی دی چي سورة الحم كه څه هم مكي دی لكن آية د ايمان د عبدالله بن سلام رض مدني دی، اما په امر د رسول الله ﷺ په مكي سورتو كي ايښوول سوی دی، زما په عقيده سابق جواب كمامر ادق دی او د الكلبي جواب اسهل دی والله اعلم.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَوْ كَانَ خَيْرًا مَّا سَبَقُوْنَآ اِلَيْهِ ۭ

او ويل به كافرانو لغاية استكبارهم، عطف على وقال الذين كفروا للحق الآية "للذين آمنوا" اى في حقهم وشانهم "لوكان" يعني دين محمد ﷺ يعني كه دين د محمد (ﷺ) خير وای يعني من عندالله، نو مؤمنانو به وړاندي والی نه وای كړی تر موږ د مخه ددهٔ دين ته، اخرج ابن جرير عن قتادة رح قال، قال ناس من المشركين نحن اعز ونحن خير فلو كان يعني دين محمد ما سبقنا اليه فلان وفلان يعنون فقراء المؤمنين فنزلت هذه الآية، واخرج ابن المنذر عن عون بن ابى شداد قال كانت لعمر بن الخطاب رض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

امة اسلمت قبله يقال لها زنين فكان عمر يضربها على اسلامها تا چي بيرته يې كفر ته رد كړي، وكان كفار قريش يقولون لو كان خيرًا كه واى دين محمد خير ما سبقنا اليه زنين. فانزل الله هذه الآية واخرج ابن سعد في الطبقات نحوه وعن الضحاك والحسن، البغوي بناء على نزول الآية السابقة في عبد الله بن سلام انه قال الذين كفروا من اليهود للذين آمنوا من اليهود يعني عبد الله بن السلام واصحابه يعني ابناء عمه واهل بيته لو كان دين محمد خيرًا ما سبقونا اليه يعني عبد الله بن السلام واصحابه.

وَإِذْ لَمْ يَهْتَدُوا بِهِ فَسَيَقُولُونَ هَٰذَا إِفْكٌ قَدِيمٌ ﴿١١﴾

هغه وخت چي دوی هدايت نه كړی پيدا په قرآن سره كما اهتدوا به اهل الايمان نو دوی ژر دی چي و وايي چي دا قرآن دروا غ دی قديم يعني اختلق له ځانه جوړ كړی دی دا قرآن اهل زمان سابق بيا محمد له هغو څخه زده كړی دی.

سوال: كلمة د فاء يې ولي راوړه؟

خواب: لپاره د دلالت پر دې چي دا قول يعني يقولون آه سبب دی د ظهور څخه د ضلال او غباوت د دوی كقولهم في باب القرآن اساطير الاولين.

وَمِن قَبْلِهِ كِتَابُ مُوسَىٰ إِمَامًا وَرَحْمَةً ۚ

او دمخه تر نزول د قرآن د موسیٰ كتاب يعني تورات چي خلكو اقتداء پسي كوله "ورحمة" او رحمت و د خدای له خوا پر خلكو تا چي دوی فلاح پيدا كړي و خير ته د دارينو.

وَهَٰذَا كِتَابٌ مُّصَدِّقٌ لِّسَانًا عَرَبِيًّا لِّيُنذِرَ الَّذِينَ ظَلَمُوا

او دا كتاب اى القرآن الكريم كتاب دی د خدای له خوا څخه تصديق كونكی دی د كتاب د موسیٰ، او يا معنی داده چي تصديق كونكی دی د محمد ﷺ په سبب د اعجاز پر دواړه تقدير صفت د كتاب دی "لسانًا عربيًا" په لغت د عربو، دا حال دی له ضمير څخه د كتاب په مصدق كي، لكون المبعوث اليهم اولا اقوام العرب وانما قلنا اولا لكون القرآن هدى للناس جميعًا كما جاء في موضع آخر: هدًى للناس "لينذر" اكثره قاريان يې په ياء د غيبت وايي، والضمير اما راجع الى الكتاب او يا الله يا رسول، او بعض قاريان يې په تاء د خطاب وايي اى لتنذر يا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محمد" "الذين ظلموا" چي ظلم يې پر خپلو ځانو کړی وي بالکفر والمعاصي.

فائده: حرف جر متعلق دی په مفهوم پوري د هذا کتاب ای انزل لتنذر.

وَبُشْرٰى لِلْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۲﴾

"وبشری" مصدر دی فعل محذوف ای لتبشر بشری بقرينة قوله لتنذر "للمحسنين" چي عملونه په احسان سره د خدای کوي كما جاء في الحديث الصحيح الذي رواه البخاري الاحسان ان تعبد الله كانك تراه الحديث.

فائده: ظالمان يوازې په مشرکانو پوري خاص نه دي بلکې د جملې ځخه د ظالمانو يهودان دي چي عزير ابن الله بولي، او نصاری دي چي عيسى ابن الله بولي، او دوی دواړو ډلو تغيير ورکړی دی و ذکر ته د محمد ﷺ او دده و نعوتو ته، په تورات او په انجيل کې د حرفو الكلم عن مواضعه فيكون النبي ﷺ نذيرًا لهؤلاء الطوائف وبشيرًا للذين آمنوا من هؤلاء بجميع الانبياء والكتب المنزلة، او هدايت يې پيدا کړی وي الى الصراط المستقيم.

إِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۱۳﴾

پوه سه: چي په دې آيت کي خدای جمع کړې ده بين التوحيد الذي هو خلاصة العلم واعظم العقائد الاسلامية ومدار جميع الحسنات العملية وبين الاستقامة في الدين التي هي منتهى الاعمال و كلمة ثم للدلالة على تراخي العمل من العلم.

"فلا خوف عليهم" نو هيڅ بېره نسته پر دوی يعني بعد الموت. دا قيد فقير وايه لان الايمان في الحيوة بين الخوف والرجاء، ودر حيوة الدنيا هر چند بخدا نزديکتر ميشود خوف زياده تر ميگردد، لكن بعد الموت د لحوق ځخه د هر مكروه در امن ميگردد. كريمه: يٰٓاَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ﴿۲۷﴾ ارْجِعِيْٓ اِلٰى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿۲۸﴾ فَادْخُلِيْ فِيْ عِبٰدِيْ ﴿۲۹﴾ وَادْخُلِيْ جَنَّتِيْ ﴿۳۰﴾

"ولا هم يحزنون" او نه به دوی غم کوي پر فوات د محبوب په ژوند کي.

فائده: كلمه د فاء يعني په فلا خوف آه لتضمن اسم ان يعني الذين قالوا آه معنی لره د شرط.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أُولَٰئِكَ أَصْحَٰبُ الْجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾

دغه مذکورين کسان ملازمين د جنت دي چي همېشه به وي په جنت کي يعني لايخرجون منها ولايذوقون الموت الا الموتة الاولى، ولا يهرمون او نه يې په مرور د ازمنة غير متناهية و قوة او شباب يې تغيير خوري، ونعيم الجنان لا ممنوعة ولا مقطوعة ابد الابدين، اللهم اجعلنا منهم آمين.

فائده: خالدين آه حال دی له ضمير مستتر په اصحاب کي عامل معنی د اشارة ده په اسم الاشاره کي يعني اؤلئک کما في قوله تعالى هذا بعلي شيخًا.

"جزاء بما کانوا يعملون" دا تهوله جزاء او ثواب دی د هغو چي دوی په دنيا کي کړي وه.

پوهه: چي کلمه د ما موصوله ده عائد يې محذوف دی ای يعملونه وذالک لان الدنيا مزرعة الآخيرة.

وَوَصَّيْنَا الْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ إِحْسَٰنًا ۖ

مونږ وصيت کړی دی وانسان ته يعني امر مو کړی دی، مفسرين وايي چي حرف التعريف په الانسان کي لپاره د عهد دی، والمراد به ابو بکر الصديق ﷺ، روی عن ابن عباس رضي الله عنه ان الآية نزلت في ابی بکر رضي الله عنه وهو المروي عن علي رضي الله عنه چي دده مور او پلار دواړه مسلمانان وه او د هيڅ مهاجر مور او پلار دواړه پر اسلام نه دي سره جمع سوي، او بعض مفسرين وايي چي کلمة د لام دي په الانسان کي لپاره د جنس وي که څه هم نازل په ابوبکر رضي الله عنه کي دی لکن دا خبره د وروسته سياق سره د آيت مناسب نه ده چنانچه وروسته به يې موږ درته وکړو ان شاء الله تعالى "بوالديه" متعلق بمحذوف ای ان يحسن بوالديه وهما ابو قحافة عثمان بن عمر چي د ابوبکر رضي الله عنه پلار ؤ، وام الخير بنت الخيبر بن صخر چي د ابوبکر رضي الله عنه مور وه "احسانا" کوفي قراء پر وزن د افعال وايي نو نصب مبني دی پر دې چي مفعول مطلق د تحسنوا دی او باقي قاريان حسنًا له باب څخه د مجرد فهو بدل اشتمال دی له بوالديه منصوب محمول دی پر محل د بوالديه ولې چي بوالديه مجرور دی لفظًا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا

چي په حمل کي د مور ؤ ذات کره فهو حال من حملته من ضمير حملت چي امه دی او حملاً ذاکره فهو مصدر په معنی د مشتقة دی "ووضعته کرهًا" چي دا لنګېدل هم ذات کره دی.

پوه سه: چي دا دوې جملې معترضه دي لپاره د تعليل د امر بالاحسان، وفيه اشارة الی مزيد استحقاق الام الاحسان، قال رسول الله ﷺ (في سؤال من سئل من اصل چي زه د چا سره صله رحمي وکړم؟) صل امک ثم امک ثم امک ثم اباک ثم ادناک فادناک. يا صله رحمي کوئ د نژدې قريب او د نژدې قريب لکه ورور، اکا وغيرهم.

وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُوْنَ شَهْرًا

او حمل د ولد يعني په رحم کي د مور او فصال په لغت کي د تي څخه پرې کولو ته وايي، لکن مراد دلته ځني رضاع ده يعني تی ورکول دي، تسمية الملزوم باسم اللازم "ثلثون شهرًا" دېرش مياشتي دي.

پوه سه: چي حمله و فصاله په تقدير د مضاف مبتداء ده او ثلثون شهرًا يې خبر دی، والتقدير مدة (دا مضاف محذوف دی) ای مدة حمله وفصاله مجموعتين (۳۰) مياشتي.

فائده: دا جمله د شدت مشقت د مور دی چي دېرش مياشتي چي دېره طويله مده ده مور د خپل عيال په تکليف مبتلاء ده.

مسئله: په دې آيت سره علماء د امت دليل وايي چي اقل مده د حمل شپږ مياشتي ده، ولي چي په بل ځای کي خدای پاک وايي "وفصاله في عامين" دوه کاله چي څلورويشت مياشتي ده له دېرش څخه کمي کړې شپږ مياشتي کېږي، وعلی هذا يعني چي اقل د حمل شپږ مياشتي ده اتفق الائمة، قتاده په خپل سند سره وايي چي په خلافت کي د عمرؓ يوه ښځه چا ده ته راوستل چي پر شپږ مياشتي لنګه سوې وه، عمرؓ د اصحاب کرامو سره مشوره وکړه چي پر دې ښځي رجم سته يعني چي زنا يې کړې ده، او څرنګه عليؓ ورته وويل لا رجم عليها، دليل يې په دې سره ووايه چي خدایؒ وحمله وفصاله ثلثون شهرًا، وقال وفصاله في عامين، نو دوه کاله چي (۲۴)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

میاشتي دي د (۳۰) میاشتو څخه کم حمل ته شپږ میاشتي پاتېږي، نو عمر رض بنځه نه کړه رجم، راوي وايي چي ثم بلغنا چي ولدت آخر بستة اشهر.

درويش وايي: چي په اكثره مدة الحمل كي اختلاف دی د ائمة الدين، په نېز د امام اعظم رح دوه كاله ده او د امام مالك رح څخه د پر روايتونه دي، څلور كاله پنځه كاله اووه كاله، او محمد بن ادريس الشافعي رح او بل روايت لكه مذهب د ابي حنيفه رح دليل د مذهب د ابی حنيفه رح قول د عائشه رض دی چي لايبقى الولد في بطن امه اكثر من سنتين، نه پاتېږي ولد په نس يعني په رحم كي د مور بالا تر دوه كاله الحديث.

پوښتنه: دا خو قول د دوی دی د رسول الله ﷺ خو نه دی، نو استدلال څرنګه په صحيح كېږي؟

ځواب: مقادير غير عقليه محمول دي پر سماع د رسول الله ﷺ.

حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَبَلَغَ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً ۙ

تر څو چي دی ورسېدی يعني زمانې ته د كامل عقل.

پوه سه: چي حتی متعلق دی په فعل محذوف سره چي معطوف دی پر وضعت تقديره وربياه حتى آه، او وبلغ عطف دی پر بلغ.

فائده: ابوبكر رض صحبت كړی دی د نبي كريم ﷺ چي ابوبكر رض د اتلسو كالو ؤ دا زمانه د بلوغ الاشد ده او رسول الله ﷺ په دغه وخت كي د شلو كالو ؤ او دا صحبت بې په تجارت كي ؤ شام ته ؤ چي په دغه وخت كي عليه الصلوة والسلام نبي نه ؤ. وروسته چي ابوبكر رض د څلوېښتو كالو سو نو عليه الصلوة والسلام د (۴۲) سو او نبي سو آمن آبو بكر رض بعث ﷺ، او ابوبكر رض خواست وكړی خدای ته او داسي بې وويل.

قَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِيْٓ اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلٰى وَالِدَيَّ

ماته الهام وكړې (او بعض مفسرين وايي چي معنی د وضع كف او منع ده يعني ما داسي وګرځوې چي د كفران څخه د نعمت ځان منع كړم) چي زه شكر ووايم ستا د نعمت چي پر ما دي كړی دی او زما پر مور او پلار دي كړی دی چي اعلی د ټولو نعمتو هدايت دی و اسلام ته او نور نعمتونه هم چي تا ماته او زما والدينو ته وركړي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاَنۡ اَعۡمَلَ صَالِحًا تَرۡضٰىهُ وَاَصۡلِحۡ لِیۡ فِیۡ ذُرِّیَّتِیۡ

"وان اعمل آه" عطف دی پر ان اشکر یعني چي زه داسي عمل صالح وکړم چي ته په راضي کېږې.

فائده: صالحاً يې نکره راوړی لپاره د تعظيم قال ابن عباس رض چي د ابوبکر رض دغه خواست خدای ج قبول کړی دی چنانچه ده نهه (۹) داسي مريان چي مؤمنان به وه او مالکانو به دوی ته پر ايمان سخت عذابونه ورکول، ولي چي مالکان بې مشرکان وه، نو ابوبکر رضي الله عنه به دغه مريان رانيول د مالکانو څخه د هغو او ازاد به يې کړه منهم بلال الحبشي رضي الله عنه چي تر ټولو سخت ترين عذاب يې ورکاوه، او داسي هيڅ د خير کار نهٔ چي ابوبکر رضي الله عنه دي د خدای عزوجل په توفيق سره په هغه کي لويه برخه نه درلوده، او دا دعاء يې هم وکړه.

"واصلح لي في ذريتي" او صالح کسان راکړې ماته زما په اولاد کي. زما توبه ده تاته له کفر څخه وعن کل ما لايرضى الله جل سلطانه، او زه له مخلصانو څخه يم په عمل کي، مظهري رح وايي چي د حتى اذا بلغ څخه تر اخيره پوري دليل ددې دی چي کلمه د لام تعريف په الانسان کي لپاره د عهد دی.

درويش وايي: چي د ابوبکر رضي الله عنه دا دعاء هم خدای ج قبوله کړې ده، ولي دده ټوله اولاد مؤمنان وه، نو ابوبکر رض اسلام د مور او پلار او دده اولاد ټوله ولا نعمة عظمى من ذالک.

فائده: ابو قحافه رض چي د ابوبکر رض پلار ؤ و زمانې ته د صحبت د رسول الله صلى الله عليه وسلم رسېدلی دی وابنه ابوبکر وابن ابی بکر عبدالرحمن بن ابی بکر وابن عبدالرحمن ابو عتيق رضي الله عنهم ولم يکن تلک النعم باجمعها لاحد من الصحابة رضي الله عنهم.

اِنِّیۡ تُبۡتُ اِلَیۡکَ وَاِنِّیۡ مِنَ الۡمُسۡلِمِیۡنَ ﴿۱۵﴾

زما توبه ده تاته له کفر څخه وعن کل ما لايرضى الله عزوجل، او زه له مخلصانو څخه يم په عمل کي، مظهري رح وايي چي د حتى اذا بلغ څخه تر اخيره پوري دليل دی ددې چي کلمه د لام تعريف په الانسان کي لپاره د عهد ده.

پوښتنه: په يو روايت کي خو داسي راغلي دي چي ابو قحابه رض په ورځ کي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فتح مکې مسلمان سو، او په دې وخت کې ابوبکر رضي الله عنه د شپېتو کالو ؤ، او نزول ددې آیت قبل الهجرة ؤ لأن السورة مکية حين بلغ ابوبکر رضي الله عنه اربعين سنة (۴۰) کان قحافة کافرًا، فکیف یقول ابوبکر رضی الله عنه انعمت علي وعلی والدي؟

ځواب: صحیح روایت دادی چې ابوبکر رضی الله عنه چې ایمان راوړی د اته دېرش (۳۸) کالو ؤ واسلم بعده ابویه سنتین چې د ابوبکر رضی الله عنه عمر څلوېښت کاله وګرځېدی فصح قوله تعالی وبلغ اربعین سنة، قال رب اوزعني الی اخیر الآیة چې په دې آیت کې دا کلمات راغلي دي "انعمت علي وعلی والدي الخ"، او بل ځواب دا هم دی چې پر تقدیر ددې چې نزول د آیت په مکه کې ؤ او اسلام د ابی قحافة وروسته تر فتح د مکې ؤ چې وصیت بالاحسان للوالدین الکافرین هم روا دی کما جاء في اول الآیة ووصینا الانسان بوالدیه حسنًا کما جاء في سورة العنکبوت ووصینا الانسان بوالدیه حسنًا وان جاهداک لتشرک بي ما لیس به علم فلا تطعهما (نو چې دوی یعني الوالدین کوشش کوي پر زوی چې ته خدای ته شریک ونسه نو خو دوی کافران دي) نو پر دې تقدیر مراد د انعمت علي وعلی والدي ما یعم نعمة الدین والدنیا، نو پر ابوبکر رضی الله عنه خو نعمت د دین او دنیا دواړه ؤ او پر والدینو یې یوازې نعمت د دنیا ؤ.

احتمال: که الف و لام په الانسان کې لپاره د جنس وي مراد په دې ایت کې دادی "انه اذا بلغ الانسان مبلغ الرجال شکر الله تعالی علی کمال جسده ثم اذا بلغ اربعین سنة شکر الله علی کمال عقله" ولې چې کمال العقل في الاغلب بعد بلوغ (۴۰) سنة وهذا هو السر چې اکثر د انبیاؤ علیهم السلام ته نبوت ورکړه سوی دی والله اعلم بالصواب وعنده علم ما في الکتاب.

درویش وایي: اګرچه روح البیان خپله رایه په دې باره کې چې دا آیت خاص په ابوبکر رضی الله عنه پوري دی صراحةً یې نه دی ذکر کړی لکن په قول د حسین کاشفي رحمه الله چې مصنف د تفسیر حسیني دی چې هغه قدیم تفسیر دی په فارسي ژباړه را نقل کړی دی داسي فهمېږي چې د روح البیان هم دغه رایه ده چې دا آیت په ابوبکر الصدیق رضي الله عنه پوري خاص دی، کاشفي رحمه الله وایي: اکثر مفسیرین برآنند که این آیت خاص است بابی بکر الصدیق رضی الله عنه الی اخیره کما مر قریبًا، او علامه بغدادي سید محمود آلوسي رحمه الله په روح المعاني کې په ابتداء کې ددې آیت د تفسیر یعني ووصینا الانسان آه داسې عبارت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راوړی دی، نزلت كما اخرج ابن عساكر من طريق الكلبي عن ابی صالح عن ابن عباسؓ في ابی بکر الصديقؓ الی قوله تعالی: وعد الصدق الذي كانوا يوعدون. وروسته علامه بغدادي دا قصه په تفصيل سره څيړلې ده تقريبًا په درو صفحو کې يعني ددې ترپايه پورې مع النقض والابرام وروايات حسنه.

درويش وايي: چې د قيلوله په وخت کې د ورځې د پنجشنبې (۲۷) شهر شعبان المبارک رئيت فيما يرى النائم كان قائلاً يقول... بيت:

الحمد لمن قدر خيرًا و خبالاً والشكر لمن خلق حسنًا و جمالاً

يعني تقدير د خير چې ټولو انواعو ته د خير شامل دی من الايمان والطاعة والصحة والغنى، او تقدير د خبال يې کړی دی چې ټولو اضدادو ته د خير شامل دی من الكفر والعصيان والمرض والفقر وغير ذالک، نو په نيم بيت فقير تبرک وکړی په تقديم د لفظ خيرًا "والشكر لمن خلق حسنًا و جمالاً" دا نيم بيت ټوله د تبرک وړ دی لان لفظ د حسن او جمال ظاهري او باطني حسن و جمال ته شامل دی كما لايخفى، دا جمله معترضه وه اوس بيرته د تفسير پر لور.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا

دغه کسان هغه کسان دي چې موږ ددوی څخه قبلوو هغه ډېر ښه د عملو ددوی.

يوه سه: چې که مراد له انسان څخه په اول کې د ايت جنس انسان وي، نو "اؤلئک" اشاره و ټولو موصوفين بالصفات المتقدمة ظاهره ده، او که مراد څني ابوبکرؓ وي فالمشار اليه هو ابوبكر الصديقؓ ومن مثله في الصفات المذكورة، ذکر د ابوبکرؓ د عموم په صورت کې داخل دی على سبيل الكناية وهو ابلغ من الصريح كما عرف في كتب علم البيان.

فائده: تخصيص د احسن چې يې وکړی ددې لپاره چې مباح خو هم حسن دی لکه خوراک، څښاک، لباس و غير ذالک لكن لايثاب عليه. کلمه د ما مصدريه ده يعني هغه ډېر ښه د عملو ددوی، او که ما موصوله وي نو عائد و موصول ته محذوف دی ای ما عملوه.

وَنَتَجَاوَزُ عَن سَيِّئَاتِهِمْ فِي أَصْحَابِ الْجَنَّةِ

او موږ تجاوز او عفو کوو د ګنهو ددوی يعني عذاب نه ورکوو پر يو شي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سیئاتو ددوی "في اصحٰب الجنة" خبر بعد الخبر د اولئک دی او یا حال دی له ضمیر مجرور څخه في سیئاتهم کي ای کائنون في اعدادهم او مثابین او معدودین في اصحاب الجنة.

وَعْدَ الصِّدْقِ الَّذِىْ كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ

("وعد الصدق" ای وعدت وعد الصدق، داسي مصدر ته مؤکد لنفسه وايي، ولي چي تتقبل او تتجاوز وعده ده) هغه وعد الصدق ده چي ددوی سره يې وعده کړه کېده په دنيا کي يعني په کتابو کي د خدای او يا پر ژبه د رسولانو د خدای يعني جزاء د انسان مذکور ده.

وَالَّذِىْ قَالَ لِوَالِدَيْهِ اُفٍّ لَّكُمَآ

او هغه څوک چي وه يې ويل مور او پلار ته چي نصيحت يې ورته کاوه چي ايمان راوړه پر توحيد د خدای "اف لکما" دا کلمه د کراهيت ده چي په وخت کي د دل تنګی له کار څخه يا له ګفتار څخه ويل کېږي.

یوه سه: چي والذي مبتداء ده خبر يې اولئک دی.

سوال: والذي خو مفرد دی او اولئک خو جمع دی؟

ځواب: د الذي مراد جنس دی فيکون جمعًا معنی.

اَتَعِدٰنِنِىْٓ اَنْ اُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ الْقُرُوْنُ مِنْ قَبْلِىْ

او تاسي زما سره وعده کوئ (همزه د انکار او توبيخ دی تعليل د تافيف دی) چي زه به را وځم له قبر څخه ژوندی بعد الموت يعني د بعث بعد الموت څخه منکر و، او حال دا دی چي ډېر قرنونه (يو قرن سل کاله دی) تر ما دمخه تېر سوي دي د مړو چي يو هم نه دی ژوندی سوی.

وَهُمَا يَسْتَغِيْثٰنِ اللّٰهَ وَيْلَكَ اٰمِنْ

او هغه دواړه يعني مور او پلار يې طلب د کومک کوي د خدای چي تا ته توفيق د ايمان درکړي، او يا معنی داده الغياث بالله منک پناه د خدای غواړو ستا څخه يعني ستا د انکار د بعث بعد الموت څخه "ويلک" هلاکت دی تا لره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(مصدر د فعل محذوف دی ای هلکت هلاکا والجملة مقدرة بالقول ای یقولان ویلک) "امن" ایمان راوړه پر خدای په توحید سره او په بعث بعد الموت سره.

فائده: جمله د وهما آه حال عن والدیه.

إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ فَيَقُولُ مَا هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٧﴾

په تحقیق وعده د خدای په بعث بعد الموت سره حق ده، دا جمله تعلیل ده د بالامر بالایمان سره، نو وویل ولد کافر و والدینو ته نه دی دا وعد بالبعث مگر درواغ د پخوانیو خلکو. بخاري په خپل سند سره وایي: چي معاویه مروان بن الحکم عامل گرځولی وُ پر حجاز، نو مروان خطبه وویل نو د یزید بن معاویه ذکر یې وکړی ددې لپاره چي خلک بیعت وکړي د یزید بن معاویه سره وروسته تر مرګ د معاویه نو عبدالرحمن بن ابوبکر یوه خبره وکړه (یعني د یزید نا اهلیت یې بیان کړی) نو مروان خپلو عسکرو ته وویل چي عبدالرحمن ونسئ، نو عبدالرحمن د عائشي چي دده خور وه په کور ننوتی، نو عسکرو دومره جرأت نسوای کولای چي د عائشي له کوره دې راوباسي، مروان وویل چي عبدالرحمن هغه سړی دی چي خدای دده په باره کي دا آیت نازل کړی دی "والذي قال لوالدیه اف لکما اتعد انني الآیة" نو عائشي من وراء الحجاب وویل: ما نزل فینا شیئًا من القرآن الا ان انزل عذري في القرآن (چي پر دې باندي تهمت د زنی مع صفوان بن المعطل منافقینو لګولی وُ چي قصه یې اوړده ده او مخته په تفسیر کي مفصلاً ذکر سوه) راوي وایي چي عبدالرحمن بن ابی بکر ته درد ورغلی پر خبره د مروان چي وروسته تر معاویه به دده زوی یزید خلیفه او امیر المؤمنین وي چي دا خو خوی د هرقلانو دی یعني د رومیانو چي سلطنت یې په میراث و زوی ته پاتیږي ثم و ثم (یعني یرث الابناء ملک الاباء) او د اسلام خو دا طریقه نه ده بلکي وروسته تر مرګ د خلیفه به اهل الحل والعقد نوی خلیفه ټاکي، الاتری چي امیر المؤمنین عمر چي ابو لؤلؤ المجوسي چي د یو صحابي مریی وُ د لمانځه د شروع په وخت کي په خنجر ووهه چي قصه یې اوږده ده، وروسته تر لمانځه چي عمر ته خپل د مرګ یقین سو، نو خپل زوی یعني عبدالله بن عمر یې مسلمانانو ته نه کړی معرفي په خلافت سره. بلکي امر د خلافت یې د شپږو صحابه وُ و مشورې ته وسپاره چي هغوی بیا عثمان وروسته تر ډېرو مشورو او بحثو خلیفه وټاکی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي ابن ابی حاتم له سدي ؒ څخه روايت کړی دی او هغه له ابن عباس ؓ څخه چي دا آيت نازل دی په عبدالرحمن بن ابی بکر ؓ کي وقال مثل قول مروان قال نزلت في عبدالرحمن بن ابی بکر ؓ قبل اسلامه ثم اسلم وحسن اسلامه.
مظهري ؒ وايي چي قيل دا آيت په عبدالرحمن بن ابی بکر ؓ کي نازل سوی دی چي پلار او مور به دی رابلی و اسلام ته ده به اباء کوله او داسي به يې ويل چي تاسي ماته راژوندي کړئ عبدالله بن جدعان او عامر بن کعب او مشائخ د قريشو چي له هغو څخه پوښتنه وکړم ستاسي د خبرو انتهی.
درويش وايي: چي سبحان الله هذا بهتان عظيم، ددې قول منشاء قول د مروان بن الحکم ده او قول د مروان مبني پر عناد وُ له خاندان سره د ابوبکر ؓ او شاهد قول د عائشې ؓ دی چي د مخه تېر سو چي دې انکار وکړی له دې څخه انيکون هذه الآية في عبدالرحمن بن ابی بکر ؓ، او حافظ ابن الحجر په شرح کي د بخاري وايي ونفي عائشة ؓ اصح اسنادًا و اولی بالقبول انتهی، وقال البغوي ؒ والصحيح انها (دا آيت نزلت في کافر عاق لوالديه)

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِي أُمَمٍ

ای وجب وثبت بانهم اهل النار.
بوه سه: چي مشار اليه په اولئک سره چي په اخير د تېر سوي آيت يې د اسي وويل ما هذا الا اساطير الاولين. له دې آيت څخه دا معلومه سوه چي سابق آيت په شان کي د عبدالرحمن بن ابی بکر ؓ نه دی نازل لانه من افاضل المؤمنين.
"في امم" جمع د امت ده، مراد ځني امم کافرة دي کلمة د في په معنی د مع ده

قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِم مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا خَاسِرِينَ ﴿١٨﴾

چي تېر سوي دي تر دوی دمخه "من الجن والانس" بيان د امم دی ای من کفرة الجن والانس. په تحقيق دوی له خاسرين څخه وه. يعني په لوی خسران او تاوان کي واقع کسان وه.
درويش وايي: چي جن يې تر انس دمخه کړی لا لشرفهم بل لان المقام مقام الاهانة، او جمله د قد خلت صفت د امم ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْاۚ

او د هر یوه لپاره درجې لوړې او کښته له جزاء څخه د هغه عمل د خیر چې دوی کړی وي په دنیا کې، یا یې ترجمه داده: من اجل جزاء ما عملوا، قال ابن عباسؓ چې مراد دادی چې وي صحابي چې سبقت کړی و اسلام ته فهو افضل ممن یخلف عنه ولو بساعة، وقال مقاتلؒ چې هر یوه لره فضائل دي بسبب اعمالهم، نو خدایؐ جزاء ورکوي پوره جزاء د اعمالو ددوی، او بعض مفسرین وایي: ولکل من الفریقین من المؤمنین والکافرین درجات ومراتب عندالله یوم القیامة فیجازیهم علیها مثلاً د اصحاب کرامو ﷺ مرتبه لوړه ده تر درجې د تابعینو او ددوی درجه لوړه ده تر تبع تابعینو و هکذا، وکذا مراتب الکفرة فمرتبة المشرکین لوړه ده په کفر کې تر یهودو او نصاریٰ و.

یوه سه: چې په قول د ابن زیدؒ درجات د کافرانو کښته ځي په دوزخ کې او درجات د مؤمنانو لوړي ځي په جنت کې.

وَلِيُوَفِّيَهُمْ اَعْمَالَهُمْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ۝

او چې پوره ورکړي خدایؐ (مظهريؒ وایي چې دا جمله معطوف ده پر علت د فعل محذوف، والتقدیر فعلنا ذالک او فعل الله ذالک لحکم ومصالح ولیوفیهم) "اعمالهم" ای جزاء ما عملوا في الدنیا، او پر دوی ظلم نه کول کیږي یعني د خدایؐ جل جلاله له خوا بنقص ثواب او زیادة عذاب مما یستحقونه باعمالهم.

وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَلَى النَّارِؕ

(عامل د یوم اذکر دی) یعني ذکر کړه و قوم ته خپل یا محمد ﷺ هغه ورځ چې پیش کړه سي هغه کسان چې په دنیا کې یې کفر کاوه پر اور باندې یعني د دوزخ یعني د عذاب لپاره ای یعذبون بها، روح البیان وایي چې عرض محمول دی پر تعذیب مجازاً مثل قولهم عرض الاساری علی السیف ای قتلوا. نو بناء پر دغه تفسیر هغه سوال نه وارديږي چې معروض علیه خو باید اهل شعور وي والنار لیست اهل الشعور واهل الشعور هم الکفرة دي، وکذا في المحاورة المذکورة اهل الشعور خو سیف نه ده بلکې مقتولین دي. او بعض مفسرین د دفع ددې سوال لپاره وایي چې اصل د کلام داسې و یعرض النار علیهم، نو عبارت یې واړاوه و مذکور عبارت ته مبالغة کما في قولهم عرضت الناقة علی الحوض اذا اصله عرضت الحوض علی الناقة فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِي حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا

تاسي وړی دی (ټوله مفسرين وايي چي د اذهبتم سره يقال مقدر دی) "طيباتكم" ای لذائذ كم هغه خواهشات نفسانيه په ژوند كي د دنيا يعني د خدای عزوجل له خوا تاسي ته مقدر وه، په هغو ټولو سره تاسي نفع واخسته (نو د هغو مقدره لذائذو څخه تاسي ته هيڅ شي نه دی پاته)

فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ

نه ورځ يعني ورځ د قيامت (كلمه د فاء لپاره د سبب ده يعني په سبب د هغه چي ټوله لذائذ تاسي ته په حيوة الدنيا كي ورسېده) تاسي ته جزاء يعني عذاب د اهانت او سپكاوي او ذلت دركول كېږي.

بِمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَفْسُقُونَ ۝

په سبب ددې چي تاسي واست (په دنيا كي) كبر مو كاوه په مځكه كي بېله حقه چي ايمان مو پر محمد ﷺ نه راووړی چي دا ستاسي عصيان قلبي ؤ او په سبب ددې تاسي فسق كاوه په مځكه كي بترك المأمورات الشرعية كالصلوة وغيرها، او راتك مو كاوه په منهياتو سره لكه زني وغيره، وهذا ذنب الجوارح.

نكته: استكبار يې دمخه كړی تر فسق لان ذنب القلب اعظم تاثيرًا من ذنب الجوارح.

درويش وايي: چي استكبار قلبي سبب دی د عصيان الجوارح تاسي نه وينئ چي ابليس عليه اللعنة اولاً كبر مختاره كړی حين امر بالسجود لآدمؑ، وقال انا خير منه وروسته يې عصيان الجوارح پر بناء كړی وهو ترك السجود لآدمؑ. بغويؒ وايي چي خدای پاك توبيخ د كافرانو وكړی چي تاسي ته تمتع په دنيا كي دركړه سوه، نو له دې كبله رسول اللهﷺ واصحابه الكرامؓ پرهېز كاوه د لذائذو څخه د دنيا او اكتفاء يې كول بما يكفى من ادنى شيئ رجاء الثواب في الآخرة. بخاري او مسلمؒ په خپلو كتابين صحيحين كي له عمرؓ څخه روايت كړی دی چي زه ورغلم و رسول اللهﷺ ته (يعني چي دی په لوړ اوطاق كي ؤ چي مشربة يې باله د ازواجو مطهراتوؓ څخه يې يوه مياشت ګوښه نشيني مختاره كړه چي دویؓ له دهؑ څخه طلب د ډېري نفقې او د استراحت د ژوند طلب كړی ؤ) فاذا هو مضطجع (دی مبارك پروت ؤ) على رمال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حصر ليس بينه و بينه فراش (نهٔ په مابين کي دده د مبارک بدن او د تارو د بوريا هيڅ فراش يعني پر بوريا باندي هيڅ شی نهٔ و اوار) قد اثر الرمال بجنبه (چي لرګو د بوريا دده په بغل کي تاثير کړی ؤ يعني تغمې يې پکښي پيدا کړي وې او عليه الصلوٰة والسلام تکيه کړې وه پر يو بالښت د څرمنې او په مابين کي د بالښت ليف د خورما وې يعني خاشې د خورما) قلت يا رسول الله ﷺ ته دعاء وکړه و خپل امت ته چي خدای ﷻ فراخي پر جوړه کړي او سره ددې چي پر فارسيانو او روميانو خدای ﷻ ډېره فراخي جوړه کړې ده، وهم لايعبدون الله، قال او في هذا انت يا ابن الخطاب؟ (ته په دې خبره پسې راغلی وې ای ابن خطابه؟) اولئک قوم عجلت لهم طيباتهم د روميانو او د فارسيانو هغه کسان چي چي دوی ته يې برخه د لذائذو په دې دنيا کي ورکړې ده، وفي رواية اما ترضى ان تکون لهم الدنيا ولنا الآخرة؟ (ته نه يې راضي چي دوی لره دنيا وي يعني نعيم د دنيا وي او موږ لره نعم آخرت وي) په بخاري او مسلم کي د عائشې ؓ روايت دی چي: ما شبع آل محمد ﷺ من خبز الشعير يومين متتابعين (يعني نه دي ماړه سوي کورو الاد محمد ﷺ د ډوډۍ څخه د اوربشو دوې ورځي پر له پسې) حتى قبض رسول الله ﷺ (تر څو چي رسول الله ﷺ وفات کېدی) وروی البخاري عن ابی سعيد المقبري ؒ عن ابی هريرة ؓ چي ابو هريره ؓ تېر بدی پر يوه قوم چي د دوی پر ستر خوان پسه پروت ؤ چي په تناره کي يې پوخ کړی ؤ چي مصلية يې بولي، او بعض وايي چي مصلية کباب کړي پسه ته وايي، نو هغو و ابو هريره ؓ ته دعوت ورکړی يعني چي راسه زموږ سره دا غوښې وخوره، فأبى ان يأکل ده منع ورته وکړه او داسي يې ورته وويل: خرج النبي ﷺ من الدنيا ولم يشبع من خبز يعني يومين متتابعين کما مر في حديث مسلم و بخاري قريبًا، وعن عائشة ؓ کان يأتی علينا شهر (پر موږ به تېره سوه پوره يوه مياشت) ماتوقد فيه نار (چي په دې مياشت زموږ په کورو کي اور نه دی بل سوی تعني د اور د پخېدو شی نه دی پيدا سوی) وما هو الا الماء والتمر (يعني نهٔ و طعام زموږ مګر اوبه او خورما وه) غير ان جزى الله النساء من الانصار خيرًا ربما اهدين شيئًا من اللبن. وروی احمد والترمذي وابن ماجه عن ابن عباس ؓ قال کان رسول الله ﷺ يبيت الليالي المتتابعة طاويا هو واهله (و رسول الله ﷺ شپې به يې تېرولې پرله پسې چي هيڅ شی به يې نهٔ خوړلی ده او اهل دده) لايجدون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عشاء (د ماښام ډوډۍ به یې نه درلوده) وکان اکثر خبزهم الشعیر (او اکثره ډوډۍ ددوی به له اوربشو څخه وه چې هغه به هم ایام متتابعه نه پیدا کېدل) لقد اخفت في الله (زه بېرول کړه سوی یم یعني د کفارو د مکې له خوا په لار کې د خدایﷻ یعني تبلیغ د توحید د خدایﷻ) وما یخاف احد (او نه دی بېرول کړه سوی هیڅ څوک یعني ما غوندي) ولقد اذیت (او ماته راکړه سوی دی اذیت یعني د قریشو له خوا) في الله وما یؤذی احد یعني مثلي ولقد اتت علي ثلاثین بین لیلة ویوم (لام جواب د قسم محذوف دی ای والله په تحقیق راغلی پر ما دېرش په مابین کې د شپې او ورځې) ومالي ولبلال طعام یأکله ذو کبد (او نه ؤ ما لره او بلال لره دومره طعام چې وه یې خوري ذو کبد (کبد هینې ته وایي) یعني یو انسان) الا شیئ یواریه ابط بلال (مګر دومره قدر طعام چې هغه به پټ کړي بغل د بلال یعني د بلالؓ په بغل کې به څه طعام ؤ.

درویش وایي: والله اعلم من ای کان ذالک الطعام د غنمو ډوډۍ او که د اوربشو ټیکۍ، ترمذي وایي چې علیه الصلوة والسلام تلی د مکې څخه ومعه بلالؓ. وروی البخاري عن انسؓ انه مشی (ده ورووړل الی النبيﷺ بخبز شعیر اوربشینه ډوډۍ) و اهالة سنخة (او یو څه موږ غوړي چې هغه یې هم بوی تغیر خوړلی ؤ)

درویش وایي: چې داسي خورک د ډېري لوږي له کبله کېږي او په اوسنۍ زمانه کې به یې څوک ونه خوري الا ماشاء الله من محبوس في ایدي الکفرة، لکه په دې وخت کې امریکایان په افغانستان کې یعني سنه (۱۴۳۰-۱۴۳۱-۱۴۳۲) حضرت انسؓ وایي: چې والله ګرو ایښې وه نبيﷺ خپله زغره (چې په جنګو کې د اغوستلو قمیص ؤ چې په هغه وخت کې هر چاته ډېر محترم ؤ) په مدینه کې و یوه یهودي ته او د هغه څخه یې څه مقدار اوربشي اخستي وې د کور لپاره، او بخاري له انسؓ څخه روایت کړی دی چې ما له علیه الصلوة والسلام څخه اورېدلي دي چې ده وویل: چې نه دی ماښام کړی عند آل محمد (ﷺ) صاع بر (یوه کاسه د غنمو) ولا صاع حب (او نه یوه کاسه د نورو دانو لکه اوربشي، جوار وغیرهما، او حال دا ؤ چې دده مبارک نهه (۹) ازواج مطهراتيؓ وې، وروی الترمذي عن ابی طلحةؓ چې موږ شکایت وکړی و رسول اللهﷺ ته د لوږي، فرفعنا عن بطوننا عن حجر حجر (نو موږ هر یوه د خپلو نسو څخه هر یوه یوه یوه ډبره) فرفع رسول اللهﷺ عن بطنه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عن حجرين (نو رسول كريم ﷺ د خپل نس مبارک څخه ښکاره کړې دوې ډبرې.

پوښتنه: د ډبرو تړل پر نس باندې څه فائده لوړې ته رسوي؟

ځواب: چونکه معده چې د خوړولو ځای خالي وي د معدې مشين ګرمېږي او خواږه غواړي او ډبره چونکه مشين د معدې سړوي د نورو خوړو خواهش يې في الجملة په کمېږي، پر موټر باندې يې قياس کړئ چې اوبه يې کمې سي ګرمېږي او به غواړي ورنه مشين يې جامېږي فتدبر. ترمذي وايي: هذا حديث غريب.

پوهه: چې د غريب معنى دا نه ده چې حديث صحيح نه دی، بلکې راويان يې کم دي، مسلم له عبد الرحمن رض څخه روايت کړی دی چې درې کسه و عبد الله بن عمر رض ته راغله زه هم هورې وم نو دوی وويل يا ابا محمد چې د عبد الله بن عمر رض کنيت و، والله ما نقدر على شيئ ولا نفقة ولا دابة و لا متاع، نو عبد الله بن عمر رض دوی ته وويل: ما شئتم؟ ستاسي څرنګه خوښه ده، که مو خوښه وي رجعتنا الينا فاعطيناكم ما يسر الله لكم (ما ته به راسئ هغه څه به مونږ درکړو چې خدای ج تاسي ته اساني جوړه کړي يعني تاسي ته اسانه وګرځوئ) وان شئتم ذكرتم امركم الى السلطان (او که مو خوښه وي زه به ذکر کړم ستاسي حال او مسکنت وسلطان ته چې هغه به د بيت المال د لاري څخه کومک درسره وکړي) وان شئتم صبرتم (او که ستاسي خوښه وي پر دغه مسکنت صبر وکړئ (فاني سمعت رسول الله ﷺ يقول ان فقراء المهاجرين يسبقون الاغنياء يوم القيامة الى الجنة باربعين خريفًا (۴۰ کاله) قالوا فانا نصبر ولا نسئل شيئًا يعني لا منك ولا من السلطان ولا غيره لان نعيم الآخيرة خير وابقى.

وروى احمد عن معاذ بن جبل رض چې رسول الله ﷺ دی استاوه و يمن ته يعني د والي په توګه، اياک و التنعم (چې پرهېز کوه د ډېر نعمت خوړلو يا اغوستلو څخه) فان عباد الله ليسوا بالمتنعمين (ولي خاص بندګان د خدای ج متنعمين نه وي، ولنعم ما قيل:- بر فلک برتر بود اسرار او شيئًا لله شيئًا لله کار او

او بيهقي رح له علي کرم الله وجهه څخه روايت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ من رضى باليسير من الرزق (يعني په لږ رزق سره راضي وي رضى الله تعالى عنه بالقليل من العمل (اى الطاعة) بغوي رح له عبد الرحمن بن عوف رض څخه روايت کړی دی چې ده ته چې روژه يې وه د روژمات پر وخت کور والاؤ يو ښه طعام راوړی، ده چې دې موزون طعام ته وکتل داسي يې وويل: قتل مصعب بن عمير رض وهو خير مني (چې په يوه ليک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داره جامه کي یې ویېچې چې بردې یې هم بولي، په امر د علیه الصلوة والسلام نو چې سر به یې وریټ کړی پښې به یې ښکاره پاتې سوې او که به یې پر پښو وروا چاوه سر به یې لغړ پاتې سو، اخیر یې پر سر وروا چاوه او پر پښو یې د اذخر وابنه وروا چول) راوي وایي چي زما خیال دی چي دا سي یې هم وویل: قتل حمزة ؓ وهو خیر مني) ثم بسط لنا من الدنیا (وروسته تر هغو پر اخې جوړه سوه پر موږ د دنیا) او قال اعطنا الدنیا وقد خشینا ان تکون حسناتنا عجلت لنا (او زه بېرېږم چي زموږ د نېکو عملو ثواب به خدای په دې دنیا کي راکړي) ثم جعل یبکي حتی ترک الطعام (نو یې په ژړا شروع وکړه هغه موزون طعام یې پرېښو) البته روژه به یې په اویو ماته کړې وي.

له جابر بن عبد الله ؓ څخه روایت دی چي عمر بن الخطاب ؓ غوښې ولیدلې معلقا في یدي فقال: ما هذا یا جابر؟ قلت اشتهیت لحمًا فاشتریته (نو ده ماته وویل چي دا څه شی دي ستا په لاس کي یا جابر؟ نو ماته ورته وویل چي غوښو ته مې هوا وسوه نو دا مې رانیولې یعني چي کور ته به یې پخې کړم او وه یې خورم) فقال عمر ؓ یا جابر کلما اشتهیت اشتریت اما تخاف هذه الآیة (له دې ایة څخه نه بېرېږي "اذهبتم طیباتکم في حیاتکم الدنیا" او په بل روایت کي د جابر ؓ راغلي دی چي عمر بن الخطاب ؓ ماته وویل: اما یحب احدکم ان یطوي بطنه لجاره وابن عمه (دا د یوه ستاسي نه ده خوښه چي خپل نس خالي او وږی پرېږدي د همسایه لپاره او د اکا د زوی لپاره یعني هغه چي وږی وي هغو ته یې ورکوي) او روایت کړی دی رزین د زید بن اسلم ؒ څخه چي یوه ورځ عمر ؓ وږی ؤ او به یې وغوښتلې، نو یو خادم یا بل چا اوبه ورته راوړې چي عسل به ورسره گډ کړي، نو عمر ؓ وویل دا خو طیب اوبه دي لکني اسمع الله عزوجل تعبي (عیب یې وو ایه) علی قوم شهواتهم (د شهوت شیان) فقال اذهبتم طیباتکم في حیاتکم الدنیا واستمتعتم بها. فاخاف ان تکون حسناتنا عجلت لنا فلم یشربه) هغه اوبه یې ونه څښلې.

درویش وایي: چي د دې آیت له سببه چي اصحابو کرامو ؓ طیبات نه خوړل او نه یې څښل او سره د دې چي دوی ښه پوهېدل چي دا آیت د کفارو په باره کي نازل سوی دی بیا هم د اصحابو ؓ دومره خوف او بېره وه چي که موږ طیبات په دنیا کي استعمال کړو موږ ته به هم وویل سي اذهبتم طیباتکم الآیة.

نکته: قرب د خدای ﷻ چي هر څومره ډېرېږي خوف الهي هغو نه ورسره ډېرېږي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كما يدل عليه الاحاديث المذكورة في هذا الباب.

درويش وايي: ومثل هذه الروايات المذكور كثيرة في هذا الباب تركناها لخال الطول.

وَاذْكُرْ أَخَا عَادٍ إِذْ أَنذَرَ قَوْمَهُ بِالْأَحْقَافِ

او ذكر كړه يا محمد (ﷺ) و اهل مكه ته قوي سړى د قوم عاد چي هغه هود ﷺ و. هغه چي ويې ېرولې قوم خپل (چي د عاد په نامه ياد ېدل) په احقاف كي.

پوه سه: چي كلمه د با په معنى د في ده اى في الاحقاف، ابن عباس‌رض وايي چي احقاف په مابين كي د عمان او مهرة واقع دى، او مقاتل‌رح وايي چي منازل د عاد په يمن كي وه في حضرموت بموضع يقال له مهرة چي تنسب اليها الابل المهرية، روح البيان وايي چي احقاف رېگستان بود نزديک حضرموت ولايت يمن جمع حقف وهو رمل مستطيل مرتفع فيه انحناء، وكانوا من قبيلة ارم وقال قتادة ذكرلنا ان عاداً يوه قبيله وه په يمن كي كانوا اهل رمل (رېگستان) مشرفين على البحر لوړ وه پر درياب بارض يقال لها يشجر.

درويش وايي: چي د ټولو تفاسيرو د احقاف مآل يو دى چي په پښتو ژباړه رېگنه مځكه ده لكه غرونه، لوى لوى غونډۍ پكښې وي چي دا رېگستان اوږد كوږ و او درياب ته نژدې و، او اهل احقاف لكه پونده خلگ په دوبي يو ځاى په پسرلي بل ځاى او په ژمي بل ځاى اوسېدل لكن په ژمي خپل كورو ته راتله، وعن علي ﷺ واد بين وادي الاحقاف وادي حضرموت چي برهوت يې هم بولي.

وَقَدْ خَلَتِ النُّذُرُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿۲۱﴾

او په تحقيق تېر سوي دي ېرونكي يعني رسولان دمخه تر هود‌ع لكه نوح‌ع وغيره او وروسته تر هود‌ع لكه صالح، لوط ابراهيم وغيرهم عليهم السلام، دا چي تاسي عبادت مه كوئ د غير د خداى ''اني اخاف آه'' زه ېرېږم پر تاسي (كه عبادت ته د غير الله دوام وركړئ) له عذابه د لوى ورځي يعني عظيم بلائه كه څه هم عظيم صفت د يوم دى.

اعراب: جمله د وقد خلت آه حال ده له فاعل څخه د انذر، جمله ''ان لا تعبدوا آه'' مفسره ده د انذر، جمله ''اني اخاف آه'' علت ده د لاتعبدوا الا الله ''عذاب يوم عظيم'' ته وصف بحال المتعلق وايي نحو زيد كريم ابوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالُوٓا أَجِئْتَنَا لِتَأْفِكَنَا عَنْ ءَالِهَتِنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ﴿٢٢﴾

قوم يې ورته وويل آيا ته راغلى يې مونږ ته (الاستفهام للتقرير) چې مونږ مصروف كړې يعني واموروې له عبادت څخه د خدايانو زمونږ يعني چې بتان دي، نو ته مونږ ته راوله هغه عذاب چې زمونږ سره يې وعده كوې كه مونږ د بتانو عبادت پرې نږدو، كه ته يې د رشتيا ويونكو د جملې څخه.

قَالَ إِنَّمَا ٱلْعِلْمُ عِندَ ٱللَّهِ وَأُبَلِّغُكُم مَّآ أُرْسِلْتُ بِهِۦ وَلَـٰكِنِّىٓ أَرَىٰكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ ﴿٢٣﴾

هود ورته وويل چې نه دى علم د عذاب مستقبل چې مقدر دى مگر په نيز د خداى دى، هود په دې كې اشاره ودې ته وكړه چې بالفعل كه عذاب واقع نه سي دا ددې سببه نه دى چې زه كاذب يم په دعوى كې د رسالت لانه لامدخل لي في العذاب بلكې زه "وابلغتكم ما ارسلت" زه تاسي ته تبليغ كوم د هغه شي چې زه په استول سوى يم من التوحيد والاحكام او اخبار په دې سره چې نزول د عذاب به پر تاسي راسي كه تاسي ايمان رانه وړى "ولكني اراكم آه" لكن زه تاسي وينم داسي قوم چې نه پوهېږي په دې چې معبود بالحق او قادر مطلق خداى دى او رسولان صرف منذرين دي او مبلغين دي لا معذبين يعني تعذيب وركونكى ځني مراد دى او عذاب وركونكى خداى دى متى شاء.

درويش وايي: چې علم پوهان د نړۍ وايي چې جهل دوه قسمه دى، يو جهل مركب بولي هغه دادى چې يو سړى پر غلط مذهب او دين وي يعني په هغه ناخبره وي لكن پر جهل علم نه لري، دده يقين وي چې زه پر حق مذهب او دين يم كفار و ددينا هر قسم كافر چې وي كه مشرك وي او كه مجوسي او كه دهري او كه يهودي او كه نصراني وغير ذالك او ټوله فرق د ضلال لكه معتزله، شيعه، كراميه، روافض، خوارج الى غيرها مما اخبر به المخبر الصادق ﷺ ستفترق امتي على (۷۳) فرقة كلهم في النار الا الناجية الى اخير الحديث. ټوله په جهل مركب مبتلا دي، ولنعم ما قيل في بيان الجهل المركب:

آن كس كه نداند وبداند كه بداند — درجهل مركب ابد الدهر بماند

او بل جهل بسيط دى چې پر واقع علم نه لري او پر خپل جهل علم لري، ولنعم ما قيل في بيانه:

آن كس كه نداند وبداند كه نداند — او اسپ خود از گنبد فيروز جهاند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې پر هر سړي لازمه ده چې واجبات د دين اسلامي به ټوله پېژني تاچي اداء يې کړي کما امر بها، او دغه هم لازمه ده چې منهيات شرعيه به هم ټوله پېژني تاچي ځان ځني وساتي، په روح البيان کي راغلي دي چې يو عابد صالح سړی ؤ لکن قليل العلم بالاوامر والمنهيات خانه نشين ؤ او مريدان يې درلوده نکاح يې نه وه کړې په دې سبب چې د خدای ٔ له عبادته سړی باسي، نفقه غواړي الى غير ذالک اخير شهوت ډېر زور پر وکړی يوه خره يې رانيول چې که يو وخت قضاء شهوت ته مجبور سي پر دې خره به يې کوي، دا خره مريدانو ډېره ښه ساتل، يوه ورځ ددې صالح سړي زيارت ته يو عالم ورغلی دده په کارو بار کي يې فکر وواهه چې دی چې په کور کي يوازي ژوند کوي او ځان يې عبادت ته د خدای ٔ فارغه کړی دی، نو دا خره دده په کور کي څه کوي؟ نو يې په سرای کي د خرې د ساتلو پوښتنه ځني وکړه، عابد جاهل ورته وويل چې له زنى څخه مي په دې ځان ساتلی دی چې شهوت غلبه رابانديٍ وکړي، عالم ورته وويل چې دا خو هم حرام کار دی ولي چې رسول کريم ﷺ له دې څخه نهي کړې دي، عابد ډېر وژړل او وه يې ويل چې نه وم خبر توبه يې وکښه او پر ما مضٰى يې ډېره پر وژړل، سمدستي يې مريدانو ته وويل چې ماته ماينه راپيدا کړئ، هغو يوه ښځه په نکاح ور وغوښتل انتهى بحاصله.

فَلَمَّا رَاَوْهُ عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ اَوْدِيَتِهِمْۙ قَالُوْا هٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَاؕ

نو چې دوی وليدی عذاب (الضمير راجع الى ما تعدنا وهو العذاب) په صورت کي د وريځي چې ښکاره سوه په عرض کي د اسمان چې روانه وه ددوی د شېلې پر خوا، بعض روايات داسي راغلي دي چې تر دې دمخه پر دوی دوه کاله باران بند ؤ ابتلاء لهم بالعذاب لعلهم يؤمنوا، او بعض روايات وايي چې پر دوی باندي اته ورځي او اووه شپې سخته ګرمي خدای پاک مسلطه کړه چې دباندي خو څه کوي په خونو کي دننه سېلاب د خولو يې پر بدنو روان ؤ، دوی خوشحاله سوه او داسي يې وويل "قالوا هذا عارض ممطرنا" يو و بل ته يې استبشارًا وويل چې هغه ده وريځ راغله چې پر موږ به باران وکړي (يعني قحط به دفع سي يا هغه ګرمي. هود ٔ ورته وويل چې عارض ممطرنا نه ده لکه تاسي چې ګمان کوئ)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهٖ ۚ رِيْحٌ فِيْهَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝

بلکې هغه عذاب دی چې تاسي يې له هود څخه ډېر راتګ طلب کاوه، دا يو داسي باد دی چې په دې کي عذاب دی دردونکی "ريح" خبر لمبتداء محذوف ای هي ريح "فيها عذاب اليم" صفت د ريح دی "ريح" مؤنث سماعي دی.

تُدَمِّرُ كُلَّ شَيْءٍۢ بِاَمْرِ رَبِّهَا

چي هلاکوي هر شی يعني من انفسهم و من اموالهم من المواشي والزروع والبساتين وغيرها، يعني چي دا باد پر هغه شي تېرسي "بامر ربها" يعني طبعي کار د باد نه دی بلکې دا چار چلند په امر د خدای دی.

تاريخ وايي: چي ښځه يا کجاوه به يې د اسمان پر خوا دومره پورته کړه چي د سرې به خيال سو چي مچخ دی، راوي وايي چي اول چي دوی پوه سوه چي عذاب دی داؤ چي د عاد هغه کسان چي خارج به وه د وطن څخه د دوی يا هغه مالونه يعني مواشي د دوی باد ټوله پورته کړي وه په مابين کي د اسمان او د مځکي پر کور خلګو چي دا وليدل په خونو ننوتل او دروازې يې په ځان پسي بندي کړې، باد به ورغلی دروازې به يې ورماتي کړې دوی به يې راويستل هوا ته به يې پورته کړل، بيا باد خدای پاک امر کړی چي د دوی پر ټولو بدنو رېګ راوا روي، نو باد هم هغسي وکړه چي د دوی بدنونه اووه شپې اته ورځي تر رېګو لاندي وه، بيرته خدای پاک باد امر کړی چي د دوی اجساد لڅ کړي چي وراسته او بد بوي به سوي وه بيا خدای پاک باد امر کړی چي دا ټوله درياب ته وغورځوه.

فَاَصْبَحُوْا لَا يُرٰٓى اِلَّا مَسٰكِنُهُمْ ۚ كَذٰلِكَ نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِيْنَ ۝

نو دوی وګرځېدل يعني قوم عاد چي نه معلومېدل بيله کورو د دوی، دا غه رنګه مونږ جزاء ورکوو هغه قوم ته چي مجرم وي، يعني الکافر المتمرد الباغي على الله ورسوله "فاصبحوا" عطف دی پر قال الله "کذالک" ای جزاء مثل هذا الجزاء.

پوښتنه: پر هود په قرار د تاريخ لږو کسانو ايمان راوړی و نو هغه په دې دوران کي چېري وه؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: چي باد را نه ؤ را الوتی خدای پاک هود ؑ امر کړی چي د مؤمنانو لپاره یوه خطیره جوړه کړه او دی و مؤمنان په هغه خطیره کي کښېنئ باد کار نه په لړي، خطیره د لرګو او وښوو څخه مرکب د یوال ته وایي لکه د پسو ګاش. او بعض وایي چي صرف خط یې پر را وګرځاوه دا باد پر مؤمنانو او هود ؑ لکه باد صبا ښه سوړ او نرم تېرېدی. او خدای پاک و هود ؑ ته د قوم تر هلاک وروسته یو سل او پنځوس کاله عمر وکړی.

درویش وایي: چي مظهري تفصیلاً او روح البیان هم د عائشي ﷺ څخه روایت کړی دی چي وریځ یا باد به سو د رسول اللّٰهﷺ مخ مبارک به تغییر محسوس کړی یعني لکه یو سړی چي وېرېږي. بغوي ؒ وایي چي عائشي ﷺ و علیه الصلوٰة والسلام ته وویل یا رسول الله خلک چي وریځ ووینې خوشحالي کوي په امید د دې چي اوربښت به وسي او ته چي وریځ ووینې عرف في وجهک الکراهة. مطلب د دې دا ؤ چي سبب د تغییر الوجه او د کراهت سبب ځان ته معلوم کړي. فقالﷺ یا عائشة ما یؤمنوني ان یکون فیه عذاب قد عذب قوم بالریح. او دې قوم چي عذاب ولیدی فقالوا هذا عارض ممطرنا. او بل حدیث د سیدتنا عائشة ﷺ راغلی دی چي هغه وخت چي باد تند سو. قال اللهم اني اسئلک خیرها وخیر ما ارسلت به (یعني المطر) واعوذ بک من شرها وشر ما فیها وشر ما ارسلت به (یعني لقوم هود) چي باران به شروع سو د علیه الصلوٰة والسلام به کرب او بېقراري ولاړه او رنګ مبارک به یې پر خپل حال سو.

درویش وایي: چي دا حدیث بخاري او مسلم هم روایت کړی دی. وروی مثله بادنی اختلاف الفاظه ابو داؤد، والنسائي، ابن ماجه، والشافعي. وروی عن عباس ؓ مثله. وکذالک رواه البیهقي.

وَلَقَدْ مَكَّنّٰهُمْ فِيْمَآ اِنْ مَّكَّنّٰكُمْ فِيْهِ

لام مؤطئه د قسم دی، موږ لوی قدرت ورکړی ؤ عادیانو ته په اجسامو کي او په اموالو کي.

پوښتنه: چي کلمه د ما موصوله ده یا موصوفه ده او کلمه د ان نافیه ده.

پوښتنه: کلمه د ما یې د نفي لپاره نه راوړه؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: تاچي تکرار د يوه لفظ د ما لازم نسي، والمعنی في الذي (چي ما موصوله سي) او في شيئ (که ما موصوفه سي) والمراد من الذي او شيئ هو القوة، او مال چي تاسي ته يا اهل مکه هغو ته تمکين نه دی درکړه سوی.

والحاصل: چي هغه عاديان موږ په باد سره هلاک کړه، نو ستاسي هلاک يا اهل مکه تر هغو اسانه دی ظاهرًا وان کانا دواړه متساييان بالنسبة الی قدرة خالق القوي والقدر، مقصد دادی چي تاسي اهل مکه بايد د هلاک څخه د عاديانو عبرت واخلئ او ايمان راوړئ بمحمد ﷺ.. بيت:

پند گير از مصائب ديگران ..... تا نگيرند ديگران ز تو پند

وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَّاَبْصَارًا وَّاَفْـِٕدَةً

موږ کړخولي وه يعني خلقنالهم "سمع" چونکه مصدر دی پر قليل او کثير يې اطلاق کيږي، فلا يرد ان الخلق الکثير لايکون له سمعًا واحدًا وهذا قول المفسرين بمعنی اسماعًا "وابصارًا" سترګي "وافئدة" جمع د فواد ده يعني قلوبًا تاچي وپيژني په هغو زړو دغه نعم الهية او دليل و وايي پر خالق د هغو شيانو او شکريې بالايمان بالتوحيد ووايي او قول ته د هود" غاړه کښېږدي.

فَمَآ اَغْنٰی عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ اَبْصَارُهُمْ وَلَآ اَفْـِٕدَتُهُمْ مِّنْ شَيْءٍ

پس فائده ونه رسول دوی ته سمع ددوی او نه سترګو ددوی او نه زړو ددوی هيڅ فائده (کلمه د من زائده ده لپاره د استغراق د نفي ای شيئًا من النفع بشيئ من الاشياء المذکورة)

اِذْ كَانُوْا يَجْحَدُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۲۶﴾

ولې چي دوی وه چي د آياتو څخه د خدای چي معجزات د هود" وې جحد کاوه "وحاق" ای نزل پر دوی هغه شی چي دوی په هغه سره پسخند واهه چي اتيان د عذاب دی ان لم يؤمنوا په خوله د هود النبي ﷺ.

وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُمْ مِّنَ الْقُرٰی وَصَرَّفْنَا الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۷﴾

او په تحقيق موږ هلاک کړی شاوخوا ستاسي يا اهل مکة "من القری" ای من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اهل القری لکه حجر د ثمود او مڅکه د سدوم چې د قری ؤ د قوم لوط وه، او مونږ مکرر راوړی دی د دلائلو او بیناتو یعني په بیان د قصص د قری مهلکه په قرآن کریم کې. لعل په معنی د لام کی دی ای لکی یرجعوا اهل مکة عن کفرهم.

پوښتنه: د مخه یې اهل مکه مخاطب کړه په ماحولکم کې او د لعلهم ضمیر او یرجعون چې هم مراد ځنې اهل مکه دي غائب یې راوړی فائده یې څه ده؟

ځواب: دا له محسناتو څخه د عربي لسان دی چې په علم المعاني کې دې ته التفات وایي چې شپږ قسمه دی یعني د تکلم و خطاب ته، یا غیبت ته د خطاب غیبت یا تکلم ته د غیبت څخه و خطاب ته یا تکلم چې مثالونه د ټولو په قرآن کریم کې موجود دي او اهل د علم المعاني ټوله بیان کړي دي فافهم.

فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قُرْبَانًا اٰلِهَةً ؕ

نو ولې مرسته نه کوي ددوی سره او نه منع کوي من عذاب الله اذا وقع (بحذف المفعول ای هم) ماسوی له خدای څخه "آلهة" ای الهة یتقربون بها الی الله حیث قالوا هؤلاء شفعائنا عند الله.

پوه سه: چې اول مفعول د اتخذوا الضمیر الراجع الی الموصول دی کما قلنا بحذف المفعول، دوهم مفعول قربانًا دی او الهة بدل یا عطف بیان دی.

بَلْ ضَلُّوْا عَنْهُمْ ۚ وَذٰلِكَ اِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝

بلکې غائب سوه له دوی څخه (عن نصرهم عند نزول العذاب او دوی کفار و ته ممتنع سوه مرسته غوښتل د ضال څخه چې مراد ځنې بتان دي چې اوس ورک دي) دغه یعني اتخاذ د هغه شیانو چې دا یې شان وي چې په نېز د حاجت و استمداد ته ورک وي یعني بتان، دوی دروغ وایي چې دا زمونږ شفعاء دي عند الله "وماکانوا" کلمه د ما مصدریه ده ای افتراهم انها الهة.

پوه سه: چې ابن ابی شیبة له ابن مسعود څخه روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام د سهار په لمانځه کې په بطن النخلة (چې د یو ځای نوم دی) قرآن وایه چې پېریان ورته راغله فلما سمعوه قالوا (یعني یو و بل ته) انصتوا چې معنی د صه ده او دا جنیان نهه کسه وه چې مشریې زربعة ؤ، نو دا آیت نازل سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاِذْ صَرَفْنَآ اِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُوْنَ الْقُرْاٰنَۚ فَلَمَّا حَضَرُوْهُ قَالُوْٓا اَنْصِتُوْاۚ

او چي مائل كړه موږ وتاته څو نفره له جنيانو څخه (ابن عباس ؓ يې اووه كسه بولي) چي غوږ يې نيولى ؤ قرآن ته، نو چي دوى حاضر سوه قرآن ته يا رسول ته نو وويل بعضهم لبعض ساكت سئ چي دا قرآن واورو.

فائده: نفر تر لسو كم كسانو ته وايي او جمع يې انفار ده، جمله "يستمعون آه" حال ده له انفروا څخه.

فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا اِلٰى قَوْمِهِمْ مُّنْذِرِيْنَ۝

نو چي څه وخت د قرآن اورېدل ختم سوه (يعني د عليه الصلوة والسلام لمونځ پاى ته ورسېدى، نو دوى ايمان راوړى او د عليه الصلوة والسلام سره يې ملاقات وكړى عليه الصلوة والسلام دوى امر كړه چي قوم ولاړسي تبليغ د ايمان ورته وكړي، وذالك قوله) دوى راهي سوه و خپل قوم ته چي هغه له عذاب څخه د خداى بېرول او داسي يې قوم ته وويل:

قَالُوْا يٰقَوْمَنَآ اِنَّا سَمِعْنَا كِتٰبًا اُنْزِلَ مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى

دوى وويل اى زموږ قومه موږ واورېدى يو كتاب (يعني بعض د هغه) چي نازل سوى وروسته تر موسىٰ ؑ، عطاء ؒ وايي چي دوى چي تخصيص وكړى د موسىٰ ؑ ولي چي د دوى دين يهوديت ؤ، او بعض مفسران وايي چي تخصيص د موسىٰ ؑ چي يې وكړى له دې سببه لان نزول التورات متفق عليه بين اليهود والنصارى بخلاف عيسىٰ ؑ والانجيل فان اليهود ينكرونهما.

مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ وَاِلٰى طَرِيْقٍ مُّسْتَقِيْمٍ۝

چي تصديق كونكى دى د هغه كتاب چي تر ده دمخه دى، چي هدايت كونكى دى و حق ته چي توحيد او نور عقائد حقه دي، او هغې لاري ته چي سمه ده من الشرائع والاحكام.

پوه سه: چي مصدقًا حال دى له فاعل څخه د انزل يا صفت ثاني د كتابًا دى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يٰقَوْمَنَآ اَجِيْبُوْا دَاعِيَ اللّٰهِ وَ اٰمِنُوْا بِهٖ يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ

اى قومه زمونږ قبلونه وكړئ د قول د داعي الى الله والاسلام چي محمد ﷺ دى او ايمان راوړئ پر داعي الله خداى به وبخښي (يغفر مجزوم دى جواب د امر دى) بعض ستاسي ګنهونه (چي مظالم على الغير نه وي ولي چي حقوق الناس په ايمان نه بخښل کېږي بالاجماع)

وَيُجِرْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ۝

او تاسي ته به نجات دركړي د عذاب درد وركونكي څخه چي عذاب النار دى راوي وايي چي دا دې نهه كسانو د جن په قوم كي اوويا (۷۰) كسو اسلام قبول كړى، او دا اوويا كسه ورسول الله ﷺ ته راغله په بطحاء كي د مدينې په شپله كي يې د رسول الله ﷺ سره وكتل فقرء عليه القرآن فامرهم (يعني په بعض كارو سره) ونهاهم له بعض كارو څخه.

مسئله: له دې آيت څخه دا معلومه سوه چي رسول الله ﷺ مبعوث ؤ جن او انس دواړو ته او هيڅ نبي تر عليه الصلوة والسلام دمخه و انس او جن ته نه دى راغلى.

سوال: سليمان ﷺ خو هم پر انس او جن امر درلودى؟

ځواب: سليمان ﷺ د دين د تبليغ لپاره و جن ته مبعوث نه ؤ بلكي د تسخير له لاري ؤ، او په فتح الرحمن كي وايي چي عليه الصلوة والسلام مبعوث و ملكو ته نه ؤ، صرح به البيهقي في الباب الرابع من شعب الايمان، وفي تفسير الامام الرازي" والبرهان النسفي" حكايت الاجماع على ذالک، قال ابن حامد من اصحاب الامام احمد" ومذهب العلماء اخراج الملائكة عن التكليف والوعد والوعيد وهم معصومون كالانبياء عليهم السلام الا من استثنى كابليس وهاروت و ماروت على القول بانهم كانوا من الملائكة انتهى.

درويش وايي: چي بعض تحقيقات به په دې باره كي په تفسير كي د سورة الجن به راسي ان شاء الله تعالى.

درويش وايي: چي فقير تخمينًا څلوېښت كاله دمخه په عصمت كي د انبياء على نبينا وعليهم الصلوة والسلام يوه رساله تصنيف كړې دهغه وخت چي په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قندهار کي د يو عالم په خپل جامع مسجد کي دا خبره د جمعې په خطبو کي کرات ومرات تر خوله وتلې وه چي انبیاء علیهم السلام نه قبل النبوة او نه بعد النبوة د کبیره ګنو څخه معصوم وه، علماؤ د قندهار که څه هم هغه عالم په محکمه کي د قاضي د مرافعې په دلائلو سره ملامت کړی او ده هم خپله ملامتیا ومنله او توبه يې وکښل لکن علماؤ د قندهار و فقیر ته وویل چي دا عالم په باور نه دی څو ورځي وروسته که يې په محاکمو د افغانستان کي قدرت پیدا کړی بیرته به دا خبره را وګرځوي، نو ته يو رساله تصنیف کړه یعني په عصمت کي د انبیاء علیهم السلام موږ به ټوله دستخطونه او تقریظونه پر وکړو، دا بار پر فقیر درونډ ؤ او فقیر په درس د مدرسې هم بې اندازې مصروفو لکن د علماؤ د قندهار چي بعض يې زما همزولي وه او بعض تر ما مشران وه د هغو غوښتنه مي هم نسوای ردولای، نو مي د خدای جل جلاله توفیق او د روحانیت څخه د رسول الله ﷺ مي طلب د مرستي وکړی، او نوم د رسالي مي "کشف الغطاء عن عصمت الانبیاء" وضع کړی، او ډېر کتابونه، رسالي او فتاوي وي مي د خپل مذهب او د نورو مذهبو مطالعه کړې، نو په توفیق د خدای په لنډه موده کي رساله پای ته ورسېدل او علماؤ ته عرض سوه، د قندهار علماؤ همه وهمه چا تقریظ او چا امضاء پر وکړه، او د نېکه بخته په دغه وخت کي مشائخ د طریقت د هرات هم په قندهار کي موجود وه هغو هم امضاوي یا تقریظ پر وکړی، نو هغه رساله چهاپ سوه او په څو کلو کي کالعنقاء في جو السماء وګرځېده، اخیرًا مو دوباره پیدا کړه بیا چهاپ سوه چي اوس په کتب پروشانو کي د کوټي په اسانۍ دستیاب کېږي (دا وه جمله معترضه په تفسیر کي)

وَمَنْ لَّا يُجِبْ دَاعِيَ اللّٰهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الْأَرْضِ

او څوک چي قبلونه ونه کړي د دعوت د بلونکي و خدای ته چي رسول الله ﷺ في الوقت ؤ وان كان الحكم عامًا نو نه دی هغه څوک عاجزه کونکی یعني د خدای په ځمکه کي یعني که خدای اراده د تعذیب د هغه وکړي هغه دي خدای عاجزه کړي.

وَلَيْسَ لَهٗ مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءُ ۭ اُولٰۗئِكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝

او نسته هغه لره ماسوی له خدایه دوستان چي له عذابه د خدای دي خلاص

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړي (دا جمله حال ده له فاعل څخه د ليس بمعجز) دغه کسان دي په لويه گمراهي کي، ولي چي هدايت محصور دی په اتباع الرسول د هر زمانې چي وي.

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِىْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَلَمْ يَعْىَ بِخَلْقِهِنَّ

آيا علم نه لري دوی (الهمزة للانکار يعني لري يې لان نفي النفي اثبات والواو للعطف على مقدر تقديره اينكرون هؤلاء الكفار عن البعث بعد الموت ولم يروا ولم يعتقدوا، والمراد كفار مكة لكن الحكم عام، ولي د لويي وچي د هند هندوان ټوله پر هم دغه عقيده دي او نور هم په نړۍ کې مشرکان په دغه عقيده موجود دي) دا چي الله پيدا کړي دي اسمانونه او مځکه او نه دی ستړی سوی او نه عاجزه سوی دی د دوی په پيدا کولو کي، ولي چي قدرت د ذات دده عزوجل مقتضی ده، وما هو مقتضى الذات لايتغير ولا ينقص بالايجاد ابد الآبدين.

بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يُّحْیِۦَ الْمَوْتٰى ؕ بَلٰٓى اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ ۝

او الله عزوجل قادر دی پر دې باندي چي ژوندي کړي مړي يوم البعث. هو په تحقيق هغه پر هر شي قادر دی "بقادر" مظهري وايي چي با زائده ده واسم الفاعل في محل النصب على انه مفعول ثاني "بلى آه" جواب د نفي دی انه تعليل د هغه دی.

وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَلَى النَّارِ ؕ اَلَيْسَ هٰذَا بِالْحَقِّ ؕ قَالُوْا بَلٰى وَرَبِّنَا ؕ

پوهه سه: چي يوم منصوب دی په اضمار د قول تقديره يقال لهم يوم آه هغه ورځ چي پيشول کېږي کافران يعني منکر د بعث بعد الموت څخه پر اور يعني دوږخ دوی ته به وويل سي "اليس هذا" اى العذاب بالنار وليست اشارة الى النار مؤنث سماعًا يعني چي تاسي په دنيا کي انکار څني کاوه "بالحق" صحيح او واقع شی "قالوا بلى" کفار په جواب کي وايي چي هو حق دی "وربنا" زمونږ دي قسم په رب سره زمونږ وي.

تنبيه: دوی رب په وحدانيت سره وپيژندی او اقرار يې وکړی لکن لاينفعهم المعرفة والاقرار به في تلك الدار عند معاينة وانما النافع لهم هو الاقرار بربوبيته تعالى في الدنيا وقدرته تعالى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ۝

"قال" په معنى د يقول دى (وجه يې: دا قول خو په مستقبل كې دى چې ورځ ده، او قال ماضي ده وجه التعبير بالماضي ليقن وقوعه كالماضي) خداى ورته وايي يا ملائكه په امر د خداى، نو وڅكئ عذاب ليس من ذوق الفم بل بمعنى ورئ اوس، نو كلمه د فاء يې ددې لپاره راوړه چې حق والى د عذاب بالنار سره د انكار ددوى په دنيا كې سبب دى د ذوق "بما كنتم تكفرون" په سبب د كفر ستاسي په دنيا كې.

پوه سه: چې معنى د امر يعني فذوقوا اهانة او سپكاوى او توبيخ دى ددوى.

فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ

الفاء للسببية يعني ته په دې پوه سوې چې دوى ته به عذاب النار په اخرت كې رسيږي، نو ته صبر وكړه يا محمد (ﷺ) يعني ددوى له انتقام څخه غم مه كوه "كما صبر" مفعول مطلق دى د فاصبر اى صبرًا مثل صبر "اولى العزم" چې لرونكي وه د صبر او ثبات او جد "من الرسل" يعني تر تا دمخه وه ولي ته هم د جملې څخه د هغو يې.

درويش وايي: چې په اولو العزم كې رسولانو اختلاف دى ابن زيد وايي چې هر رسول صاحب د عزم او او حزم او راى وكمال عقل دى.

پوه سه: چې رسول دلته په معنى د مطلق نبي دى لا المعنى المصطلح چې رسول هغه دى چې صاحب د كتاب او شريعت متجدده وي او نبي عام دى لان ذالك الاصطلاح لايتم كما في كتب العقائد ولې چې رسولان (۳۱۳) دي او كتابونه (۱۰۴) دي الابتكلف كما اختاره المولى شمس الدين الخيالي في حاشية شرح العقائد النسفي، او بعض مفسران وايي چې انبيا عليهم السلام ټول اولوا العزم دي الا يونس بن متى لعجلة منه على قومه العذاب حتى خرج منهم وركب في الفلك وقصته طويلة مذكورة في موضعه من القرآن يعني سورة يونس، ځكه وعليه الصلوة والسلام ته خداى امر وركړى ولاتكن كصاحب الحوت اى في العجلة، او بعض آدم عليه السلام ورسره ملګرى كوي لقوله تعالى في قصة اكل آدم من الشجرة الممنوعة ولم نجد له عزمًا، او بعض مفسرين عدد معين اولوا العزم بولي په عدد كې هم اختلاف كثير دى وعند

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

الفقير القول الاول اى قول ابن زيدؒ هو الاولى و الاليق بحال الانبياء علیهم السلام.

وَلَا تَسْتَعْجِلْ لَّهُمْ ۚ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوعَدُونَ

ته تلوار مه کوه په طلب کې د نزول د عذاب پر قريشو فانه نازل بهم في وقته الموعود، دا نهي د دې لپاره خداى پاک عليه الصلوة والسلام ته وکړې چې دى مبارک د ډېرو مخالفاتو څخه د قوم زړه يې تنگ سوى ؤ، نو زړه يې دا غوښته چې ژر عذاب پر نازل سي، فامر من الله عزوجل بالصبر وترک الاستعجال واخبر في الآية الماضية و الآتية بقرب نزول العذاب عليهم حيث قال "كانهم يوم يرون مايوعدون" گويا دوى هغه ورځ چې دوى وويني هغه چې د دوى سره وعده کړه کېږي يعني من العذاب في الآخرة.

سوال: تاسې د دې آيت په شان نزول کې وويل چې په دې آيت کې خداى عزوجل و عليه الصلوة والسلام ته وعده د قرب د نزول عذاب ور کړه او سره د دې چې عذاب الآخرة ډېر وروسته دى؟

ځواب: ماهو آتٍ فهو قريب وما مضى فهو بعيد فافهم.

لَمْ يَلْبَثُوٓا إِلَّا سَاعَةً مِّن نَّهَارٍ ۚ بَلَٰغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا الْقَوْمُ الْفَٰسِقُونَ ﴿٣٥﴾

مو ږ درنګ نه دى کړى يعني في الدنيا الا ساعة من نهار.

سوال: رائي کوتاه وګڼل زمانه د لبث د دوى په دنيا کي او سره د دې چې بعض کافران سل کاله بعض دوه سوه کاله بعض څلور سوه کاله عمر درلودلى ؤ؟

ځواب: له ډېر خوف څخه د عذاب د يوم القيامة عمر د دنيا هرڅه چې ؤ دوى ته کوتاه معلوم سو، حتى چې د يوه ساعت د ورځي اطلاق يې پر وکړى، او بل ځواب دا دى چې ما مضى که څه هم طويل وي داسي ګڼل کان لم يکن.

پوه سه: چې جمله د كانهم په ځاى کي د علت د عدم الاستعجال راغلې ده في طلب تعذيب الكفار

"بلاغ" اى دغه چي تاته نصيحت په وکړه سو يا د غه سورة احقاف يا قرآن و ما فيه من البيان بلاغ من الله اليكم اى كفاية لكم يا تبليغ الرسول.

فائده: بلاغ چې يې نکره راوړى لپاره د تعظيم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"فهل يهلک" الاستفهام للانکار ای لایهلک بالعذاب اذا اتی، مګر هغه قوم چي له طاعت څخه د خدای عزوجل سرکښه وي، قال الزجاج تأویله مع رحمة الله العظیمة وفضله العامة الا القوم الفاسقون، بعض مفسرین وایي چي مافي القرآن آیة ارجی لرحمة الله من هذه الآیة للمؤمنین. ولي يې استثناء یوازي د فاسقانو وکړه یعني کافران او مؤمنان خو بحمد الله فاسقان نه دي.

درويش وايي: چي بحمد الله وحسن توفیقه لهذا العبد الضعیف له تفسیر څخه د سورة الاحقاف پر یوولس (۱۱) بجې د ورځي د جمعې پر دوولس (۱۲) تاریخ د رمضان المبارکة سنه (۱۴۳۲ هـ) فارغ سوم، تر دې وروسته تفسیر د سورة محمد (ﷺ) شروع کیږي ان شاء الله تعالی، اللهم وفقني لما تحب وترضی.

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُورَةُ مُحَمَّدٍ ﷺ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانٌ وَثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّ فِيْهَا اَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ﴿١﴾

هغه کسان چي کفریې مختاره کړی وي او منع کوي نور خلک له د دخول څخه په اسلام کي، او یا معنی داده چي منع کوي له دخول څخه په اسلام کي (نو پر اول تقدیر صدوا متعدي دی مفعول یې محذوف دی ای الناس او پر دوهم تقدیر لازمي دی ای المنع من الاسلام) قال في الکشف چي ثاني احتمال اظهر دی لان الصد عن سبیل الله هو الاعراض عما جاء به النبي ﷺ.

درویش وایي: چي مظهري" دا نه ده بیان کړې چي دا سورة مکي او که مدني دی چي په نورو سورتونو کي دا بیان ده کاوه، علامه بغدادي" په روح المعاني کي وايي چي په نېز د اکثرین دا سورت مدني دی او استثناء د بعض آیتو یې نه ده ځني کړې، وعن ابن عباس رضی الله عنه وقتادة انها مدنیة الا قوله تعالی "وکاین من قریة الی اخیره" دلیل یې دا وایي چي رسول الله ﷺ چي د هجرت په نیت و مدینې ته له غاره څخه د غره چي دی د کفارو له لاس پکښي پټ وُ راووتی او کعبې شریفي ته یې وکتل داسي یې وویل والله انت احب بلاد الله الی الله وانت احب بلاد الي (یعني ماته) او که چېري ستا اهل زه نه وای ایستلی یعني و هجرت ته یې نه وای مجبوره کړی لم اخرج منک فانزل الله تعالی هذه الآیة، نو دا آیت په اصطلاح مکي بولي بناءً علی ان ما نزل في طریق المدینة قبل ان یبلغها النبي ﷺ اعني ما نزل في سفر الهجرة من المکة في الاصطلاح.

فائده: ضمیر مستتر په "اضل اعمالهم" کي راجع و خدای ﷻ ته دی یعني خدای تعالیٰ ضائع کړه اعمال ددوی.

پوهه: چي مراد ځني اعمال حسنه ددوی دي لکه صلة الرحم وفک العاني واطعام الضیف الی غیر ذالک، ولي چي دا کارونه دوی لوجه الله نه کول لکفرهم به تعالی، نو دې عملو لره ثواب په اخرت کي نسته البته په دنیا کي یې خدای تعالیٰ عوض ورکوي فضلاً من الله عزوجل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاٰمَنُوْا بِمَا نُزِّلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ

او هغه کسان چي ایمان یې راوړی وي او اعمال صالحه هم کوي او ایمان یې راوړی وي پر هغه کتاب چي نازل کړه سوی دی پر محمد ﷺ.

فائده: تخصیص د منزل علیه چي یې وکړی په مایجب الایمان به تعظیمًا له. او بل تنبیه یې وکړه پر دې چي ایمان نه پوره کېږي بېله ایمانه پر رسول اللهﷺ لان الایمان بهﷺ اصل وشامل لجمیع مایجب في الایمان من الاعتقادیات کما لایخفی.

وَهُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۙ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ ۝٢

"وهو الحق من ربهم" دا جمله حال ده له ما نزل څخه او دغه ما نزل علی محمد ﷺ دی له جانب څخه د خدای ﷻ، او خدای به وبخښي دوی ته ګنهونه په سبب د ایمان او اعمال صالحه ؤ "واصلح بالهم" او خدای به یې ښه کړي په دنیا کي بالنصر علی الاعداء وتوفیق الطاعة والحفظ من المعاصي وتسلط الشیطان، خدای به غلبه ورکړي پر سلطان الی غیر ذالک من النعیم الدنیویة او په اخرت کي به خدای ﷻ دار الخلود جنت ورکړي او نعیم مقیم هوري ورضوان الله اکبر من کل ذالک، او ابن عباس رض د نعمت دنیوي تفسیر په عصمت سره کړی دی ایام حیوتهم، او له ابن عباس رض څخه روایت دی چي "الذین کفروا وصدوا عن سبیل الله" هم مشرکوا اهل مکة والذین آمنوا الخ انصار المدینة رض.

فائده: مبتداء چي خبر یې معرف باللام وي یفید الحصر یعني حقیت په ده کي حصروي کما عرف في النحو، بعض مفسرین وایي چي حقیت د قرآن دا دی چي ناسخ د ټولو کتابو دی او دی بیا نه نسخ کېږي ابدًا.

درویش وایي: چي ابن عباس رض اشد د انواع د کفرة ؤ ذکر کړی دی او اکمل د انواع د الذین آمنوا وعملوا الصالحات یې ذکر کړی دی، حصر یې غرض نه دی فلا یرد علیه ما اورده بعض المفسرین ان اللفظ یعني الذین کفروا والذین آمنوا عام دی فافهم.

ذٰلِكَ بِاَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوا اتَّبَعُوا الْبَاطِلَ

(ذالک) په تأویل د مفرد ای المذکور یعني دا اضلال د کفارو او اصلاح د مؤمنانو، وهذا التأویل په اشاره و ډېرو شیانو ته په لفظ مفرد د اسم الاشارة شائع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذائع، وهكذا حال الضمير المفرد الراجع الى الاشياء الكثيرة في بعض المواضع) (بان) په دې سبب چي كافرانو متابعت كړى دى د باطل يعني د شيطان (باطل د شيطان د نومانو څخه يو نوم دى)

وَاَنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّبَعُوا الْحَقَّ مِنْ رَّبِّهِمْ ؕ كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ اَمْثَالَهُمْ

او په تحقيق هغه كسانو چي ايمان يې راوړى دى متابعت يې د حق نازل كړى دى د خداى له خوا چي قرآن كريم دى "كذالك" اى ضربًا مثل ذالك بيانوي خداى و خلكو ته (نو ضمير راجع دى ناس ته او يا ضمير راجع دى و مذكورينو ته د دواړو ډلو، فاللام ح، للاجل فالمعنى يضرب لاجل الناس يعني چي دوى عبرت څني واخلي امثال الفريقين حيث جعل الله اتباع الباطل مثلاً لعمل الكفار والاضلال مثلاً لخيبتهم واتباع الحق مثلاً للمؤمنين وتكفير السيئات مثلاً لفوزهم.

فَاِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَضَرْبَ الرِّقَابِ ؕ

پس چي تاسي ملاقي وګرځئ ايها المؤمنين د هغه كسانو سره چي كفر يې كاوه.

پوهسه: چي ملاقات په اصطلاح د علم المغازي جنګ ته وايي "فضرب الرقاب" مفعول مطلق دى د فعل محذوف والاصل فاضربوا الرقاب ضربًا، بيا يې فعل څني حذف كړى او مصدر يې په ځاى كي وړو ودراوه مضافًا الى المفعول اى الرقاب لپاره د تاكيد والاختصار به اى المفعول مراد دى قتل دى يعني وژنئ يې، دلالت پر دې چي كه ممكنه وه پر رقبه يې په توره واهه چي ژوندي نه سي پاته غالبًا بخلاف سائر الجراحات ولي د هغو سره د ژوند امكان سته كما لايخفى.

حَتّٰۤى اِذَاۤ اَثْخَنْتُمُوْهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ ۙ

يعني تر هغه پوري چي ډېر مو پكښي ووژل، د اثخان معنى غلطت دى اى اغلظتم في قتلهم "فشدو الوثاق" يعني قتل يې بند كړئ او بنديان كوئ يا ست او لاسونه او پښې يې وروتړئ په تناو حتى چي ونه تښتي، والوثاق بفتح الواو وكسرها هغه تناو ته وايي چي سړى په تړل كيږي.

فَاِمَّا مَنًّۢا بَعْدُ وَاِمَّا فِدَآءً

منا او فداء دواړه مفعول مطلق د فعل محذوف دي اى وروسته تر بندي كولو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او شد الوثاق اما تمنون عليهم منا يعني احسان به ورسره وكړی مفت به يې اله كړي او تفدون فداء په مال سره يا په يو بندي د مسلمانانو يعني په فديه وركولو سره بې خوشي كړی.

پوه سه: چي البغوي″ وايي چي علماء ددې آيت په حكم خلاف سره لري بعض وايي چي دا آيت منسوخ بقوله تعالى: اقتلوا المشركين حيث وجد تموهم. ودې قول ته ذهاب كړی دی، قتادة، الضحاك، السدي و ابن جريج رحمهم الله وهو قول الاوزاعي وبه قال ابو حنيفة″ في رواية، لكن مظهري يې منسوخ نه بولي، ولي چي مريان گرځول د بنديانو كافرانو روا دي باجماع الائمة او ژوندي يې پرېښول چي د مسلمانانو اهل ذمه وګرځي په نېز د ابو حنيفة″ او امام مالك″ او بعض علماء وايي چي دا آيت محكم دی يعني منسوخ نه دی بلكې ددې آيت معنى داده چي امير المؤمنين ته اختيار دی په هغه رجالو كي د بنديانو كافرانو چي ذوی العقول او بنديان سي (۱) كه يې وژني (۲) كي يې مريان كوي (۳) او يا كه احسان ورسره كوي بلا عوض يې خوشي كړي (۴) كه فديه مالي ځني اخلي جبراً (۵) او يا د مسلمانانو بنديانو چي د دوی په قيد وي تبادله كوي، دا د ابن عمر رض مذهب دی او د حسن او عطاء و اكثر الصحابة رضي الله عنهم، و العلماء وهو قول الثوري و الشافعي واحمد واسحاق″، قال ابن عباس رض چي خدای ﷻ چي مسلمانانو ته قدرت تامه عامه وركړي انزل الله عزوجل في الاساري فاما منا بعد و اما فداء، وهذا هو الاصح والمختار لانه عمل به رسول الله ﷺ و الخلفاء بعده.

درويش وايي: وهذا التخيير بين الخصال الاربع په قول د روح البيان ثابت عند الشافعي″، ومنسوخ عندنا بقوله تعالى فاقتلوا المشركين حيث وجدتموهم.

درويش وايي: چي په مسئله كي د بنديانو د كافرانو اختلافات د مذاهبو او قيل وقال د مفسرين″ هم ډېر دي و اصل موضع هذه كتب الفقهاء لكل مذهب لهذا په دې ما ذكرنا د تفسير په بيان كي كفايت دی بعض مفسرين د مذهب مراعات.

حَتّٰى تَضَعَ الْحَرْبُ اَوْزَارَهَا ۛ

(اى اهل الحرب اى المجاهدين) يعني درانه شيان چي مراد ځني اسلحه ده حرب ده، د تضع الحرب معنى داده چي جنګ قطع سي بالكلية حتى چي نسي پاته يا مسلم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يا مسالم، او بعض مفسرين وايي چي مراد له اوزارو څخه ګنهونه دي حربيان يعني مشركان خپل ګناهونه كنبږدي چي د شرک او كفر څخه توبه وكاږي ويؤمنوا بالله ورسوله، وقيل چي ستاسي حرب او قتال اى مسلمانانو اوزار د مشركانو او قبح افعال ددوى څني و غورځوي بان يسلموا، والحاصل اثخنوا المشركين بالقتل والاسر (په بندي كولو سره حتى يدخل اهل الملل المختلفة الكافرة من اليهود والنصارى وغيرها كلها في الاسلام مخافة ان يفعل بهم ما فعلوا بالمشركين.

فائده: خداى پاک وګرځول انقطاع د حرب پاى او فرض الضرب او الشد او المن او الفداء او للمجموع يعني هذه الاحكام تكون جارية حتى لايوجد حرب مع المشركين ويكون الدين كله لله ويزول شوكتهم بالكلية.

پوه سه: چي ټوله ملل چي په اسلام كي داخلېږي او كفر، شرک او دهريت چي د مځكي د مخه څخه ټولېږي هغه به هغه وخت معرض ته د وجود راځي چي عيسىٰ بن مريمؑ له اسمان څخه راكښته سي، له عمران بن حصينؓ څخه روايت دى چي رسول اللهﷺ وويل همېشه به يوه طائفه پر دين حق جنګېږي چي غالبه به وي پر من خالفهم وحاربهم حتى يقاتل اخرهم المسيح الدجال، رواه ابو داؤد.

ذٰلِكَ ۛ وَلَوْ يَشَآءُ اللّٰهُ لَانْتَصَرَ مِنْهُمْ وَلٰكِنْ لِّيَبْلُوَا۟ بَعْضَكُمْ بِبَعْضٍ ؕ

(ذالک، خبر د مبتداء محذوف دى اى الامر في الكفار ذالک المذكور يا مبتداء ده خبر يې محذوف دى اى ذالک ثابت واقع او يا مفعول د فعل محذوف دى اى افعلوا بهم اى الكفرة ذالک المذكور من الار الابعة) كه د خداىؑ اراده سي د انتقام د دغو كفارو څخه بېله تعب او سترِيا ستاسي په جهاد كي د دوى سره هغه انتقام خداىؑ اخستاى سواى چي ټوله يې هلاک كړي واى په يو آفت سماوي يا ارضي كما وقع لغيرهم "ولكن" يعني امركم بالقتال والجهاد معهم "ليبلوا بعضكم ببعض" تاچي امتحان وكړي د بعض ستاسي په بل بعض سره يعني امتحان د مؤمنانو په كافرانو سره بان يكلفوا شدائد الجهاد من الخوف والجوع وتحمل الجراحات الى غير ذالک، نو دوى به مستحق د ثواب وګرځي په ورځ د قيامت بالتعيم المقيم في الجنة و فوق ذالک رضى الرحمن ورؤيته تعالى بلا كيف، او د كافرانو امتحان به وكړل سي په مؤمنين سره چي عقاب عاجل په دنيا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي د مؤمنانو له خوا و وینې حتی بعض د دوی به له کفر څخه توبه وکاږي او اخوان المؤمنین به و گرځي بعد ان کانوا اعداء لهم، او بعض د کفارو چي په اسلام داخل نه سي مستحق د عقاب بالنار و گرځي په ورځ د قیامت.

پوه سه: چي دا بیان ؤ د حکمت الهي په امر سره د مؤمنانو بالقتال مع الکفار مع قدرة الله علی الاستیصال لهم بدون التجشم للمؤمنین بالقتال.

وَالَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَلَن يُضِلَّ أَعْمَالَهُمْ ۝٤

هغه کسان چي ووژل سي په لاره کي د خدای ؑ چي جهاد دی او جام نوشین د شهادت نوش کړي.

پوه سه: چي جمله "فلن یضل اعمالهم" خبر د موصول ده چي الذین ؤ چي متضمن معنی لره د شرط، نو ځکه یې په خبر کي فاء الجزاء راوړه، والمعنی مو به نه باطلوو اعمال حسنه د دوی چي اعلی تر ټولو یې شهادت في سبیل الله ؤ په هغه معاصیو سره چي قبلاً یې کړي وي بلکې سیئات قبلیه یې وربخښو او د حسناتو بدله یې ورکوو، له انس ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وویل چي شهداء دري قسمه دي (۱) هغه مؤمن چي ځان یې ایستلی وي او مال (لکه د سواري آس او آلات د حرب) په نیت د ثواب في سبیل الله یرید ان یقاتل ویقتل ویکثر سواد المسلمین (په ځان سره ډېروي جماعت د مسلمانانو) فان مات (په خدایي مرگ په دغه جهاد کي) او قتل (یا ووژل سي په دغه جنگ کي) غفرت له ذنوبه کلها، واجیر من عذاب القبر (او پناه ورکړه کېږي د عذاب څخه د قبر) ویؤمن من الفزع الاکبر (او امان ورکړه کېږي د لویې ډېرې چي په ورځ د قیامت اهل محشر پکښې واقع کېږي) ویزوج من الحور العین (او ده ده سره جوت وي حور عین (جمع د حورا ده یعني ډېري حوري) چي رنگونه یې سپین وي زړه ته مائل او عین جمع د عینا ده چي غټې سترگي یې وي په طول کي) ویحل حلة الکرامة (او په ده اغوستل کېږي کالي د کرامت او عزت لکه په دې دنیا کي په زوم سره کوي) ویوضع علی رأسه تاج الوقار (یعني تاج د عزت) (۲) دوهم قسم هغه مجاهد دی چي خرج بنفسه وماله محتسبًا (په نیت د ثواب نه د غنیمت) او اراده یې دا وي چي زه دي کفار ووژنم او زه دي نه ووژل کېږم (په دې کي غرض دا وي چي ډېر کافران مره کړم) فان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مات او قتل کان رکبتیه مع ابراهیم خلیل الرحمن یکن یدی الله (په حضور کي د خدای بلا کیف) في مقعد صدق عند ملیک مقتدر (۳) رجل خرج بنفسه وماله محتسبًا یرید ان یقتل (چي کافران زه مړه کړم) ویقتل (او بیا زه یې ووژل سم) فان قتل او مات جاء یوم القیامة شاهرًا سیفه (توره یې له تېکي کښلې وي) واضعة علی عاتقه (او اېښې یې وي پر اوږه) والناس جاثون علی الرکب (او خلک ناست وي پر زنګنو، یعني علی هیئة التشهد لضیق المجلس نو دا قسم مجاهدین خلګو ته ووایي یو څه لار نه راکوئ موږ ته (فانا بدلنا دمائنا واموالنا) خلک لار ورکړي دوی ورسي پر منبرانو د نور کښېني تحت العرش ینظرون کیف یقف بین الناس یعني د هغو سیل کوو ولي دوی لره خو حساب نسته لایجدون الم الموت ولایفتنون في البرزخ او امتحان نه څني اخستل کېږي په برزخ یعني په قبر کي لایفزعهم الصیحة، نه یې بېروي صیحه د اسرافیل ولایهمهم الحسان د حسبان په قصه کي نه وي او نه بېرېږي ولا المیزان ولا الصراط ولا یسئلون الا اعطوا ولایشفعون في شیئ الا شفعوا (شفاعت د یو چا نه کوي مګر شفاعت قبلېږي) ویعطون من الجنة ما احبوا، والله اعلم. روایت خو یې مظهري کړی دی لکن نه یې یو کتاب ته د حدیثو نسبت کړی دی او نه یې تر انس رضي الله عنه پوري سند ذکر کړی دی.

سَيَهْدِيهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ﴿۵﴾

خدای به هدایت ورته وکړي (اما في الدنیا فالی صراط مستقیم وفي الآخرة للدرجات العلی) او ښه به وګرځوي حال د دوی في الدارین، اما في الدنیا فمن لم یقتل نو هم به یې درج کړل سي په قتلې ؤ کي تغلیبًا، او یا له دې سببه چي دغه نا وژل سوي خلک خرجوا للقتال او په دې سره راضي وه چي قتل سي او ثواب د مقتولینو خدای ورکړي واما في الآخرة هغه مجاهد که ووژل سي او که ونه وژل سي ګنهونه یې تو له خدای ورېخښي حسنات یې تو له، خدای جل جلاله له دوی څخه راضي وي، د خواصو څخه د شهداؤ دی چي هر څوک چي جنت ته ورسي بیا یې دنیا ته تلل زړه نه غواړي که دنیا ومافیها ورکوي الا الشهید فانه یتمنی الخروج الی الدنیا مرارًا لیقتل في سبیل الله کما قتل اولاً.

فائده: په حدیث شریف کي راغلي دي "یغفر للشهید کل شیئ (یعني من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حقوق الله) الا الدين) روح البيان وايي چي مراد له دَين څخه كل ما كان من حقوق العباد كالغصب واخذ المال بالباطل لكه سرقة وقتل العمد والجراحة وغيرها كالغيبة والنميمة (د يو چا شيطانت و بل ته) او په چا پسخند وهل فان هذه الحقوق لابد في كلها من استيفائها الى مستحقها.

وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ۝٦

او دوى يعني شهداء في سبيل الله به داخل سي و جنت ته چي خداى تعريف او بيان د منازلو و دوى ته بيان كړي دي حتى چي هر جنتي خپل استوګن ځاى ته ولاړ سي من غير استدلال داسي به هر يو خپل جنت ته ور روان وي لكه چي د دوى د استوګني ځاى له هغه وخت څخه چي پيدا سوي وه، وهذا قول اكثر المفسرين، ويدل عليه ما روى عن ابى هريرة رضي الله عنه قال كان رسول الله ﷺ والذي بعثني بالحق ما انتم في الدنيا باعرف بازواجكم ومساكنكم من اهل الجنة بازواجهم ومساكنهم، رواه ابن جبير والطبراني وغيرهما، ومعنى الحديث ظاهر، پښتو ژباړي ته ضرورت نه لري.

يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوٓا اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ ۝٧

اى هغه كسانو چي ايمان يې راوړى دى كه نصرت د دين د خداى ج وكړئ او مرسته د رسول د خداى ج وكړئ خداى به تاسي ته نصرت دركړي پر دښمنانو ستاسي او محكمه به كړي پښې ستاسي چي حقوق الله او د جهاد في سبيل الله حقوق ئې له كما هو حقها پر ځاى كړئ.

بوه سه: چي ټينګول د پښو كنايه ده د صبر او ثبات په دغو ځايو كي.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا فَتَعْسًا لَّهُمْ وَاَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ۝٨

ابن عباس رض وايي بعدًا لهم يعني عن رحمت الله، وقال الضحاك رح خيبة ناكامي ده دوى لره، قال الفراء رح نصب على المصدر لفعل واجب الحذف اى سماعًا اى تعسوا تعسًا آه لكن په هر صورت دا ښېرا ده، قاموس ډېري معناوي د تعسًا بيان كړي دي حيث قال التعس الهلاك والعثار پښه ښوويدل يا نوک وهل والسقوط غوځاريدو ته وايي، والشر والبعد والانحطاط "واضل اعمالهم" ګمراه او باطل سوه عملونه د دوى، ولي د دوى عملونه في طاعة الشيطان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَرِهُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ۝

دغه تعس او اضلال په سبب ددې ؤ چې دوی مکروه باله (یعني سحر وغیره) وبالله القرآن الکریم ولې په هغه کې توحید د خدای ستة چې ددوی د شرک سره منافي دی او داسې تکالیف لکه لمونځونه وغیره چې دوی الفت نه ورسره درلودی او حرمت د داسې شیانو لکه زنا مثلاً چې ددوی د اشتها سره برابره وه.

"فاحبط اعمالهم" نو خدای عزوجل هغه عملونه ددوی چې په ظاهره به حسنه وه لکه اطعام الطعام وفک الایسر وصلة الرحم ټول لغوه کړي او بې ثوابه کړي يې دي ولې چې احباط د لوازمو څخه د کفر دي.

پوه سه: چې احبط اعمالهم او اضل اعمالهم په معنی کې سره يو دي نو لپاره د تاکید د اياس دوی يې مکرر راوړه.

اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ

آیا تګ او سفر نه کوي اهل مکه په مځکه کې یعني په اطراف بعیده ؤ کې د مځکې، الاستفهام للانکار والفاء للعطف علی مقدر تقدیره الم یخرجوا یعني من مکة فلم یسروا في الارض.

درویش وایي: چې دا قاعده مطرد (جاري) ده في جمیع القرآن العزیز یعني چې وروسته تر همزه د استفهام حرف عطف راسي یا واو یا فا یا ثم نو حرف عطف به چې دلته فاء د عطف پر مقدر وي کما مر تقدیره في هذا المقام ددې قانون سر دا دی چې همزه د استفهام صدرات غواړي په خپله جمله کې اجماعًا للنحاة نو کلمه د عطف هره کلمه چې وي پر ما قبل د حرف استفهام خو عطف نسي کیدای لفوات صدارت الاستفهام نو ضرورةً معطوف علیه د حرف عطف به مقدر وي بیا به صدارت د استفهام پر ځای پاتېږي. فاحفظ هذه الفائدة ینفعک في جمیع القرآن العزیز.

فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ

نو دوی به وګوري په نظر عبرت ("فینظروا" دا جمله جواب د نفي ده) چې څنګه سوی دی اخیر کار د هغه کسانو چې تر دوی دمخه وه یعني المنکرین لتوحید الملک العزیز وتکذیب المرسل الکریم ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دَمَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَلِلْكٰفِرِيْنَ اَمْثَالُهَا۝

"دمر الله عليهم" هلاک بالاستيصال يعني پر انفس د دوی او پر اهل او اولاد او اموالو د دوی يې هلاکت راوستی الله عزوجل "وللكافرين" او د كفارو لپاره ای للكفار مكة.

سوال: ذکر د اهل مکه خو په ضمير کي د يسيروا تېر سو نو د اسم ظاهر راوړل يې څه فائده لري يعني و للكافرين امثالها؟

ځواب: فائده يې په تصريح او حکم کي ده په کفر سره د دوی.

پوښتنه: مؤنث ضمير د امثالها کوم لفظ ته راجع دی؟

ځواب: مرجع يې مذکور حکمًا دی يعني العاقبة او العقوبة او الهلكة چي د تدمير څخه وفهمېدی.

نکته: د کفارو د مکې په باره کي داسي عبارت وويل سو امثالها، ولي پر کفارو د مکې په برکت د عليه الصلوة والسلام عذاب بالاستيصال خدای عزوجل نه دی راوستلی فافهم هذا صانع عزيز.

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ مَوْلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

دغه نصرت د مؤمنانو سره کول او قهر پر کافرانو په سبب د دې دی چي خدای عزوجل متولي او دوست او ناصر دی د مؤمنانو، نو له دوی څخه هيڅ نوع نصر نه سپموي او تائيد يې کوي او توفيق ورکوي او هر قسم دښمن له دوی څخه دفع کوي حتی له خطراتو څخه د شيطان يې هم ساتي، قال الله تعالى في جواب ابليس لاغوينهم اجمعين، ان عبادي ليس لک عليهم بسلطان.

وَاَنَّ الْكٰفِرِيْنَ لَا مَوْلٰى لَهُمْ۝

او هغه کسان چي کافران دي دوی لره مولی نسته يعني داسي مولی چي د دوی څخه دي دفع د ضرر وکړي يا جلب د نفع لان وليهم الشيطان وهو ليس بذالک المنصب.

اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

په تحقيق خدای داخلوي هغه کسان چي ايمان يې راوړی دوي او اعمال صالحه يې هم کړي وي قولاً و عملاً يعني ورځ د قيامت و جنتو ته داسي جنتونه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي بهېږي به لاندي تر د رختو د هغو ولې یعني څلور (۱) من ماء غیر آسن (چي بد بویه او بېخونده او یا تروې به نه وي) (۲) من عسل مصفي (چي د مچمچیو د مومو څخه به خلاص وي لکه دده دنیا په عسلو کي چي سته) (۳) شراب لا غول فیها (د سر درد به نه وي پکښې) ولاهم عنها ینزفون (نه به هم دوی له هغه څیښلو څخه هوش او عقل دلاسو ورکوي لکه دغه راوړي خاصې چي په شرابو کي د دنیا سته (۴) نهر من لبن لا یتغیر طعمه (داسي شیدې چي په طول مکث سره یې خوند بدلېږي، اللهم اجعلنا منهم بمحض فضلک وکرمک... گفته شده:

به بها نه می بخشد و ببهانه می بخشد

وَالَّذِينَ كَفَرُوا يَتَمَتَّعُونَ وَيَأْكُلُونَ كَمَا تَأْكُلُ الْأَنْعَامُ

او هغه کسان چي کفر یې اختیار کړی وي په نعمتو د دنیا نفع اخلي ایامًا قلیلة مدة اعمارهم، او خورک کوي لکه چهارپایان یعني حریصین علی الاکل غافلین عن المنعم الحقیقي او شکر یې هم نه وایي او د عقوبت بعد الموت غافل او منکروي.

فائده: کما تاکل صفت د مصدر محذوف دی او ما مصدریه دی ای کلا کاکل الانعام.

وَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ﴿۱۲﴾

او اوور یعني دوږخ کور او ځای د اوسېدو دوی دی یعني ابدًا.

د امید وړ فائده: امام قشیري قدس سره وایي چي ارجی آیت په قرآن کي دغه آیت دی (یعني ډېر د امید وړ آیت دی) وجه یې دا ویلې ده چي خدای پاک په دې آیت کي داسي ویلي دي "ان الله مولی الذین آمنوا" داسي یې نه دي ویلي چي مولی الزهاد یا داسي الله مولی اصحاب الاوراد یا الله مولی العباد مؤمن که څه هم عاصي وي په الذین آمنوا کي خو داخل دي انتهی.

درویش وایي: چي ومن عجائب قدرة الله تعالی ما روی چي زید بن ثابت رضی الله عنه د یو سړي سره له مکې څخه طائف ته وووتی او زید رض په دې نه ؤ خبر چي دا سړی منافق دی چي غرمه سوه په یوه خرابه سرای ننوتل د استراحت او قیلولې لپاره چي دواړه په خوب بیده سوه منافق خو ظاهرًا ځان پر خوب واچاوه او زید رض حقیقةً ستړی هم ؤ په دریاب کي د خوب غرق سو، د منافق سره یوه مرانده موجوده وه چي زید رضی الله عنه ځان سره بنبوراوه منافق یې پښې او لاسونه وروتړل او چاړه یا چاقو یې پر راوکښی چي ذبح یې کړي، زید رضی الله عنه دا قدر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دعاء وکړه یا رحمن اعني زما سره مرسته وکړه منافق د باندي څخه واورېدل چي یو
ځوک وایي ویحک لاتقتله (هلاکت دي وي تا ته چي قتل يې نه کړې) منافق د سرای
د باندي ووتی چي بیګانه سړی د باندي ولاړ نه وي شاو خوا يې وکتل څوک نه ؤ بیا و قتل
ته اماده سو بیا هغه ناره واورېده ثم وثم. دريم وار د آس سپور راغلی توره ور څخه د منافق
سر يې قلم کړی د زید ﷺ لاسونه او پښې يې ورخلاص کړه، او زید ﷺ ته يې وویل چي
جبرئیل ؑ یم زه په اووم اسمان کي وم چي ته دعاء وکړه خدای پاک پرما امر وکړی چي
ادرک عبدي او دا آیت يې ووایه الله ولي الذین آمنوا، نو غائب سو.

وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ هِيَ أَشَدُّ قُوَّةً مِّن قَرْيَتِكَ الَّتِي أَخْرَجَتْكَ

او ډېري قریې ای اهل قریة (مضاف چي اهل ؤ حذف يې کړی حکم يې پر
مضاف الیه جاري کړی چي هلاک دی) "اشد قوة" صفت د قریة دی تانیث د
ضمیر يې په اعتبار د لفظ د قریة که څه هم مراد څني اهل دی چي هغه قریه یعني
اهل د هغي قریې ډېر سخت وه از روی قوت تمییز د نسبت څخه د اشد و هي ته.

"من قریتک" ستا تر قریې هغه قریه چي ته يې څني وایستلې.

پوښتنه: کفارو د مکې خو علیه الصلوة والسلام ته نه ویل چي ته له مکې څخه ووځه؟

ځواب: دا اسناد د اخراج و اهل مکه ته من قبیل النسبت الی السبب دی یعني
سبب د وتلو د علیه الصلوة والسلام له مکې څخه سبب يې ازار شدیده د کفارو د
مکې ؤ ده ته، نو ګویا دوی وایستی، نو دا وتل د علیه الصلوة والسلام له مکې څخه
اضطرارًا وه، کما یدل علیه الحدیث المروي عن ابن عباس ؓ دی وایي چي علیه
الصلوة والسلام چي له مکې څخه ووتی پر طرف د غار د جبل ثور مخ يې مکې ته
راوارای او داسي يې وویل: انت احب بلاد الله الی الله واحب بلاد الله الي (ته یا
مکه هغه ډېر ګران ښار علی الله عزوجل تر ټولو ښارو او احب بلاد الله هم يې و ماته)
ولو ان المشرکین لم یخرجوني لم اخرج منک وفي روایة وقد بکی رسول الله ﷺ.

أَهْلَكْنَاهُمْ فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ ۝

موږ هلاک کړه هغه (چونک مراد له قریة څخه اهل قریة دي نو ځکه يې ضمیر
د جمع مذکر ورته راجع کړی) د دوی کومکي نه سو پیدا (دا حکایت دی د حالت
ماضیه، فلا یرد ان صیغة اسم الفاعل للحال او الاستقبال)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَفَمَنْ كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِ كَمَن زُيِّنَ لَهُ سُوءُ عَمَلِهِ وَاتَّبَعُوا أَهْوَاءَهُم

الاستفهام للانكار و الفاء للعطف على مقدر تقديره ايستوي المؤمن الذي مولاه هو الله و الكافر الذي لا مولاله "على بينة من ربه" اى على يقين مستند الى حجة من عند ربه اى القرآن او ما يعمه من الحجج العقلية كالنبي ﷺ والمؤمنون، دا مثال دى د من كان على حجة من الله.

پوهه سه: چي د استفهام انكاري معنى داده چي مذكوره دوې ډلي سره برابري نه دي.

درويش وايي: چي اوس خداى ﷻ بيان د عاقبت او ثواب د اولي ډلي كوي يعني من كان على بينة من ربه.

مَّثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ

پوهه سه: چي ضمير راجع و موصول ته دى چي التي محذوف دى، والتقدير وعدبها المتقون لكه قانون نحوي چي دى چي په صله عائد و موصول ته لازم دي ومعنى المثل الصفة العجيبة يعني صفت عجيبه د جنت چي د متقينو سره وعده كړه سوى دى اى من جانب الله القادر المقتدر "مثل آه" مبتداء ده خبر يې محذوف دى اى مثل ما وعد المتقون فيما يتلى عليكم فيما بعد، چي دادى:

فِيهَا أَنْهَارٌ مِّن مَّاءٍ غَيْرِ آسِنٍ وَأَنْهَارٌ مِّن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ

چي په هغه جنت كي به ولې وي د اوبو چي متغير به نه وي نه يې خوند او نه يې بوى كما يتغير مياه الدنيا بطول المكث "ماء صفت دى د انهار" او ولې به وي د شيدو چي خوند ته به يې هيڅ تغيير نه وي رسېدلى چي يا ترشي سوي وي يا خيدك سوي وي لكه البان د دنيا.

وَأَنْهَارٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشَّارِبِينَ

او ولې به وي د شرابو "لذة" اى لذيذة جدًا.

پوهه سه: چي لذة تانيث د لذ دى نو توصيف يې حقيقة دى، او يا لذة مصدر دى حمل يې مبالغة دى نحو زيد عدل او يا صفت دى په تقدير د مضاف اى ذات لذة "للشاربين" د څښونكو لپاره، يعني دا به بد بويه نه وي لكه شراب د دنيا چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نهايت بدبويه وي، او نه د سر درد او نه نشه چي خمار يې بولي پکښې وي، بخلاف شراب الدنيا فانها كريهة عند الشرب جداً ويعقبها خمار وسكر وذهاب العقل.

درویش وايي: چي د شرابي چي خمار يې په سر سي دومره مغلوب العقل سي چي په تاريخ كي راغلي دي چي يو سړى چي شراب يې ښيښلي وه چي نشه يې په سر سوه نو بولو ونيوى راغلى پر بولو كښېنستى لاسونه يې دواړه بولو ته ونيول چي غبرګه به يې ډكه سوه بولي به يې پر مخ واچولې او داسي به يې ويل سبحان الذي من جعل الماء طهوراً.

پوښتنه: شراب چي ظاهرًا دومره بد دي او كراهة الذوق عند الشرب وغير ذالك ورسره دي نو ولي يې خلك ښيښي؟

ځواب: د خلكو خوند په دا نشه كي دى دا نشه دوى په هر قيمت رانسي چي بعض ډاكټر كولى هم دغه د نشې فائده كوي تر شرابو بدتر شي او بدبويه وي په هره معنى د بدن لپاره ضرر تام دي چي هغه ته هيروئن وايي، د دغي نشې لپاره دود كشوي، نو پر دې هيروئني چي څوورځي تېري سي د انسانيت له نوع څخه خارج سي نه اودس كوي او نه لمونځ او نه نور طهارت البدن كوي.

وَأَنْهَٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى

او ويالې به وي د عسلو چي بعض پښتانه يې شهد بولي چي پاك به وي له فضلاتو څخه د مچمچيو او شمع هم نه وي پكښې بخلاف عسل الدنيا، له معاوية بن حيدةؓ څخه روايت دى وايي سمعت رسول اللهﷺ چي ده مبارك وويل چي په جنت كي يو درياب د اوبو سته او يو د عسلو او يو د شيدو او يو د شرابو، نو له دغو دريابونو څخه دغه څلور ويالې راجلا كېږي او په هر جنت كي بهېږي، ابن المبارك او البيهقيؒ په سند د مسروقؒ څخه روايت كړى دى چي ويالې بهېږي چي يوې او بلې خوا ته تجاوز نه كوي په قدرت د خداىؓ.

درویش وايي: چي دا خرق العادة دى مربوط په قدرت دى مخصوص بالجنة دى او د قسم د ما لا عين رئت دى، وعن انسؓ قال قال رسول اللهﷺ لعلكم تظنون ان انهار الجنة اخدود في الارض (شايد تاسي به ګمان كوئ چي ويالې د جنت به لښتي او غارونه لري په مځكه كي يعني لكه په دنيا كي) لا والله انها سابحة على

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وجه الارض (داسي نه دي بلکې قسم په خدای دی چي بهيږي پر مخ د مځکې) حافتاه خيام اللؤلؤ (پر دواړو غاړو ددې اوبو خېمې د ملغلرو وي او خټې د هغو لښتيو او ويالو مشک ازفر دي (يو اعلی قسم د مشکو نوم دی) وعن ابی هريرة قال قال رسول اللهﷺ سيحان وجيحان والفرات والنيل من انهار الجنة، رواه مسلم فقير وايي: چي منتهی ددې لويو رودو په علم کي د بشر نسته والله اعلم.

وَلَهُمْ فِيهَا مِن كُلِّ الثَّمَرَٰتِ وَمَغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ

دوی لره په جنت کي د هر قسم مېوې سته، د ابن عباس څخه روايت ده وويل ما في الدنيا ثمرة (ای في مجموع الدنيا) يوه مېوه که خوږه وي (لکه انګور انار وغيرها) ولا مرة او نه ترخه الا هي في الجنة حتی الحنظل (مره غوني چي ډېره ترخه ده) رواه ابن ابی حاتم.

سوال: حنظل خو ترخه ده نو په جنت کي يې څه فائده ده؟

ځواب: صرف هيئت يې د حنظل دی په واقع کي اعلی ډول خوږه ده، رواه ابن المنذر في تفسيرها، ويدل علی ما قلنا في باب الحنظل الحديث المروي عن ابن عباس ليس في الدنيا مما في الجنة الا الاسماء، رواه ابن جبير وابن ابی حاتم وغيرهما.

درويش وايي: چي د ابن عباس د حديث معنی داده چي والله اعلم چي شراکت د مېوو د دنيا او د جنت صرف په نامه کي يعني په جنت کي په نامه د انګورو مېوه سته او په رنګ د انګورو مېوه سته لکن په خوند کي او په غټ والي کي او په وابنکي او دانو کي فرق عظيم سته وکذا ما علی شکل الحنظل وعلی هذا فقس الثمار الاخر في الجنة وهذا انموذج من قدرته تعالی شانه وعن ثوبان انه سمع رسول اللهﷺ لاينزع رجل من اهل الجنة من ثمرها (ای الجنة) الا اعيد في مکانها مثلها، ترجمه: نه شکوي يو سړی د اهل جنت يوه مېوه د جنت مګر په هغه ځای کي مثل د هغې پيدا کېږي مثلاً انار يې له يوې درختي څخه وشکاوه هر هغه سمد ستي مثل د هغه انار پيدا کېږي وعلی هذا فقس سائر ثمار الجنة.

"ومغفرة من ربهم" او بخشش عام دی د خدای له خوا فهو تعالی راض عنهم ابداً سره د احسان په جنتو او د جنتو په مېوو وغيرها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ فِي النَّارِ

آيا هغه څوک چي خالد وي في الجنة داسي کېداى سي لکه هغه څوک چي خالد او همېشه وي په اور کي؟ والجواب: لا نو د اعراب د لاري کمن هو خبر دى د مبتداء محذوفي، تقديره: امن هو خالد في هذه الجنة لکه حال چي ذکر سو او موعود د رب کريم دى کمن هو خالد في النار التي لايطفاء لهيبها ابدًا ولا يكف اسيرها (نه خلاصېږي بندي يې قال الله تعالى والنار مثوى لهم)

وَسُقُوا مَآءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَآءَهُمْ ﴿١٥﴾

او دوى چي تږى سي ايښودلي او به ور کول کېږي. ور ټوک ټوک کړي کلمې ددوى لفرط الحرارة او تردبره يې ووزي، ابن المنذر د ابن جريج څخه روايت کړى دى چي مؤمنان او منافقان جمع د نبي ﷺ سره ناست وه نو عليه الصلوة والسلام مؤمنانو به دده خبري اورېدلې او پياد کي به يې ساتلې او منفقانو به هم اورېدلې نه يې په دماغ کي ساتلې او نه به په پوهېدل تهاونًا وبغضًا چي د عليه الصلوة والسلام څخه به دواړې ډلي راووتلې نو منافقانو به له مسلمانانو څخه پوښتنه کوله ماذا قال آنفًا چي ده دا اوس څه ويل فنزلت هذه الآية.

پوه سه: چي "سقوا" عطف دى على "خالد" نظرًا الى لفظه من چي مفرد دى وجمع سقوا الى معنى من لانه جمع معنًى.

وَمِنْهُمْ مَنْ يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ

او بعض له منافقانو څخه هغه کسان دي چي تا ته يې په ظاهره غوږ نيولى وي يعني ستا و خبرو ته.

حَتَّى إِذَا خَرَجُوا مِنْ عِنْدِكَ قَالُوا

پوه سه: چي ضمير د يستمع مفرد راوړى نظر و لفظ ته د من او ضمير د خرجوا چي جمع يې راوړى نظر و معنى ته د من ولي چي منافقين خو ډېر کسان وه.

لِلَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ مَاذَا قَالَ آنِفًا

دوى يعني منافقانو به هغه کسانو ته ويل چي خداى علم ورکړى وُ، اى المؤمنين،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ما استفهامي دی او دا په معنی د الذي والمعنی ما الذي "قال" ای محمد (ﷺ) آنفًا یعني دا اوس، مشتق من انف الشيئ لما تقدمه قریبًا اصلاً مستعار ای د انف په معنی د اجابة یعني پزه پښتانه یې داسي ترجمه کوي تر پزه لاندي.

درویش وایي: چي دا پوښتنه یې غالبًا په زړو کي استهزاءً کوله او په ظاهره استعلامًا کوله تاچي نفاق یې ظاهر نه سي.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ طَبَعَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَاتَّبَعُوا أَهْوَاءَهُمْ ﴿١٦﴾

دا هغه کسان دي چي خدای پر زړو مهر د غفلت او کفر ورلګولی دی نو له دې کبله د خبرو د علیه الصلوة والسلام سپکاوی کوي. دوی متابعت د خپلو خبیثو خواهشاتو کوی دوی په خبرو د علیه الصلوة والسلام پسخند واهه.

وَالَّذِينَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَآتَاهُمْ تَقْوَاهُمْ ﴿١٧﴾

او هغو کسانو چي هدایت پیدا کړی وُ په خبرو سره د رسول اللهﷺ زیات کړی دوی ته خدای په خبرو سره د رسول اللهﷺ "هدی" نور علم او بصیرت او په احکامو د دین خبرتیا او خدای دوی ته ورکړی توفیق د عمل لما امرهم رسول اللهﷺ به. او سعید بن جبیر وایي اتاهم ثواب تقواهم او یا دا معنی چي په تبلیغ د رسول اللهﷺ دوی ته ښکاره سوه هغه لار چي دوی له اور څخه په ورځ د اخرت وساتي.

فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا السَّاعَةَ أَن تَأْتِيَهُم بَغْتَةً ۖ فَقَدْ جَاءَ أَشْرَاطُهَا ۚ

"فهل ینظرون" استفهام لپاره د انکار دی یعني اهل مکه چي ایمان نه راوړي انتظار نه کوي. مګر ورځ د قیامت چي دوی ته راسي "بغتة" نابیره په پښتو، ناګاه په فارسي اچانک په اردو، والمعنی ان الساعة اتیة لا محالة بغتة فهم لا ینظرون الا الساعة، په تحقیق چي علامات د ساعت ښکاره سوي نو په ساعت حتمًا راځي لکن وقت اتیانها بالتعیین في علم الباري عزوجل (۱) منها شق القمر قال الله تعالی اقتربت الساعة وانشق القمر (۲) ومنها الدخان قال الله تعالی یوم تأتي السماء بدخان مبین (۳) ومنها مبعث النبيﷺ کما روی مسلم وابن ماجة عن سهل بن سعدؓ رئيت النبيﷺ قال باصبعیه (ای اشار) هکذا (ای ضمها) بالوسطی والتي تلی الابهام (یعني المسبحة) وقال بعثت انا والساعة کهاتین، له انسؓ څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روایت دی چي ده وویل زه به داسي حدیث درته ووایم چي هغه حدیث به هیڅ څوک تاسي ته نه ووایي ماسوی له ما څخه چي ما اورېدلي دي له رسول اللهﷺ څخه چي ده وویل ان من اشراط الساعة ان یرفع العلم (یعني څوک به عمل نه په کوي) ویکثر الجهل، ویکثر الزنی ویکثر شرب الخمر ویقل الرجال (په جنګو د تسلط د کافرانو پر ممالکو د مسلمانانو) کما هو الآن جار في افغانستان، وتکثر النساء حتی یکون لخمسین امرئة قیم واحد (چي دوی ته نفقه وغیرها برابروي بادني قرابة معه) وعن ابی هریرة﷜ بینما رسول اللهﷺ یحدث اذ جائه اعرابي فقال متی الساعة؟ قالﷺ اذا اضیعت الامانة فانتظر الساعة قال کیف اضاعتها؟ قال اذا وسد الامر الی غیر اهله فانتظر الساعة، رواه البخاري لعل المراد والله اعلم چي ریاست او سلطنت د مسلمانانو او دغه رنګه وزارت او نوري نوري لویي عهدې د ملک اسلامي د ناهل ظالمانو تابعینو د کافرانو په لاس ورسي.

درویش وایي: هو العصر الحاضر موجود في اکثر الممالک الاسلامیة کما لایخفی، وفي حدیث طویل عن ابی هریرة﷜ چي امانت به خلک غنیمت بولي یعني چي یو امانت شی ورته کېښېنول سي، داسي به یې بولي لکه غنیمت یعني چي بیا یې سړی طلب څني وکړي نه یې ورکوي، په دې کي قرض هم داخل دی او نور پورنه هم داخل دي والله اعلم (۲) والزکوة مغرمًا، زکوة به داسي ورته ښکاري لکه تاحقه تاوان (۳) او طالبان به طلب د علم کوي لغیر الدین بلکي د یو امامت یا قضاء الی غیر ذالک د پیدا کېدو لپاره به وي (۴) او سړی به د ماینې اطاعت کوي او مور به څني بېزاره وي (۵) اشنای به ځان ته رانژدې کوي پلار به له ځانه لېري کوي (۶) او اوازونه به په مسجدو کي شروع وي یعني مجلسونه لکه د صحراء په مساجدو کي (۷) او رئیس د قوم به هغه فاسق د دوی وي (۸) وکان زعیم القوم ارزلهم او ملک د قوم به هغه ډېر رزیل د دوی وي (۹) واکرم الرجل مخافة شره او عزت به ورکړه کېږي یو سړي ته د بېري دده له شره (۱۰) وظهرت القینات والمعازف او ښکاره به وېل کېږي غزلي او سروزونه لکه په راډیو ګانو کي بلکي تر هغه لوړ ټېپونه بلکي تر هغه لوړ لځه سېنما چي نر او ښځي به لغ جماع سره کوي پکښېني معلومېږي به، او ډش، بلکي لویه آله د غزلو او د زنی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کولو وخت او ځای پکښي تاکل کېږي چي د هري ښځي او نر په جېبو کي سته چي موبائل يې بولي او ساز و صحبت هم په اعلى درجه کي وجود پکښي لري (۱۱) وشربت الخمور او شراب په ډکه پيمانه څېښل کېږي صرف د نامه په بدلولو (۱۲) ولعن اخير هذه الامة اولها لکه شيعه په باب کي د ابوبکر او عمر او عثمان ﷺ يا روافض يا خوارج الى غير ذالک، انتهى باختصار كثير.

فَأَنَّىٰ لَهُمْ إِذَا جَاءَتْهُمْ ذِكْرَاهُمْ

نو چېري د کفارو لره په سر کي اهل مکه ؤ پند اخستل چي قيامت راسي، ولي چي قيامت چي راسي پند اخستل فائده نه کوي .. سعدي ؒ:

تو پيش از عقوبت درعفو کوب .... که سودی نه دارد فغان زير چوب

نـرود مـــرغ سوئی دانه فراز ..... چو بيند مـــرغ ديگر اندر بند

فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنبِكَ

نو ته پوه سه (انه ای الشان) نسته هيڅ يو معبود ماسوی له الله څخه، كلمة الفاء للسببية ای اذا علمت سعادة المؤمنين وشقاوة الكافرين، فاثبت يا محمد على ما انت عليه من العلم بوحدانية المعبود بالحق او تكميل د نفوسو د خلکو کوه باصلاح اقوالها واحوالها واعمالها بتبليغک المتين لان تلک الاصلاح نافعة يوم القيامة ليس الا.

سوال: رسول کريم ﷺ خو معصوم دی له ګناه څخه ما معنى هذا الامر بالاستغفار؟

ځواب: بعض مفسرين وايي چي هضمًا لنفسه دی، بعض مفسرين وايي اظهارًا للتقصير في بعض العبادات لا لمغفرة المعصية، بعض مفسرين وايي چي دا امر نسبت و عظمت و جلال ته د خدای دی او يا لپاره د اقتداء د امت دی، بعض مفسرين وايي بحذف المضاف دی ای واستغفر لذنب امتک.

درويش وايي: چي احسن د توجيهاتو داده په نېز د فقير چي استغفار في نفسه عبادت دی لکه سرې چي لا اله الا الله مکرروي فکان الامر بالاستغفار امر بالعبادة، او عليه الصلوة والسلام ددې امر الهي ايتان هم کاوه حيث قال عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام چي په مقتضى د امكان راځي زما پر نفس باندي غفلت واني استغفر الله في اليوم مائة مرة.

وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ

او د مؤمنين او د مؤمناتو لپاره اى استغفر لذنوبهم بالدعاء لهم، البغوي ؒ وايي چي دا اكرام من الله لهذه الامة حيث امر نبيهم ﷺ ان يستغفر لذنبهم لعدم العصمة لهم من الذنوب وهو ﷺ هو الشفيع المجاب فيهم... سعدي ؒ وايي:

عطايى شفاعت چنانش دهند — كه امت تمامى ز دوزخ رهند

نكته: په دې كي تحريض او باعثه كول دي د مؤمنين او مؤمنات پر استغفار باندي لوجود بعض الذنوب فيهم.

فائده: وفي اعادة الجار وحذف المضاف اى لذنوب المؤمنين آه اشعار بانهم لكثرة ذنوبهم وفرط احتياجهم الى الاستغفار كانهم جنس آخر.

وَاللَّهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَاكُمْ ﴿١٩﴾

او خداى ؑ خبر دى په مصرفياتو كي ستاسي او انتشاد كي ستاسي په اعمالو كي د دنيا.

درويش وايي: چي دا خطاب عام دى مؤمنانو او كافرانو ته، بدليل قوله ومثواكم لان معناه مصيركم في الآخرة الى الجنة او النار، او مقاتل او ابن جرير ؒ وايي منصرفكم لاشتغالكم بالنهار ومأواكم الى مضاجعكم بالليل للاستراحاته او لاجتماعهم بالاحبة، او عكرمه ؓ وايي متقلبكم من اصلاب الاباء الى ارحام الامهات بنقل النطفة الى رحمها ومثواكم مقامكم في الارض وروسته تر تېرېدو د تطولات د نطفه او علقه او مضغه وكسوة العظام مجما ونفخ الروح فيكم حتى حان وقت خروجكم من بطن الام الى الارض، والحاصل انه تعالى عليم بجميع احوالكم.

وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُورَةٌ ۖ فَإِذَا أُنزِلَتْ سُورَةٌ مُّحْكَمَةٌ

او وايي هغه كسان (لپاره د حرص پر جهاد) يعني چي موږ امر كړى په جهاد سره في سبيل الله چي نازل كړل سي يو سورت چي محكم وي لايحتمل وجها الا وجوب القتال.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّذُكِرَ فِيهَا الْقِتَالُ

او ذکر کړل سي قتال د کفارو سره، قتادهؒ وایي چي هر سورت چي په هغه کي جهاد ذکر سي هغه محکم دی یعني نسخ نه قبلوي ولي آیة القتال نسخ کړه ټول له ماقبل ذالک من طلب الصلح من الکفار یا غور مالی وغیر ذالک او پر آیة القتال نسخ نه راځي الی یوم القیامة حتی یقاتل اخیر هذه الامة مع الدجال.

پوه سه: چي هر سورت چي په هغه کي به امر بالجهاد و هغه سورت سخت تر سورت وُ پر منافقانو.

رَأَيْتَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَّرَضٌ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ

ته به وینې هغه کسان چي په زړو کي یې ضعف او بزدلي او نفاق وي، تا ته به ګوري د جبن او د خوف القتال له کبله.

نَظَرَ الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ فَأَوْلَى لَهُمْ

لکه نظر د هغه چا چي پر هغه بیهوشي د مرګ له سببه راسي (یعني زکندن یې وي) نو ښایي دوی لره.

طَاعَةٌ وَقَوْلٌ مَّعْرُوفٌ

فرمانبرداري د خدای او د رسول د خدای یعني چي جهاد ته چمتو سي "وقول معروف" یعني ښه دی دوی لره قول معروف في الشرع چي سمعنا و اطعنا ای سمعنا قولک واطعنا امرک.

فَإِذَا عَزَمَ الْأَمْرُ فَلَوْ صَدَقُوا اللَّهَ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ

چي ټینګ قصد وکي امر د جهاد.

پوه سه: چي دا اسناد مجازي دی والاصل جد وعزم اصحاب الامر چي مجاهدین دي پر قتال "فلو صدقوا الله" که دوی رښتیا کي هغه تمنی د نزول د سورة چي په هغه کي د قتال امر وي، نو دا به خیر وي دوی لره ولي چي اطاعت د خدای او د رسول په حاصل کړي او تمنی د دوی په ذکر کي د قتال جامه د صدق واغوندي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِن تَوَلَّيْتُمْ أَن تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ ﴿٢٢﴾

آيا بنايي يعني توقع کېږي چي جبن والاؤ که چېرې تاسي اعراض وکړئ له متابعت څخه د رسول اللهﷺ (په جهاد کي) چي تاسي به فساد کوئ (يعني بالكفر والمعاصي لاجل مزيد مخالفة الرسول) او وسيلې رحمي به قطع کړئ د خپل اقرباؤ سره چي مؤمنين مجاهدين دي في سبيل الله.

پوه سه: چي ان سره د جملې چي دی پر داخل دی فاعل د عسيتم دی والاستفهام لپاره د انکار دی چي بايد ستاسي څخه توقع د فساد ونه کړل سي بالكفر والمعاصي، وقطع الارحام مع المؤمنين المجاهدين في سبيل الله.

درويش وايي: چي مظهري" په منهية کي دد دې آيت تفسير داسي ليکلی دی چي پښتو ژباړه يې داده: له بريدهﷺ څخه روايت دی چي زه ناست وم په مجلس کي د امير المؤمنين عمرﷺ چي دده تر غوږه لويه ناره سوه، نو عمرﷺ خپل مربي يرفاء ته وويل: انظر ما هذا الصوت، ته وګوره چي دغه د څه شي لپاره ناره وه، يرفاء چي ولاړی معلومات يې وکړی نو عمرؓ ته يې داسي حال راوړی چي دا يوه مينځه ده کم سينه د قريشو چي د هغې مور خرڅول کېږي دا لور چي کم سينه ده پسي ژاړي، نو عمرﷺ يرفاء ته وويل چي ادع المهاجرين والانصار، يو ګړی چي کېدی حجره يبا سرای د عمرﷺ ډک سو، عمرﷺ حمد و ثناء پر خدای ﷻ وويل، بيا يې وويل اما بعد: فهل تعلمون فيما جاء محمدﷺ القطعية؟ قالوا لا (آيا وه پدهغه دين کي چي محمدﷺ تاسي ته راتګ په کړی قطع د صلة الرحم؟ حاضرينو وويل يا، نو عمرؓ هغه تېر سوی آيت فهل عسيتم تر پايه پوري تلاوت کړی ثم قال چي تر دې لويه قطع د صله به چېرې وي چي څوک رانسي مور د يوې نجلۍ او هغه پسي ژاړي؟ پدتاسي کي اوس خدای" فراخي جوړه کړې ده نو څه ضرورت لرئ وداسي بيع او شراء ته، بيا يې حکم جاري کړی کتابةً چي داسي بيع او شراء دي څوک نه کوي فانها قطية رحم لايحل انتهى قول المظهري".

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَىٰ أَبْصَارَهُمْ ﴿٢٣﴾

دغه مفسدين في الارض او قاطعين الارحام چي خدای" دوی د خپل رحمت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه لېري کړی دی له اورېدو څخه کانه کړي دي او سترګي يې له ليدو څخه د معجزاتو ورندې کړي دي.

اَفَلَا یَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ اَمْ عَلٰی قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا ﴿۲۴﴾

آيا دوی فکر نه وهي په قرآن کي چي صفحه صفحه يې مطالعه کړي او مواعظ د قرآن او زواجر د قرآن په غور فکر پکښي ووهي نو دوی ته به حق ښکاره سوی وای والاستفهام للتوبيخ والانکار على فعلهم القبيح والفاء للعطف على مقدر تقديره ايغفلون فلايتدبرون آه "ام على قلوب اقفالها" که يې پر زړو باندي قلفان زړولي دي.

پوه سه: چي زړونه خو قلفان نه لري لکن په ايت مبارک کي زړونه د دوی مشابه کړه د خزانو سره د نقودو، دې ته په علم بيان کي استعاره بالكناية وايي د خزانو سره خو قلفان مناسب بلکې لازم دي هغه په ثابت کړه د دوی زړو ته چي دا قلفان د زړو د افعالو معهوده وُ د قسم نه دی چي اجسام معروفه دی بلکې دا قلفان مناسب د زړو سره دی چي معنوي شيان دي يعني غفلت عن مواعظ القرآن وعدم التفکر فيها والاتعاض بمواعظها يعني ګويا د اهل جنس قلفان دي چي ددې قلفانو سره سره ددوی د زړو سره استعداد او قابليت د اتعاظ بمواعظ القرآن مسلوب بالكلية دی که څه هم دوی فکرهم ووهي فرضًا.

فائده: قلوب يې نکره راوړه لان المراد قلوب بعض الكفرة لکه په طور د مثال د ابی جهل زړه د ابی بن خلف زړه د وليد بن مغيره زړه و امثالهم. ولي بعض د قلوب وروسته خدای په کلمې د کلمه توحيد خلاص کړه، د بغوي په روايت چي رسول اللهﷺ چي دا آيت ووايه افلا يتدبرون القرآن ام على قلوب اقفالها. نو يو ځوان د اهل اليمن ناست وُ و يې ويل على قلوب اقفالها حتى يکون الله يفتحها چي خدای به يې خلاص کړي يا به يې لېري کړي نو اسلام يې راوړی عمر په دغه مجلس کي موجود وُ ددې ځوان خبري ډېر خوند ورکړی. حتى چي عمر چي خليفه سو نو زړه يې غوښته چي هغه ځوان پيدا کړي او پر يو لوړ مقام يې عامل وګرځوي پوښتنه چي يې وکړه خلکو ورته وويل چي هغه ځوان وفات سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَىٰ أَدْبَارِهِم

په تحقيق هغه کسان چي رد سوه د شا وخوا ته يعني خپل په پخواني دين وکرځېدل چي کفر وؤ.

پوه سه: چي مراد له دې کسانو څخه کفار د اهل کتابو يعني اليهود چي دمخه تر نبوت د عليه الصلوة والسلام به علماؤ د دوی نعوت د نبي اخير الزمان چي په تورات کي ضبط وه او دوی به مشرکينو ته بيانول او ځانونه پر هغه د ايمان لپاره چمتو کړي وه. فلما جائهم ما عرفوا كفروا به فلعنة الله على الكافرين كما في موضع آخر من القرآن، وفي موضع آخر يعرفونه (يعني محمد ﷺ كما يعرفون ابنائهم) وفي موضع آخر اشتروا الضلالة بالهدى، وفي موضع آخر في شانهم اشتروا به ثمناً قليلاً الى غير ذالك اخير الامر هغو يهودانو د ايمان راوړو څخه انکار وکړی او اياتو د تورات يې تغير او تبديل ورکړی، او الضحاک او السعدي او ابن عباس رضي الله عنه چي مراد په دې آيت کي منافقان دي.

مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى ۙ الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَىٰ لَهُمْ ﴿٢٥﴾

وروسته تر دې چي دوی ته هدايت يعني راه راست ښکاره سوه يعني اهل کتابو ته په ذريعه د تورات او منافقانو ته په ليدلو د معجزاتو د قرآن کريم، شيطان وهغو ته کفر او کبائر اسانه کړه مثلاً اهل کتابو ته يې دا وسوسه ور اچول چي ستاسي نيکه ګان خو انبياء تېر سوي، پر هر تقدير ستاسي شفاعت به کوي ولو مع الانكار من نبوة محمد ﷺ او منافقانو ته يې وسوسه ور اچول چي د ځان د ساتني لپاره هر څه خديعه او چم روا دی..... بيت:

بو زبانت يا صمد پيدا ودردل يا صنم　　اى بباطن کافر ظاهر مسلمانى چه سود

"واملی لهم" او و دوی ته يې د طول مهلت ورکړی دی او د شهوات ميل او محبت يې په زړو کي ور اچولی دی، دا جمله عطف ده پر "سول" او تول له يعني د شيطان د ابتدا ثيت سره خبر دي ان الذين

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لِلَّذِينَ كَرِهُوا مَا نَزَّلَ اللَّهُ سَنُطِيعُكُمْ فِي بَعْضِ الْأَمْرِ ۖ

"ذالک" دا تسويل د شيطان دوی لره او امهال د خدای دوی ته "بانهم" ای

Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

بسبب انهم چي دوی به ویل و هغو کسانو ته چي د هغو بد ایسېدی هغه قرآن چي خدای نازل کړی دی یعني یهودانو چي انکاریږي کاوه له نبوت څخه د علیه الصلوٰة والسلام او د ما انزل الله من القرآن وروسته تر دې چي یهودانو ته نعوت دده له تورات څخه دوی ته معلوم سوي وه، نو یا به منافقینو یا یهودانو یوې ډلي ته ددوی مشرکانو وویل "سنطیعکم في بعض الامر" ژر دی چي اطاعت ستاسي وکړو په بعض کارنامو کي ستاسي کالقعود عن الجهاد او الموافقة لهم في الخروج معهم ان خرجوا، یا به کومک ستاسي کوو پر عداوت د محمد ﷺ.

وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ

او خدای خبر دی په اسرارو ددوی (که یې په کسر د همزه چي مصدر سي) یا په پټو حالاتو ددوی (که په فتح د همزه وویل سي چي جمع د سر سي یعني پټ حال) چي هغه دغه خبري دي چي دمخه آیتو کي خدای افشاء کړې.

فَكَيْفَ إِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ

نو څه حال به وي ددوی (استفهام د تعجب دی او کلمه د فاء لپاره د سببیت ده، یعني په راتلونکي وخت کي به دوی څه حیلې کوي) یعني چي دوی ته راسي ملکي د زکندن یعني عزرائیل واتباعه "یضربون" حال دی له ملائکة څخه یعني په داسي حال کي چي ملکي به یې وهي په سندانو د اوسپنې، او مخان ددوی به وهي او شاوي ددوی.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ اتَّبَعُوا مَا أَسْخَطَ اللَّهَ

دغه وفات ددوی پر دغسي بد حالت کما لایخفی په سبب ددې چي دوی متابعت کاوه د هغه شي چي سبب د غضب د خدای به ؤ، قال ابن عباس چي هغه شی چي موجب د خدای د غضب ؤ پټول وه د یهودانو هغه آیتونه چي نعوت د علیه الصلوٰة والسلام یکښې وه والکفر بمحمد ﷺ انتهی.

درویش وایي: چي په منافقینو کي نفاق او په مشرکینو کي شرک او تعاون یو د بل سره کول پر عداوت د علیه الصلوٰة والسلام وابطال دین الاسلام. ما دا ضمیمه و حدیث ته د ابن عباس ورضم کړه له دې سببه چي په آیت کي مذکور پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په حالت وفات او ضرب الوجوه والادبار د مذكوره كفارو د ټولو حال بيان سي،
اما ابن عباس رض مشت نمونه خروار ذكر كړې وه.

وَكَرِهُوا رِضْوَانَهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ ۝٢٨

او دوى مكروه بولي هغه كار چي موجب د رضى د خداى ج به وُ لكه اصل الاصول الايمان به و برسوله وبكتابه. وروسته تر دې جهاد في سبيل الله او نور طاعات لكه لمونځ زكوة وغيرها. "فاحبط اعمالهم" خداى ورلغوه كړه عملونه ددوى يعني هيڅ ثواب په اخرت كي ور كوي كه څه هم هغه اعمال د جنس څخه د حسناتو وي كصلة الرحم واطعام الطعام وفك العاني لعدم شرط قبولها واعطاء الثواب عليها في الآخرة وذالك الشرط هو الايمان بما ذكرنا.

أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَن لَّن يُخْرِجَ اللَّهُ أَضْغَانَهُمْ ۝٢٩

آيا گمان كوي هغه كسان چي په زړو كي يې مرض يعني نفاق وي (كلمه د ام منقطعه ده په معنى د بل آه لپاره د انتقال د كلام سابق څخه او همزه لپاره د انكار څخه د مذكور حسبان او د توبيخ پر هغه) چي خداى به ښكاره نه كړي و رسول ته خپل او مؤمنانو ته هغه، اضغان جمع د ضغن ده و معناه البغض المضمر ددوى په زړو كي چي د رسول الله ﷺ او د مؤمنانو سره يې لري بلكي عالم ما في الصدور به خوامخواه ښكاره كړي كه يې څه هم دوى د پر پټ ساتي لانه لايغرب عن علمه شيئ.

پوهنه: چي دا كلام مربوط دى د هغه كلام سره الشيطان سول لهم يا بقوله ام على قلوب اقفالها.

وَلَوْ نَشَاءُ لَأَرَيْنَاكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُم بِسِيمَاهُمْ ۚ

كه زموږ اراده سي زه به وروينم په تا دوى اى لا علمناكهم تا به خبر كړم، ته به يې وپېژني دوى يعني زما په ښوونه سره په علامات د الدو پر نفاق ددوى او پر بغض مضمر ددوى ستاسي سره، قال البغوي" قال انس رض فما خفى على رسول الله ﷺ بعد نزول هذه الآية واحدا من المنافقين يعرفهم بسيماهم.

پوښتنه: منافقان چي يو په يو و عليه الصلوة والسلام ته معلوم وه نو ولي يې نه وژل چي ددوى له غمه به خلاص سوى واى؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: يو دا سبب ؤ چي عليه الصلوة والسلام دا ويلي وه من قال لا اله الا الله عصم منا دمائهم واموالهم. او منافقان خو دا کلمه جهرًا ويله. او بل سبب دا ؤ چي ددوی په وژلو سره عليه الصلوة والسلام رنګ په بدېدی، ولي چي خوک په خبر وه چي دا منافقان دي چي عليه الصلوة والسلام يې وژني بلکې په خارج کې به دا اوازه وای چي محمد ﷺ داسي يو شخصيت دی العياذ بالله چي خپل صحابه چي درد يې ورته راسي وژني يې، نو دده له دينه به د خلګو نفرت کېدی يعني که موږ دده په دين کي داخل سو نو که يې يوه ورځ درد ورغلي موږ هم وژني.

وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِي لَحْنِ الْقَوْلِ ۚ وَاللَّهُ يَعْلَمُ أَعْمَالَكُمْ ۝

جواب د قسم محذوف دی او مراد لحن القول څخه ازالة الکلام عن اصل مراده الى تعريض وتورية، والمعنى انک تعرفهم چي دوی تعريض کوی په خبرو کي و عبث ته د امرستا او د مؤمنانو، او پسخند په وهي لکن په ظاهره مدح کوي (د مثال په توګه په مجلس کي د رسول الله ﷺ او د مؤمنانو به يې ويل چي شکر دی چي داسي نبي لرو لکه محمد ﷺ او داسي وورونه لرو لکه هؤلاء المؤمنين يو د بل سره به يې کتل او په برېتو کي به يې خندل استهزاء، يا به يې يو وبل ته په سترګي کي اشاري کولې البغوي" چي وروسته تر نزول ددې آيت لايتکلم منافق عند رسول الله ﷺ الا عرفه په خبرو دده) خدای خبر دی په عملو ستاسي ايها المنافقون.

پوښتنه: نسبت د علم د دوی د عملو خدای پاک وځان ته ولي وکړی؟

ځواب: حسن د اعمالو او قبح د اعمالو په ماسوی کي د هغه عمل قبح ذاتي وي لکه کفر او زنی او لواطت مثلاً چي په هغه هر سړی پوهېږي د ماسوی د هغو حسن او قبح خو په نيت پوري مربوط ده او په نياتو خو علم نه لري الا الله تعالى فيجازيهم على حسبه مقصدهم ودينهم.

وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّىٰ نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِينَ مِنكُمْ وَالصَّابِرِينَ وَنَبْلُوَ أَخْبَارَكُمْ

موږ به ستاسي امتحان وکړو بان نأمرکم بالجهاد في سبيل الله.

سوال: خدای پاک په علم قديم سره مجاهدين وغيرهم سره خبر ؤ، نو امتحان ته څه ضرورت ؤ؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: بعض مفسرين وايي چي نعلم په معنی د تميز دی او د علم قديم د مجاهدينو او غيرهم يو د بل تميز او جلا والی خو په امتحان سره کيږي.

درويش وايي: چي وههنا جواب ادق من الاول وهو حتى نعلم علمنا بعد الوجود كما كنا قبل الوجود بانه سيكون كذا فافهم.

"المجاهدين منكم والصابرين" مجاهدين في سبيل الله او هغه كسان چي صبر كوي پر سختيو او كړاوو د جهاد وهذا العطف من قبيل عطف صفة على صفة الموصوف واحد "ونبلوا اخباركم" موږ به ابتلاء وكړو ستاسي د خبرو (چي په هغو خبرو سره به حسن او قبح د اعمالو ستاسي معلوم سي) فينظر حسنها اى في المؤمنين وقبحها يعني في المنافقين.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَشَاقُّوا الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَىٰ

په تحقيق هغه كسان چي كفر كوي او نور خلک هم منع كوي د لاري څخه د خدای (يعني الايمان بمحمد ﷺ، او دا احتمال هم سته چي خلک منع كوي د جهاد في سبيل الله څخه) او مخالفت كوي د رسول معهود چي محمد ﷺ دی، وروسته تر دې چي دوی ته لار د هدايت بيان سوه يا ورته معلومه سوه. لكه يهودانو ته چي د هدايت لار چي ايمان پر محمد ﷺ من مطالعة التورات و وجدان نعوت نبي اخير الزمان من التورات معلومه وه. راويان وايي چي دا آيت په بني قريضه او بني النضير كي نازل سوی دی چي دوې لويي طائفې د يهودانو وې د مدينې د شاوخوا. او بعض مفسرين وايي چي مراد څني هغه دوولس (۱۲) كسان دي چي و بدر ته را روان وه لپاره د قتال د عليه الصلوة والسلام او مؤمنانو چي دې دوولس كسانو به په نوبت لس لس اوښان حلالول.

لَن يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا وَسَيُحْبِطُ أَعْمَالَهُمْ

ضرر نسي رسولای په خپل كفر سره هيڅ شی له ضرر څخه (نكرة ده په سياق كي د نفي راغله نو عموم د شي من الضرر فائده كوي كما تقرر في النحو. بلكي ضرر راجع د دوی خپلو ځانو ته دی) خدای به لغو كړي اعمال د دوی يعني هيڅ ثواب به په اخيرت كي ورنه كړي لعدم شرط الثواب وهو الايمان ولايترتب عليه منفعة في الدنيا ولي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاسي واوريده چي د بدر د لاري دوه ډلي چي به يې ور کوله دوه ولس کسان وه په دنيا کي
يې هم په درد ونه خوړل ولي چي اوويا (٧٠) کسان يې پر ميدان د جنګ مردار پر پښول
او اوويا يې په حصارت ولاړه او په ذلت له جنګه وتښتېدل مکې ته ولاړه واي ضرر
اعظم من هذا والى هذا اشار اليه تعالى في قوله ان الذين كفروا ينفقون اموالهم
ليصدوا عن سبيل الله فسينفقونها ثم تكون لهم حسرة ثم يغلبون.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ وَلَا تُبْطِلُوٓا۟ أَعْمَٰلَكُمْ

اى هغه کسانو چي ايمان يې راوړى دى فرمانبرداري کوي د خداى او فرمانبرداري
د رسول، او مه باطلوئ خپل عملونه. قال ابن عباس﵄ وعطاء﵀ چي مه يې باطلوئ په شک
سره في دين الله او يا په نفاق سره يا په عجب او تکبر سره. وقال الحسن بالمعاصي
والکبائر وقال مقاتل لاتمنوا على رسول الله ﷺ بايمانکم فتبطل اعمالکم.

درويش وايي: چي مظهري خلاف له سياق څخه د مخو آيتو دا آيت وقفه ته
وقف کړى او ايراد د مذهبو او احاديثو دلائلو او نقض و ابرام سپارلى دى چي
اووه صفحې يې ډکې کړې دي.

درويش وايي: چي ما په سبب د طول الکلام هغه صرف نظر کړى.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَصَدُّوا۟ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ مَاتُوا۟ وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَهُمْ

په تحقيق هغه کسان چي کافران يعني کفر يې مختاره کړى وي (باى نوع من
الکفر الشرک، واليهودية والنصرانية وغيرها من اقسام الکفر) بيا مړه سي په
داسي حال کي چي دوى کفار وي، هرګز خداى بخښنه نه کوي دوى ته. کريمه: ان
الله لايغفر ان يشرک به ويغفر ما دون ذالک لمن يشاء. بعض علماء وايي چي دا
آيت په شان کي د هغو اوويا کسانو نازل سوى دى چي پر ميدان د بدر وژل سول
او يو ناپه کاره څه (کوهي) ته يې تهوله واچول او خاوري يې پر واړولې.

درويش وايي: چي بقاء د آيت پر عموم باندي اولى د يعموم الفائدة مع شموله
لما ذکرهم فتدبر.

فَلَا تَهِنُوا۟ وَتَدْعُوٓا۟ إِلَى ٱلسَّلْمِ

تاسي مه ضعيف کېږئ د جهاد في سبيل الله څخه او تاسي مه رابولئ ابتداء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کفار و صلح ته لانه دلیل الجبن والضعف فیکم البته که کافران طلب د صلح در څخه وکړي که صلح ستاسي خیر وه بیا صلح ورسره وکړئ.

پوهه: چي په "وتدعوا" کي په اتفاق د مفسرینو کلمه د لا مقدر ده، والتقدیر لاتدعوا.

وَاَنۡتُمُ الۡاَعۡلَوۡنَ ۖ وَاللّٰهُ مَعَكُمۡ وَلَنۡ يَّتِرَكُمۡ اَعۡمَالَكُمۡ ۝

تاسي غالب یاست په نصرت د خدای چي ستاسي سره یې وعده کړې ده یعني للمؤمنین الصالحین (دا جمله حال ده له فاعل څخه د تدعوا و وعد الله لاخلف فیه) او خدای ستا سره دی یعني بالنصر والعون فان الایمان یقتضي حب الله وقد ورد المرء مع من احب "ولن یترکم اعمالکم" (ای نه کموي له تاسي څخه یو شی له ثواب څخه د عملو ستاسي) مشتق دی د تره یتره اذا نقص حقه او ابن عباس او مقاتل وقتاده وایي معناه لن یظلمکم اعمالکم الصالحة ای لایبطلها.

اِنَّمَا الۡحَيٰوةُ الدُّنۡيَا لَعِبٌ وَّلَهۡوٌ ؕ

نه دی ژوند د دنیا مگر بازي یعني لا یترتب علیها فائدة معتدة بها یعني مالم یکن فیها ذکر الله قال رسول الله ﷺ الدنیا ملعونة وملعون مافیها الا ذکر الله "ولهو" غفلت دی چي تاسي منع کوي عما یفیدکم في الحیوة الدائمة.

وَاِنۡ تُؤۡمِنُوۡا وَتَتَّقُوۡا يُؤۡتِكُمۡ اُجُوۡرَكُمۡ وَلَا يَسۡـَٔلۡكُمۡ اَمۡوَالَكُمۡ ۝

او که تاسي ایمان راوړئ ای بالله ورسوله في الدنیا "وتتقوا" او تاسي د عذاب د خدای ځان وساتئ په اتیان د اوامرو د خدای او اجتناب د منهیاتو د خدای "یؤتیکم اجورکم" خدای تاسي ته درکوي ثواب د اعمالو ستاسي او د تقوی په اخرت کي، نو دا حیاة الدنیا مزرعة الآخرة ده ولاتکون لهوًا ولعبًا "ولایسئلکم اموالکم" ولي چي رب جل وعلی محتاج نه دی و شي ته او په ایمان او طاعت چي مو امر کوي ددې لپاره چي ثواب بالجنة درکړي کما في قوله تعالی ما ارید منهم من رزق، او بعض مفسرین وایي لایسئلکم الله ورسوله اموالکم کلها في الصدقات انما یسئلکم جزءًا یسیرًا وهو ربع العشر په نقود کي یا یو پسه من (۱۲۰) شاة هغه هم من مال نام (چي نما کوي) نو دا لږ مال چي خدای او رسول یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غواړي بايد په طيب نفس او خوشحالي سره ورکړي دا قول د ابن عيينة دی او سياق د ايت هم پر دغه دلالت کوي، نو دا جمله دفع د توهم ددې کوي چې خدای پاک چې ذم د دنيا وو ايي او مدح د ايمان او د تقوی يې وکړه ددې لپاره چې خدای پاک غواړي چې مسلمان ټوله خپله شتمني في سبيل الله صرف کوي.

درويش وايي: چې د دفع د دغه توهم خدای پاک داسي ووېل "ولايسئلکم اموالکم" يعني کلها حتی چې موجب د بخل ستاسي وګرځي کما يقول

إِن يَسْـَٔلْكُمُوهَا فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوا۟ وَيُخْرِجْ أَضْغَٰنَكُمْ ﴿٣٧﴾

"ان يسئلکموها" ای جميعًا "فيحفکم" په تکليف کي به واچوي په سبب د طلب الکل.

پوه سه: چې احفاء مبالغه او بلوغ الغاية ته وايي چې دلته طلب د ټول مال دی "تبخلوا" تاسي به خامخا په طلب کي د کل المال او په ورکړه کي د هغه به بخل کوئ "ويخرج اضغانکم" ښکاره به کړي خدای بغض ستاسي د داسي دين سره.

هَٰٓأَنتُمْ هَٰٓؤُلَآءِ تُدْعَوْنَ لِتُنفِقُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ

مبتداء او خبر دی.

مفردات: هاء حرف تنبيه ده وانتم مبتداء ده او هؤلاء خبر دی، او يا هؤلاء منادی ده په حذف د حرف نداء يعني يا هؤلاء والخبر تدعون.

"تدعون" بلل کېږي "لتنفقوا" چې تاسي انفاق کوئ بما فرض الله عليکم د الله په لار کي من الزکوة ونفقة الغزاة وصلة الرحم وغيرها

فَمِنكُم مَّن يَبْخَلُ ۖ وَمَن يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَن نَّفْسِهِۦ ۚ

بعض له تاسي څخه داسي کسان دي چې په ما فرض الله کالامور المذکورة هم بخل کوي يعني له ورکړي څخه يې ډډه کوي. او هغه څوک چې بخل کوي په واجباتو کي هم، نو دا بل نه دی مګر د ځان سره ولي چې نفع د انفاق او ضرر د بخل راجع وده ته دی، له ابن مسعود؄ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ يو ورځ خلکو ته (يعني صحابه کرامو؆ ته يې داسي ووېل چې کوم يو دی ستاسي داسي چې مال د وارث دي محبوب وي وده ته تر خپل مال (يعني چې زه دي فقر کوم څو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وارث مي اباد وي) صحابه کرامو ﷺ ورته وويل چي څوک په موږ کي داسي سړی نشته مګر چي مال خپل يې محبوب تر مال د وارث دی. قال ﷺ فان ماله ماقدم (دده مال هغه دی چي ځان د مخه کړي يعني په لار د خيريې مصرف کړي او مال د وارث يې هغه مال دی چي دی مړ سي وارث ته يې پرېږدي)

حکایت: يو سړی ؤ ډېر بخيل زکوة خوره ؤ، نو ناجوړی سو وخت د زکندن چي يې نږدې سو، نو ځوان زوی يې راوباله وصيت يې ورته وکړی چي پر ما د څو کلو زکاتونه پاته دي چي زه مړ سم ته به يې مسکينانو ته ورکړې، زوی يې ورته وويل چي بابا هغه وخت چي مال ستا ؤ ولي دي زکوة نه ورکاوه اوس چي مال زما سو يعني په ميراث راپاته سو، نو زما په مال يې ستا څه چي زه خپل له مال څخه ستا زکوة ورکړم.

درويش وايي: چي د داسي پلار داغسي جواب د زوی لائق ؤ، والحديث المذکور آنفًا رواه البخاري والنسائي وعن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ ما من يوم يصبح العباد فيه الا ملكان ينزلان (داسي ورځ نسته چي بندګان په سهار کړي مګر دوې ملکي نازلېږي يعني له اسمانه، يوه وايي اللهم اعط منفقًا خلفًا (ورکړې هغه چاته چي انفاق کوي عوض، يعني في سبيل الله مراد د عوض څخه دنيا او اخرت دی) ويقول الآخر اللهم اعط ممسكًا تلفًا (ورکړې و بخيل ته تلف د مال) متفق عليه للبخاري ومسلم، وعن اسماء بنت ابي بکر ﷺ قالت قال رسول الله ﷺ انفقي (نفقه کوه يعني مسکين وغيره ته) ولاتحفي (لاس مه پر نسه فيحفي الله عليک (پر تا به خدای تنګي د رزق راولي، الى اخير الحديث، وعن ابي هريرة ﷺ قال رسول الله ﷺ قال الله تعالى: انفق يا ابن آدم (نفقه کوه پر خوار او غريب او مسکين وغير ذالک) أنفق عليک (پر تا به نفقه وکړل سي يعني د خدای له خوا څخه، متفق عليه (درويش وايي وقد جربت ذالک)

وَاللّٰهُ الْغَنِيُّ وَاَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ

خدای غني دی ستاسي د صدقاتو او د عباداتو څخه، او تاسي محتاج ياست خدای ته په رزق او صحت او عافيت وغير ذالک کي، نو له دې سببه خدای تاسي امر کړلاست په صدقاتو في سبيل الله لاحتياجکم في الدنيا والآخرة اليه تعالى.

Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

وَإِن تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُم ﴿٣٨﴾

او كه تاسي اعراض وكړئ له قبول څخه د دين اسلامي (يا له عليه الصلوة والسلام څخه وبعبارة اخرى عن طاعة الله وطاعة رسوله والانفاق في سبيله) "يستبدل" خداى به ستاسي په عوض كي يو بل قوم غير له تاسي څخه چي هغه به هم ايمان راوړي او هم به د تقوى پر لار روان وي او اطاعت د خداى او رسول به كوي.

پوه سه: چي مخاطب په دې آيت كي ټوله عرب دي.

"ثم لايكونوا امثالكم" وروسته به نه وي تاسي غوندي بلكي هغه به اطوع وي تر تاسي لله ولرسوله.

درويش وايي: چي مراد د خداى عزوجل له دې قوم څخه څوك دي، عظيم اختلاف د اهل تفسير دى: الكلبي" وايي چي مراد له قوم څخه نخع او كندة دي، الحسن" وايي چي مراد عجم دي.

پوه سه: چي دائره د عجمو نهايته فراخه ده، نه ده معلومه چي د الحسن" كوم عجم مراد دي، او عكرمه" وايي چي مراد فارس او روم دي، عن ابى هريرة رضي الله عنه چي عليه الصلوة والسلام دا آيت تلاوت كړى، نو صحابه كرامو رضي الله عنهم وويل: من هؤلاء فضرب (يعني عليه الصلوة والسلام) پر ورانه د سلمان الفارسي" ثم قال هذا وقومه، او پسي زياته يې كړه ولو كان الدين عند الثريا (پيروني) لتناوله فارس، رواه البغوي والترمذي والحاكم.

درويش وايي: چي دا حديث په ډېرو اسانيدو د ډېرو رواتو څخه مروي دى چي الفاظ يې نهايت سره متقارب دي قال شيخ محمد بن يوسف الصالحي" الشافعي المذهب، قال الشيخ جلال الدين السيوطي الشافعي" المراد بهذا الحديث ابو حنيفة واصحابه".

درويش وايي: چي د امام شافعي" مذهبيان هم دا حديث محمول پر ابو حنيفه" بولي يعني تقوى دار علماء حسد نه سره لري لكه زموږ د زماني مولوي صاحبان يا مفتي صاحبان، د محمد بن ادريس الشافعي" صاحب المذهب څخه په صحيح نقل ثابت ده چي ده وويل: الناس عيال لابى حنيفة" في الفقه، له عبد الله بن مبارك

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه روايت دی چي امام بخاري ؒ د بعض احاديثو روايت کړی هغه په مدح د امام ابو حنيفة ؒ يوه قصيده جوړه کړې ده چي يو دوه بيتنه به يې په ګډه سره واورو:

لقد زان البلاد ومن عليها امام المسلمين ابو حنيفة
فما بالمشرقين له نظير ولا بالمغربين ولا بكوفة

درويش وايي: چي که څوک پوره د ژوندانه حالات د امام اعظم ؒ د فقاهت او د اجتهاد او د تقوی غواړي چي په خبر دي سم، نو دي د فقير پښتو شرح د فقه الاکبر مطالعه کړي چي فقير په حواله د تواريخو صحيحه ؤ په هغه شرح کي بيان کړی، اوس به د کوټټي د ښار د کتاب فروشانو سره موجوده وي ان شاء الله تعالی، نو فهم کوه حاسده چي داسي ګمان ونه کړې چي ته په دې بيان کي خپل د علميت شهرت غواړې، بلکي انما الاعمال بالنيات، زه په دې حواله د خپلي رسالې ورونه اتباع امام المسلمين د خپل امام په تاريخ خبروم.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او
pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

الحمد لله رب العالمين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الْفَتْحِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّ فِيْهَا اَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

درويش وايي: بحمد الله وحسن توفيقه والصلوة والسلام على رسوله وحبيبه سيدنا محمد وعلى آله واهل بيته واصحابه الكرام. تاريخ د سورة الفتح د روژې د مباركي مياشتي پر (٢٥) د جمعې مباركي په شپه پر لس بجې وروسته تر صلوة التراويح، وادعوا الله الكريم المعطي لكل سؤل لا اله انت نستعينك ونستغفرك ونسئلك خير الدنيا والآخرة ونشهدك انت ربنا ورب السموٰات والارض ونسئلك ان توفقني لتفسير سورة الفتح على وجه السداد بالخير والعافية والصحة والسلام انت على كل شيئ قدير وبالاجابة جدير واشفني من جميع الامراض الموجودة في شفاء كاملاً.

پوښتنه: الزهري" وايي چي سورة الفتح له اوله څخه تر اخيره پوري په منځ كي د مكې او مدينې نازل سوې دی، يعني وروسته تر صلح د حديبيې چي عليه الصلوة والسلام رجوع له مكې څخه و مدينې ته وكړه، نو څرنګه دې سورة ته مدني ويل كېږي مع ان المفسرين باتفاقهم سموه مدنيًا؟

ځواب: مدني په اصطلاح كي د اهل تفسير هغه سورة يا آيت ته وايي چي بعد الهجرة نازل سوی وي ولو بمكة كما ان المكي ما نزل قبل الهجرة ولو كان خارج المكة كما في حواشي السعدي المفتي.

اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا ﴿١﴾

موږ تا ته فتح دركړه فتح ښكاره.

اهل تفسير اختلاف لري في هذه الفتح، روى عن ابى جعفر الرازي عن قتادة عن انس رض چي مراد ځني فتح د مكې ده نو دا د خدای وعده ده په فتح سره د مكې.

سوال: فتح د مكې خو وروسته تر دې وسوه، نو تعبير يې په ماضي صيغه څرنګه وسو؟

ځواب: موعود د خدای لكه واقع دی لتحققه لامحالة، نو په دې كي چي فتح د مكې هنوز نه وه سوې فتح يې وبلل چي وروسته هم وسوه معجزة للنبي ﷺ، لكن صحيح دا ده چي دا صلح د حديبيه په خپله فتح ده كما سيأتي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي مظهري حسب عادت یې (۱۴) صفحې بیان کړی دی، لکن فقیر دو مره طول رطب و یابس کرده پکښې جمع کول د متعلمینو د تفسیر ایوبي درد سر بولي ولهذا اقتصرت القصة فاقول سبب د صلح د حدیبیه چي نژدې و مکې ته د یو ځای نوم دی یعني فراخه ځکه ده چي یوه برخه په حدود کې د حرم داخل ده، او یوه برخه له حدود څخه د حرم دباندي ده، چنانچه په بیان کې دد ې واقعې راغلی دی چي علیه الصلوة والسلام خپلو د همراهانو سره خېمې په زمین حل کې و د رولې او لمونځونه یې په حدود کې د حرم داخل کول، په حدیبیه کې یو ځاه موجود ؤ قلیل الماء چي د پخوا د وخته مسافرینو به د یوې شپې او ورځې لپاره دا لته ځانونه راحت کول، نو سبب دد ې سفر دا ؤ چي علیه الصلوة والسلام په مدینه منوره کې خوب لیدلی ؤ چي دی او اصحاب دده مکې مکرمې ته ورغله معتمرین آمنین (یعني په امن کې) محلقین (چي بعض به د عمرې له افعالو وروسته ځانونه حلالول سرونه به یې تول وخریل او بعض عمرې والو به قصر وکړی یعني څه وېښتیان به یې پرې کړه) او دا یې هم په خوب ولیدل چي دی د کعبې شریفي خوني ته داخل سو او کلي یې د کعبې له متولي څخه واخستل، وطاف هو واصحابه للعمرة، او دا خوب یې اصحابو ته بیان کړی اصحاب ډېره خوشحاله سوه لان الرؤیاء الانبیاء وحي وروسته یې اصحابو ته اعلان وکړی چي زه عمرې ته ځم نو اصحابو هم ځانونه عمرې ته اماده کړه، بیا علیه الصلوة والسلام په کور کې غسل وکړی او یو دسمال یې پر اوږه ؤ او بل یې لنګ ؤ او پر خپله اوښه چي قصوی یې بلل سپور سو د دروازې سره د مسجد.

درویش وایي: چي په عدد کې د ملګرو یې اختلاف دی بعض وایي (۱۴۰۰) کسه وه، او په بعض روایاتو کې (۱۵۰۰) کسه وه او په بعض روایاتو (۱۶۰۰) کسه که څه هم روح البیان وایي چي صحیح روایت یې (۱۴۰۰) دی، لکن فقیر وایي چي دد ې روایاتو تر مابین اختلاف نسته، ولي چي په عزم د عمرې علیه الصلوة والسلام تو له د صحرا او بانډو مسلمانان خبر کړي وه نو دی مبارک که څه هم د مدینې منورې څخه (۱۴۰۰) کسه ورسره وه ووتی، لکن د قریو او د بانډو خلګ پر محاذات د خپلو کلو ورسره ملګري کېدل حتی چي (۱۵۰۰) ته ورسېدل، دغه رنګه بیا نور خلګ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورسره ملحق کېدل تا چي (۱۶۰۰) ته ورسېدل. لکن ډېر اهل قرى يعني مسلمانان له قريشو څخه د جنګ د بېرې نه سوه ورسره ملګري، او عليه الصلوة والسلام د ځان سره اوويا (۷۰) اوښان هديه مکې ته راهي کړي وه. تاريخ د وتلو د عليه الصلوة والسلام له مديني څخه د دوشنبې ورځ وه او ول د ذى القعدة چي په پښتو يې مياني بولي سنه شپږ (۶) هجري وه، نو چي عليه الصلوة والسلام او ملګري يې ذى الحليفة چي ميقات د اهل مديني دى ورسېدل صلى بالمسجد هناک رکعتين او احرام د عمرې يې وتاړه يعني لبيک بعمرة فيسرها لى وتقبلها مني، اکثره اصحابو رض دلته احرامونه وتړل، بعضو پر حجفة چي مقيات د اهل شام دى احرام وتاړه.

نکته: د عمرې په احرام ولي عليه الصلوة والسلام اعلان وکړى تا چي اهل مکه ومن حولها په دې پوه سي چي عليه الصلوة والسلام د جنګ لپاره نه دى راروان بلکې لزيارة بيت الحرام.

ددې سفر په اوږدو کي معجزه: راوي وايي چي يو ځاى چي دوى اړولي وه او عليه الصلوة والسلام د يو رکوة (کوټوری مانند لوښي) څخه اودس تازه کاوه، خلک په ځغاسته ورته راغله عليه الصلوة والسلام ورته وويل مالکم (يعني څه خبره ده؟) ولي راځغلئ؟ هغو ورته وويل چي ټوله لښکر نوري اوبه بېله د غو اوبو چي ته اودس په تازه کوې نه لري. نو عليه الصلوة والسلام پر رکوة باندي لاس کېښښوى، نو انس رضي الله عنه او ټوله اصحاب وايي چي په مابين د هرو دوو ګوتو د عليه الصلوة والسلام په مثال د چينو اوبه رابهېدلې حتى ټولو صحابه وؤ اودسونه په تازه کړه او وه يې هم څيښلې، حتى جابر رضي الله عنه وايي چي که موږ يو لک نفر هم واى د ټولو به د غه اوبه بس سوي واى.

درويش وايي: چي دا معجزه ډېره عجيبه ده تر معجزې د موسىٰ عليه السلام چي په لکړه به يې ډبره ووهل چينې به ځني راووتلې، دليل د تعجب يې دا دى چي راوتل د اوبو د ډبرو يعني په غرو کي يعني نه د موسىٰ په ضرب الحجر چي پيدا کېدې، ولي هغه بلا ريب معجزه وه. بلکې مطلق اوبه په غرو کي له ډبرو څخه عادي کار دى. لکن د صافو اوبو پيدا کېدل د مابينه څخه د غوښي او وينو پيدا او الى نه چا ليدلى او نه يې اورېدلي دي او نه کوم تاريخ رانقل کړي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: د څه حکمت لپاره يې لاس د کوتوري په اوبو لوند کړی؟

ځواب: حکمت يې ادب ؤ د خدای عزوجل سره لانه تعالی منفرد په ابداع او ايجاد د معدوم من غير اصل، رواة د قصې وايي چې عليه الصلوة والسلام بشر بن سفيان مکې ته واستاوه چې د مکې والو حال معلوم کړي چې د دوی په سفر کې د عمرې په مکه څه عکس العمل ښکاره کړی دی، بشر بن سفيان چې بيرته راغلی نو عليه الصلوة والسلام ته يې وويل: هذه قريش قد سمعت بخروجک الی مکة للعمرة، نو دوی د پړانګانو پوستکي اغوستي دي.

درويش وايي: چې دا جمله کنايه ده د سخت عداوت او بغض څخه او دوی راغوښتي وه هغه کسان د احابيش د قبيلې چې د دوی اطاعت يې کاوه (احابيش د لوی قبيلې نوم دی له عربو څخه) ومعهم زادهم (د دوی د سفر نفقه هم ورسره وه) او ښځې او اولادونه ورسره وه، ليکون علامة لعدم الحرب ان وقع، او په ذی طوی کې چې په مکې کې د يو ځای نوم دی سره غونډ سوي وه او خېمې يې درولې وې، او معاهده يې قطعي سره کړې وه چې دی او د ده ملګري به تول نه پرېږدو چې عليه الصلوة والسلام او ملګري چې مکې ته داخل سي، وروسته رسول کريم ﷺ په مقتضی د هغه امر الهي "وشاورهم في الامر فاذا عزمت فتوكل على الله" اصحابو کرامو ته چې د ده سره همراه وه داسي وويل: اشيروا علي ايها الناس اتريدون ان نوم البيت فمن صدنا عنه قاتلناهم" ما ته مشوره راکړئ ای خلکو، آيا تاسي اراده لرئ چې موږ په قصد د بيت الله الشريف وروان يو که چا موږ منع کولو د هغه سره به جنګ کوو او که څرنګه؟ فقام المقداد بن الاسود رضی (چې يو ستر مشر د زړه دک سړی ؤ د انصارو څخه) او وه يې ويل چې موږ تا ته دا نه وايو لکه بني اسرائيلو چې موسیٰ ؑ ته وويل چې موسیٰ ؑ په امر د خدای ج د دوی امر کړه په قتال د جبابره ؤ سره "اذهب انت وربک مقاتلا انا ههنا قاعدون" (ولاړ سه ای موسیٰ ته او ستا خدای نو د جبابره ؤ سره جنګ وکړئ موږ دلته در ته ناست يو (يعني که مو فتح وکړه پر موږ به ږغ وکړئ چې راځئ) المقداد رضی عليه الصلوة والسلام ته وويل چې موږ داسي وايو اذهب انت وربک (يعني خدای دي معاون سه) فقاتلا (تاسي جنګ وکړئ يعني ته په صورت او خدای په غيبي نصرت) او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

موږ هم درسره يو، مقاتلون فقال عليه الصلوة والسلام فامضوا على اسم الله، نو
درځئ پر نامه د خداى ج يعني الله اكبر، راوي وايي چي څه وخت و عقبه ته
ورسېدل (چي د يو ځاى نوم دى چي تر دې ځاى ورواوړي مكې مكرمې ته سړى
داخلېږي) د عليه الصلوة والسلام اوښه قصولى په خپله چوكه سوه حل حل (په
اواز عرب اوښ ولاړوي) او خلكو وويل خلئت القصولى ځان واچاوه قصولى،
عليه الصلوة والسلام ورته وويل: ما خلئت القصولى، او نه هم ددې دا عادت ؤ بل
حبسها حابس الفيل بلكې قصولى منع كړه له جنګ څخه د مكې والو هغه ذات
قادر مطلق چي د ابرهه فيلان د جنګ څخه منع كړه كما قال عز من قائل الم تر كيف
فعل ربک باصحاب الفيل الى اخير السورة، وروسته عليه الصلوة والسلام
وويل: چي زما دي په خداى ج قسم وي چي مكې وال چي هر شى وغواړي چي د
اسلام سپكاوى نه وي پكښې زه به يې ددوى سره منم، دا چي يې وويل خپل پر
اوښه يې ږغ وكړى اوښه ولاړه سوه، بيا عليه الصلوة والسلام وويل: چي يو سړى
نسته چي په هغه ځاى كي چي مكې وال سره جمع دي پر بله لار مو بوزي؟ يو سړي
د بني اسلم د قبيلې چي نوم يې ناجيه بن جندب ؤ وو داسي وويل: انا يا رسول
الله ﷺ، نو ناجيه دوى پر داسي لار بوتله چي سخته وه په غرو او په ډبو كي چي
وروسته هموارې مځكې ته ورسېدل بيا عليه الصلوة والسلام امر وركړى ناجيه ته
چي پر داسي لار مو بوزه چي مهبط د حديبيه وي كښته تر مكې نو پر هغه ځاى
حديبيه يې واړول، نو دوى هم تږي وه او اوښان يې هم تږي وه، نو د حديبيه څاه ته
لكه د مخه چي فقير ذكر وكړى نهايت قليل الماء ؤ، دې لښكر نبوي چي يو څو
سولغې څني راوكښې څاه وچ سو چي يو څاڅكى اوبه نه پكښې معلومېدې،
خلكو ورسول الله ﷺ ته شكايت وكړى د ډېري تندې، نو سور د ښت ؤ سخته ګرمي
وه او څاه هم وچ سو، نو عليه الصلوة والسلام د بغل ځولى څخه يو غشى
راوكښې، او براء بن عازب رضي الله عنه ته يې وويل چي د څاه په منځ كي دې ښخ كړې او
رسول الله ﷺ د څاه غاړې ته ورغلى او په خوله مباركه يې اوبه ولغړولې هغه يې
پكښې تو كړې او خلكو ته يې وويل چي تاسې يو ګړى څاه پرېږدئ وروسته
ورسئ خپلي اوبه څني راكاږئ خلكو هم داغسي وكړه وروسته چي ورغله څاه تر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خولې پورې د اوبو ډک سو خپل ځانونه او اوښان يې ټول په اوبه کړه تر هغو
پورې چې تخمينًا څورلس (١۴) ورځې عليه الصلوة والسلام په حديبيه کې سره د
اصحابو کرامو رض موجود ؤ، نو دغه څاه مالامال د اوبو ولاړۀ، او په تفاسيرو کې
وايي چې د هغه څاه اوبه تر اوسه نه دي کمې سوي، لکن په انسان العيون کې
وايي چې عليه الصلوة والسلام او اصحاب چې څه وخت د حديبيه څخه کوچېدل
البراء بن عاذب رض ورغلی هغه غشی چې د عليه الصلوة والسلام په امر يې د څاه په
نس کې ښخ کړی ؤ بيرته را وکښ بغضًا لاهل مکة چې دوی يې عمرې ته نه پرېښول
نصار البئر کما کان، والله اعلم، لکن په هر صورت حديبيه د سعوديانو په
حکومت کې فوق العادة زيبا او قشنګ ځای ځنې جوړ سوی دی، ښه ګلان، شنې
شنې درختې پکښې دي چې هورې يې برمې وهلي دي.

فائده: په دې سفر کې کې د عليه الصلوة والسلام سره د امهات المؤمنين
څخه ام سلمة رضي الله عنها ملګرې وه، راويان د قصې وايي چې عليه الصلوة والسلام چې د
حديبيه څخه مطمئن سو د اهل مکه له خوا څخه بديل بن ورقاء چې د خپل قوم لوی
سردار ؤ د خبرو لپاره حديبيه ته راغلی او د عليه الصلوة والسلام څخه يې پوښتنه
وکړه ما الذي جاء بک؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې زه د دې لپاره نه يم
راغلی چې اراده د جنګ لرم ستاسې سره، انما جئت زائرًا للبيت يعني للعمرة فقط
نو بديل بيرته ولاړی قريشو ته چې عليه الصلوة والسلام پيغام يې دوی ته
ورساوه او هغو دا پيغام ونه مانه، بيا قريشو الحليس بن علقمه را واستاوه د خبرو
لپاره وکان سيدًا للاحابيش کما مر هغه چې د عليه الصلوة والسلام سره خبرې
وکړې عليه الصلوة والسلام هغه پخوانی خبره ورته وکړه کما مر آنفًا قريشو د
هغه پر خبره هم اعتماد ونه کړی وروسته قريشو عروة بن مسعود الثقفي عظيم
الطائف ورواستاوه متمول العرب کلهم دې نمائينده چې هم خپلې خبرې د عليه
الصلوة والسلام سره وکړې او عليه الصلوة والسلام خپل مرام و هغه ته بيان کړی
کما مر لکن عروة چونکه يو سړی ؤ د عليه الصلوة والسلام او د اصحابو رض په عمل
کې فکر وواهه دا يې وليدل چې عليه الصلوة والسلام چې به اودس تازه کاوه
اصحابو رض پر هغه مستعملو اوبو تقريبًا جنګ سره کاوه او هرچاته چې به هغه اوبه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په لاس ورغلې په مخانو بې و منبلې او چې عليه الصلوة والسلام چې ناړې توه
کړې هر صحابي به لاس ورته نيولی ؤ چې د چا په لاس کې به ولوېدې هغه به هغه
ناړې په مخ او کالو پوري مښلې، او چې عليه الصلوة والسلام به د دوی سره
خبري کولې هغو به عاجزانه او په خضوع سره خبري ورسره کولې، او دوی تېز و
عليه الصلوة والسلام ته نه کتل تعظيمًا له، عروة بن مسعود الثقفي چې مکې ته
راستانه سوه، نو قريشو ته يې دا وينا وکړه: يا معشر قريش اني جئت کسرى في
ملکه، وقيصر في ملکه والنجاشي في ملکه والله ما رئيت ملکًا في ملکه قط مثل
محمد في اصحابه واني ارى ان لا تنصروا عليه، فقالت له قريش لا تتکلم بهذا يا
ابا يعفور ولکن نرده هذا العام ويرجع في عام قابل، فقال عروة ما اراکم الا
سعيکم فارغة (يعني دا ستاسي رايه چې تاسي سږ کال ولاړ سئ او پر کال راسئ
زه يې فارغ او عبث بولم) لکن قريشو چې د عروة بن مسعود خبره ونه منل، نو
عروه سره د خپلې قبيلې ټوله طائف ته ولاړه او وروسته يې اسلام هم راوړی،
وروسته عليه الصلوة والسلام خراش بن اميه الخزامي راوبولی او خپل شخصي
آس عليه الصلوة والسلام وده ته ورکړی چې الثعلب يې باله ليبلغ اشراف قريش
غرضه الذي جاء به يعني زيارة البيت الحرام بالعمرة، قريشو د عليه الصلوة
والسلام د آس پښې ورپرې کړې او دا اراده يې وکړه چې خراش هم مړ کړي خو
احابيشو له قتل څخه دوی منع کړه، خراش رض چې بيرته عليه الصلوة والسلام
راغلی او صورت حال يې ټوله و عليه الصلوة والسلام ته بيان کړی، بيا عليه
الصلوة والسلام عمر بن الخطاب رضي الله عنه راوغوښتی چې ته ولاړ سه د مکې و مشرانو
ته زما حال بيان کړه يعني چې زه زائر البيت معتمرًا راغلی يم لا للحرب معکم،
عمر رض ورته وويل يا رسول الله اخاف قريشًا على نفسي، زه بيرېږم له قريشو څخه پر
ځان يعني ما به ووژني وما بمکة من عدي بن کعب (چې د عمر رض خصوصي قوم ؤ)
چې ما دې له قريشو څخه خلاص کړي او قريش خبر دي زما په شدت عداوت
د دوی سره، او چې ما ډېر غلظت او سختي کول د دوی سره يعني قبل الهجرة چې
ما ايمان راوړی لکن زه به يو سړی دروښيم چې اهل مکه يې ډېر احترام کوي او
قومي خلک هم د هغه په مکه کې ډېر دي چې عثمان بن عفان دی، نو عليه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com	Scanned by CamScanner

والسلام عثمان ﷛ راوغوبنتی فبعثه الی اشراف قریش چي زما د راتگ مطلب ورته په واضح ډول بیان کړه، او بیا علیه الصلوة والسلام عثمان ﷛ امر کړی چي ته به ورسې و کورو ته د هغه مسلمانانو چي اوس هم په مکه کي پاته دي یعني لعدم القدرة علی الهجرة، او د هغو مسلمانو کورو ته به هم ورسې چي اسلام یې د قریشو له بیري پټ ساتلی دی. او دوی ته به ووایاست چي علیه الصلوة والسلام وایي خدای پاک نژدې کړی دی هغه وخت چي دین اسلام به غالبه کیږي حتی چي هیڅوک به اسلام پټ نه ساتي، فخرج عثمان ﷛ الی مکة ومعه عشرة رجالا بامر رسول الله ﷺ چي د هغو خلکو اهل او عیال په مکه کي ؤ، نو عثمان ﷛ چي مکې ته لا نه ؤ داخل سوی، ابان بن سعید په مخه ورغلی او هغه و ده ته اجازه ورکړه چي دی کولای سي چي مقصود او غرض د علیه الصلوة والسلام و قریشو ته بیان کړي، نو عثمان ﷛ چي رئیسانو ته د قریشو د علیه الصلوة والسلام مطلب بیان کړی ساداتو د قریشو په سختي سره ورته وویل چي محمد مکې ته نسي راتلای ابدا.

فلما فرغ عثمان ﷛ من تبلیغ الرسالة وسمع منهم الردّ القبیح لدخول علیه الصلوة والسلام بمکة بیا ساداتو د قریشو ده ته وویل یعني عثمان ﷛ چي که ته طواف او عمره کوې تا ته اجازه درکوو، عثمان ﷛ ورته وویل چي زه طواف د مکې نه کوم تر هغو چي رسول الله ﷺ طواف نه وي کړی، او قریشو عثمان ﷛ دري ورځي هورې د بندي په توگه ساتلی ؤ د لته یو خبر کاذب و رسول الله ﷺ ته را ورسېدی چي عثمان ﷛ سره د لسو کسو ملگرو قریشو په شهادت ورسول. فقال رسول الله ﷺ لاصحابه ﷛ چي موږ تر هغو ددې ځایه نه ځو چي د قریشو سره جنگ ونه کړو فامره الله بالبیعة من الصحابة، فنادی رسول الله ﷺ ایها الناس البیعة البیعة نزل روح القدوس (ای خلکو البیعة البیعة یعني حاضر سئ و بیعت ته جبرئیل ﷤ راغلی دی چي د خلکو سره بیعت وکړه)

فائده: لفظ ته د البیعة په نحو کي منصوب علی الاغراء وایي (یعني څوک پر یو کار باعثه کول) فاخرجوا علی اسم الله خلک یعني صحابه کرام ﷛ د خپلو خپمو څخه په بر تلوار سره راووتل و طرف ته د علیه الصلوة والسلام په داسي حال کي چي علیه الصلوة والسلام تر یوې درختي لاندي ناست ؤ چي د السمر په نامه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يادبدله فبايعوه على عدم الفرار، وقال رسول اللهﷺ وقال اما الفتح او الشهادة بيعت پيمانه شروع سو، په اخير کي عليه الصلوة والسلام د عثمانؓ له خوا هم بيعت وکړی (يعني على تقدير عدم صحت القول بقتل عثمانؓ نو عليه الصلوة والسلام خپل راسته لاس پر چپه لاس کښېښو، وقال اللهم هذه لعثمان فانه في حاجتک وحاجة رسولک.

فائده: ودې بيعت ته بيعت رضوان وايي، ولي چي په دې بيعت کي خدای ﷻ له دوی څخه راضي ؤ، وفيها نزلت قوله تعالى لقد رضي الله عن المؤمنين اذ يبايعونک تحت الشجرة، وفي الحديث الصحيح لايدخل النار احد بايع تحت الشجرة وقال ايضًا لايدخل النار من شهد بدرًا والحديبية واول من بايعه تحت الشجرة سنان بن سنان الاسديؓ فقال للنبيﷺ ابايعک على ما نفسک، زه ستا سره بيعت کوم پر هغه څه چي ستا په زړه کي دي عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي زما په زړه کي څه شی دی، سنانؓ ورته وويل چي زه به ستا په حضور کي خلک په توره وهم حتى يظهرک الله (تر هغو پوري چي خدای ﷻ تا ته پر کفارو غلبه درکوي) يا زه وژل کېږم، وروسته چي نورو خلکو بيعت شروع کړی هغو به ويل نبايعک على ما بايعک سنان، راوي وايي چي وروسته تر درې ورځي عثمانؓ راغلی هغه هم تجديد د خپل بيعت ورسره وکړی، په صحيح تاريخ اسلامي کي راغلي دي چي محمد بن مسلمهؓ سره د څو کسانو پر پهره د عليه الصلوة والسلام تاکل سوی ؤ، قريشو څلوېښت کسان په مشرۍ د مکرز بن حفص را استولي وه د شپې د مخه په دې اميد چي ګوندي له اصحابو څخه د محمد ﷺ بعض کسان ګرفتار کړي په وخت کي د غفلت د دوی، نو دوی چي راغله محمد بن مسلمهؓ او د ده ملګرو چي د عليه الصلوة والسلام پر پهره درولي وه نو دوی يې ګرفتاره کړه، يو مکرز بن حفص په تېښته بريالی سو وتښتېدی، نو دا څلوېښت کاسه لاس بسته محمد بن مسلمهؓ او د ده ملګرو و عليه الصلوة والسلام ته راوستل، نو قريشو ته د خپلو خلکو د حبس خبر ورسېدی، نو يو جماعت د دوی و الله اعلم چي څو کسان وه په دا غه شپه يې را واستول چي ورسئ د اصحابو سره جنګ وکړئ نو د غشو او د ډبرو ويشتلو جنګ شروع سو په مسلمانانو کي يو نفر په شهادت ورسېدی چي نوم يې ابن زستم ؤ چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په غشي و ويشتل سو، او مسلمانانو ددې جماعت څخه بيا دوولس نفره گرفتار کړه نور په تېښته ولاړه، نو په دې وخت کې قريشو ورسول الله ﷺ ته يو څو کسه په منځ د سهيل بن عمر راواستول، عليه الصلوة والسلام چې سهيل وليدی اصحابو کرامو ﷺ ته يې وويل قد سهل امركم، يعني د سهيل په نامه يې نېک فالي وکړه، وقد كان النبي ﷺ يحب الفال بمثل، فقال سهيل يا محمد ان من كانوا من قريش يعني حبس اصحابك يعني عثمان و عشرة رجال اخر وكان قتال من قاتل اصحابك لم يكن من راى ذوى رأينا بلكې موږ کارهين ددې کارو خود سرانه ؤ، نو موږ ته په لاس راکړه زموږ خلک يعني څلوېښت يو وار او دوولس کسه دوهم وار، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې زه يې نه درسره کوم تر هغو چې تاسي زما اصحاب يعني عثمان ؓ او لس کسه نور ورسره خوشي نه کړئ، قال سهيل نفعل، نبعث سهيل هغه کسان چې ورسره وه و قريشو ته راغله او وه يې ويل چې اصحاب د محمد يعني عثمان و من معه خوشي کړئ، نو هغو دا خبره ومنل او عثمان ؓ و من معه (۱۰) نفره يې ايله کړه څو چې و عليه الصلوة والسلام ته راورسېدل، نو عليه الصلوة والسلام هم ددوی اولاً او ثانيًا بنديان و سهيل ته په لاس ورکړه.

پوه سه: چې قريش چې په دې بيعت د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو ﷺ خبر سوه كبرت عليهم، او پر دې وپوهېدل چې عليه الصلوة والسلام جنګ ته اماده نه سي، او اصحاب رائ و دوی ته مشوره د صلح ورکړه پر دې مضمون چې عليه الصلوة والسلام سره د خپلو اصحابو به سږ کال ځي او پر کال د ذو القعدة (مياني) لکه سږ کال به راځي موږ به مکه يعني طواف ګاه د درو ورځو لپاره دوی ته خالي کوو، فبعثوا سهيل بن عمرو ثانيًا و معه مكرز بن حفص وحويطة بن عبد العزى او دا شرط چې په اوسني کال کې به ځئ تا چې عرب دا ګمان ونه کړي چې عليه الصلوة والسلام په زوره مکې ته داخل سو، نو اتفاق پر صلح سره وسو، که څه هم بعض اصحاب په صلح اولاً راضي نه وه او داسي ګمان يې ؤ چې موږ ولي کفارو ته سپکاوی په دين کې ښکاره کوو وهم مشركون نحن مسلمون، نو عليه الصلوة والسلام دوی ته وويل چې و امر ته د خدای او د رسول غاړه کښېږدئ. خير خو هغه اصحاب هم قانع سوه او سره د هغه بعض اصحابو و رسول کريم ﷺ ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وویل چي تا موږ ته نه وه ویلي چي موږ به مکې ته داخلیږو آمنین محلقین رؤسهم آه؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي ما داسي درته ویلي وه چي سږ کال؟ هغو ورته وویل چي یا، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي داخل به سئ آمنین محلقین آه، نو بیا علیه الصلوة والسلام علي ؓ طلب کړی (ولي چي هغه په خط او کتابت کي ماهر ؤ) فقال ﷺ اکتب بسم الله الرحمن الرحیم. سهیل ورته وویل چي موږ رحمٰن او رحیم نه پیژنو، لکن اکتب باسمک اللهم لان قریش کانوا یکتبون ذالک وقت الجاهلیة، نو علیه الصلوة والسلام و علي ؓ ته وویل: اکتب کما قالوا (لعدم الفرق في المعنی) فکتب علي ؓ، وروسته علیه الصلوة والسلام علي ؓ ته وویل: اکتب هذا ما صالح علیه محمد رسول الله و سهیل بن عمرو. سهیل وویل چي که موږ دا منلای چي ته رسول الله یې نو مو ولي له دخول څخه د مکې منع کولې؟ لکن اکتب هذا: ما صالح علیه محمد بن عبد الله و سهیل بن عمرو، فقال رسول الله ﷺ لعلي ؓ چي محو کړه د رسول الله توری. فقال علي ؓ لا والله لا امحو رسول الله ابداً، ولي چي ما خو ستا رسالت منلی دی او عقیده پر لرم نو یې څرنګه محو کړم. بیا علیه الصلوة والسلام و علي ؓ ته وویل چي ما ته یې راوښایه هغه لفظ علي ؓ وروښووی نو علیه الصلوة والسلام پر لفظ د رسول الله قلم د محو کش کړی. وقال لعلي ؓ اکتب هذا ما صالح علیه محمد بن عبد الله و سهیل بن عمرو، او علیه الصلوة والسلام دا خبره هم وکړه: انا والله محمد رسول الله وان کذبتموني یعني قریش وانا محمد بن عبد الله ایضًا.

د صلح نامې مضمون:

(۱) دا چي د مسلمانانو او قریشو تر منځ به لس کاله جنګ بندي وي، که مکې ته مسلمانان ورځي په امن به وي او که قریش مدینې ته ورځي په امن کي به وي.

فائده: دا شرط یعني چي د امن لاري سره ایله سوې په اوږدو کي ددې لسو کلو په سلګونو کافرانو ایمان راوړی، ولي چي دوی له مبارکي خولې څخه د علیه الصلوة والسلام خبري بالمشافهة واورېدلې او بعض معجزات دوی په سترګو ولیدلې. حتی راویان د قصې وایي چي تر دې صلح د مخه په لس کاله کي دومره کافران په دین کي د اسلام نه وه داخل سوي لکه په دې لسو کلو کي د صلح چي یې ایمان راوړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۲) دوهم شرط داؤ چي که څوک له قریشو څخه که څه هم پر دین د محمد (ﷺ) وي بیله اذن د قریبانو مدینې ته ولاړ سي بیا مو پر سرې درواستوو په لاس به یې ورکوئ که نر وي او که ښځه، او که څوک مرتد سي یعني چي پر محمد (ﷺ) یې ایمان راوړی وي بیرته کفر ته وګرځي نو موږ یې په لاس نه در کوو.

پوښتنه: دوهم شرط که څه هم صحیح دی ولي چي مرتد نو علیه الصلوة والسلام څه کاوه، ولي چي اسلام خو علیه الصلوة والسلام پر چا باندي په وهلو او ټکلو باندي نه تحمیل کاوه، مګر د اول شرط په منلو کي یې څه حکمت ؤ، ولي چي کافرانو خپل قریبان په وهلو او ټکولو بیرته کفر ته اړول؟

ځواب: روح البیان او نور تفاسیر وایي چي د هغه په رد کي عمارة البیت الحرام وزیادة الثواب في الصلوة في الکعبة الشریف والطواف علی البیت له دې څخه هم مشرکانو څوک نه منع کاوه فکان فیه ایضًا تعظیم حرمات الله، او د هغه مسلمان قریبان که څه هم ده ته ازار رسوي هغه د غو ثوابونو په مقابل کي چندان شی نه ؤ کما لایخفٰی.

(۳) ومن احب ان یدخل في عقد محمد (ﷺ) دخل فیه ومن احب ان یدخل في عقد قریش وفي عهدهم دخل فیه یعني که د چا خوښه وي (ای من الکفار) چي په قرارداد کي د محمد (ﷺ) داخل سي په هغه کي دي داخل سي، او که څوک په عهد قرارداد کي د قریشو داخلیږي په هغه کي دي دخل سي.

(۴) زموږ او ستاسي یعني قریش او مسلمانانو تر منځ عیبة مکفوفة (عیبة د کالو بخۍ ته وایي دلته مراد څني کنایةً زړونه دي) چي په هغه کي د صلح نامه مضمون سته، نه به ښکاره کوي دا زړونه عداوت زموږ او ستاسي تر منځ بل منطویة علی الوفاء بالصلح.

(۵) قال سهیل: چي ته به سره د اصحابو سږ کال ځې فلاتدخل مکة واذا کان العام القابل قریش به مکه یعني طواف ګاه او د صفا او مروه څخه ووځي په نژدې غرو کي به کښېني ته به سره د اصحابو رض آمنین خپله عمره پوره کوې او درې ورځې وتاسي ته اجازه ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۶) ستاسي سره به توري وي په خپل غلاف (يعني په تبکي کي) او د غشو لندی به د رسره وي بله سلاح به ستاسي سره نه وي.

درويش وايي: چي د مسلمانانو خو په دې کي شک نه ؤ چي موږ به سږ کال مکې ته داخليږو او طواف عمره به کوو د عدم شک په سبب د هغه خوب ؤ چي عليه الصلوة والسلام و دوی ته بيان کړی ؤ، دلته چي دوی د صلح نامه مضامين واورېدل چي رسول اللهﷺ څونه د رانه شرطونه تحمل کوي او د کفارو سره يې مني دخل من ذالک في قلوبهم امر عظيم، يعني وسوسې د شيطان حتی کادوا يهلکون، خصوصًا هغه شرط چي که يو مسلمان تا ته درسي موږ سږی درواستوو ته به هغه مسلمان په لاس ورکوې.

درويش وايي: چي وعجب من ذالک کله داده چي په وخت کي د صلح نامې د نوشته کېدو د سهيل زوی ابو جندل چي مسلمان سوی ؤ او پلار سهيل يې په پښو کي زولنې وراچولي وې او د ضرب او کوب اثار يې پر بدن وه هم د مکې څخه راتښتېدلی ؤ چي په څونده تکليف به يې تر حديبيې ځان رارسولی ؤ راغلی د مسلمانانو په مابين کي يې ځان وغورځاوه چي زما دغه حال دی، سهيل و عليه الصلوة والسلام ته وويل چي د دوهم شرط امتحان به زما پر زوی معلوم سي چي ته يې ما ته په لاس راکوې او که نه، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي تر اوسه صلح نامه نه ده امضاء سوې، سهيل ورته وويل چي تر څو يې په لاس را نه کړې زه صلح نه کوم، عليه الصلوة والسلام سهيل ته وويل چي دغه ستا زوی ما ته راوبخښه، سهيل وويل لا: اخير عليه الصلوة والسلام ابو جندل سهيل ته رد کړی.

درويش وايي: چي د مسلمانانو پر زړو اوربل سو لکن هيڅ چا د مسلمانانو څخه هيڅ ونه ويل، ولي بيعة الرضوان تر صلح دمخه ؤ او دغه بيعة الرضوان باعث سو چي قريش و صلح ته راغب سوه، دا ما ذکرنا حال چي خلاص سو او پر صلح نامه بعض مسلمانانو امضاوي هم وکړې، عليه الصلوة والسلام خلکو ته وويل چي ځانونه حلال کړئ يعني سرونه و خرياست يا قصر وکړئ، درې واره يې وويل هيڅ چا عمل په ونه کړی، عليه الصلوة والسلام و خپلي خېمې ته ورغلی چي ام سلمهؓ پکښې وه دا حال يې د هغې سره شريک کړی، نو زمو موږ مورؓ ورته وويل چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خلګو چي ستا په خوله عمل ونه کړی تا احرام بنده ويني، نو د دوی امید د مکې له دخول څخه نه دی ختلی کما قیل لعل یحدث بعد ذالک امرًا، ته ورسه خپلي هدایا ذبح کړه او حالق راوغواړه چي سر دي دروخریي بیا یې ته ګوره چي مسلمانان څه کوي، نو علیه الصلوة والسلام هم داغسي وکړه، په یوه روایت کي راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام خپله هدی په حدیبیه کي ذبح کړه او غوښي یې په هغو فقراوُ وېشلي چي حدیبیې ته راغلي وه، او په بل روایت کي راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام شل اوښان د ناجیه ﷺ په لاس ورکړه چي په مکه کي یې پر مروة ذبح کړه او غوښي یې پر فقراوُ د مکې و وېشه، بیا علیه الصلوة والسلام په خپلي سرې خېمې کي چي د ادیم احمر څخه جوړه وه کښېنستی سر مبارک یې خداش رضی الذي بعثه الی مکة کما مرور وخرایه او وېښتان د سر مبارک یې پر یوې درختي وپاشل، صحابه وُ دا وېښتان له درختي څخه ټولوله تبرګا، ام عمارة رض چي په دې سفر کي راغلي وه یو څو وېښتان یې ټول کړه چي وروسته به یو څوک ناجوړی وُ دې به هغه مبارک وېښتان د مبارک سر د علیه الصلوة والسلام ورپربولهٔ هغه او به چي به مریض وڅیښلې په اذن د خدای به جوړ سو، سعدي شیرازي قدس الله سره داسي بیتونه چي د دې ځای سره مناسبت لري ویلي دي:

ګلی ناچیز درتمام روزی رسید	زدست محبوبی بدستم
بدو ګفتم که مشک یا عبیری	که از بوی دلاویزی تو مستم
بګفتا من ګلی ناچیز بودم	ولی مدتی با ګل نشستم
جمال همنشین درمن اثر کرد	وګرنه من همان خاکم که بودم

اوس بیرته د حدیبیې د قصې پر لور: فلما رؤ الناس رسول الله ﷺ رافعًا صوته باسم الله والله اکبر نحر ناقته او سر یې هم وخرایه خلک سره وغورځېده ینحرون ویحلقون یعني د خلګو امید قطع سو چي مود سږ کال پر بیت الله طواف نه سو کولای.

درویش وایي: چي اکثره خلګو سرونه وخریل اقتداءً بر سول الله ﷺ یو عثمان او ابی قتادة رضی الله عنهما قصر وکړی په امید د دې چي اکثره وېښتان دا نوی کال چي عمرې ته راسو بیا هلته خریو، راویان د احادیث شریفه وُ وایي چي خدای پاک یو تند باد پیدا کړی چي د ټولو خلګو وېښتان یې پورته کړه نژدې و حرم مکي ته یې وپاشل که څه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هم حدیبیه اکثره په حدودو کې د حرم داخله ده لپاره د زیري پر مسلمانانو چې د سږ کال عمره مو هم قبوله سوه که څه هم مکې ته داخل نه سواست او طواف او سعي د صفا او مروی مو ونه کړه یعني خدای د پوره عمرې ثواب درکوي.

سوال: که ددې کال عمره د خدای په دربار کې پوره عمره وای، نو د وروسته کال عمرې ته ولې عمرة القضاء وايي؟

ځواب: د قضاء معنی دا نه ده چې د پروسږ کال د عمرې قضاء ده، بلکې د قضاء معنی صلح ده یعني عمرة الصلح مع قریش فافهم وهذا سانح عزیز.

پوه سه: چې علیه الصلوة والسلام سره د اصحابو ﷺ نولس (١٩) یا شل (٢٠) ورځې تېرې کړې یعني په حدیبیه کې وروسته یې رجوع وکړه د مدینې منورې پر لور، نو کراع الغمیم ته چې ورسېدی لکه په انسان العیون او نورو تفاسیرو کې چې وايي انزلت علیه سورة الفتح.

تفریع: دا سورت چې مدني بولي په دې سبب چې بعد الهجرة نازل سوی دی که څه هم نه په مکې او نه په مدینې کې بلکې په مابین د مکې او مدینې کې نازل سوی دی، ولې چې اصطلاح د مفسرینو داده چې هغه سورة چې بعد الهجرة نازل سوی وي هغه مدني دی ولو بمکة وبالعکس.

معجزة بینة: درویش وايي چې کراع الغمیم د لښکر زاد او نفقة السفر قریب وفنا ته ورسېده حتی صحابه کرامو ﷺ قصد وکړی و ذبح کولو ته د بعض اوښانو لکن بې مشورې د رسول الله ﷺ یې داسې نه وکړه، موضوع یې مبارک ﷺ ته پیش کړه، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې اوار کړئ خپل پټوان او ستر خوانونه او امر یې وکړی چې د هر چا سره چې وي بقیه طعام او زاد هغه دې راوړي او پر دې پټوانو او ستر خوانو دې واچوي، خیر د هر چا سره چې هر څه فاضله نفقه موجوده وه رایې وړل پر ستر خوانو یې واچول، بیا علیه الصلوة والسلام دعاء د برکت وکړه بیا یې وویل چې خورئ یاست او خپلې بوجۍ او جولونه هم په ډک کړئ ففعل الصحابة ﷺ کذالک فأکلوا، او بوجۍ او جولونه یې هم ځنې ډک کړه وفضل عن ذالک بقیة.

معجزة اخری: وقد سبقت مثلها کما مر مرة اخری یعني قال علیه الصلوة والسلام چې د اوداسه اوبه سته، خلکو په یوه مشکولا کې لږ اوبه ورته راوړې هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په يوه کتوري کي عليه الصلوة والسلام واچولي او عليه الصلوة والسلام خپل لاس مبارک په هغو او بو کي کښېښوى نو د هرو دوو گوتو تر مابين يې د صافو اوبو چينې بهېدلې فتوضئوا به كلهم، يو چا د راوي څخه پوښتنه وكړه چي تاسي څو کسان واست؟ راوي ورته وويل چي كه موږ يو لک کسان هم وای دا اوبه ډېري وې لکن موږ (۱۴۰۰) کسان وُ، روات د قصې وايي چي سورة الفتح چي نازل سو آنحضرت ﷺ وويل و اصحابو ؓ ته چي پر ما يو سورة نازل سو چي هغه ماته محبوب دي تر مما طلعت عليه الشمس، وفي رواية اخرى لقد انزلت علي سورة ما يسرني بها حمر النعم (چي زه نه خوشحاله كوم په مقابل كي د دې سرو اوښانو)

بوه سه: چي الحمر بسكون الميم جمع د احمر ده او النعم بفتحتين جماعت ته د اوښانو وايي ولا واحد له من لفظه او سره اوښان د ډېر ښه مالو څخه د عربو دي حتى چي دوى په نفاست د يو شي مثال په سرو اوښانو سره وايي ثم قرء رسول الله ﷺ سورة الفتح عليهم الى اخيرها، وروسته عليه الصلوة والسلام دوى ته ددې سورت د نزول مبارک باد ووايه او دوى و عليه الصلوة والسلام ته ددې سورت مبارک باد ووايه، راوي وايي وتكلم بعض الصحابة ؓ وقال هذا ماهو بفتح (دا څو فتح نه ده مشركانو موږ بند كړو د بيت الله له زيارت څخه) عليه الصلوة والسلام ته چي چا خبر ورساوه قال: بئس الكلام بل هو اعظم الفتح لقد رضى المشركون ان يد فعوكم عن بلادكم وسألوكم القضية اى الصلح والتجاء آه او زارى يې وتاسي ته وكړې في الامان وقد رؤا منكم ما كرهوا (يعني بيعة الرضوان) او دوه واره ددوى خلک ستاسي په لاس كي گرفتاره کېده يو وار (۴۰) كسه او بل وار (۱۲) كسه، او تاسي ته خداى ؓ برى دركړى پر دوى بانديي او ددوى له بلاد څخه خداى ؓ سالمين مأجورين را وه ايستلاست فهو اعظم الفتوح، عليه الصلوة والسلام ورته زياته كړه: انسيتم يوم احد وانا ادعوكم في اخراكم (يعني تاسي شكست وكړى او ما د شا له خوا په تاسي پسي نارې وهلې) اليّ يا عباد الله، انسيتم يوم الاحزاب اذا جائكم من فوقكم ومن اسفل منكم واذ ذاغت الابصار وبلغت القلوب الحناجر وتظنون بالله الظنونا، فقال المسلمون صدق الله ورسوله هو اعظم الفتوح، والله يا رسول الله ما فكرنا فيما فكرت (موږ د و مره فكر نه دى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وهلى لكه تا چي وهلى دى) ولانت اعلمنا بالله وبامره، وقال له عمرؓ الم تقل انک تدخل مكة آمنًا، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي ما درته ويلي وه چي سږ كال به داخليږئ؟ عمرؓ ورته وويل لا، قالؐ فهو كما قال جبرئيل (يعني في المنام) فانكم تأتونه وتطوفوا به. راوي وايي چي دوهم كال رسول اللهﷺ داخل سو مكې ته او عمره يې وكړه قال هذا الذي وعدتكم.

پوښته: چي اصحابؓ لم يشكوا في امر النبيﷺ ولم يكن كلامهم معه على وجه الاعتراض حاشاهم الله عن ذالک بل انما يسئلوه على وجه الاستعلام (يعني په سر د كارنامو د عليه الصلوة والسلام يې ځان خبراوه چي ددوى په زړو كي به څه خبره ورګرځېدلې وه) مما لايخلو عنه بشئ (يعني من الوسوسة فان الامر عميق) ددې داسي مثال دى لكه د كلو كلو متعلم چي له استاذ څخه د مشكل ځاى په كتاب كي پوښتنه وكړي فانه ليس بانكار من علم الاستاذ ولاشک فيه بل طلب حل المشكل الذي خطر في قلبه من الاستاذ فتدبر.

پوښتنه: علماء وايي چي دغه صلح د مشركينو سره چي فتح يې وبلل مع انه ليس فتحًا لاعرفًا لانه ليس بظفر على بلدة مكة، ولا لغة ليس بفتح للمغلق كيف وقد منعوهؐ من زيارة البيت والطواف به حتى نحروا الابل وحلقوا رؤسهم بالحديبية فاىٔ ظفر في ذالک؟

والجواب: صلح د مشركينو سره فتح ده بالمعنى اللغوي لانه كان مغلقًا ومتعذرًا وقت نزولهم بالحديبية لان المشركين كانوا عند ذالک في غاية الطغيان والتكبر عن سماع قول رسول اللهﷺ الا انه لما آل امر رسول اللهﷺ الى بيعة الرضوان او مشركانو ته دا ښكاره سوه چي مؤمنان په ټينګ عزيمت اى وقتال او جهاد ته ضعف قلوبهم (ضعيف زړونه د كافرانو) وخافوا من قتال المؤمنين حتى چي غاړه يې صلح ته كښېښول او طلب د صلح اولاً هم دوى وكړى او په دې سره ثابته سوه غلبه د مسلمانانو پر دوى مع ان ذالک الصلح كان سببًا لامور اخر كانت مغلقة قبل ذالک.

منها: چي مشركان او مؤمنان سره ور سوه په سبب د دې صلح، نو مشركانو د عليه الصلوة والسلام او د مؤمنانو خبري مشافهة واورېدلې وتمكن الاسلام في قلوبهم حتى چي رواة د قصې وايي كما مر چي په دغه لس كاله جنګ بندي كي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په صلح کې مابين ته راغلې وه دومره کافرانو ايمان راوړی چې په مثل د ماقبل ذالک من المؤمنين وه بلکې اکثر.

ومنها: چې عليه الصلوة والسلام په سبب د دې صلح له مشرکينو څخه د مکې ونورو عربو ته د جهاد او قتال لار خلاصه سوه فغزاهم و فتح مواضع اليهود خصوصًا خيبر او ډېر غنيمتونه د مؤمنانو لاس ته ورغله، او داغه رنګه په دغو کلو کې يو لوی جنګ په مابين کې د روميانو چې اهل کتاب وه او د فارس چې مجوسيان وه او غالبه سوه روميان پر فارسيانو باندې، او دا غلبه د روميانو له دلائلو څخه د نبوت د عليه الصلوة والسلام وه. ولې چې د مخه تر دې هم د روميانو او د فارسيانو جنګ سره سوی ؤ او په هغه جنګ کې مجوسيانو غلبه پيدا کړې وه پر روميانو، نو مشرکان د مکې ډېر خوشاله وه په دې چې مجوسيان خو لکه مشرکان داسې وه. نو عليه الصلوة والسلام داسې اخبار کړی ؤ: وهم (ای روميان) من بعد غلبهم (اضافة د مصدر د مفعول ته دی يعني وروسته تر مغلوبيت د دوی) سيغلبون (روميان به غلبه پيدا کړي پر فارسيانو) في بضع سنين (په څو کلو کې بضع د درو څخه تر نهو (۹) پورې ته وايي) نو عليه الصلوة والسلام او مؤمنان په دې غلبه د روميانو پر مجوسيانو ډېر خوشحاله سوه چې اهل کتابو پر مجوسيانو مشرکانو غلبه پيدا کړه، نو د عليه الصلوة والسلام صدق هم ښکاره سو، او عين په دغه ورځ کې مؤمنانو چې (۳۱۳) کسه وه غلبه پيدا کړه پر مشرکانو د مکې چې (۱۰۰۰) کسه وه په بدر کې چې اوويا (۷۰) يې څني قتل کړه او اوويا (۷۰) يې بنديان ونيول او نور وتښتېدل مکې ته.

لِّيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ

تا چې وبخښي وتا ته خدای غزوجل د مخه ګنهونه ستا او وروسته.

بوه سه: چې دا آيت علت غايت دی د فتح له دې سببه چې دا مغفرت سبب دی د جهاد سره د کفارو والسعي في ازاحة الشرک واعلاء الدين کما مر في تفسير البيعة تحت الشجرة وتخليص الضعفة عن ايدي الظلمة کما مر تفصيله في الصلح مع المشرکين بالحديبية.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: انبياء عليهم السلام خو معصوم دي له ګنهو څخه قبل النبوة وبعدها (كما ذكرنا بالتفصيل في رسالة كشف الغطاء عن عصمة الانبياء للعبد الضعيف) فما معنى نسبة الذنب الى النبي ﷺ؟

ځواب: د دې آيت معنى داده اى جميع ما فرط منكم من ترک الاولى وتسميته ذنبًا بالنسبة الى منصبه الجليل لان حسنات الابرار سيئات المقربين على ما قاله ابو سعيد الخزار قدس سره، وفي المثنوي لتائيد قول الخزار رحمه الله:

آنكه عين لطف باشد بر عوام قهر شد بر عشق كيشان كرام

درويش هيچمدان وايي: چې چونكه مسئله د عصمت الانبياء عليهم السلام د عقائدو مسئله ده چې تحقيق يې په كتابو كې د علم كلام سته لكه په كتاب كې د شرح العقائد او شرح المقاصد للعلامة الثاني سعد الملة والدين التفتازاني وشرح المواقف للقاضي عزد الملة وشرح السيد الجرجاني رحمه الله وغيرها من كتب علم العقائد والكلام، وفيها مذاهب شتى لاهل الاهواء لكن په دې مسئله كې لوى تحقيق قاضي عياض رحمه الله كړى دى په شفاء كې چې دده كتاب دى په احاديثو نبويه ؤ كې دى لهذا فقير په خپل تفسير محتاطانه اقوال د بعض مشائخو رانقل كوم، عقلي دلائل چې چا ويلي دي هغه صرف نظر كوم، نو رښتيا داده چې د دې مسئلې درياب ډېر عميق دى ډېر ډېرېږم چې په كنده كې د ضلال ونه لوېږم.

مظهري رحمه الله يې داسې ترجمه كړې ده: اى جميع ما فرط منک قديمًا في الجاهلية قبل الرسالة (وفي نفسي من لفظ الجاهلية شيئ فافهم) وحديثًا بعد الرسالة اى نزول السورة (وتخصيص السورة فيه شيئ فينبغي ان يقول بعد الرسالة) ثم قال مما يصح ان يعاقب عليه، وهذا لا يستلزم ارتكاب المعصية فان حسنات الابرار سيئات المقربين انتهى. او عطاء خراساني رحمه الله وايي ما تقدم من ذنب ابويک آدم و حوا (يعني بحذف المضاف) قال روى ان آدم عليه السلام و حواء لما اكلا من الشجرة الممنوعة وقال لهما ربهما الم تنهما كما عن تلک الشجرة واعترف آدم عليه السلام بالخطيئة قال يا رب اسئلک بحرمة محمد ان تغفرلي خداى پاک ورته وويل چې تا محمد څه پېژندى يا آدم چې هغه تر اوسه نه دى پيدا سوى؟ آدم عليه السلام ورته وويل چې تا چې زه پيدا كړم ونفخت في من روحک (اى الروح المخلوق لک) ما چې سر پورته كړى پر قوائم د عرش مې وليده په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واضح کتابت نوشته وه لآ اله الا الله محمد رسول الله، زه پوه سوم چي تا د خپل نامه سره نه دی جوت کړی الا اسم احب الخلق الیک فقال الله صدقت یا آدم انه لاحب الخق الي نغفرت لک ولو لا محمد لما خلقتک. رواه البيهقي في دلائل النبوة.

فائده: وهابيان وايي چي دا حديث موضوعي دی سره ددي چي البيهقي لوړ رتبه محدث دی چي ټولو اهل الحديث منلی دی، وما تأخر من ذنوب امتک بشفاعتک (بحذف المضاف وهو لفظ امتک) سلمي قدس سره فرموده که ذنب آدمؑ رابه رسول اللهﷺ نسبت کرد چه رسول اللهﷺ دروقت ذلت آدم درصلب وی بود وگناه امت رابه وی اضافت نمود که او پیش کار ایشانست، وقال ابن عطاء قدس سره لما بلغ رسول اللهﷺ سدرة المنتهى ليلة المعراج تقدم عليه الصلوٰة والسلام واخر جبرئيل فقال لجبرئيل تركتني في هذا الموضع وحدی فعاتبه الله تعالى حين سكن الى جبرئيل وقال وحدی فقال الله ما تقدم من ذنبک ای سکونه الى جبرئيل وقال وحدي مع ان الله معه فيكون كلا الذنبين بعد النبوة.

درویش وایي: چي سعدي شيرازي قدس سره دا مضمون په داسي خوږو بيتو بدرګه کړی دی:

چنان گرم در تیه قربت براند — که درسدره جبرئیل ازو باز ماند
بدو گفت سالار بیت الحرام — که ای حامل وحی برتر خرام
بگفتا فراتر مجالم نماند — بماندم که نیروی بالم نماند
اگر یک سر موی برتر پرم — فروغ تجلی بسوزد پرم

وفي الفتوحات المكية للشيخ الاكبر محي الدين ابن عربي قدس سره استغفار الانبياء عليهم السلام لايكون عن ذنب حقيقة كذنوبنا وانما هو عن امر يدق عقولنا لانه لا ذوق لنا في مقامهم فلا يجوز حمل ذنوبهم على ما نتعقله من الذنب انتهى.

وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ۝

خدایٔ به تام وکړځوي نعمت خپل پر تا باندي (دا وعده د خدایٔ په نمام د نعمت چي مراد څني اكمال دی د دين واظهار كلمة الاسلام او هدم د منارو د جاهليت يحجون ويعتمرون مطمئنين لايخالطهم احد من المشركين قال الله تعالى في سورة المائدة "اليوم اكملت لكم دينكم واتممت عليكم ونعمتي"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وتمام النعمة چي په دې آيت د سورة المائدة کي راغلي، دي سبب دی د فتح د مکې او د صلح د حديبيې) او تاته به خدای هدايت وکړي د سمي لاري يعني په تبليغ کي د رسالت واقامة مراسم الملک والنبوة والرياسة والسياست، بعض مفسران وايي معنی يهديک يهدي بک بحذف الباء وهو تکلف بلا حاجة وقيل معنی يهديک يثيبک على التبليغ، وقيل تمام النعمة بالمغفرت والهداية الی کمال الدين بحيث لايجوز نسخه بعد ذالک.

وَّيَنْصُرَكَ اللّٰهُ نَصْرًا عَزِيْزًا ۝

ستا سره به کومک وکړي خدای پر دښمنانو د دين د اسلام.

فائده: اظهار الاسم الجليل مع النصر، يا ددې سببه دی چي نصر خاتمة العنايات والعلل ده ولاظهار کمال العناية بشانه وقال الصدر اظهر الاسم في الصدر يعني قوله تعالى ليغفر الله لک، او بل دلته لان المغفرة تتعلق بالآخرة والنصر يتعلق بالدنيا، نو خدای عزوجل په اظهار کي د اسم جليل دواړه ځايه اشارةً الی ان الله تعالى يتولى امورک في الدنيا والآخرة کذا قال الآلوسي في روح المعاني وقال الامام الرازي في التفسير الکبير، اظهر اسم الجلالة ههنا ای في النصر اشارة الی ان النصر لايکون الا من عند الله کما قال في موضع آخر (وما النصر الا من عند الله) دليل ددې دادی چي نصر چي پيدا کيږي په صبر سره پر شدائدو د قتال والصبر لايکون الا من الله کما قال الله (وما صبرک الا بالله)

"نصرًا عزيزًا" ای نصرًا فيه عزة نو عزيزًا صيغه د نسبت ای ذا عز، په فتح الرحمن کي وايي النصر العزيز هو الذي معه الغلبة على اعداء الله والظهور عليهم والنصر الغير العزيز هو الذي معه الحماية و دفع العدو فقط انتهى، او بعض مفسرين وايي چي نصر يې موصوف په وصف سره کړی د صاحب دده ای نصرًا عزيزًا صاحبه ای المنصور، قال البرسوي چي ظاهره داده چي مراد د نصر عزيز ما ترتب على فتح مکة من النصر على الاعداء کهو ازن وغيرهم ونصرًا منه تعالى على الاکاسرة (جمع د کسرى ده چي د فارسيانو باچاته وايي) والقياصرة (جمع د قصرى ده چي د روميانو بادشاه ته وايي).

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ فِيْ قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِيْنَ لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا مَّعَ اِيْمَانِهِمْ ؕ

خدای هغه ذات ببهمتا دی چې نازل یې کړه (مراد له سکینة څخه طمانیة علی امتثال امر الله تعالی من صلح الحدیبیة کما مرت قصته بالتفصیل) په زړو کې د مؤمنانو حتی انقادوا لامر الله ورسوله حین جعل الذین کفروا یعني اهل مکة في قلوبهم الحمیة حمیة الجاهلیة فمنعوا بتلک الحمیة رسول الله ﷺ في ذالک العام من دخول مکة یعني دوی به ویل که موږ تا سږ کال مکې ته پرېږدو عرب به وایي چې په زوره محمد مکې ته داخل سو، دا وه حمیه د جاهلیت ددوی.

پوه سه: چې په "مع ایمانهم" کې حرف جر متعلق په انزال سره دی.

پوښتنه: د عقائدو په کتابو کې وایي چې ایمان زیادت او نقصان نه قبلوي، نو ددې توجیه به څه وي؟

ځواب: الضحاک رحمه الله وایي چې مراد د زیادت څخه رسوخ د عقیدې دی واطمنان النفس علیها چې تعبیر یې قوة الکسب د ایمان دی لا الزیادة في المؤمن به ولاشک ان ایمان رسول الله ﷺ والصحابة رضي الله عنهم اقوی و اکمل من ایمان غیرهم او الکلبي رحمه الله وایي هذا في امر الحدیبیة حین صدق الله رسوله الرؤیا بالحق یعني في العام القابل، او ابن عباس رضي الله عنه وایي چې زیادت په معنای مصطلح سره دی لکن دا هغه وخت چې وحي جاري وي یقول بعث الله رسوله بشهادة ان لا اله الا الله فلما صدقوا به زادهم الصلوة ثم الزکوة ثم الصوم ثم الحج ثم الجهاد حتی اکمل لهم دینهم فکلما امروا بشیئ فصدقوه زادهم تصدیقًا الی تصدیقهم بامر من قبل.

وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۙ﴿۴﴾

او خدای لره خاصة لښکرو ته د اسمانو او د ځمکې. او دی خدای ښتن د لوی علم او حکمت یفعل مایشاء.

پوه سه: چې جنود جمع د جند ده بضم الجیم والمعنی چې تصرف د لښکرو د اسمانو چې ملکې دي او د ځمکې دي چې مجاهدین لاعلاء کلمة الله دی تدبیر یې کوي کیف یشاء. ګاهې یوه ډله مسلطه سي پر بله ډله او ګاهې د ښمنو دوو ډلو تر مابین صلح وکړي څرنګه چې مشیت دده یې چې مبني پر حکم او مصالح دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ددې آيت حاصل دا دی چې صلح د حديبيه پر دې بنا نه وه چې مسلمانان په حال کې د ضعف وه بل لما يقتضيه علمه وحكمته.

پوه سه: چې جند په عرف کې جماعت د ملکو يا د انسانانو چې په جنګ د کفارو سره اخته وي او په حقيقت ټوله ذرات د عالم جنود الله دی الا ترى چې سيد البريات عليه افضل الصلوات چې يو مټ شکې پر مخانو د کافرانو ورو پاشلې او دا يې ويل شاهت د ټولو کافرانو په سترګو کې ولوېدې او شکست يې وکړی قال المولوي المعنوي في المثنويؒ:

جـمله ذرات زمـين و آسمان	لشـكر حـقند گاه امتحـان
بادرا ديدی که باعادان چه کرد	آب را ديدی که باطـوفان چه کرد
آنچه بر فرعون زدآن بحر کمين	وآنچه با قارون نمود است اين زمين

لِّيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ ؕ

او ددې لپاره چې خدای داخل کړي (په ورځ د قيامت) مؤمنان او ښځې مؤمنات و باغو ته چې رواني به وي لاندې تر درختو د هغو جنتو ځلور ويالې اوبه، شيدې، عسل او شراب، او دوی به همېشه په دغو جنتو کې وي چې نه به مري او نه به د جنتو څخه ايستل کېږي، او بل ددې لپاره چې خدای (چې غفور او رحيم دی پر خپلو بندګانو) ددوی ګنهونه به ورېخښي.

پوه سه: چې دا دواړې جملې معطوف او معطوف عليه دي (اعني ليدخل ويکفر) متعلق دي بقوله تعالى ليزدادوا آه.

وَكَانَ ذٰلِكَ عِنْدَ اللّٰهِ فَوْزًا عَظِيْمًا ۙ

او دی دا ادخال و جنت ته او غفران د سيئاتو په نيز د خدای کاميابي ده لويه، ولې چې په ادخال الجنات کې جلب دی د منتهی د منافع اخرويه ؤ، او په دې تکفير کې د سيئاتو دفع ده لوی مضار د اخرت وهي دخول النار.

پوه سه: چې عند الله حال دی له فوز څخه او دا جمله يعني وکان ذالک آه معترضه ده په مابين کې د حال د مؤمنانو او د منافقانو او مشرکانو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ

او په عذاب کړي خدای منافقان که نروي او که ښځي.

بوه سه: چي دا جمله عطف ده پر یدخل او دا جمله ده په علت د انزال السکینة في قلوب المؤمنین، ولې چي منافقان او کافران له دې انزال ځخه په ډېر غیظ او غصه کي وه، او دوی به طعن او عیب وایه په دین کي د مسلمانانو چي دوی امتثال د امر د خدای ؟ وکړی په امر کي د صلح مع المشرکین.

وَالْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُشْرِكٰتِ الظَّآنِّيْنَ بِاللّٰهِ ظَنَّ السَّوْءِ

او خدای عذاب ورکړی و مشرکانو ته او مشرکاتو ښځو ته چي دوی گمان کاوه پر خدای گمان د بدو، یعني دا بد گماني یې کوله چي خدای به خپل رسول او مؤمنانو ته کومک ورنه کړي، او دا یې هم گمان کاوه چي النبي ﷺ او مؤمنان به مدینې ته سالم نه سي راستانه یعني مشرکان د مکې به دوی ختم کړي.

بوه سه: چي ظن السوء منصوب علی انه مفعول النوعي د الظالمین دی نحو جلست جلسة القاري، وقیل: غیر ذالک قال الله في موضع آخر بل ظننتم ان لن ینقلب الرسول والمؤمنون ال اهلهم ابدًا.

عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ

بوه سه: چي دا جمله دعائیه ده یعني یجعل علیهم دائرة السوء یعني الهلاک والعذاب یا معنی داده دائرة ما یظنون بالمؤمنین او هغه ته یې انتظار کاوه خو هغـي ونه سوه.

وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ۝

او غضب وکړی خدای جل جلاله پر دوی او لعنت یې نازل کړی پر دوی او آراسته یې کړی دوی ته جهنم او بد ځای دی جهنم از روی مرجع.

بوه سه: چي جهنم چونکه مؤنث سماعي دی ځکه یې سائت مؤنث راوړی.

وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۝

او خدای لره دي لښکرونه د اسمانو او د ځمکي (یعني خدای عزوجل دفع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کولای سي کید او جمود من عادی نبیه والمؤمنین بما شاء کمامر نبذ من ذالک في ابیات المثنوي) او دی خدای غالب نو څوک نسي دفع کولای عذاب دده له کافرانو څخه او لوی حکمت يې دی په هر کار کي چي کوي يې.

إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿٨﴾

مور ته یا محمد را استولی يې خلکو ته يعني رسول خپل مو ګرځولی يې "شاهدا" پر امت خپل په ورځ د قيامت "ومبشرا" او زيری کونکی وهغه چا ته چي ستا اطاعت وکړي "ونذيرا" او بيرونکی په عذاب د خدای چي ستا اطاعت ونه کړي.

لِّتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُ وَتُسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿٩﴾

پوه سه: چي ابن کثيرؒ او ابو عمرؒ دا ټوله معطوفات په یاء د غيبت وايي، او ضمائر د جمع يې راجع دي الى الناس کافة الى يوم نفخة الصور الاولى، او نور ټوله قراء يې په تاء د خطاب وايي چي خطاب دی و نبي ﷺ او امت ته.

ترجمة على تقدير ياء الغيبة: چي دوی ايمان راوړي پر خدای په توحيد سره او پر رسول دده بالنبوة والرسالة او دوی کومک ورسره وکړي چي ځانونه دده جند وګرځوي، او تعظيم دده وکړي او تنزيه دده وکړي عما لايليق بشانه من انه ساحر او کاهن الى غير ذالک، والمعنى على تقدير الخطاب چي تاسي یا محمد والمؤمنون ايمان راوړي پر خدایؒ يعني په توحيد سره او پر رسول د خدایؒ.

فائده: دلت هذه الآية على انه چي عليه الصلوة والسلام يجب عليه ان يؤمن برسالة نفسه کما ورد في الحديث الصحيح انه عليه الصلوة والسلام قال اني عبد الله ورسوله، امام سهيليؒ وايي في الامالي: انما عرف ﷺ نبوة نفسه بعد معرفته بجبرئيلؑ.

فائده: په انا ارسلناک کي خطاب يوازي و عليه الصلوة والسلام ته دی، او په دي آيت کي تعميم دی د خطاب و امت ته "و تعزروه" او تاسي تقويه دده وکړئ.

سوال: امت خو به تقويه د عليه الصلوة والسلام وکړي بجعل انفسهم من جنده لکن عليه الصلوة والسلام به د ځان تو قيه څرنګه کوي؟

ځواب: تقويه د ځان دی په حسن تبليغ سره او په لطف سره کوي، او تاسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعظیم دده وکړئ او علیه الصلوة والسلام خپل د ځان عظمت وساتئ د عوام الناس غوندي دي رفتار به نه کوي په عبث خبرو سره مثلاً او د امت تعظیم خو ظاهر دی وعلی هذا فقس قوله تعالی وتسبحوه فتدبر.

درويش وايي: چي روح المعاني او روح البيان ضمير د "تعزروه" خدای پاک ته راجع کړی حیث قال وتقوه تعالی بتقوية دينه ورسوله، او د "توقروه" ضمير يې هم و خدای ته راجع کړی دی حیث صاحب روح البیان ای تعظموه باعتقاد انه تعالی متصف بصفات الجلال والكمال منزه عن جميع وجوه النقصان او د "تسبحوه" ضمير يې هم خدای ته راجع کړی دی حیث قال ای ينزوه تعالى عما لايليق بعلو شانه كالشريك له تعالى، والولد وسائر صفات المخلوقين.

"بكرة واصيلاً" قيد د تسبيح ای غدوة وعشية، فالبكرة اول النهار والاصيل اخيره، او يا معنی داده چي دائما دده تسبيح وایاست، بعض مفسرين ضمير د تعزروه وتوقروه راجع و علیه الصلوة والسلام ته بولي کمامر او ضمير د تسبحوه راجع و خدای ته بولي، علامه آلوسي په روح المعاني کي وايي چي اولی داده چي د مخه دوه ضميره هم و خدای ته راجع سي (لکه چي د رویش بيان وکړی) قال الآلوسي لئلا يلزم تفكك الضمائر من غير ضرورة.

پوښتنه: ايوبي ستا څه رايه ده؟

ځواب: اول تفسیر چي ما وکړی رای د تفسير مظهري وه چي د ډېر چون و چرا سره مخامخ وه کمامر، زما رايه داده چي اولى و احرى بلکې صواب تفسیر د روح المعاني او روح البيان دی، والله اعلم.

إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ

په تحقيق هغه کسان چي بيعت کوي ستا سره یا محمد بالحديبية تحت الشجرة پر دې باندي چي تښتي به نه بلکې د مکې د مشرکينو سره به جنګ کوي ترهغو چي بری پيدا کوي يا مري، نو دوی بيعت نه کوي مګر د خدای سره (لان الله عزوجل هو المقصود لهم ببيعة رسول الله.

پوهه: چي خدای عزوجل لره يد په معنی د جارحة مخصوصة نسته، نو مراد له يد څخه نصرت او قوت او قدرت دی يعني د خدای نصرت او کومک ستاسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ملګری دی لکن تعبیر د ید یې له دې کبله وکړی چې په بیعت کې وضع الید علی الید ؤ للنصرة، نو مشاکلة و نصرت ته د خدای عزوجل یې ید الله ووایه.

درویش وایي: چې دا توجیه اسهل التوجیهات ده په دې آیت کې تر بیان د استعاراتو لکه چې مظهري کړې ده، والله اعلم بما في کتابه الشریف.

فَمَنْ نَّكَثَ فَاِنَّمَا يَنْكُثُ عَلٰى نَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَوْفٰى بِمَا عٰهَدَ عَلَيْهُ اللّٰهَ

که چا مات کړی بیعت مذکوره، نو په تحقیق ده مات کړی پر خپل نفس یعني ضرر د نقض البیعة و ده ته رسیږي من غضب الله وعذابه (او علیه الصلوة والسلام او مؤمنانو ته یې ضرر نه رسیږي، لانه تعالی ناصرهم علی اعدائهم) او که چا وفا وکړه په هغه شي سره چې دوی پر هغه شي معاهده د خدای سره کړې، وحاصله ثبت علی البیعة وراعاها.

فائده: حفص "پر هاء د علیه پیښ وایي تعظیمًا للاسم الجلیل، ولي ضمه د که ویل کیږي، او نور قاریان یې په کسره د هاء وایي علی قانون النحو.

فَسَيُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝

نو ژر دی چې ور به کړي خدای و هغه ته لوی ثواب چې اصل یې رضوان او پر هغه متفرع جنت دی او په جنت کې رؤیة الله دی.

پوه سه: چې ضمیر مستتر راجع دی و خدای ته او ضمیر بارز راجع و من ته دی.

درویش وایي: چې علیه الصلوة والسلام چې نیت د عمرې سره د (۱۴۰۰) کسانو یا بالا سفر کاوه، و تولو د صحراء مسلمانانو ته یې دا اعلان کړی ؤ چې څوک د علیه الصلوة والسلام ملګري کوي راودي وځي، نو که څه هم بعض صحرا نشین مسلمانانو لبیک ورته ووایه حتی چې (۱۵۰۰) یا (۱۶۰۰) ته ورسېدل مجموع کاروان، لکن ډیرو صحرایانو مسلمانانو دا دعوت نامه صرف نظر کړه د مکې د قریشو د ېرې، او دا یې ظن ؤ چې علیه الصلوة والسلام او مؤمنان به هرګز مدینې ته رانه سي، نو چون علیه الصلوة والسلام سره د ملګرو سالم فاتح فتحًا مبینًا راستانه سوه، نو دوی د عذر لپاره ورته راغله کما قال الله تعالی:

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

سَيَقُوْلُ لَكَ الْمُخَلَّفُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ شَغَلَتْنَآ اَمْوَالُنَا وَاَهْلُوْنَا فَاسْتَغْفِرْ لَنَا ۚ

ژر دی چي وبه وايي وتاته هغه کسان چي ځانونه يې د بېړي له لاسه پاته کړي وه (ابن عباس رضي او مجاهد رح وايي چي دا اعراب د بني غفار او د مزينة او جهينة او النخ او د اسلم د قومو وه) موږ مشغول کړي ؤ ستا له مرافقت څخه زموږ مالو يعني مېږي، بزې، اوښان او زموږ عيالو، يعني د هغو د ساتني لپاره چي بل څوک مو نه درلودی چي زموږ په ځای کي قائمقام د دوی وای.

"فاستغفرلنا" موږ ته بخښنه د تخلف وکړه.

پوهه: چي په "سيقول" کي سين د استقبال معجزه د عليه الصلوة والسلام ده چي د مخه تر ويلو د دوی خدای پاک دی مبارک خبر کړی، په وروسته آيت سره خدای پاک د دوی د عذر مذکور تکذيب او رد وکړی بقوله.

يَقُوْلُوْنَ بِاَلْسِنَتِهِمْ مَّا لَيْسَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ ۚ

دوی وايي په ژبو هغه شی چي د دوی په زړو کي نسته، يعني الاعتذار والاستغفار يعني صرف په خوله وايي چي فاستغفرلنا ولي په زړو کي پر دوی استغفار او عدم استغفار فرق نه لري.

قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا اِنْ اَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ نَفْعًا ۚ

الاستفهام للانكار ای لا احد يمنعكم من مشية الله تعالى او قضائه فيكم "ضرا" لکه قتل يا شکست په جنگ کي يا هلاک د مواشيو يا مرګ د عيال او يا عذاب په اخرت کي پر تخلف "او اراد بكم نفعا" ای اضداد ما قلنا في الضر.

بَلْ كَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿۱۱﴾

ای خبيرا بعملکم فکلمة ما مصدرية او يا کلمه ما موصولة والعائد محذوف ای بما تعملونه، وفي هذه الآية اشارة الى ان الامر ليس کما قلتم في الاعتذار بلکي خدای خبر دی چي قصد ستاسي په تخلف کي اظهار د موافقت د اهل مکه سره يا د هغو بېره چي ستاسي په ظن کي هغه غبنتلي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بَلْ ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّنْقَلِبَ الرَّسُوْلُ وَالْمُؤْمِنُوْنَ اِلٰٓى اَهْلِيْهِمْ اَبَدًا

بلکې ستاسي د تخلف هغه سبب نه دی چي تاسي په عذر کي وو ایه، اصلي سبب د تخلف ستاسي دادی چي ستاسي گمان غالب ؤ چي نه سي راتلای رسول اللّٰه ﷺ او دده سره مؤمنان مدينې ته تر ابده پوري يعني اهل مکه به يې استيصال وکړي يعني يکلخته به يې مړه کړي.

پوه سه: چي دا اضراب ثاني دی معطوف پر اول اضراب باندي دی.

وَزُيِّنَ ذٰلِكَ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَظَنَنْتُمْ ظَنَّ السَّوْءِ ۚ وَكُنْتُمْ قَوْمًا بُوْرًا ﴿١٢﴾

او ښائسته کړه سوې وه دا خبره (ای عدم انقلاب الرسول والمؤمنون ابدًا) والمزين هو الشيطان الرجيم.

پوه سه: چي ظن السوء من اضافة الموصوف الى الصفة ای الظن السوء والتوصيف مبني على المبالغة لان السوء مصدر.

درويش وايي: چي مخلفون به ويل چي رسول اللّٰه ﷺ او مؤمنان اكلة رأس (يوه گوله ده سره د قريشو) وغير ذالک مما يظنون بالله ورسوله من الامور بالباطلة "وكنتم قومًا بورًا" او تاسي واست قوم هلاک شده في علم الله لفساد عقيدتكم وسوء ظنكم بالله ورسوله.

وَمَنْ لَّمْ يُؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ فَاِنَّآ اَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ سَعِيْرًا ﴿١٣﴾

(فيه تعريض الى انهم غير مؤمنين بالله ورسوله. ولي چي ايمان منافي دی د دغسي كارونو سره والتخلف عن الرسول ﷺ) والمعنی څوک چي ايمان نه لري پر خدای او رسول د خدای، نو موږ مهيا کړی دی کافرانو ته سوځونکی اور، يعني دوږخ په اخرت کي.

وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ

خاص خدای لره بادشاهي ده د اسمانو او ځمکي بخښنه کوي بالتوبة وبلا توبة و هغه چا ته چي مشيت او اراده يې ورته وسي او عذاب ورکوي و هغه چا ته چي اراده يې ورته وسي لكن بسبب عدم المعصية اصلًا لانه وان كان ممكنًا نظرًا الى انه تصرف في ملكه لكنه خلاف الحكمة، ددې آيت حاصل دادی چي پر خدای شی واجب نه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا

او دی خدای بخښونکی او مهربان، مفسرین حضرات په یوه خوله د دې آیت په تفسیر کي وايي مغفرت او رحمت د خدای پاک د صفات ذاتیه ؤ څخه دی او تعذیب داخل په قضاء کي بالعرض دی.

سَيَقُوْلُ الْمُخَلَّفُوْنَ إِذَا انْطَلَقْتُمْ إِلٰى مَغَانِمَ لِتَأْخُذُوْهَا ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ

د پر ژر به دوی وايي (معجزه او اخبار بالغیب دی قبل الوقوع) وروسته پاته خلک (المخلفون اللام للعهد الخارجي ای المذکورون) چي تاسي ځئ و غنیمتو ته (یعني په زعم کي د دوی) چي تاسي يې جمع کړئ. موږ پرېږدئ چي ستاسي ملګري سو په جهاد کي (یعني چي موږ ته غنائم په لاس راسي)

يُرِيْدُوْنَ أَنْ يُّبَدِّلُوْا كَلٰمَ اللّٰهِ

بدل اشتمال دی د سیقولون څخه، دوی اراده لري چي بدل کي کلام د خدای (مع انه لامبدل لکلماته)

درویش وايي: چي ظاهره خبره داده چي د دې آیت معنی دا ده سیقول المخلفون الذین تخلفوا من الجهاد في غزوة الحدیبیة په هغه وخت چي دوی په مسلمانانو کي ظن د ضعف کاوه وقلة عدد چي دوی په مسلمانانو کي قوت د جهاد ولیدی حتی چي اهل مکه يې و صلح ته مجبوره کړه کمامر تفصیله، بیا چي علیه الصلوة والسلام د خیبر د غزاء عزم وکړی او مسلمانانو خپل تیاری نیول د جنګ لپاره، نو د مخلفون په زعم کي دا وه چي مسلمانان خیبر فتح کړی او ډېر غنائم يې جمع کړی زرونا تتبعکم او د خروج په دې غزاء کي اراده وکړه، نو خدای پاک علیه الصلوة والسلام امر کړی: قل لن تخرجوا معي ابدًا ولن تقاتلوا معي عدوًا انکم رضیتم بالقعود اول مرة، کذا قال ابن زید و قتاده، او مظهري وايي چي مخلفونو چي ولیدی په مؤمنانو کي سخت رغبت و جهاد ته او دوی واورېدی بیعة الرضوان کمامر او خدای بری ورکړی و مؤمنانو ته في قریب مکة یعني الحدیبیة کمامر حتی رضی المشرکون بالصلح او بېغمه سوه مؤمنان د اهل مکه له جنګ څخه لس کاله کمامر، و فرغوا الی الجهاد مع عامة العرب، نو دوی یعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المخلفون پښېمانه سوه پر تخلف نو چي عزم يې وكړى د جهاد د اهل خيبر دوى ورته راغله او وه يې ويل: ذرونا نتبعكم آه، مع ان اهل خيبر كانوا اشد بأسًا من اهل مكة، ولي چي خيبر لس زره مقاتل وه او په مكه كي دومره تعداد مقاتل نه وه ماسوى د ښځو او صبيانو څخه.

سوال: چي دا سي وه د نو د څه حكمت لپاره رسول الله ﷺ مؤمنان پر اهل مكه په جهاد سره نه كړه امر او پر خيبر يې په جهاد سره امر كړه؟

څواب: ترحمًا بقريش لانهم مجاورين بيت الله الحرام كما حبس عنهم الفيل، قال الله تعالى: الم تر كيف فعل ربك باصحاب الفيل الى اخير السورة كما سيئاتي تفصيله ان شاء الله تعالى في تفسير تلك السورة، او بله وجه يې داده چي خداى ﷻ ته په خپل علم قديم ور معلومه وه چي اكثر اهل مكه به ايمان راوړي ويخرج اصلابهم نسمات مؤمنات (اى انفس) او بله وجه يې داده چي په هغه وخت كي په مكه كي رجال مؤمنان او ښځي مؤمنات و ې چي مجاهدينو د مكې په كال كي د حديبيې هغه نه پېژندل چي هغه به هم په جنگ كي وژل سوي واى، نو دوى ته به لوى پيغور واى بخلاف اهل خيبر.

قُلْ لَّنْ تَتَّبِعُوْنَا كَذٰلِكُمْ قَالَ اللّٰهُ مِنْ قَبْلُ

ته ورته ووايه و مخلفينو ته چي هر گز تاسي په جنگ كي د خيبر زموږ سره نسئ ملگري كېداى "كذالك" اى قولاً مثل ما قلت لكم "قال الله من قبل" يعني غنائم د خيبر خاص دي په اهل حديبيه پوري لانصيب لغيرهم فيها، لكن په وحي غير متلو في القرآن، وهذا هو المراد بقوله تعالى يريدون ان يبدلوا كلام الله. يا دي اوسني آيت څخه مراد دادى انهم لم يخرجوا معك ابدًا ولا تصاحبهم في غزوة ابدًا (لا بخصوص غزوة خيبر)

تاريخ الخروج الى غزوة خيبر: عليه الصلوة والسلام له حديبيې څخه راستون سو په ذى الحجة كي سنه شپږ د هجرت كي، واقام بالمدينة بقية ذى الحجة او څو ورځي اول د محرم من سنه (۷) هجري ثم غزا خيبر بمن شهد الحديبية فقط ففتحها وغنم اموالاً كثيرة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَسَيَقُولُونَ بَلْ تَحْسُدُونَنَا ۚ بَلْ كَانُوا لَا يَفْقَهُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٥﴾

ژر دی چي وه به وايي (ای مخلفون، عطف علی سيقولون) کلمه د بل لپاره د عطف ده معطوف علیه یې محذوف دی (لم یقل الله ذالک) بل تحسدوننا) يعني تاسي زموږ سره حسد کوئ چي په غنائمو مو نه شریکوئ "بل کانوا لا یفقهون" عطف دی علی سیقولون او بل لپاره د اضراب دی قولهم بل تحسدوننا يعني الامر لیس کما یقول المخلفون بلکې دوی نه پوهېږي چي پر موږ کوم ضرر دی د خدای له خوا او کوم شی موږ لره نفع دی د خدای له خوا "الا قليلاً" ای نفعا قلیلاً في الدنيا وهو احراز الغنائم، وقال البغوي "الا قلیلاً" منهم وهو المؤمنين يعني من صدق الله ورسوله.

قُل لِّلْمُخَلَّفِينَ مِنَ الْأَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ إِلَىٰ قَوْمٍ أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ

پوښتنه: خدای د مخلفینو نوم مکرر راوړی حکمت یې څه دی؟

ځواب: حکمت مبالغه په ذم کي ددوی اشعاراً بشفاعت التخلف عن رسول الله ﷺ والمؤمنون.

ترجمه: ته ووایه یا محمد و مخلفینو ته د احزابو ژر به تاسي وبلل سئ و یو داسي قوم ته (ای الی الجهاد) د داسي قوم چي خاوندان د جنګ شدید وي، قال کعب "هم الروم في غزوة تبوک انتهی، ورده المظهري په دې سره چي د ده قول مخالف دی د هغه وروسته آیت (تقاتلونهم او یسلمون) ولي د تبوک د غزاء مال و جنګ ته نه دی رسېدلی، ولي علیه الصلوة والسلام په تقریباً دېرش زره قوم سره او فوج تبوک ته ورغلی چي هورې مرکز د رومیانو نژدې ؤ لکن هرقل چي د رومیانو بادشاه ؤ هیڅ حرکت و مقابلې او جنګ ته د مسلمانانو یې ونه کړی او جنګ ته حاضر نه سو، حتی چي علیه الصلوة والسلام ترلسو ورځو بالا هورې ورته تېرې کړې. نو علیه الصلوة والسلام بیله قتاله و مدیني منورې ته راستون سو. او سعید بن جبیر او قتاده وایي چي دا قوم هوازن او ثقیف او غطفان دي، مظهري دا قول هم رد کړی دی. ولي چي رسول الله ﷺ مخلفون اعراب و قتال ته د دغو اقوامو په ورځ نه دي دعوت کړي، او بله خبره دا ده چي مذکوره اقوام اولی باس شدید هم نه وه نسبت و عساکرو ته د اسلام بلکې ډېر لږ و تر مقاتلین د اسلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي كه څوک تفسير روح المعاني او روح البيان مطالعه كړي په باره كي د قوم اولى بأس شديد به عجيبه اختلافات ويني، لكن حق داده لكه الزهري، مقاتل و جماعة چي ويلي دي چي مراد له دغه قوم څخه چي د اولى بأس شديد په نامه خداى پاک ياد كړه بنو حنيفة اهل اليمامة اصحاب د مسيلمة الكذاب وهو مذهب المفسرين ورجحه البيضاوي.

تُقَاتِلُونَهُمْ أَوْ يُسْلِمُونَ

يا به يې تاسي قتل كوئ يا به ايمان راوړئ بل حكم يې نسته.

فائده: د مشركانو څخه د عربو او د مرتدينو څخه لكه اصحاب د مسيلمة الكذاب بنو حنيفة اهل اليمامة لايقبل منهم الا الاسلام او السيف او قتال د غيرهم ينتهي بالجزية كالروم، رافع بن خديج وايي چي موږ به دغه آيت اولي بأس شديد الى قوله تقاتلونهم آه په دې پوهېدلو چي دا كوم قوم دی، حتى ابوبكر الصديق مسلمانان امر كړه په قتال د بني حنيفه چي پر مسيلمة الكذاب باندي يې ايمان راوړی ؤ فعلمنا انهم هم، او دا آيت دليل پر امامت د ابى بكر الصديق فانه دعى الناس الى قتال بنو حنيفه اهل اليمامة چي پر مسيلمة الكذاب يې ايمان راوړی ؤ.

تاريخ اسلامي خبري كوي: چي مسيلمة الكذاب د عليه الصلوة والسلام په ژوند كي دعوه د نبوت كړې وه او يو وخت يې د دوو كسانو په لاس يو مكتوب وركړی ؤ چي په اول كي د مكتوب يې داسي ليكلي وه، من عبد الله ورسوله مسيلمة الى عبد الله ورسوله محمد اما بعد: ته هم رسول د خداى يې او زه هم رسول د خداى يم نو يوه د دوو خبرو څخه چي ستا خوښه وي ماته يې نشان دهي كړه (۱) اهل المدن والقرى دي ستا وي او باديه نشينان او پونده انسانان دي زما وي (۲) ته به رسمي وصيت كوې چي زما تر مرګ وروسته به مسيلمة ستاسي نبي وي، قاصدانو چي مكتوب راوړی، اول خو عليه الصلوة والسلام داسي وويل: چي كه د قاصدانو قتل ماته روا وای ما به ستاسي سرونه په توره در غوڅ كړي وای، بيا علي وويل چي جواب داسي ورته نوشته كړه من محمد عبد الله ورسوله الى مسيلمة الكذاب د عليه الصلوة والسلام په لاس كي يو لړګی ؤ چي كه ته يا مسيلمة الكذاب له ما څخه دغه لړګی پر قبول د رسالت خپل زه به يې درنه كړم خير

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په ژوند کي د عليه الصلوة والسلام خو د مسیلمة سره جنګ نه وکړل سو، ابوبکر الصدیق رض چي خلافت او امامت د امت مسلمة پر غاړه واخستی اول يې ډېر دروند فوج مسیلمة الکذاب او بنو حنیفة د اهل یمامه ورواستاوه د مسیلمة کذاب د قلا پر شا وخوا باندي دروند فوج د مسیلمة الکذاب پروت ؤ په ډېره سختي او تیر اندازي سره د جنګ اوربل سو، تاریخ وایي چي په فوج د مسلمانانو وحشي چي قاتل د حمزه بن عبد المطلب ؤ په جنګ کي د احد کما في البخاري وغیره من کتب الاحادیث هم شامل ؤ، او وحشي چي بیا ایمان راوړی ؤ په ویشتلو کي د حربة ډېر ماهر ؤ وحشي قلا ته د مسیلمة الکذاب د ډېر جنګ کاوه چي ناګاه مسیلمة الکذاب د قلا په یو نخره کي د جنګ د معلوماتو لپاره ښکاره سو وحشي چي نژدې ولاړ ؤ حربة يې ورته سمه مسیلمة الکذاب يې په ځګر په وویشتی لاندي ترقلا يې راشوه کړی، په اصحابو کي د مسیلمة ناري سوې الا ان امیر المؤمنین مسیلمة قد قتله عبد حبشي دده د مرګ سره سم دده لښکر شکست وکړی او د ابوبکر الصدیق رض فوجیانو ددوی په وینو خپلي توري ورنګولې، وحشي رض به ویل چي که خدای پاک په ورځ د محشر د حمزه رض د وژلو زما څخه بازخواست وکړی زه به يې قتل اعدی عدوا الله مسیلمة الکذاب په وژلو جواب ورکړم.

پوښتنه: چي په آیت سابقه کي خدای ﷻ داسي وویل و مخلفون ستدعون الی قوم اولی بأس شدید، نو که مراد له قوم شدید څخه د مسیلمة الکذاب اتباع وي نو دا جنګ په ژوند کي د علیه الصلوة والسلام نه دی واقع سوی بلکي په خلافت کي د ابوبکر الصدیق رض واقع سو کما مر عنقریب تفصیله؟

ځواب: خدای پاک خو ستدعون پر صیغه د مضارع مجهول راوړه، نو خو دغه جنګ ته د ابوبکر رض ته هم شامله ده والله اعلم.

تاریخ اسلامي وایي: چي د علیه الصلوة والسلام په ژوند کي یو بل سړی په نامه د اسود العنسي هم دعوه د نبوت کړې وه چي علیه الصلوة والسلام فیروز الدیلمي رض جنګ ته واستولی ؤ هغه وخت چي علیه الصلوة والسلام په مرض الموت سره ناجوړی ؤ زیری ورته راغلی چي اسود العنسي د فیروز الدیلمي رض له خوا ووژل سو، او اتباع يې تیت و پرک سول، علیه الصلوة والسلام په نعم العبد فیروز رض یاد کړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَاِنْ تُطِيْعُوْا يُؤْتِكُمُ اللّٰهُ اَجْرًا حَسَنًا

كه تاسي اطاعت د هغه داعي وكړئ، تاسي ته به دركړي خداى اجر حسن.

وَاِنْ تَتَوَلَّوْا كَمَا تَوَلَّيْتُمْ مِّنْ قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝١٦

او كه تاسي روى گرداني وكړئ په غزاء كي د قوم اولي بأس شديد لكه تاسي چي روى گرداني وكړه په كال كي د حديبيه "يعذبكم عذابًا اليمًا" چي مضاعف د جرم ستاسي وي، ولي چي تاسي دوه واره تولى وكړه، البغوي" وايي چي هغه وخت چي دمخه آيتونه نازل سوه نو گوډ يا شل مسلمانان و عليه الصلوة والسلام ته راغله، وه يې ويل كيف بنا يا رسول اللهﷺ (چي زموږ حال به څه وي) موږ په يوه غزاء كي نه يو شامل سوي فانزل الله هذه الآية.

لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْاَعْرَجِ حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ

نسته پر ړانده تنگي او عذاب په ترك كي د جهاد في سبيل الله، او نسته پر گوډ باندي تنگي په ترك د جهاد كه په يوه پښه گوډ وي او كه په دواړو پښو گوډ وي، او نه پر مريض باندي تنگي او عذاب په ترك د جهاد (چي داسي مرضي يې وي چي سره د هغه مرض طاقت د جهاد نه لري، لا مطلق المرض لان الانسان لايخلو عن مرض مطلق.

وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

او كه څوك اطاعت فرمان برداري وكړي د خداى او د رسول د خداى (يعني في جميع ماجاء به رسوله من عند الله) خداى پاك به هغه داخل كړي و جنتو ته چي بهيږي به لاندي تر درختو د هغو جنتو ويالې څلور صافي او به صافي شيدې صاف عسل او صاف شراب لاغول فيها ولاهم عنها ينزفون.

وَمَنْ يَّتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝١٧

او څوك چي اعراض وكړي له طاعت څخه د خداى ؒ و د رسول مع القدرة عليه من جهاد وغيره، خداى به عذاب وركړي و هغه ته عذاب درد وركونكى، نو فعيل په معنى د مفعل دى كما في قول الشاعر:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

امن ريحانة الداعي السميع يورقني واصحابي هجوع

(السميع بمعنى مسمع) ولهذا البيت قصة طويلة.

لَقَدۡ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ اِذۡ يُبَايِعُوۡنَكَ تَحۡتَ الشَّجَرَةِ

کلمه د لام جواب د قسم محذوف ده، په تحقیق خدای ؑ راضي دی له مؤمنانو څخه چې بیعت یې وکړی ستا سره لاندي تر درختي یعني په حدیبیه کي چې دې بیعت ته بیعت الرضوان وایي. په بعض روایاتو کي راغلي دي چې اول بیعت چې یې د رسول اللهﷺ سره وکړی سنان بن ابی سنان ؤ، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې ته پر څه شي زما سره بیعت کوې؟ سنان ورته وویل علی ما قلبک چې ستا په زړه کي دي، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې زما په زړه کي څه دي؟ سنان ورته وویل چې ستا په زړه کي دادي چې زه به ستا تر مخه توره چلوم او کفار به وژنم حتی چې فتح راځي یا د سنان مرګ او قتل ما بین ته راځي، وروسته نورو مؤمنانو چې بیعت کاوه هغو به ویل چې موږ هم د سنان بن سنان رض پر بیعت بیعت در سره کوو.

سوال: سنان ﷺ په غیبو څه خبر ؤ چې د علیه الصلوة والسلام په مبارک زړه کي دا خبره ده؟

ځواب: سنان ﷺ له قرائنو څخه د حال د بیعت اخستلو د علیه الصلوة والسلام دا ورته معلومه سوه چې فرار به نه کوي، والغرض من هذه الآية مدح د مؤمنانو ده والثناء علیهم، په بخاري او مسلم دواړو کي چې حدیث وي نو داسي حدیث ته په اصطلاح د محدثینو متفق علیه حدیث وایي عن جابر بن عبد الله رض كنا بالحديبية (۱۴۰۰) کسه ؤ فقال لنا رسول اللهﷺ انتم خير اهل الارض، وروى مسلم عن ام بشر رض مرفوعًا (يعني الى عليه الصلوة والسلام) لايدخل النار من بايع تحت الشجرة.

فَعَلِمَ مَا فِيۡ قُلُوۡبِهِمۡ فَاَنۡزَلَ السَّكِيۡنَةَ عَلَيۡهِمۡ وَاَثَابَهُمۡ فَتۡحًا قَرِيۡبًا ﴿۱۸﴾

خدای ؑ خبر دی په هغه څه چې د دوی په زړو کي دي (من الصدق والوفاء بالبيعة) خدای پاک نازل کړی ارام د زړو پر دوی (یعني په زړو کي یې هیڅ اضطراب نه ؤ بالخصوص عند ذكر الله تعالى والرضاء بامر الله فوق الرضاء بما تشتهيه انفسهم) دوی ته ورسول سوه فتح نژدې، چې مراد ځني فتح د خیبر ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي حافظ محمد بن يوسف صالحي" وايي چي خيبر نوم د يو ولايت دی چي په هغه ولايت کي محکمي قلاوي وجود لري او د کښتنو مځکي درلودی او د خورما وُ باغونه يې درلودې د درو (٣) ورځو منزل دی له حديبيې څخه.

پوه سه: چي بعض راويان وايي وروسته تر رجوع د حديبيې څخه عليه الصلوة والسلام لس (١٠) ورځي په مديني کي تېري کړې، او بعض روات وايي چي پنځلس (١٥) ورځي يې تېري کړې او لپاره د فتح خيبر د محرم په مياشت کي راهي سو او فتح د خيبر د صفر الخير په مياشت کي په (٧) سنه کي د هجرت وسوه کذا في المغازي للواقدي حافظ ابن حجر" وايي انه القول الراجح کما نقل الحاکم عن الواقدي.

وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٩﴾

او غنيمتونه ډېر به اصحاب کرام" تر لاسه کړي، او دی خدای عزوجل غالب پر ما اراده يعني څوک يې مانع نسي کېدای او په هرکار کي حکمت لري يعني مامر في قصة الحديبية من بيعة الرضوان والصلح مع قريش پر لس کاله جنګ بندي باندي (بخاري له عائشي ﷺ څخه روايت کړی دی چي څه وخت چي خيبر فتح سو، نو موږ به ويل چي اوس به نو موږ ماړه سو په خورما وُ سره، او ابن عمر" وايي ما شبعنا من التمر حتی فتحت خيبر.)

وَعَدَكُمُ اللَّهُ مَغَانِمَ كَثِيرَةً تَأْخُذُونَهَا

وعده کړې ده خدای د ډېرو غنيمتو من الکفار خصوصًا اليهود، چي ستاسي په لاس به در ځي، والمراد بهذه الفتوح چي مسلمانانو ته حاصلېږي تر ورځي د قيامت پوري په دې کي تسلي ده مسلمانانو لره.

فَعَجَّلَ لَكُمْ هَٰذِهِ وَكَفَّ أَيْدِيَ النَّاسِ عَنْكُمْ ۚ

نو ژر درکړه سوه تاسي ته دغه فتح د خيبر. او خدای پاک بند کړه لاسونه د دښمنانو ستاسي څخه، البغوي" وايي چي نبي ﷺ خيبر محاصره کړی، نو قبيلو د بني اسد او د غطفان قصد وکړی چي غارت پر اموالو او اولادو د مسلمانانو وکړي په مدينه کي، ابن اسحاق" وايي چي د غطفان قبيلې کومک د يهودانو سره کاوه يعني په خيبر کي لپاره د غلبې پر رسول اللهﷺ او پر مؤمنانو چي د ده سره ملګري وه، د وی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي ور راهي سوه دوی ته دا خوف په زړو کي ورپیدا سو چي مؤمنان به زموږ پر عیالو مخ را واړوي او هغه به قتل کړي دوی بیرته تر شا راغله پر خپلو مالو او عیالو یې پهره کول او علیه الصلوة والسلام او اهل خیبر یې سره پرېښول.

سوال: فتح خو لفظ مذکر دی نو تانیث د هذه یې پر څه بناء دی؟

ځواب: پر دې بناء دی د فتح خیبر څخه مراد غنائم د خیبر دي.

درویش وایي: چي مراد دی د هغه مفسر چي د دې آیت تفسیر یې داسي کړی دی بالقاء الرعب في قلوبهم یعني په زړو کي د بني اسد او غطفان، او ابو نعیم وایي چي غطفان د اسمان له خوا داسي اواز واورېدی علیکم من خلفتم (پر تاسي دی حفاظت د هغو مالو او عیالو چي تاسي تر شا پرې ایښي دي) فرجعوا الی اهلیهم.

وَلِتَكُونَ آيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ وَيَهْدِيَكُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٢٠﴾

او چي سي دا کفة الناس عنکم او یا غنیمت د خیبر دلیل پر صدق ستا یا محمد ﷺ فیما وعدتهم (ای اهل الحدیبیة سره پر حاصلولو د غنیمتو) او تاسي ته هدایت وکړي د مستقیمي لاري، چي مراد ځني اعتماد دی پر خدای ﷻ والتوکل علیه تعالی، یا معنی داده چي تاسي ته ثواب درکړي پر اسلام باندي ویزیدکم بصیرة ویقینًا.

قصة غزوة خیبر: علیه الصلوة والسلام چي د خیبر و غزاء ته نیت وکړی، نو پر مدینه منوره یې سباع بن عرفطه رضي الله عنه خلیفه وګرځاوه، کما رواه احمد وابن خزیمة والحاکم عن ابی هریرة رضي الله عنه، نو چي علیه الصلوة والسلام او مؤمنان په تیاري د غزاء بخت سول پر یهودانو د مدیني دا تیاری د غزاء ډېر سخت پرېوتی ولي اهل خیبر خو هم یهودان وه، نو د دې یهودانو چي به د مدیني پر یو مسلمان پور باندي ؤ هغه به یې ټینګ کړی چي زما پور به راکوې، احمد او الطبراني حکایت کوي د ابی حدرد رضي الله عنه چي د ابی الشحم الیهودي پر ده پنځه درهمه پور باندي ؤ هغه یهودي ابی حدرد رض ټینګ کړی چي چابک به زما پور راکوې، ابی حدرد رض ورته وویل چي ته یو څو ورځي ماته وګوره چي له غزاء څخه د خیبر راغلم پوره به دې درکړم، ولي خدای پاک وعده کړې ده د نبي سره خپل د فتح د خیبر یعني په فتح کي د خیبر به ماته څه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غنيمت په لاس راسي ستا پور به درکړم، ابو شحم ورته وويل چي تاسي ګمان کوئ پر جنګ د خيبر د جنګ د اعرابو؟ زما دي قسم وي په خدای سره چي په خيبر کي لس زره مسلح فوجيان سته، نو دا خبره تر عليه الصلوٰة والسلام پوري ورسېده عليه الصلوٰة والسلام ابي حدرد؄ ته وويل چي د ابو شحم پور ورکړه، ابو حدرد؄ وايي چي ما خپل يو جوت کالي خرڅ کړه او د ابو شحم پور مي ورکړی.

فائده: دا يهودان په مدينه کي د اهل ذمه په توګه اوسېدل لکه هندوان په افغانستان کي چي اوسېدل فافهم، راوي د قصې وايي چي هغه وخت چي رسول اللهﷺ ورسېدی صهباء ته چي و خيبر ته نژدې د يو ځای نوم دی د خوراک شی يې راوغوښتي، فلم يؤت الا بالسويق.

درويش وايي: چي د عربو په عصر قديم کي دا عادت ؤ چي په لوی سفر به تله نو بې غنم راواخسته پر تبخي به يې نيني کړه وروسته به يې وړه کړه هر ځای چي به وږي سوه هغه وړه به يې په اوبو لانده کړه خوړل به يې دې ته دوی سويق وايي.

پوښتنه: د دې کار چي دوی کاوه څه فائده يې وه؟

ځواب: فائده يې دا وه چي په سفر کي هر ځای بوتي پيدا کول بيا د ودی پخول په سفر کي لوی تکليف ؤ.

پوښتنه: د نيني کولو يې څه فائده وه وړه به يې ورسره اخستلای چي وږي سوي وای اوبه به يې وراچولای خورک به يې ځني کولای؟

ځواب: د اومو وړو خورک خو خوند هم نه کوي او بل سړی ناجوړی کوي کما يدل عليه التجربة، نو چي نيني به يې کړه پاخه به سوه، نو خوړل يې هم خوند کوي او هم سړی نه ناجوړی کوي.

اوس بيرته د حديث پر لور: نو هغه سويق يې لانده کړه او ويې خوړل، ثم قام الى المغرب، نو په خوله يې اوبه ولغړولې ثم صلى ولم يتوضأ رواه البخاري والبيهقي، بيا عليه الصلوٰة والسلام يو کړی دلته بيده سو يو کړی د شپې، راوي وايي چي خيبر د يهودانو دا خيال نه ؤ چي رسول اللهﷺ دي زموږ غزاء ته راسي، دوی په خپلو محکمو قلاوو او په خپلو اسلحه وو او په خپل لوی عدد چي لس زره (۱۰۰۰۰) مقاتل وه غره وه، نو وروسته چي دوی واورېدل چي محمد (ﷺ) زموږ د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غزا. لپاره را روان دی، نو دوی به هره شپه لس زره مقاتل را وتله او دا به یې ویله محمد تغیرونا (پر موږ حمله کوي) هیهات هیهات وکان ذالک شانهم کل لیلة. نو هغه شپه چې علیه الصلوة والسلام د دوی ساحې ته ورسېدی په هغه شپه هیڅ څوک نه ووتل (یعني خوبو غلبه پر وکړه) او نه یې چرګانو اذانونه کول حتی چې لمر راوختی دوی چې راوېښ سول زړونه یې رېږدېدل قلاوي یې خلاصي کړې.

په بخاري او مسلم کي داسي راغلي دي چې د علیه الصلوة والسلام دا عادت مبارک ؤ چې د شپې به و قوم ته د غزاء لپاره ورسېدی نو د شپې یې حمله نه پر کول تر سهاره یې انتظار کاوه، نو که به یې اذان واورېدی نو حمله یې نه پر کول ولي چې دلته مسلمانان هم سته چې هغه په جنګ کي ژوبل نه سي، واذا لم یسمع اذانا اغار. راوي وایي چې علیه الصلوة والسلام او موږ د سهار لمونځ په غلس کي وکړی (یعني په اول وخت کي چې هنوز لا تاریکه وه) او اذان مو هم نه واورېدی فرکب رسول اللهﷺ ورکبنا ای المسلمون، او د خیبر خلک په هیڅ نه وه خبر خپلو باغو ته روان وه تبو کړی، او یومان ورسره وه. فلما روا رسول اللهﷺ قالوا محمد والخمیس، محمد (ﷺ) راغلی او لښکر هم ورسره دی په خغاسته په قلا ننوتل او دروازې یې بندي کړې، فقال رسول اللهﷺ ورفع یدیه الله اکبر خربت خیبر (خراب سو خیبر یعني فتح به سي)

فائده: په آلاتو د خراب چې یومان او بېلچې وې تبرک یې وکړی "انا اذا انزلنا سباحة قوم فساء صباح المنذرین"

پوښتنه: لښکر ته ولي عرب خمیس وایي؟

ځواب: د قدیم عربو دا رواج ؤ چې لوی لښکر وای د جنګ عظیم لپاره نو هغه به یې پنځه برخي کاوه، یوې ټولګی ته یې مقدمة الجیش وایه چې تر ټول لښکر د مخه به روانه وه چې د لښکر د مخ مخکه به یې څېړل یعني معلومات به یې کاوه، او بله ټولی به د لاري او د لښکر پر راسته طرف روانه وه چې میمنة الجیش یې بلل لمثل الغرض المذکور في مقدمة الجیش، او بله ټولګی به یې ساقة الجیش بلل لمثل الغرض المذکور، او بله ټولګی به یې میسرة الجیش بلل لمثل مامر، او لویه ټولګی چې امیر الجیش به هم په هغو کي ؤ قلب الجیش یې بلل یعني د لښکر زړه.

روی الطبراني عن جابر بن عبد الله ؓ ان رسول اللهﷺ قال یومئذ لا تتمنوا لقاء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العدو (د دښمن يعني الکفار د ملاقات يعني د جنګ تمنا مه کوئ) واسئلوا الله العافية (د خدای ﷻ څخه سوال د عافيت کوئ) او داسي وايياست: اللهم ربنا وربهم نواصينا ونواصيهم بيدک (کنايت د قدرت څخه پر موږ او دوی يعني کفار چي وژني يې ته يې وژني يعني زموږ په لاس و ثم الزموا الارض بيا نو مځکه ټينګ ونسئ يعني تېښتئ مه) جلوسًا په ناستي فاذا غشوکم يعني چي دوی در انژدې سي نو جنګ ته ورولاړ سئ او الله اکبر وواياست، او بيا يې غونه عليه الصلوة والسلام تقسيم کړه او اجازه د قتال يې ورکړه او مؤمنان يې باعثه کړه پر صبر، وقاتل رسول الله ﷺ والمؤمنون اهل نطات اشد القتال وقاتل اهل النطات ايضًا اشد القتال حتى فتح الله عليه الحصن، راوي وايي چي عليه الصلوة والسلام اوره ورځي د حصون او قلاؤ د اهل نطات په جنګ اخته ؤ او هره ورځ به يې بيرغ د اسلام چي لآ اله الا الله محمد رسول الله پر نوشته وه يو صحابي ؓ ته يې په لاس ورکړی فلم يرجع من اعطى له الراية بفتح، وروسته عليه الصلوة والسلام وويل چي زه سبا بيرغ و هغه چا ته ورکوم چي يحب الله ورسوله ويحبانه او خدای و رسول د هغه محبت لري يفتح على يديه، د دې وينا څخه د عليه الصلوة والسلام اميد ابوبکر، عمر او بعض نورو صحابه ؤ ؓ ته د قريشو پيدا سو، يعني هر يوه دا اميد کاوه چي شايد ما ته به يې راکړي او زه به فتح وکړم، نو عليه الصلوة والسلام علي ؓ را طلب کړی او د علي ؓ تر سترګو او ښکي توبدلي يعني پر سترګو يې سخت درد ؤ علي ؓ چي راغلی عليه الصلوة والسلام پر سترګو دم ورو کړی، نو د علي ؓ سترګي د خدای په قدرت دستي جوړي سوې لکه د سره چي نه وه پر درد، نو سپين بيرغ د اسلام يې ورکړی، علي ؓ و عليه الصلوة والسلام ته وويل: على ما اقاتلهم، پر څرنګه زه جنګ ورسره وکړم؟ قال عليه الصلوة والسلام على ان يشهدوا ان لا اله الا الله واني رسول الله، نو که دوی دا دوې خبري ومنلې، نو دوی محفوظي کړې خپليويني يعني مؤمنان دوی نسي وژلای، او دوی و ساتل خپل مالونه يعني مسلمانان يې په مالو هم کار نه لري، او عليه الصلوة والسلام خپله زغره د او سپني په علي ؓ واغوستل او خپله توره چي ذو الفقار يې بلل تر ملا ور غوټه کړه، او عليه الصلوة والسلام دا هم ورته وويل چي ستا په سبب به يو سړي ته خدای ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هدايت ورکړي يعني ايمان به راوړي، نو خير ده تا لره من حمر النعم (تر سرو اوښانو) چي ته يې في سبيل الله خيرات کړې يعني غزاتو او مجاهدينو ته يې ورکړې، فخرج علي ﷺ سره د بيرغه د خوشحالۍ څخه يې اوړې ښورولې او بيرغ جګ کړی لاندي تر قلا د الحارث چي ورور د مرجب ؤ، تاريخ وايي چي دا الحارث په شجاعت سره مشهور ؤ. نو علي ﷺ او حارث يو پر بل د تورو وارونه وکړل، علي ﷺ الحارث قتل کړی نو ريهودان له بيري په قلا ننوتل ثم خرج اليه (اى الى علي ؓ) مرجب چي د يهودانو سردار ؤ پر علي ﷺ يې سخت ګذار د توري وکړی چي د علي ﷺ د لاسه يې سفر وغور ځاوه. نو علي ؓ على الفور يوه د قلا زره دروازه پرته وه هغه يې راپورته کړه او د سپر کاريې څني اخستی او دغه لويه دروازه تر مغو پوري د علي ﷺ په لاس کي وه او د مرجب و توري ته به يې سپر کوله حتى چي مرجب يې هم قتل کړی ففتح الله على علي ﷺ دا قلا د خيبريانو او دا قلا په نامه د ناعم ياديدل له قلاؤ څخه د النطاة او هغه دروازه علي ؓ تر شا وغورځول اتيا (۸۰) لوېشتي، وذالک بالقوة القدسية وهذا دليل على شجاعة علي ؓ حيث قتل شجاع بعد شجاع يعني الحارث و اخوه مرجب. ولنعم ماقيل:

ګرچه شاطر بود خروس به جنګ — چه زند پيش باز روئين چنګ
ګربه شير است درګرفتن موش — ليک موش است درمصاف پلنګ

درويش وايي: چي نقل او بيان او تفصيل د ټولو قلاؤ د خيبر ډېر اوږد دی چي تفصيل به تطويل د دې تفسير مفضي سي نو ځکه زه عذر غواړم له بيان څخه د فتح د ټولو قلاؤ.

قصة فتح فدک: راويان وايي چي د اهل فدک يهودانو چي واوريدل بما صنع رسول الله ﷺ باهل خيبر، نو سرې يې و عليه الصلوة والسلام ته ورواستاوه چي زموږ سره صلح وکړه يعني موږ پرېږده په فدک کي محفوظ او اموال زموږ به ستا وي عليه الصلوة والسلام هم دا غسي وکړه لکن شرط يې دا کړه انا اذا شئنا اخرجناکم فصالحه اهل فدک على ذالک. نو غنائم د خيبر پر غازيانو مجاهدينو مسلمانانو وويشل سول او اموال د فدک خالصةً د رسول الله ﷺ سول. ولي فدک په صلح ونيول سو. مجاهدينو جنګ نه ؤ پر کړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قصة قدوم جعفر بن ابی طالب اخو علي بن ابی طالب رضي الله عنهما د ابو موسی الاشعري رض روایت دی چي له مکې څخه موږ هجرت و یمن ته کړی ؤ چي موږ ته دا خبر ورسېدی چي رسول الله ﷺ له مکې څخه هجرت مدینې ته وکړی، نو موږ په کښتی کي سپاره سوو په نیت د هجرت و مدینې ته فالقینا سفینتنا وروستو کښتی زموږ حبشې ته (یا یې لار خطا کړه او یا به یې له حبشې څخه وروسته مدینې ته وړلای) والاول هو الظاهر فوافقنا جعفر بن ابی طالب رض ده راته وویل چي موږ رسول الله ﷺ دلته حبشې ته را استولي یو او موږ یې امر کړي یو په اقامت سره په حبشې کي نو تاسي دلې زموږ سره پاته سئ وروسته به ان شاء الله ګډ سره ولاړ سو فاقمنا معه حتی قدمنا جمیعًا الی المدینة، نو موږ علیه الصلوة والسلام ته په داسي وخت کي ورسېدو چي علیه الصلوة والسلام خیبر فتح کړی ؤ، او رسول الله ﷺ وویل: بایهما افرح بفتح خیبر ام بقدوم جعفر (په کوم ددې دوو شیانو زه خوشحالي وکړم په فتح د خیبر که په قدوم د جعفر رض) و قبل رسول الله ﷺ جعفر بین عینیه، نو جعفر رض وویل چي موږ اصحاب السفینة ته علیه الصلوة والسلام برخه راکړه په غنیمتو کي د خیبر او بل هیڅ چا ته یې برخه نه کړه ورچي په فتح د خیبر به غائب ؤ هیڅ شی هم، او علیه الصلوة والسلام و اصحابو ته د جعفر رض وویل: لکم هجرتان من مکة الی الحبشة ومنها الی المدینة، رواه البیهقي.

قصة قدوم ابی هریرة رضي الله عنه: دی وایي چي موږ اتیا کوره د دوس د قبیلې مدینې ته راغلو بیا په علیه الصلوة والسلام پسي خیبر ته ولاړو علیه الصلوة والسلام په دغه وخت کي د نطاط قلاوي فتح کړي وې وهو محاصر لکثیبة فاقمنا عنده حتی فتح الله علینا، نو علیه الصلوة والسلام په حق کي زموږ د مسلمانانو سره خبري وکړې، نو موږ یې شریکان کړو په برخو کي د نورو مسلمانانو سره چي په فتح کي د خیبر شریکان وه، ولي چي په اخیر فتح کي موږ هم حاضر سولو الی ههنا.

تم الکلام في فتح خیبر: راوي وایي چي له جملې څخه د هغو کسانو چي له حبشې څخه راغلي وه ام حبیبه بنت ابی سفیان رض چي وروسته علیه الصلوة والسلام په نکاح کړه، قصه دا وه چي ام حبیبه رض سره د خپل مېړه عبد الله بن جحش حبشې ته تللې وه، مېړه یې مرتد سو له اسلام څخه نصاري سو او پر هغه نصرانیت مړ سو په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حبشه کي، ام حبیبه پر خپل اسلام قائمه وه او دې په حبشه کي داسي خوب لیدلی ؤ چي یو څوک دې ته وایي یا ام المؤمنین، نو دا په دې پوه سوه چي علیه الصلوة والسلام به ما په نکاح کړي، نو علیه الصلوة والسلام چي دد دې د مېړه په ارتداد خبر سو او دد دې د بقاء پر اسلام، نو علیه الصلوة والسلام د محرم الحرام په میاشت کي چي شروع د سنه (۷) هجري وه نجاشي ملک الحبشه ته یې خط واستاوه چي نجاشي که څه هم اول نصراني ؤ لکن په وخت کي د قیام د جعفر بن ابی طالب په حبشه کي په کوشش د جعفرؓ یې ایمان راوړی، مضمون د خط دا ؤ چي ته ما ته ام حبیبهؓ په نکاح راوغواړه، نجاشي هم هغسي وکړه او څلور سوه دیناره یې ولور دې ته ورکړی، او د حبشي څخه چي جعفر بن ابی طالبؓ سره د ملګرو مدینې ته راستانه کېدل ام حبیبهؓ یې ورسره کړه.

قصة فتح واد القری: راوي وایي لما انصرف رسول اللهﷺ من خیبر الی وادي القری دعوت یې ورکړی و اهل ته د وادي القری و اسلام ته، نو هغو منع وکړه د اسلام څخه نو علیه الصلوة والسلام فتح کړه دغه وادي عنوة (په زور د توري او په غنیمت یې څني واخستل هغه بهترین مالونه ددوی من اثاث البیوت) او نور ګټور شیان ددوی، نو علیه الصلوة والسلام هغه اموال پنځه حصې کړه لکه غنائم د خیبر او ځمکه یې په لاس کي د یهودانو پرېښول وعاملهم مثل ما عامل اهل فدک کما مر.

وَأُخْرَىٰ لَمْ تَقْدِرُوا عَلَيْهَا قَدْ أَحَاطَ اللَّهُ بِهَا ۚ

(واخری منصوب دی عطف دی علی مغانم کثیرة یعني وعدکم الله مغانم اخری) تاسي قدرت نه درلودی پر هغو مغانمو (والمراد بها مغانم فارس والروم وما کان العرب یقدر علی قتال فارس والروم "لم تقدروا علیها" صفت د اخری دی) "قد احاط الله بها علمًا" چي احاطه کړې وه پر هغو غنائمو علم د خدایؒ، دا جمله بل صفت دی د اخری. ولي چي خدایؒ ته هر شی اسانه دی که څه هم دوی ته ګران وي. کذا قال ابن عباسؓ والحسن ومقاتلؒ، و قال قتادةؒ هي فتح مکة، وفیه ان في فتح مکة لیست غنائم، وقال مجاهد المراد بها کل ما فتح الله علیهم بعد ذالک چي علم د خدایؒ د هغو پر فتح تاسي ته محیط ؤ چي پر تاسي بې فتح کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا ﴿۲۱﴾

او دی خدای پر هر شي قادر که څه هم تاسي قدرت نه پر لرئ.

وَلَوْ قٰتَلَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوَلَّوُا الْاَدْبَارَ ثُمَّ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۲۲﴾

او که ستاسي سره يې جنګ کړی وای يعني من اهل مکة د حديبيې په کال او صلح يې نه وای کړې (کما مر تفصيله) هر آئينه شاوي به يې درګرځولي وای (يعني شکست او ماته به يې په نصيب سوې وای) وروسته به دوی نه وای پيدا کړی دوست چي ستاسي څخه دي دوی خلاص کړي وای، او نه کومک کوونکی چي ددوی حمايت دې کړی وای.

سُنَّةَ اللّٰهِ الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلُ ۖ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ﴿۲۳﴾

هغه سنت دی د خدای قديمًا في الامم السابقة تر کفارو د مکې دمخه، هرګز نسي پيدا کولای عادت او سنت لره د خدای تغيير او تبديل لانه تعالی الآن کما کان في القدرة علی الامور کلها والصفات الجلالية والجمالية بتمامها.

وَهُوَ الَّذِيْ كَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ

پوه سه: چي بيان دی د احسان د خدای د مسلمانانو سره په حديبيه کي.

ترجمه: خدای هغه ذات مقتدر محسن دی چي بند يې کړه لاسونه ددوی يعني کفار مکه د تاسي څخه او بند يې کړه ستاسي لاسونه ددوی څخه ببطن مکة په داخل د مکې (يعني په داخل د حرم د حدودو چي د حديبية بعض اطراف د حرم په حدود کي داخل کما روی چي د عليه الصلوة والسلام او د اصحابو خيمې دباندي تر حدود د حرم وې او لمونځونه به يې په حدود کي د حرم کول)

مِنْۢ بَعْدِ اَنْ اَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ؕ

وروسته تر دې چي تاسي ته يې برى درکړی پر دوی لکه دمخه چي تېر سو حديث د انس چي اتيا (۸۰) کسه وه او په بعض رواياتو کي اوويا (۷۰) کسه وه د مکې والو د جبل تنعيم د خوا لپاره د حملې پر لښکرو د عليه الصلوة والسلام شپې راکښته سوي وه، د محمد بن مسلمة له خوا چي د څو صحابه و سره يې پهره داري پر غاړه درلوده، نو رسول الله ﷺ تولـه ونيـول. فنزلت هذه الآية، او په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حدیث د عبد الله بن مغفل خرج علینا یعني من مکة (۳) ځوانان یعني د کافرانو.
درویش وایي: چي د دې دواړو حدثونو جمع ممکنه ده لاحتمال تعدد الواقعة.

وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ﴿۲۴﴾

یعني فیجازي کلا علی حسب ما فعل.

پوه سه: چي ابو عمرو یې په یاء د غیبت وایي چي ضمیر یې راجع و کفارو ته دی او نور قاریان یې په تاء د خطاب وایي چي خطاب و مؤمنانو ته دی.

هُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْهَدْيَ مَعْكُوْفًا اَنْ يَّبْلُغَ مَحِلَّهٗ

اهل مکه چي دي هغه کسان دي چي شرک او کفر یې کاوه او تاسي مؤمنان یې منع کړي واست د مسجد الحرام څخه یعني د بیت الله شریفي څخه چي تاسي طواف پر وکړئ یعني طواف العمرة په کال د حدیبیه کي.

پوه سه: چي "الهدی" هغه اوښ یا بقر یا شات ته وایي چي مکې مکرمې ته یې په نیت د هدیې راوستلې وي یعني د هدیه هم مانع وګرځېدل "معکوفًا" ای ممنوعًا محبوسًا "ان یبلغ محله" چي ورسېږي خپل ځای ته چي په هغه ځای کي هدایا ذبح کېږي یعني مکه.

پوه سه: چي ان یبلغ بدل اشتمال دی من الهدی او یا منصوب په نزع د خافض دی (یعني حرف جر چي جر یې حذف کړی نو فعل ګویا د متعدي سو بلا واسطة)

درویش وایي: چي دا معنی د منصوب بنزع الخافض ده په نحو کي فلا یتوهم ان نزع الخافض ای حرف الجزء کیف یوجب النصب تدبر، والتقدیر ههنا محبوس من ان یبلغ مکانه الذي یحل فیه نحره.

وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُوْنَ وَنِسَآءٌ مُّؤْمِنٰتٌ لَّمْ تَعْلَمُوْهُمْ اَنْ تَطَئُوْهُمْ

او که نه وای نران مؤمنان او ښځي مؤمنات چي تاسي یې نه پېژنئ باعیانهم یعني په معین ډول، ولي چي کفار او دوی سره ګډ وډ دي "لم تعلموهم" صفت دی د رجال او نساء، تاریخ وایي: چي په مکه مکرمه کي مجموع نر او ښځي (۷۲) وه چي دوی ایمان پټ ساتلی و له کافرانو څخه "تطواهم" بدل اشتمال دی یا د رجال او نساء یا له ضمیر څخه د هم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې وطاء اصلاً تر پښو لاندې کېدو ته وایي لکن دلته ذکر ملزوم مراد ځني لازم دی ای تهلکوهم، ولې د پښو د لاندې کېدو سره هلاک لازم دی کما في قوله عليه الصلوة والسلام اللهم اشدد وطئتک علی مضر (ای هلالک علی مضر د قبیلې نوم دی)

فائده: جواب د لو لا محذوف دی اعني عنه جواب لو والمعنی لولا کراهة ان تطؤ المؤمنین والمؤمنات عن نصرنا لکم وغلبتکم علیه، لعذبنا الذین بالقتل والاسر، په قتل ددوی او بندي کولو.

فَتُصِيبَكُمْ مِّنْهُم مَّعَرَّةٌۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ

"فتصیبکم" عطف دی پر تطؤهم "منهم" یعني له سببه ځنې د هلاک د هغو مسلمانانو ستاسي د خوا "معترة" په پښتو وایي پیغور یعني مشرکان د مکې یا نور کافران به پیغور درکوي چې خپل مسلمانان مو وژله، ابن زید وایي معناه اثم ګناه، فان قتل الخطاء لایخلو من اثم یدل علیه وجوب الکفارة وفي المفردات معناه الجرب چې په پښتو یې ګرګ بولي چې تو له بدن ته یې سریان کوي، واطلق ههنا علی مطلق المضرة "بغیر علم" بیله ستاسي د علم، متعلق دی په ان تطؤهم یا په تصیبکم پوري.

لِّيُدْخِلَ اللَّهُ فِي رَحْمَتِهِ مَن يَشَاءُ

متعلق دی په محذوف پوري چې د سباق ځنې د کلام فهمېږي ای کان ذالک من دخول مکة عنوة (په زور او جنګ) "في رحمته" ای دینه في الدنیا وجنته في الآخرة "من یشآء" هغه څوک چې د خدای ورته اراده سي، ولې په کال د فتح د مکې ډېرو مشرکانو ایمان راوړی، وقبل ذالک یعني د حدیبیه په صلح کې چې لس کاله جنګ بندي وه د علیه الصلوة والسلام او د قریشو تر منځ، او آمد ورفت په مابین کې د مکې او مدینې تر مابین جاري ؤ کمامر قبل ذالک فتذکر، او یا معنی داده چې داخل کړي ضعیفه مسلمانان د مکې په رحمت کې د دنیا ای العافیة وطول البقاء (یعني ژوند)

لَوْ تَزَيَّلُوا لَعَذَّبْنَا الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا

که هغه مسلمانان جلا سوي وای د کافرانو ځنې مو به په عذاب کړي وای هغه کسان چې کافران وای د اهل مکه په سخت عذاب ای بالقتل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِذْ جَعَلَ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي قُلُوبِهِمُ الْحَمِيَّةَ حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ

او بنديان چي ګرځولي يې وه هغه کسان چي کافران وه يعني مشرکي مکة (ظرف يعني اذ متعلق دى په صدوکم پوري يا متعلق دى په عذبنا پوري) "الحمي" يعني بېځايه غيرت، چي رسول الله ﷺ او مؤمنان د طواف څخه د کعبة الله منع کړه او انکاريې وکړى د بسم الله الرحمن الرحيم له کتابت څخه په صلح نامه کي، وانکر عن رسالة رسول الله ﷺ حين قال لعلي اکتب هذا ما صالح عليه محمد رسول الله، وقال مقاتل قال اهل مکة قد قتلوا (اى المؤمنين) ابنائنا و اخواننا اوس دوى داخلېږي زموږ ښار مکې ته، نو رعرب به وايي چي په زوره مؤمنان داخل سوه مکې ته واللات والعزى چي لات او په عزى دي زموږ قسم وي چي دوى نسي داخلېداى مکې ته.

پوه سه: چي "حمية الجاهلية" بدل دى من الحمية، يعني هغه بې ځايه غيرت دغه ته وايه چي د جاهليت په وخت کي اهل مکة درلودى.

فَأَنْزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ

(عطف على جعل) نازل کړه خداى پر دوى په توفيق د خداى الثبات والوقار پر خپل دين السلام والصلح يعني د کفارو د مکې ضرر دوى ته نه ورسېدى بلکې صلح يې ورسره وکړه ورضوا بکتاب الصلح کما مر على ما ارادوا. والمراد في الآية حسن صنيع المؤمنين بتوفيق الله تعالى وسوء صنيع اهل مکة حيث اختاروا حمية الجاهلية سره ددې چي د صلح بعض شرطونه د عمومي مسلمانانو له خوا ناچيه وه لکن بيا هم د امر نبوي متابعت يې وکړى بمقتضى بيعة الرضوان کما مر بيانه فتدبر.

وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوَىٰ

او د دوى سره خداى لازمه وګرځول کلمه د تقوى، ابن عباس رض، مجاهد، قتادة، الضحاک، عکرمة، ابن زيد او السدي رحمهم الله او اکثره مفسرين وايي چي کلمة التقوى لا اله الا الله والله اکبر ده، او عطاء ابن ابى رباح وايي چي کلمة التقوى لا اله وحده لاشريک له له الملک وله الحمد وهو على کل شيئ قدير، او عطاء الخراساني وايي چي کلمة التقوى لا اله الا الله محمد رسول الله ده، والزهري وايي چي بسم الله الرحمن الرحيم ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي ماّل د دې تفاسيرو يو دی ولا يخفی ان زيادة الخير خير.

فائده: اضافة د كلمة و تقوی ته لانها سبب للتقوی و اساسها.

وَكَانُوٓا أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا

دوی حقدار د كلمة د تقوی تر كافرانو د مكې، او اهل د كلمة التقوی وه يعني في علم الله الازلي او دې سببه خدای دوی يعني صحابه كرام مختاره كړه لپاره د حمايت د دين خپل و صحبة رسوله ﷺ، روافض خذلهم الله وايي چي بعض صحابه ﷺ كافران سوي دي، دا آيت كافي دی په رد كي د مذهب د دوی لقد رضی الله عن المؤمنين اذ يبايعونک تحت الشجرة فعلم ما في قلوبهم.

وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٢٦﴾

او دی خدای خبر په هر شي و من جملته ما اضمر الصحابة من الايمان وحب رسول الله، راوي د قصة الفتح وايي چي په حديبيه كي چي صلح د عليه الصلوٰة والسلام او اهل مكه تر مابين وسوه او مؤمنان مديني ته راهي سوه كما مر قال الصحابة "اين رؤياک؟" څرنګه سو هغه ستا خوب؟ نو دا آيت نازل سو.

لَقَدْ صَدَقَ اللَّهُ رَسُولَهُ الرُّءْيَا بِالْحَقِّ

كلمة اللام جواب لقسم محذوف.

فائده: په آيت كي لفظ د ماضي راوړه سو لكن مراد ځني مستقبل دی يعني په راتلونكي كال كي وانما عبر بالماضي مع ان المراد به المستقبل ليدل على تحققه البتة "بالحق" ای متلبسًا بالحق ای الحكمة البالغة وهي التمييز بين الثابت على الايمان والمتزلزل فيه.

لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ إِن شَاءَ اللَّهُ آمِنِينَ

چي تاسي به خامخا داخليږئ و مسجد حرام ته.

درويش وايي: چي ابن كيسان وايي چي دا آيت قول د رسول الله ﷺ دی و اصحابو ته چي دوی پوښتنه ځني وكړه فاين رؤياک.

"ان شاء الله" كه د خدای مشيت او اراده وه په داسي حال كي چي په امن كي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

به یاست د اهل مکه له خوا څخه، نو آمنین حال دی له فاعل څخه د لتدخلن، وجملة ان شاء الله معترضة في مابين حال او ذي الحال.

پوښتنه: د رسول اللهﷺ خو دا یقین و چي داغسي به کېږي، نو کلمه د ان چي د شک په ځای کي استعمالېږي څرنګه را وړه سوه؟

ځواب: دا کلمه لپاره د تأدب بآداب الله را وړه سوه. قال الله عزوجل ولا تقولن لشيئ اني فاعل ذالک غداً الا ان شا الله (ای الا مقرونًا بقوله ان شاء الله) او بعض مفسران اعني ابو عبیده ؒ ددې سوال په جواب کي داسي ویلي دي چي ان په معنی د اذ دی، نو معنی یې دا ده اذ شاء الله، او الحسین بن الفضیل ؒ وایي چي کېدای سي چي استثناء له دخول څخه وي ولي چي په مابین کي د رؤیا د نبيﷺ او د دخول د مکې پوره یو کال تېر سو او په دې یوه کال کي د نزول د دې آیت یعني لتدخلن بعض حاضرین وفات سوي وه، نو معنی د آیت دا ده چي هر یو ستاسي به داخلېږي مسجد الحرام ته ان شاء الله تعالی یعني کلمه د ان لپاره د شک ده، ولي چي ژوند د ټولو حاضرینو تر بل کاله پوري مشکوک دی فتدبر غایة التدبیر.

مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَ

یعني بعض کسان د احلال د عمرې په وخت به ټوله سر وخریي او بعض به قصر د بعض وېښتانو د سر وکړي لکن حلق افضل دی اقتداء برسول اللهﷺ ولهذا قدم الحلق على القصر في الآية، دا دوه لفظه حال دي له ضمیر څخه د آمنین او بعض مفسران وایي چي حال دي له فاعل څخه د لتدخلن.

سوال: په نحو کي وایي چي زمانه د حال او د عامل د ذی الحال به یوه وي دلته زمانه د حلق یا د قصر وروسته ده تر دخول د مکې؟

ځواب: داسي حال ته په نحو کي حال مقدره وایي فالمعنی لتدخلن مفروضًا حلقكم وقصركم كما في قوله تعالی في حق اهل النار فادخلوها خالدين فيها ای مفروضًا خلودكم فيها وقت الدخول "لاتخافون" (حال مؤكدة دی د لآمنين يعني لاتخافون بعد ذالک) خدای ؒ خبر دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوْا فَجَعَلَ مِنْ دُوْنِ ذٰلِكَ فَتْحًا قَرِيْبًا ۝

پوهه: چي "فعلم" عطف دى پر مقدر والفاء للسببية، والتقدير اخر دخول مكة فعلم من الحكمة في التاخير "مالم تعلموا" چي تاسي پر هغه حكمت في التاخير علم نه درلودى "فجعل" عطف دى پر اخر مقدر باندي "من دون ذالک" اى دخول المكة "فتحًا قريبًا" يعني فتح خيبر كمامر، او يا صلح الحديبية فانه فتح ايضًا. حيث رضى المشركين بالصلح بعد الاعداد للقتال كما مر تفسير كلا الفتحين.

هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ۗ

خداى هغه خداى دى چي را استولى يې دى خپل رسول يعني محمد ﷺ متلبس په هدايت سره او يا معنى داده لاجل الهداية، او دين الحق چي اسلام دى چي غالب يې وګرځوي پر جنس اديانو يعني په تسليط المسلمين على اهل الاديان كلها في وقت من الاوقات، او يا معنى داده چي حق اديان به تبوله منسوخ سي يعني ما يقبل النسخ من العمليات دون المعتقدات الحقة كالتوحيد والبعث بعد الموت وغير ذالک. فقير وايي چي د حقه قيد وو ايه، ولي چي په معتقدات كي بعض باطل معتقدات سته لكه عيسى ابن الله او ثالث ثلثة، يا عزير ابن الله يا اعتقاد دى لن يدخل الجنة الا من كان هودًا لكه يهودان چي وايي، او يا "نصارى" لكه نصارى چي وايي الى غير ذالک من معتقدات هؤلاء فافهم، لكن دين د اسلام هغه معتقدات زائغه كما ذكرنا امثلتها بالحجج والبينات سره د هغو بطلان په ډاګه كړى والله اعلم بمراده في كتابه.

وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ۝

فائده كليه: هر ځاى چي د كفى وروسته باء راسي په قرآن كريم كي هغه زائده ده لان كفى متعد بنفسها لكن لمراعات لسان العرب باء راوړل كيږي.

پوهه: چي شهيدًا يا حال دى د لفظ الله څخه يا تمييز دى د نسبت څخه د كفايت و خداى ته. نحات وايي: چي تميز د نسبت و فاعل ته په معنى كي د فاعل دى والمعنى كفى الله شاهدًا على تقدير الحالية من الله او كفى شهادة الله على تقدير التميز من النسبة وعلى كل تقدير كافي دى شهادت د خداى على ما وعد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من الفتح او على رسالة رسوله باظهار المعجزات على يديه.

فائده: په دې آيت کې تاکيد دی د لما وعد من دخول المسجد الحرام وکلتاهما تائيدان دي لقوله تعالى انا فتحنا لک فتحا مبينًا.

مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ ۚ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ

اعراب: "محمد رسول الله" دا جمله بيان د مشهود به ده "والذين معه" معطوف على محمد وما بعده يعني "اشداء على الكفار" او داسي اعراب هم ممکن دی چې رسول الله دي صفت د محمد وي او دا دي خبر د مبتداء محذوف وي، والتقدير اى هو الذي ارسله بالهدى محمد.

وترجمة الآية: محمد رسول الله او هغه کسان چې دده سره دي سخت تر دي پر کفارو يعني زړه سوی نه پر لري امتثالاً لامر الله تعالى حيث قال يا ايها النبي جاهد الكفار والمنافقين واغلظ عليهم، وقال ومن يتولهم منكم فانه منهم.

درويش وايي: چې مظهري" چې دا آيت په مثال کې راوړی دی لاتأخذكم بها رافة في دين الله، فسهو لان الآية المذكورة في اجراء حد الزنا على الزانية والزاني كما يدل عليه ضمير التثنية.

"رحمآء بينهم" مهربانه وي په خپل مابين کې حباً لله ورسوله فان محب المحبوب محبوب يعني د سړي د محبوب محبوب دی د سړي يعني دوی د خدای او د رسول سره محبت لري نو دوی په خپل مابين کې هم محبت سره لري.

في الحديث القدسي اين المتحابون (يعني خدای" به وايي چېرې دي هغه کسان چې يو د بل سره يې محبت کاوه يعني په دنيا کې) في جلالي (زما د جلال د سببه: يعني د يو چا چې به زما سره محبت ؤ بل سړي په دې سبب چې دا محب الله دی د هغه سره محبت کاوه وبالعکس يعني د دنيا په سبب يې محبت نه ورسره کاوه) اليوم تظلهم تحت ظلي (اى رحمتي) يوم لاظل الا ظلي (اى ظل رحمتي)

درويش وايي: چې ما د ظل تفسير په رحمت سره وکړی لان المتعارف لايكون الا للاجسام والله تعالى ليس بجسم حتى يكون له ظل متعارف چې په پښتو يې سايه بولي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: په دې آيت کې رد دی پر روافضو چې دوی وايي چې اصحاب د رسول الله ﷺ به يو د بل سره عداوت درلودی.

تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا

ته دوی وينې يا محمد (ﷺ) "رکعًا سجدًا" جمع د راکع او د ساجد ده، چې مراد ځندې لمونځونه دي تعبيرًا عن الکل بالجزء يعني يشتغلون بالصلوات في کثير من الاوقات اعم من الفرائض والواجبات والسنن والنوافل لان الصلوة معراج المؤمنين، دا دوه لفظه حال دي مترادف د ضمير منصوب څخه د تراهم.

يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ

دوی طلب کاوه په دې کثرت اشتغال بالصلوة د فضل او احسان د خدای په اخرت کې چې ثواب او جنت دی ورضی الله عزوجل وروٴية الله تعالى "ورضوانًا" او رضٰى د خدای عزوجل. علامه د دوی په مخانو کې د دوی له تاثير څخه د کثرة السجود، بعض مفسرين وايي چې دا سيما او علامه بياض او نور دی په مخانو کې د دوی په ورځ کې د قيامت يعرفون بها انهم کثر والصلوة في الدنيا، دا روايت د عوفي دی عن ابن عباس رض، او عطاء بن ابی رباح او الربيع بن انس رح وايي: بربښې مخان د دوی په دنيا کې من کثرة السجود او شهر بن حوشب رح وايي يکون مواضع السجود منهم ای وجوههم کالقمر ليلة البدر يعني في الآخرة وقال قوم هو السمت الحسن والخشوع والتواضع وهو رواية الوالبي رح عن ابن عباس رض وهو قول مجاهد وقال الضحاک رح صفرة الوجه من السهر (ژړوالی د رنگ دی له سببه د بدخوابی) يعني شپه په بدخوابی تيره کړي په تهجد کې سهاريې مخ ژړ وي، او الحسن رح وايي چې ته دوی وينې په خيال مريضان د راځي او مريضان نه وي، او سعيد بن جبير رح وايي هو اثر التراب على الجبهة. دا د دې سببه چې دوی به سجده پر خاورو کوله نه قالين يا سترنجي يا دسمالۇ لکه په او سنی زمانه کې.

ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ ۖ وَمَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِيْلِ ۚ كَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْــَٔهٗ فَاٰزَرَهٗ

دغه ۇ حال او امثال د دوی په تورات کې چې د نبي اخير الزمان د امت بعض کسان دغسې سيما لري، تر دې ځايه پوري کلام تام سو، کذا قال البغوي رح په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وروسته آيتو کي خدای عزوجل بيان د حال د امت محمديه په انجيل کي بيانوي په انجيل کي "ومثلهم في الانجيل" او حال د دوی په انجيل کي، دا مبتداء ده خبر يې دادی "كزرع" لکه کښت ای لکه حال د کښت زرع موصوف دی صفت يې دادی "اخرج شطأه" چي راوباسي د تخم څخه شنه وابنه.

پوه سه: چي ضمير مستتر په ازره کي راجع و زرع ته دی ای فقوی ذالک الزرع ذالک الشطاء، و بالفارسية پس قوی کرد کشت آن يک شاخ را، وبالافغانية: وروسته کښت لوی کړی هغه يو شين وابنه چي د مځکي څخه راوتلی وُ.

فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰى عَلٰى سُوْقِهٖ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ

"فاستغلظ" بمعنی صار غليظا بعد ما کان دقيقا، وروسته سم ودرېدی پر خپلو پونډيو "سوق" جمع د ساق ده، والجمع باعتبار ان الخارج من الارض من حبة واحدة نباتات "يعجب الزراع" ای حالکونه ای ددي کښت چي په تعجب او سرور کي اچوي کښته ګاران ددي کښت په سبب د کثافت د کښت (يعني ګڼوالي د بناخو د کښت) وحسن منظره وطول قامته وبالفارسية بشگفت می اورد زارعان را.

پوه سه: چي زراع جمع د زارع ده، دا دوه مثاله چي خدای پاک راوړه د اصحابو د محمد ﷺ لکن مثال يي صادقېږي پر غير د صحابه ؓ ايضًا من خيار امته والثاني مختص بالصحابةؓ لايشارک فيه غيرهم، فان الله ارسل محمدا ﷺ وحده فهو کالزراع چي تخم د اسلام په مځکه کي وکري، فامن به ابوبکر وعلي وبلال ؓ ورجال متعدون، وروسته تر دي درو منهم عثمان بن عفان وطلحة بن عبيد الله والزبير وسعد وسعيد وحمزة بن عبد المطلب وجعفر بن ابی طالب ؓ. حتی کان ايمان عمرؓ متمم اربعين رجلاً، يعني په عمر ؓ څلوېښت مسلمانان پوره سوه حتی نزل قوله تعالی: يا ايها النبي حسبک الله ومن اتبعک من المؤمنين فکان الاسلام في ابتداء الامر غريبًا وکان کفار مکة في غاية الکثر حتی کادوا انيکونون عليه (ای علی الاسلام لبدًا لولا حماية الله تعالی فازره الله المجاهدين الصحابة من المهاجرين والانصار ؓ حيث سقوا زرع الاسلام بدمائهم في حيوة النبي ﷺ وبعد وفاته لاسيما في خلافة ابی بکر وعمرؓ فاستوی دين الاسلام علی سوقه وظهر علی الدين کله واستغنی الدين عن حماية

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غيرهم حتى قال الله تعالى اليوم اكملت لكم دينكم واتممت عليكم نعمتي ورضيت لكم الاسلام دينًا، وقال عليه الصلوة والسلام لايجتمع امتي على الضلالة، وايضًا قال رسول الله ﷺ لايزال من امتي طائفة قائمة لايضرهم من خذلهم (چي د دوی سره مرسته نه کوي) ومن خالفهم.

درويش وايي: چي د خصوصيت په درلودلو سره صحابه رض مخ مخ دي په ميدان كي د فضل على سائر الامة حتى چي هيڅ د افاضلو څخه د امت درجې ته د يوه د دوی هم نسي رسېدلای حتى قال رسول الله ﷺ لاتسبوا اصحابي (زما اصحابو ته بښكنځل مه كوئ او بد مه پر واياست) كه يو ستاسي په لار كي د خدای صرف كړي مثل احد سره زر، نسي رسېدلای د انفاق ته د يو مد د اصحابو ولا نصيفه. متفق عليه من حديث ابی سعيد الخدري رض.

درويش وايي: چي فضائل د صحابه رض عمومًا وخصوصًا ونقلاً وعقلاً په كتاب كي په نامه د السيف المسلول جمع كړل سوي دي كذا قال المظهري رح.

لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ

چي په غم او غصه كي خدای ج واچوي په سبب د مسلمانانو كافران. انس بن مالك رض وايي كه څوك وګرځوي په زړه كي بغض د اصحاب الكرام رض يعني عمومًا يا خصوصًا تر دې آيت لاندي راځي يعني ليغيظ بهم الكفار فافهم، او نور احاديث صحيحه په فضائلو د صحابه كرامو رض ډېر دي چي و حد ته د تواتر معنوي رسېږي.

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا

وعده كړې ده خدای د هغو كسانو سره چي ايمان يې راوړی او عمل صالح يې هم كړی وي د مغفرت د ګناهو او ثواب لوی، اللهم اجعلنا منهم بمحض وكرمك ووفقنا الله تعالى للسلوك على مسالك كراماتهم امين. قال المظهري رح انعقد الاجماع على ان الصحابة رض كلهم عدول وكلهم مغفور لهم.

درويش وايي: چي د دوشنبې په ورځ پر څلور بجې پنځلس دقيقې بالا پر شلم د شوال تخمينًا سنه (۱۴۳۲) هجري تفسير د سورة الفتح پای ته ورسېدی بتوفيق الله لهذا العبد الضعيف المعمر (۹۸) كاله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الْحُجُرٰتِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانِيْ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ عَشْرَةَ اٰيَةً وَفِيْهَا رُكُوْعَانِ

الحمد لله حمدًا كثيرًا ونسبحه تسبيحًا جميلاً ونصلي ونسلم على رسوله المجتبى وحبيبه المصطفى صلوة وسلامًا يليقان بذاته الأعلى وعلى آله وصحبه الاتقياء. ونشرع الآن في السدس الآخير من ليلة الثلثاء في شهر شوال من شهور سنه (۱۴۳۲) هجري. بتفسير سورة الحجرات ان شاء الله تعالى.

رب سهله علي وتممه بالخير والعافية والصحة انك يا مولاى على كل شيئ قدير وبالاجابة جدير.

روى البخاري وغيره من طريق ابن جريج عن ابن ابى مليكة ان عبد الله بن الزبير اخبره چي راغله يو څو سپاره د بني تميم څخه و رسول الله ﷺ ته يعني دوي لپاره چي مور ته يو امير را وټاكه. فقال ابوبكر رضي الله عنه چي امير القعقاع بن سعيد ور وټاكه، او عمر رضي الله عنه ورته وويل چي امير ددوى الاقرع بن حابس ور وټاكه، نو ابوبكر رضي الله عنه و عمر رضي الله عنه ته وويل: ته همېشه زما خلاف رايه وركوې، عمر رضي الله عنه وويل چي يا ستا د خلاف پر برابر مي نه دي ويلي بلكې الاقرع بن حابس اولى بالامارة دى په دې دوران كي ددوى دوو اوازونه سره پورته سوه، فنزلت هذه الآية.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

اى هغه كسانو چي ايمان يې راوړى پر خداى او پر رسول د خداى، په دې لفظ د آمنوا تنبيه ده پر دې چي مخاطب په دې وروسته ادابو سره مؤمنان دي چي تاسي وړاندي والى مه كوئ نه په فعل او نه په قول كي.

بوه سه: چي لفظ د يدين په معنى د جهتين دي الكائنتين چي په سمت كي د دوو لاسو د انسان وي وبين اليدين بمعنى بين الجهتين والجهة التي بينهما هي جهة القدام دى فقولك جلست بين يدي فلان بمعنى جلست امامه يعني بمكان يحازي يديه اى قريبًا منه او چي داسي وويل سي بين يدي الله امتنع ان يراد الجهة والمكان لامتناعهما على الله تعالى كما تقرر في علم الكلام فيكون هذه العبارة استعارة تمثيلية وهي كما بين في علم البيان تشبيه الهيئة المنتزعة من امور متعددة بهيئت منتزعة من اخرى بدون المجاز في المفردات ومثلوا لها

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

بقولک لرجل متحير في امر من الامور رئيتک تقدم رجلاً وتؤخر اخرى شبه ما وقع من بعض الصحابةؓ من انقطع في امر من الامور الدينية قبل ان يحكم به الله ورسوله كما قطع في ما ههنا ابوبكرؓ بامارة القعقاع بن معبد علي بن تميم وقطع عمرؓ بامارة الاقرع بن حابس علي بني تميم قبل ان يحكم الله ورسول (يعني دغه هيئت منتزعه من هذا المجموع په حال د هغه چا چي يوه پښه د مخه کړي او بله پښه ترشا کړي يعني په تګ او نه تګ کي سودايي وي، نو تعبير يې وکړی الحالة المشتبهة يعني في الآية بما يعبر عن الحالة المشبهة بها فتدبر جداً عسى الله ان يهديک الى فهم المراد في الآية المتلوة يعني لاتقدموا بين يدي الله ورسوله.

پوښتنه: تا خو په اول د خپل تفسير کي دا ويلي وه چي زما دا تفسير د پښتنو لپاره دی دا استعاره تمثيليه چي تا دلته بيان کړه عوام د پښتنو خو څه کوي بعض امامان د مسجدو هم نه په پوهېږي؟

ځواب: فقير خو فقط لفظ د پښتنو ويلي دی داسي مي نه دي ويلي چي د عوامو د پښتنو يا امامان د مسجدو او س هم متبحر علماء د پښتنو په بيان د استعاره تمثيليه چي فقير په دې آيت کي وکړی دوی به په پوهېږي بلکې اميد لرم چي په احسنت يا عبيد الله به زما بيان بدرګه کړي... سعدي شيرازيؒ وايي:

توگوی آنچه دانی سخن سودمند وگرهيچ کس رانيايد پسند

د حاسد کمبله هلته سوه راتوله

چي د عبيد تفسير قبول سو په جهان کي

هم يحسدونني وشر الناس كلهم من عاش يوماً غير محسود

فائده: اصل مراد خو نهي دی د تقديم بين يدی رسول الله، او ذکر د لفظ د الله يعني اسم جليل لپاره د تعظيم د رسول اللهﷺ دی واشعاراً بان التقديم على رسول اللهﷺ كانه تقديم على الله عزوجل، ولي چي عليه الصلوة والسلام په مکان او مرتبه کي د قرب الى الله دی چي دده اجلال بايد وکړل سي؛ وسوء الادب معهٔ سوء ادب مع الله عزوجل.

درويش وايي: چي په بيان کي د بيعت رضوان مع رسول اللهﷺ في الحديبية خدای پاک داسي ويلي دي ان الذين يبايعونک انما يبايعون الله يد الله فوق ايديهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ①

او د خدای څخه وبېرېږئ (في تضييع حقه وحق رسوله ومخالفة امرهما) په تحقيق خدای اوريدونکی د اقوالو ستاسي دی او خبر دی په نياتو ستاسي.

درويش وايي: چي امام مظهري" پر خلاف د شان نزول ددې آيت چي په اول ټولو مفسرانو او مظهري په خپله هم راوړی دی نور شان نزولونه له ځانه څخه په صرف ادنی مناسبت ذکر کړي دي، بيا اختلاف د مذاهبو په هغو کي بيان کړی دی، مطالعه کونکي دي دده د تفسير (۴۰) صفحه د جزء (۲۶) د سورة الحجرات په تفسير کي مطالعه کړي والله اعلم.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ

پوه سه: چي نداء لپاره د مزيد اهتمام ده په ما امر به سره.

ترجمه: ای هغه کسانو چي تاسي ايمان راوړی دی، تاسي مه پورته کوئ خپل اوازونه بالاتر اواز د نبي (ﷺ) يعني چي تاسي خبري ورسره کوئ.

وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ

والمعنى: لاترفعوا اصواتكم په حضور کي د عليه الصلوة والسلام، او ناره مه ورته کوئ لکه تاسي چي يو و بل ته نارې وهئ يا زيد يا عمرو يا فلان يا فلان يعني تاسي مه ورنارې کوئ يامحمد، يا دا چي په اسم کنيه ناره ورته کوئ يا ابا القاسم، بل يجب عليكم تعظيمه وتكريمه في النداء ومراعات آدابه وخفض الصوت يعني په کښته اواز سره داسي نداء ورته کوئ يا رسول الله ﷺ يا نبي الله ونحو ذالک مثلاً يا حبيب الله.

أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ②

ای كراهة ان تحبط آه، او لئلا يحبط اعمالكم چي كه تاسي هغه منهي عنه في الآية السابقة وكړئ ستاسي عملونه به لغوه او بې ثوابه وګرځي.

پوه سه: چي دا علت د نهي قبلي دی لان رفع الصوت فوق صوت النبي ﷺ والجهر عليه استخفافًا يؤدي الى الكفر، فعاقبته لغوا لعمل اذا قصد الاهانة نعوذ بالله من ذالک، او که چېري اهانت هم قصد نه وي لا يخلو ذالک من عدم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المراقبة في آدابه فلا يخلو من الحرمان من بركات صحبته نو لامحاله عمل د صحبت خو بې فائدې سو ... بيت:

از خدا خواهم توفيق ادب		بى ادب محروم ماند از فضل رب

پوه سه: چي "وانتم لاتشعرون" حال دى له ضمير مجرور څخه في اعمالكم يعني حال كونكم لاتشعرون بحبط اعمالكم. محي السنة البغوي الشافعي المذهب وايي چي ابو هريرة او ابن عباس رضي الله عنهما وايي چي دا آيت نازل سو كان ابو بكر رضي الله عنه خبري يې د رسول الله ﷺ سره نه كولې الا كاخي السرار (مگر نه لكه د پټو خبرو كونكى) وقال الزبير رضي الله عنه: څه وخت چي مخكنى آيت نازل سو فما كان عمر رضي الله عنه يسمع رسول الله ﷺ (نه ؤ عمر رضي الله عنه چي خپلي خبري دې په رسول الله ﷺ اورېدلي واى يعني له سببه د غايت كرار والي حتى چي رسول الله ﷺ به پوښتنه څني وكړه چي ته څه وايي) او بخاري ؤ مسلم په خپلو صحيح كتابو كي له انس بن مالك رضي الله عنه څخه روايت كړى دى چي دا آيت چي نازل سو "يا ايها الذين آمنوا آه) ثابت بن قيس رضي الله عنه په خپل كور كي كښېنستى يعني مسجد نبوي ته د جماعت لپاره نه ورتلى، او د نبي ﷺ ملاقات يې هم بند كړى، نو رسول الله ﷺ له سعد بن معاذ رضي الله عنه څخه پوښتنه وكړه "يا ابا عمر ما شان ثابت بن قيس" يعني لمانځه ته ولي نه راځي آيا مريض دى؟ سعد رضي الله عنه ورته وويل چي ثابت بن قيس خو زما همسايه دى په ناجوړى يې زه نه يم خبر سوى، نو سعد بن معاذ رضي الله عنه د ثابت بن قيس رضي الله عنه كور ته ورغلى او هغه د عليه الصلوة والسلام قول يې ثابت رضي الله عنه ته بيان كړى، ثابت رضي الله عنه ورته وويل چي دا آيت يعني لاترفوا اصواتكم آه چي نازل سو او تاسي ټوله خبر ياست چي زه ارفع صوتًا وم چي د عليه الصلوة والسلام سره به مي خبري كولې، فانا من اهل النار، نو سعد رضي الله عنه د ثابت رضي الله عنه دا خبره عليه الصلوة والسلام ته ورسول. فقال عليه الصلوة والسلام بل هو من اهل الجنة. فرجع سعد رضي الله عنه ببشارة عظيمة الى قيس رضي الله عنه.

پوښتنه: عليه الصلوة والسلام ولي ثابت بن قيس رضي الله عنه په رفع الصوت كي معذور وګڼى او علاوه پر دې زيرى د جنت يې هم وركړى؟

ځواب: ثابت بن قيس رضي الله عنه به طبعًا په زوره خبري كولې لا اختيارًا. والمراد في الآية المتلوة رفع الصوت اختيارًا دى فافهم، په يو بل روايت كي راغلي دي چي عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام مشافهة وثابت بن قيس رض ته وويل اما ترضى ان تعيش حميدًا (چې پر تا به بنه ژوند تېر سي، يعني په عبادت کې د خدای) وتقتل شهيدًا چې قتل به سي په شهادت سره وتدخل الجنة فقال ثابت رض رضيت ببشرى الله ورسوله.

درویش وايي: چې دا غسي پر ثابت رض بنه ژوند په عبادت کې تېر سو او په يوه غزاء کې شهيد هم سو، او دخول د جنت يې په اخيرت هم متيقن دی په اخبار د صادق مصدوق عليه الصلوة والسلام په اخير کې ثابت رض لا ارفع صوتي على رسول النبي ﷺ ابدًا فانزل الله الآية ان الذين آه چې وروسته به ذکر سي. لکن دلته يو سوال سته جواب طلبه چې تا دمخه وويل چې ثابت بن قيس رض رفيع الصوت ؤ طبعًا، نو دلته ثابت رض څرنګه وايي لا ارفع صوتي على رسول الله ﷺ ابدًا؟

جواب: د ثابت رض غرض دا ؤ چې زه خپله طبع په جد او جهد سره چې رفع د صوت وه بدله کړم چې د رفع الصوت واکې به اختيار ته په لاس ورکړم.

إِنَّ الَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ

په تحقيق هغه کسان چې کښته کوي اوازونه خپل په نېز د رسول الله ﷺ د تعظيم او اجلال د ده.

يوه سه: چې موصول سره د صله اسم د ان دی او خبر يې دا قول د خدای ﷻ دی.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ امْتَحَنَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَىٰ

اولئک مبتداء ده خبر يې الذين آه دی، او دا جمله ټوله خبر د ان الذين ده، فتدبر. ترجمة الآية دغه کسان هغه کسان دي چې خدای عزوجل امتحان کړي ذي زړونه ددوی لپاره د تقوی، په قاموس کې وايي ای شرحها و وسعها او په هغه قاموس کې وايي اختبرها، او بيضاوي وايي ای جربها للتقوى يعني عاملها معاملة المختبر (ددې تفسير يعني عاملها فائده داده چې خدای پاک و امتحان ته د عبادو ضرورت نه لري لانه عالم الغيب والشهادة لکن معاملته تعالى معاملة المختبر يعني لکه يو څوک چې د بل چا امتحان په تکاليفو شاقه ؤ سره اخلي فوجدها مخلصة، او بعض مفسرين يې داسي تفسير کوي ضرب الله قلوبهم بانواع المحن والتكاليف الشاقة لاجل ظهور تقواهم، ولې چې حقيقت تقوى نه ښکاره کېږي مګر په صبر سره پر تکاليفو ... بيت: - بر فلک بر تر بود اسرار او شيئًا لله شيئًا کار او

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

حکايت: د حسن بصري رحمه الله په زمانه کې يوه فقيره ښځه وه چې د مسلمانانو په کورو به گرځېدله، خپل او خپل د عيال کفاف به يې برابراوه، لکن د دې زړه په دې ډېره خوشحاله کېدی چې چا به ورته وويل خدای دې درکړي، يعني شی به يې نه کړی ور، له دې سببه چې د دې په زړه کې دا عقيده وه چې دې کور پر خدای ﷻ حواله درکړه د خدای شان لوړ دی ماته په اخرت کې ښه عوض راکوي، خير څه مده وروسته دا فقيره مړه سوه، نو يو شپه حسن بصري په خوب کې وليدله چې په ښه لباس سره ملبوسه وه او په ښه کوټيو کې خرامانه گرځېدله، حسن ورته وويل چې ته فلانۍ نه يې چې د ودی به دې تولوله؟ هغې ورته وويل چې هو زه هغه فقيره يم، الحسن ورته وويل چې دې درجې ته څرنگه ورسيدې؟ دې ورته وويل چې زه چې په قبر کې ښخه کړل سوم ملکې راغلې اول خو يې هغه عمومي پوښتنې راڅخه وکړې من ربک ومن نبيک ومادينک، هغه جوابونه خو ما ورکړه، بيا دوی راته وويل چې له دنيا څخه دې څه عمل راوړی دی؟ ما ورته وويل چې د بندگانو حوالې مې راوړي دي، نو د خدای عزوجل له خوا ملکو ته خطاب راغلی چې حوالې يې صحيح دي، نو يې ماته دا لوړه درجه راکړه.

درويش وايي: چې دا حکايت د هغه حديث قدسي تائيد کوي "انا عند ظن عبدي لي"

لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ ۝

د دوی لپاره مغفرت دی يعنې لذنوبهم او لوی اجر، اجر سره د صفته چې نکره يې راوړی لپاره د تعظيم دی، والجملة خبر ثاني دی د "ان" د دې اجر عظيم سبب چې دوی په غض الصوت سره د عليه الصلوة والسلام سره خبرې کولې تأدبا لرسول الله ﷺ، قال البغوي قال انس فکنا ننظر الى رجل من اهل الجنة يمشي بين ايدينا (زموږ په منځ کې) يعني ثابت بن قيس چې قصه يې دمخه تېره سوه الذي نزل فيه هذه الآية، وقال له رسول الله ﷺ تعيش حميدا وتقتل شهيدا وتدخل الجنة کمامر.

المعجزة لرسول الله ﷺ، انس وايي چې د يوم اليمامة په ورځ يعنې د مسيلمة الکذاب سره جنگ و (چې دې مسيلمة د عليه الصلوة والسلام په ژوند کې د نبوت دعوه کړې وه) نو ثابت بن قيس په مسلمانانو کې څه انکسار وليدی بلکې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يوې طائفې د مسلمانانو هزيمت يې وکړی، نو ثابت رضی الله عنه وويل اف لهؤلاء افسوس دې وي دې کسانو لره، او ثابت رضی الله عنه و سالم مولی حذيفة (يعني چې مريی وُ د حذيفه رضی الله عنه او هغه يې ازاد کړی وُ) ما کنا نقاتل اعداء الله مع رسول الله ﷺ مثل ذالک (يعني لکه دې خلکو چې شکست وکړی يعني من المؤمنين) ثم ثبتا (ای ثابت بن قيس و سالم مولی حذيفة رضی الله عنه) وقاتلا حتی استشهد ثابت رضی الله عنه او ده زغره هم اغوستې وه، وروسته تر شهادت دده يو صحابي رضی الله عنه دې په خوب وليدی چې ثابت رضی الله عنه ده ته وويل چې فلاني سړي يعني د مسلمانانو څخه زما څخه يې زغره وکښه، او هغه زغره او مسلمان په يوه طرف کې د عسکرو دې يو آس هم ورسره دی چې په رسۍ کې خپل بازۍ کوي او زما پر زغره يې کټو ايښې ده، او خالد بن وليد رضی الله عنه (چې قومنده د جنګ يې په لاس کې وه) ور واستوه چې دا زما زغره له هغه څخه واخلي، او وروسته ابوبکر الصديق خليفة رسول الله ﷺ ورضی الله عنه ته ووايه چې پر ما د فلاني سړي پور باندې دی هغه پور دې ورکړي (يعني زما زغره دې خرڅه کړي) او زما فلانی مريی زما له خوا ازاد دی، نو هغه صحابي چې دا خوب يې ليدلی وُ خالد بن وليد رضی الله عنه ته ورغلی دا خوب يې ورته ووايه، خالد بن وليد رضی الله عنه هغه سړي ته ورغلی هغه زغره او آس يې وليدی او زغره يې ځنې واخستل او خالد بن وليد رضی الله عنه ابوبکر رضی الله عنه ته ورغلی او دده خوب قصه يې ورته وکړه، نو ابوبکر رضی الله عنه دده وصيت تولّه قبول کړی، مالک بن انس رضی الله عنه وايي چې زه نه يم خبر چې د چا وصيت دې بعد الموت قبول سوی وي الا هذه الوصية، والله جل سلطانه اعلم.

الطبراني د زيد بن الارقم رضی الله عنه څخه روايت کړی دی چې د عربو يوه ډله راغله (يعني د صحرايي عربو څخه) چې د رسول الله ﷺ سره يې يو څه کار وُ، اما وخت داسې وخت وُ چې رسول الله ﷺ د استراحت لپاره په يوه حجره کې د بعض امهات المؤمنين رضی الله عنهن وُ، نو دوی بعض يوې حجرې ته او بعض بلې حجرې ته ودرېدل او نعرې يې وهلې يا محمد ﷺ اخرج الينا، فانزل الله تعالی هذه الآية لپاره د تقبيح د فعل ددوی.

إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَآءِ الْحُجُرَٰتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ۝٤

هغه کسان چې تاته نعرې وهي د شا د حجراتو يا د مخ د خوا څخه د حجرو (د وراء لفظ د اضداد څخه دی شا او مخ دواړو ته ويل کېږي) ډېر ددوی نه پوهېږي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یا معنی داده چې دوی اعراب صحرا، نشینه وه، یا معنی داده چې ستا په عظمت او مراعات الادب نه پوهېدل، وانما اکثرهم لان بعضهم عقلاء لایحبون التعجیل ویراعون الادب مع رسول اللهﷺ.

پوهه: چې حجرات جمع د حجرة ده، هغه قطعة د مځکې ته وایي چې د دېرو دېوالونو پر را ګرځېدلي وي یعني بام چې یې د هر شي وي غالبًا به لرګي وي، حجرات مشتق دی د حجر څخه چې معنی یې منع ده چې حجره سړی منع کوي له دخول څخه بلا اذن صاحبها، والمراد هـ حجرات نساء النبيﷺ، یعني بعض د حجراتو د مخ د خوا ناري ورو هلې او بعض د حجراتو د شا د خوا ناري وهلې.

د جابرؓ څخه روایت دی چې دغه کسان چې ناري یې وهلې عیینة بن حصن الفزاري او اقرع بن حابس وو.

سوال: ناره کونکي خو دوه وه نو نسبت یې و ټولو ته څرنګه وکړی؟

ځواب: نسبت د فعل د بعض و کل ته مجاز دی، مثل بنوا فلان قتلوا مع ان القاتل منهم واحد.

پوهه: چې دا یو هیئت وو چې اوویا (۷۰) کسه وه په مشری د نامورو کسانو او دوی د غرمې په وخت کې مدینې ته راورسېدل چې رسول اللهﷺ په حجراتو کې د بعض امهات المؤمنین بیده، نو دغو دوو کسانو ناري وهلې یا محمد اخرج الینا، فنزلت هذه الآیة.

وَلَوْ اَنَّهُمْ صَبَرُوْا حَتّٰى تَخْرُجَ اِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۚ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

که چېرې دوی صبر کړی وای یعني د خپلو خواهشاتو څخه چې تعجیل دی په قضاء کې د حوائجو ددوی او مراعات د ادب د محتاج الیه یې کړي وای یعني رسول اللهﷺ لانه من الله في منزلة لایوازیه احد، حتی چې ته په خپل طبیعت یعني وروسته تر آرام دوی ته راوتلی وای، نو دا به ددوی لپاره خیر وای تر استعجال او ناره وهلو یا محمد اخرج الینا، ولې په دې کې به حفظ د ادب وای او تعظیم د شان علیه الصلوة والسلام به وای چې په دې کې به خدای ثواب دوی ته ورکړی وای او هغه مرام ددوی به په احسن وجه پوره سوی وای "والله غفور رحیم" چې صرف نصیحت یې ورته وکړی او سرزنش یې ورکړی پر سوء ادب او تعظیم د رسول الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بنا. علی جهلهم وقلة عقولهم یعني هغه خدای ٔ دوی ته وبخښل سبب د اخرت د عذاب یې نه وکړ ځول او خدای ٔ مهربان دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن جَآءَكُمۡ فَاسِقُۢ بِنَبَإٖ فَتَبَيَّنُوٓاْ

ای هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی که تاسي ته راتک وکړي یو فاسق سړی په یو خبر سره نو تاسي دده پر صرف قول اعتماد مه کوئ بلکې معلومات دده د صدق او کذب وکړئ.

پوه سه: چي مراد له دې فاسق څخه ولید بن عقبة بن ابی معیط ؤ چي د حضرت عثمان ﷺ د مور له خوا څخه وروړ ؤ او سبب د فسق یې دا ؤ چي عثمان رض دی مقرر کړی ؤ والی د کوفې وروسته تر عزل د سعد بن ابی وقاص ﷺ، نو ده د شپې شراب څیښلي وه او سکران ؤ، نو د سهار لمونځ یې و خلکو ته څلور رکعته ورکړی او داسي یې خلکو ته وویل ان شئتم لازیدنکم، په دې باندي عثمان رض خبر سو او دی یې معزول کړی.

درویش وايي: چي په خلافت کي د عثمان ﷺ ؤ، اوس به ددې ایت شان نزول بیان کړو اخرج احمد وابن الدنیا والطبراني وابن منده وابن مردویه بسند جید عن الحارث من ضرار الخزاعي رض حارث وايي قدمت علی رسول الله ﷺ فدعاني الی الاسلام فدخلت فیه یعني اسلام مي قبول کړی بیا یې ماته دعوت د زکوة راکړی هغه مي هم قبول کړی، حارث رض بیا وویل و علیه الصلوة والسلام ته یا رسول الله ﷺ زه به ولاړ سم خپل قوم ته زه به یې اسلام و اداء الزکوة ته رابولم نو که یې زما دعوت قبول کړی جمعت زکاته وترسل الي (ته راواستوه ماته یو رسول پر فلاني فلاني وخت چي هغه به تاته راوړي بما جمعت من الزکوة) نو حارث چي زکاتونه سره جمع کړه د هغو کسانو څخه چي د حارث دعوت یې قبول کړی ؤ او هغه وخت پوره سو چي ما علیه الصلوة والسلام ته یا کلی ؤ چي په دغه وخت کي به رسول را استوې، نو رسول ته راغلی د حارث دا خیال سو ان قد سخطة (یعني ناراضي) من الله و رسوله ﷺ، نو حارث د خپل قوم رئیسان راجمع کړه او دوی ته یې وویل ان رسول الله ﷺ ماته یا کلی وخت راکړی ؤ چي زه به رسول درواستوم لیقبض ما کان عندنا من الزکات ولیس من رسول الله ﷺ الخلف یعني له وعدې څخه ولا اری

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حبس رسوله الا من سخته (یعني ناراضی. ځنه د رسول اللهﷺ) فانطلقوا الی رسول الله، سبب د ځنډ د رسول اللهﷺ په اصل کي داؤ چي علیه الصلوة والسلام پر تا کلي وخت الولید بن عقبة بن ابی معیط چي وروړ د عثمانؓ ؤ د مور له خوا ور استولی ؤ لپاره د راوړو د زکات د قوم د حارثؓ، دا الولید المذکور چي تر یو ځایه پوري ولاړی چونکه دده او د حارث د قوم تر مابین په جاهلیت بغض او شحنا پېښنه سوې وه، نو دی وېرېدی چي ما به قوم د حارث قتل کړي، نو بیرته د لاري ځنه راوګرځېدی او علیه الصلوة والسلام ته راغلی چي حارث منعني الزکات واراد قتلي، نو علیه الصلوة والسلام یو څو کسه و حارث ته ور واستول چي ته راسه حارث سره د قوم د رئیسانو چي راغلی رسول اللهﷺ ورته وویل چي ماته ته الولید بن عقبه ابن ابی معیط درواستاوه د زکات د راوړو لپاره، هغه وویل چي حارث او قوم زکات منع کړی او زما د قتل اراده یې هم کړې وه خو په ډېر زحمت مي ځان را وه ایستی، حارثؓ وویل: لا والذي بعثک بالحق ما رئیته ولا رأني ولا اقبلت الاحین لم یجئ رسول رسول اللهﷺ علینا خشیة ان یکون سختة (ای غضبًا) من الله ورسولهﷺ فنزل یا ایها الذین آمنوا ان جائکم الآیة.

پوه سه: چي مراد له فاسق ځنه ولید بن عقبة بن ابی معیط دی، فسق دده یو داؤ چي په حیوة کي د رسول اللهﷺ پر حارث او قوم د هغه دروا غ وویل چي زکات یې منع کړی او زما د قتل اراده یې کړې وه، او بل فسق هغه دی چي وراندي تېر سو چي په خلافت کي د عثمانؓ دده ځنه صادر سوی ؤ کما مر تفصیله.

درویش وایي: چي دې آیت شان نزول الحسن" په روایت د عبد بن حمید داسي بیان کړی دی چي یو سړی و علیه الصلوة والسلام ته راغلی او داسي یې ورته وویل یا نبي الله ان بني فلان یعني د قوم نوم یې واخستی چي د مخبر د هغو سره بغض او عداوت ؤ په جاهلیت هغه قوم لمونځونه پرې ایښي دي وقد ارتدوا وکفروا بالله، نو رسول کریمﷺ د تلوار ځنه کار نه واخستی یعني دستي یې فوج کشي نه پر وکړه یعني صرف د خبر رسونکي په خوله یې نه وکړه، بلکي خالد بن ولیدؓ یې سره د څو کسانو ور واستاوه او علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي ته په پټه ددوی د لمونځو تحقیق وکړه چي کوي یې او که نه، که یې چېري تو له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لمونځونه نه کول فشانک بهم يعني خپل عمليات د جنګ ورسره وکړه لکن لاتعجل عليهم، يعني تر څو چي پوره معلومات درته حاصل سوي نه وي جنګ مه ورسره کوه، نو خالد بن الوليد رض عند غروب الشمس هغه قوم ته نژدې سو او هورې پټ سو، نو چي د ماښام د لمانځه وخت سو مؤذن راغلی اذان يې وکړی فصلوا صلوة المغرب بجماعة، نو خالد رض ملګرو ته وويل چي دې قوم د ماښام لمونځ په اذان او اقامت او جماعت وکړی، نو شايد بل لمونځ به نه کوي، نو دی دلته ورته پټ ؤ چي شفق د ماښام غائب سو يعني د ماخستن وخت داخل سو، اذن مؤذنهم فصلوا صلوة العشاء بجماعة، بيا خالد رض هورې ورته پټ ؤ لعلهم ترکوا صلوة اخرى حتى چي نيمه شپه سوه خالد رض داخل کړه خپل اسان په کلي کي ددوی، دوی د تهجد په وخت کي وينښ سول څه ناڅه برخه قرآن چي يې زده ؤ هغه يې په لمانځه کي ووايه، بيا خالد رض ددوی د سهار د لمانځه انتظار وکړی چي سپيدې سوې مؤذن اذان وکړی او لمونځ يې په جماعت سره وکړی چي لمونځونه يې وکړه او ورځ ښه روښانه سوه اذا هم بنواصي الخيل يعني د خالد رض آسان په کلي کي ددوی ګرځېده، فقالوا ماهذا (دا څرنګه اسان دي چي په کلي کي ګرځي؟) چا ورته وويل چي خالد بن وليد رض راغلی دی، فقالوا يا خالد مالک (ته څرنګه راغلی يې) خالد ورته وويل چي عليه الصلوة والسلام ته يو سړی راغلی او هغه ورته وويل ستاسي دخوا چي دوی لمونځونه پرې ايښي دي او دوی مرتد سوي دي، ددوی ستوني د ژړا ډک سوه او ډېر يې وژړل، وقالوا نعوذ بالله تعالی ان نکفر ابداً، نو خالد رض سره د ملګرو رسول الله ﷺ ته يې ټوله صورت الحال بيان کړی وانزل الله تعالی هذه الآية يا ايها الذين آمنوا الخ.

فائده: فاسق هغه چاته وايي چي د ممنوع شيانو څخه د شرع وتلی وي من قولهم فسق الرطب عن قشرها اذا خرجت. قال الراغب الاصفهاني چي فسق اعم دی تر کفر او کثيراً وقليل ته د ګنهو ويل کېږي، او په عرف کي هغو ګنهو ته ويل کېږي چي ډېري بدي وي، او بعض علماء وايي چي فاسق هغه چا ته وايي چي مرتکب د ګناه کبيره وي.

درويش وايي: چي ددې آيت اول شان نزول چي په باره کي د الحارث نازل سوی دی ډېر مشهور دی والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ

دا دليل دی د هغه آيت چي تبينوا پکښې ؤ.

پوه سه: چي دلته يا، مضاف محذوف دی ای کراهة ان تصيبوا يا کلمه د لا سره لام تعليل دی ای لئلا تصيبوا "قومًا" چي هغه قوم له عصيان څخه د امر الله ورسوله پاک ؤ کمامر تفصيله في شان هذه الآية "بجهالة" حال دی له فاعل څخه د تصيبوا ای جاهلين بحقيقة الامر وحال القوم "فتصبحوا" عطف دی علی تصيبوا يعني تاسي ای مؤمنانو وګرځي "نادمين" پښېمانه، دا لفظ دی د تصيبوا چي د افعال ناقصه ؤ څخه ؤ او ضمير د تصبحوا ئې اسم ؤ. يعني که تاسي معامله د قتل وکړئ د هغو خلګو چي هغه له عصيان څخه پاک وه، نو اخير چي د هغو په حقيقت حال خبر سي پر خپل قتل و قتال به پښېمانه ياست اصل معنی د ندامت نوع من الغم علی ما صدر منک، يعني وايې به چي کاشکي ما دا کار نه وای کړی، نو اول بايد احتياط وکړئ ولهذا ورد في الحديث النبوي التبيين يعني معلومات کول د يو کار من الله والعجلة تلوار کول به کار د شيطان څخه وي.

مسئله: په آيت کي چي فاسق راوړه سو له دې سببه چي خبر د واحد عدل په بعضو موادو کي مقبول دی.

وَاعْلَمُوا أَنَّ فِيكُمْ رَسُولَ اللَّهِ ۚ لَوْ يُطِيعُكُمْ فِي كَثِيرٍ مِّنَ الْأَمْرِ لَعَنِتُّمْ

او په دې پوه سئ چي په تاسي کي رسول د خدای موجود دی که چېري دی اطاعت وکړي ستاسي په ډېرو کارو کي نو تاسي به واقع سئ په ګناه او په هلاک کي. بيضاوي وايي چي جمله د لو يطيعکم حال د يوه څخه ده د دوو ضميرو د فيکم.

سوال: په فيکم کي دوه ضميره کله وه، بلکي يو ضمير دی د کم دی؟

خواب: فيکم متعلق دی په په کأين پوري، نو ضمير د کأين يعني المستتر فيه چي راجع و عليه الصلوة والسلام ته دی، او بل ضمير د کم دی چي راجع و مؤمنين ته دی. وان سره د اسم او د خبره چي رسول الله او فيکم دي مقيد دی په حال سره چي لو يطيعکم دی. ساد مسد (يعني قائمقام) د مفعولينو ده د اعلموا (چي افعال قلوب څخه دی چي دوه مفعوله غواړي) بيضاوي زياته کړي ده چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والمعنى ان فيكم رسول اللهﷺ في حال يجب تغيرها (چي اطاعت دې ستاسي په ډېرو کارو) يعني ستاسي اراده ده چي عليه الصلوة والسلام ستاسي د رايي متابعت وکړي يعني هغه دوې قصې چي تېلا نږدې تېرې سوې. ولو فعل ذالک لوقعتم في الاثم والهلاک. واعلم ان صيغة المضارع يعني لو يطيعکم لپاره د استمرار ده او کلمه د لو لپاره د امتناع د عنت د دوی ده لامتناع استمرار النبيﷺ على متابعة رأيهم لکن چونکه غضب د مؤمنانو پر بنوا المصطلق انما هو لما سمعوا من الوليد ارتدادهم بغضا في الله لا نفسهم وکان ما سبق من الکلام موهمًا لوقوعهم في الاثم واللئوم استدرک الله ببيان عذرهم.

وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَیْكُمُ الْاِیْمَانَ وَزَیَّنَهٗ فِیْ قُلُوْبِكُمْ وَكَرَّهَ اِلَیْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ وَالْعِصْیَانَ ؕ اُولٰٓىِٕكَ هُمُ الرّٰشِدُوْنَ ۙ﴿۷﴾

يعني تاسي چي عليه الصلوة والسلام باعثه کاوه پر قتال د حارث او ده د قوم او يا پر قتال د بني المصطلق چي د اول اخبار کاذب عقبة بن ابی معيط راوړی و چي قوم د حارث مانع د زکوة او زه يې هم وژلم، او د بني المصطلق د ارتداد خبر کاذب وليد راوړی و. نو چونکه خدای پاک و تاسي ته ايمان محبوب او ښائسته ګرځولی ؤ په زړو کي ستاسي، او خدای مکروه ګرځولي ؤ تاسي ته کفر او فسق او عصيان، نو ځکه تاسي عليه الصلوة والسلام باعثه کاوه پر قتال د حارث د قوم او د بني المصطلق. ولي چي دا دواړې طائفې ستاسي په عقيده اهل کفر او فسوق او عصيان وه. نو دا ستاسي باعثه کول بغضًا لله ؤ لا لغرض انفسکم "اُولٰئک هم الراشدون" دغه کسان هدايت ته رسېدلي کسان دي.

درويش وايي: چي دا ؤ حاصل د عذر د دوی عند البيضاوي والمظهري. لکن رسول اللهﷺ د دوی په قول ونه کړه په دې سبب چي شان د عليه الصلوة والسلام تأني او فکر وهل وه په ورته کارو کي او کامل معلومات کول وه. او صرف د فاسق واحد په اخبار دومره درانه بار ته لکه قتال تلوار نه کاوه. مظهري وايي چي ددې آيت له سياق ښکاره دا فهمېږي چي فسوق اخف دی تر کفر واقبح من العصيان فالمراد بالعصيان الخروج من الجماعة وارتکاب البدعة في العقائد تر داسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اندازې چې په کافر کېږي لکه د روافضو يا د خوارجو عقائد چې حد ته د کفر رسېدلي دي، لکن دا خروج من الجماعة اخبث دی من عصيان الجوارح يعني الكبائر وحاصل الآية ان ما صدر منكم من ترك التثبت انما كان لحبكم الايمان وبغضكم الكفر فلا لوم عليكم ولا اثم.

فائده: ''اولئك هم الراشدون'' يوه جمله معترضه ده.

سوال: انتم الراشدون يې ولې نه وو ايه، سره د دې چې په د مخه آيت کې دوا ره اليكم په صيغه د خطاب راغلي دي؟

ځواب: تا چې د دوی و امثالو ته يعني چې صفتونه د دوی پکښې وي هم شامل سي.

فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَنِعْمَةً ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝

دا فضل دی د خدای او نعمت دی د خدای او خدای په احوالو د مؤمنانو خبر دی او حکمت لري چې دوی ته يې توفيق ورکړی د فضل او د نعمت حاصلولو ته.

پوه سه: چې نصب د فضلاً ونعمةً بناء پر دې دی چې مفعول له د حبب او کره دی.

درويش وايي: چې شان نزول د راتلونکو آيتو دا دی: په روايت د بخاري او مسلم (چې په اصطلاح کې د اهل حديثو يې شيخان بولي) له انس ﷺ څخه روايت دی چې نبي ﷺ پر خپل خره (چې د يعفور په نامه مشهور و) د عبد الله بن ابی سره نژدې تېرېدی، نو عبد الله بن ابی وويل ابی اليك عني (راسه ګوښه سه) فو الله لقد اذاني نتن حمارك (زه په تکليف کړم ستا د خره بد بويي) فقال رجل من انصار چې دلته حاضر و، والله لحماره اطيب ريحًا منك (انصاري ابن ابی ته وويل چې په والله د رسول الله ﷺ د خره بوی دی ستا تر بوی) د انصاري د دې خبرې څخه يو سړی ته چې د ابن ابی له قوم څخه و درد ورغلی، و انصاري ته يې ښکنځل وکړه، وغضب لكل واحد من الانصاري ومن عبد الله اصحاب د هغه، فكان بينهم ضرب بالجريد (د خورما په لرګي او سوکانو او په چوټو) فنزلت فيهم.

وَاِنْ طَاۗىِٕفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا ۚ

که د يو دوو ډلو د مؤمنانو سره جنګ سو. المخاطب بالصلح سائر المؤمنين غير

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المقاتلين والاصلاح بالنصح لهما وان يمنع المبطل من الظلم ويدفع شبهته او دعوت دي ورکړي دواړو ډلو ته الی کتاب الله وسنة رسول اللهﷺ وترک التباغض والتحاسد

پوهه: چي رد ونکی د خبري د عبدالله بن ابی عبدالله بن رواحهؓ و وکان خزرجيًا يعني د بني خزرج د قبيلې و، او ابن ابی د اوس د قبيلې و.

پوښتنه: عبدالله بن ابی خو کافر و؟

ځواب: دا جنګ چي يې سره وکړی دا دواړي طائفې مؤمنان وه، د اوس او خزرج قبيلې که څه هم مؤمنان وه لکن مراعات د قوميت پر غالب سو، نو ځکه يې طائفتان من المؤمنين وايه.

سوال: بايد په ځای کي د اقتتلوا اقتتلا په ضمير د تثنيت ويل سوی وای کما في قوله تعالى بينهما بضمير التثنية؟

ځواب: ضمير د جمع چي يې راوړی يعني اقتتلوا په اعتبار د معنی دی ولي چي هره طائفه جماعت وه فقد روعی في الطائفتين معناهما اولاً ولفظهما ثانيًا.

فَإِنْ بَغَتْ إِحْدَىٰهُمَا عَلَى الْأُخْرَىٰ فَقَٰتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّىٰ تَفِيءَ إِلَىٰ أَمْرِ اللَّهِ

که چېري تعدي او بغاوت وکړی يوې ډلي پر بلي ډلي باندي يعني د کتاب الله او د سنت د رسول اللهﷺ څخه يې هم بغاوت وکړی يعني دفع د ظلم يې په بندي ګرت سره هم نه کېده، ولي دا ظالمي ډلي اتباع درلوده "فقاتلوا التي تبغي آه" نو تاسي قتال وکړئ، يعني په توره او سلاح سره پر هغه ډله چي باغي وي تر هغه وخته چي رجوع کوي و امر ته د خدای، عن انسؓ قال رسول اللهﷺ انصر اخاک ظالمًا او مظلومًا (ته کومک د وروړ سره کوه که ظالم وي او که مظلوم وي) فقال رجل يا رسول الله انصره مظلومًا د مظلوم سره به کومک وکړو يعني د ظالم څخه به يې خلاص کړو، لکن د ظالم سره څرنګه کومک وکړو، قالﷺ تمنعه من الظلم، د ظلم څخه يې منع کړئ فذالک نصرک معه (ولي د ګناه د ظلم څخه دي خلاص کړی) حتی چي د غه باغيه ډله رجوع کوي و امر ته د خدای يعني صلح ته غاړه ايږدي.

فَإِن فَاءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا ۖ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ﴿٩﴾

نو که يې رجوع وکړه نو تاسي د مابين خلک صلح وکړئ په مابين کي د دې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوو ډلو په عدالت سره، په لفظ کې د عدل اشاره ودې ته ده چې هغه مقاتله ددوی
تاسي باعثه ونه ګرځوي پر ترک د عدل "واقسطوا" او تاسي عدل کوئ په ټولو
امورو کې د متخاصمينو (که څه هم په دنيايي امورو کې تخاصم وي لکه بيع و
شراء وغيره ذالک) نو هغه ته به خدای ښه عوض ورکړي.

فائده: د قسط معنی جور او ظلم ده والاقساط چې مصدر دی له بابه د افعال
دی ازالة الجور يعني همزه لپاره د سلب د مجرد دی چې قسط دی نحو اقردته ای
اذلت قراده (منکور)

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ۝١٠

ته دي مسلمانان مګر ورونه دي، ولې چې ټول يو اصل ته منسوب دي وهو
الايمان الموجب للحيوة البديه يعني په جنت کې ولما کان هذا الاصل يعني الايمان
بواحدنيته تعالى وسائر المعتقدات الحقه هو النبي ﷺ کان هو ابا المؤمنين وازواجه
المطهرات امهات المؤمنين، فلهذا لايجوز نکاح ازواجه لاحد من المسلمين
بالاجماع کالام النسبي لايجوز نکاحها للابن "واتقوا الله لعلکم ترحمون" او د خدای
څخه وبيرېږئ (يعني مخالفت د اوامر او منهياتو د خدای مه کوئ)

پوه سه: چې جمله د انما المؤمنون آه تعليل او تقرير ده د امر بالاصلاح ځکه يې
وروسته امر بالاصلاح پر مرتب کړی تاکيداً للاصلاح لکن په دې ځای کې وضع د اسم
ظاهر چې اخويکم دی په ځای کې د ضمير راوړی يعني داسي يې و ويل بينهم فافهم.

فائده: لعل چې حرف ترجي دی دلته په معنی د لام کی دی ولې چې تقوی
سبب د الفت ده بين المؤمنين والتراحم بينهم. والتراحم موجب د رحمت د خدای
عزوجل دی، قال عليه الصلوة والسلام انما يرحم الله من عباده الرحماء، رواه
المجدد في مکتوباته. او په بخاري او مسلم کي حديث مبارک دی چې روايت
يې جرير بن عبد الله ؓ کړی دی "لايرحم الله من لايرحم الناس" البغوي وايي
چې دا ايت چې رسول الله ﷺ دوی ته تلاوت کړی، نو دې دوو فرقو صلح سره وکړه
وکف بعضهم عن بعض. روی البغوي وغيره عن سالم عن ابيه ان رسول الله ﷺ قال
المسلم اخو المسلم لايظلمه (چې ظلم دې پر کوي) ولا يشتمه (بنکنځل) دې نه
ورته کوي ومن کان في حاجت اخيه کان الله في حاجته ومن فرج عن مسلم کربة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(يعني يو غم او تكليف د دنيا) فرج بها كربة من كرب يوم القيامة.

پوه سه: چي تنوين د اول كربة لپاره د تحقير دى اى كربة حقيرة، او په كربة ثاني كي لپاره د تعظيم دى اى كربة عظيمة.

مسئله: له دې دوو آيتو څخه دا معلومه سوه چي د دوو ډلو مسلمانانو تجاوز يو پر بل ايمان نه زائلوي، لما قال الله تعالى: وان طائفتان من المؤمنين آه.

پوه سه: چي البغوي رح له ابن عباس رض څخه روايت كړى دى چي ثابت بن قيس رضي الله عنه په غوږو د روند ؤ يعني كوڼ ؤ، او دى چي به رسول الله ﷺ ته راغلى او نور خلك به تر ده د مخه راغلي وه ده ته به يې ځاى وركاوه. ولي چي خلك يې په عذر خبر وه چي دى كوڼ دى چي عليه الصلوة والسلام ته به نژدې ناست نه واى د عليه الصلوة والسلام خبري يې نه اورېدلې، نو يو ورځ چي ثابت رض د سهار لمانځه ته راغلى يو ركعت څني تېر سوى ؤ، نو رسول الله ﷺ چي د لمانځه څخه فارغه سو، نو اصحاب كرام رضي الله عنهم پر راټول سوه.

درويش وايي: چي له دې حديث څخه معلومه سوه چي عليه الصلوة والسلام د سهار تر لمانځه وروسته وعظ او تبليغ كاوه على خلاف ائمة مساجدنا في العصر الحاضر، هغه چي د سهار لمونځ وكړي يو ځاى نثوزي خوب مكروه خصوصًا في شهر رمضان چي د عصر حاضر ملايان د روژې د سهار لمونځ چي د سهار سپېدې چي ښكاره سوې دوى د سهار لمونځ كوي. وروسته په يوه حجره نثوزي تر پاخه ځابنته پوري بيده وي. فيا اسفى على حالهم خصوصًا في شهر مبارك رمضان.

نو ثابت بن قيس بن شماس رض هغه تېر سوى ركعت كاوه خلكو خپل ځايونه نيولي وه، نو چا و چا ته ځاى نه وركاوه حتى چي يو سړى چي به راغلى او ځاى نه ؤ نو په ولاړي به ولاړ ؤ د عليه الصلوة والسلام خبري به يې اورېدلې، ثابت بن قيس رض چي راغلى نژدې و عليه الصلوة والسلام ته خو ځاى نه ؤ، نو د خلكو پر غاړه يې پښې اړولې او دا به يې ويل: تفسحوا ځايونه فراخه كړئ يعني نژدې نژدې سره كښېنئ حتى چي رسول الله ﷺ ته يې ځان ورساوه چي د ثابت رض او د عليه الصلوة والسلام تر مابين يو سړى ناست ؤ ثابت رض و هغه ته وويل چي ستا ځاى ما ته راكړه هغه سړي ورته وويل چي ځاى د قرب د عليه الصلوة والسلام ورسېدى نور نو كښېنه. ثابت رض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مجبوراً د هغه وشا ته کښېنستې د پر درد هم ورغلی چې هغه سړي ځای نه ورکړی حتی چې مجلس د علیه الصلوة والسلام پای ته ورسېدی ثابتؓ هغه سړی په لاس وټو مبی او ورته وې یې ویل: من انت؟ ته څوک یې. هغه ورته وویل انا فلان. ثابتؓ ورته وویل هغه د فلانی زوی یې؟ یعني د مور نوم یې یاد کړی چې د جاهلیت په زمانه کې دا لوی پېغور ؤ، هغه سړي سر کښېنته وځراوه او په دې پېغور و شرمېدی. ثابتؓ ته یې څه نه وویل، فانزل الله تعالی: •

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ

ای هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی مسخرې یعني پسخند مه وهئ یو قوم په بل قوم پورې.

پوه سه: چې په قاموس کې وایي چې قوم و یو جماعت ته وایي نر او ښځې دواړو ته. او الرجال خاصة او ښځې په تبع پکښې داخلېږي. او په صحاح کې وایي (دا هم د لغت کتاب دی) القوم جماعة الرجال ته وایي په اصل کې او په دې آیت یې دلیل ویلی دی. ولې ښځې خدای وروسته پر عطف کړې دي، او په مدارک کې وایي چې قوم په عامة القرآن الرجال والنساء جمیعًا ته وایي وحقیقة الرجال لقوله تعالی الرجال قوامون علی النساء، او قاضي بیضاوي وایي چې قوم په اصل کې مصدر دی د قام یقوم نعت به یعني صفت واقع کېږي (کزید عدل) یا جمع دی د قائم لکه زور چې جمع د زائر ده. والقیام بامور الدنیا وظیفة الرجال خاصة. بیا قاضي بیضاوي د یو سوال جواب ورکړی دی چې قوم هود، قوم صالح، قوم لوط، قوم نوح خو نر او ښځې دواړه مراد دي، نو ده داسې جواب ورکړی دی چې دا یا بناء پر تغلیب دی د رجال پر ښځو یا یې اکتفاء په نرو سره کړې ده لانهن توابع الرجال.

سوال: ولې یې لفظ د قوم ووایه چې جماعت ته وایي داسې یې نه وویل احد من احد؟

ځواب: سخریه غالبًا په مجامع کې کېږي.

عَسَىٰ أَن يَكُونُوا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِّن نِّسَاءٍ عَسَىٰ أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ

شاید وي به دغه قوم (چې پسخند په وهل کېږي) ښه به وي تر هغو کسانو چې پسخند په وهي، او نه دې ښځې په ښځو پسخند وهي. ښایي چې مسخورات ښځې دې غوره تر ساخراتو ښځو وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا تَلْمِزُوٓا اَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ

اللمز العيب والطعن باللسان يعني لا يعيب بعضكم بعضًا.

پوښتنه: په ایت کې خو انفسکم راغلی دی، او ترجمه یې تا په لا یعیب بعضکم بعضًا وکړه؟

ځواب: دا ترجمه بناء پر دې ده چې مؤمنان کنفس واحدة دي، نو ه یو سړی پر بل عیب ووایه کان کانه عاب نفسه کقوله تعالی: ولا تقتلوا انفسکم فان المراد في هذه الآية لا تقتلوا اخيكم لانه كقتل النفس، ولي مؤمن چې ته مړ کړې نکه ځان چې مړ کړې... بیت:

جراحات السنان لها التيام ولا يلتام ما جرح اللسان

"ولا تنابزوا" قال البيضاوي النبز مختص باللقب السوء، يعني لا تدعوا بعضكم بعضًا باللقب لاسوء. قال البغوي" قال عكرمه" هو قول الرجل للرجل يا فاسق يا منافق يا كافر، او الحسن" وايي چې يو يهودي يا نصراني چې به ايمان راوړی نو پس له اسلام به بعضو خلګو ورته ویل یا یهودي یا نصراني، نو مؤمنان نهي سول له دې وينا څخه، او عطاء" وايي: هو ان تقول لاخيك يا حمار يا خنزير.

درویش وایي: چې په پښتو کې هم ورته الفاظ سته لکه يو چې بل ته وايي: پنده يا ټريه، يا چوخکه، يا ملابوکې ونحو ذالك.

سوال: محدثين و سليمان ته وايي الاعمش او واصل ته وايي الاحدب، نو دا لقب سوء د قبيلې نه دی؟

ځواب: لقب سوء چې منهي عنه دی هغه دی چې لپاره د استخفاف ورته و وايي او که لپاره د معرفت او تميز ورته و وايي هغه ضرورت دی منهي عنه نه دی علامه بغدادي په روح المعاني کې وايي: وهذا غير النهي السابق (يعني لا يسخر قوم من قوم آه) که څه هم راوړې نهي مخصوص په مؤمنانو سره دی، دليل يې دا دی چې سخريه احتقار الشخص مطلقًا على وجه مضحك چې خلګ پر ده خاندي د ده په حضور کې، واللمز التنبيه على معائبه سواء كان مضحك املاء وسوا كان بحضرته املا انتهى، نو عطف د لا تلمزوا پر لا يسخر عطف د عام پر خاص دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوْقُ بَعْدَ الْاِيْمَانِ

بد دی نوم د فسق پس له ایمان څخه یعني سړی ته وایي یا یهودي وروسته تر ایمان د هغه، یا سړي ته وایي یا شارب الخمر وروسته تر توبې د هغه.

درویش وایي: چې پر دې تفسیر مراد له ایمان څخه عام دی چې توبې ته هم شامل سي، عن ابی ذرؓ قال قال رسول اللهﷺ لایرمی رجل رجلاً بالفسوق ولا یرمیه بالکفر (یعني نسبت د فسق دې څوک نه کوي وچا ته او نه نسبت د کفر دي ورته کوي) الا ارتدت علیه ان لم یکن صاحبه کذالک (مګر نه چې دا دوې کلمې راګرځي و ده ته که هغه سړی داغسي نه وي) رواه البخاري، وعن ابن عمرؓ قال قال رسول اللهﷺ من دعی رجلاً بالکفر او قال یا عدو الله ولیس کذالک (یعني هغه سړی داغسي نه وي) الا حاء علیه (دا کلمه وه ته راځي) متفق علیه.

وَمَنْ لَّمْ يَتُبْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۱۱﴾

او که چا توبه ونه کښه یعني د مذکوره منهیاتو څخه چې سخریه، لمز او نبز دی، نو دغه کسان ظالمان دي.

پوهه: چې ظلم وضع د شي ده بې ځایه، نو ده کښېښو عصیان په ځای کې د طاعت او ځان یې پیش کړی و عذاب ته.

فائده: ضمیر د لم یتب یې مفرد راوړی نظر و لفظ ته د مَن او ضمیر د الظالمون یې جمع راوړی نظر و معنی ته د من ومثله کثیر في القرآن الکریم ولسان العرب. ذکر البغويؒ ان رسول اللهﷺ چې به غزاء ته تلی یا به بل سفر ته چې خلک مسلمانان به ورسره وه نو یو سړی چې به مسکین وُ، دوو غني کسانو ته به یې وسپاری چې دا مسکین به ستاسي خدمت کوي او تر تاسي د مخه په دی قرارګاه ته ستاسي ورځ، او هورې به ددوی خوراکي شیان یا د ابو ترتیبات نسي، نو دا دوه غنیان به دده څخه اندازه د خورک وغیره نه غواړي، نو سلمان الفارسيؓ چې مسکین وُ ضم یې کړی و دوو غنیانو ته په بعض اسفارو کې نو سلمانؓ و منزل ته قرار ګاه ته د مخه ځان ورساوه، چونکه ستړی وُ پرېوتی بیده سوی وُ، نو د هغو غنیانو لپاره یې خوراکي شي یا اوبه نه وُ برابر کړي هغو غنیانو ورته وویل: ما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صنعت شیئًا، کوم شی دي برابر کړی؟ سلمان رضی ورته وویل: لا غلبتني عیناي یعني بې اختیاره بیده سوم، نو هغو ورته وویل چي ورسه و رسول الله ﷺ ته د هغه څخه زموږ لپاره طعام راوړه، سلمان رضی ورغلی د رسول الله ﷺ څخه طعام وغوښتی یعني د هغو دوو غنیانو لپاره چي سلمان رضی یې خادم ؤ، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي ته ورسه اسامه بن زید رضی ته که د هغه سره شی فاضل د طعام ؤ در به یې کړي، اسامه رضی خازن د علیه الصلوة والسلام ؤ یعني پر مطعوماتو د سفر، نو سلمان رضی و هغه ته ورغلی، هغه ورته وویل ما عندي شیئ. سلمان رضی بیرته هغه دوو ملګرو ته ورغلی او ورته وه یې ویل چي ما چي د رسول الله ﷺ څخه طلب د طعام وکړی ستاسي لپاره هغه حواله پر اسامه رضی راکړه اسامه رضی وویل چي زما سره شی فاضل نسته چي تاته یې درکړم، نو ملګرو ورته وویل چي د اسامه رضی سره خو شی ؤ لکن بخیلي یې وکړه، نو دوو غنیانو سره وویل چي سلمان داسي سوی پاله دی چي د ابو ډک څاه ته یې څوک ور واستوي هغه ډک څاه به پر وچ سي، بیا دا دوه کسه راهي سوه چي د سلمان رضی د دې خبري څېړنه وکړي چي رشتیا یې ویل که دروغ، خو اخیرًا و علیه الصلوة والسلام ته ورغله د طعام د غوښتني لپاره علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي د غوښو بوی ستاسي د خولو څخه څي؟ هغو ورته وویل والله یا رسول الله ماتنا ولنا یومنا هذا لحمًا، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي د سلمان او اسامه غوښي مو نه وخوړلې، یعني غیبت او بهتان مو پر وو ایه چي سلمان چي پر ډک څاه ورسي هغه به وچ سي او پر اسامه باندي چي د اسامه سره خو فاضل طعام ؤ لکن بخیلي یې وکړه، فانزل الله تعالی هذه الآیة.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ

ای هغه کسانو چي ایمان مو راوړی دی پرهېز وکړئ له ډېره څخه د ظن (مراد له ظن څخه دلته بدګماني ده لکه دغو دوو کسانو چي وکړی کما في حدیث رواه ابو هریرة رضی ان رسول الله ﷺ قال ایاکم والظن فان الظن اکذب الحدیث) په تحقیق بعض الظن ګناه ده یعني چي بد ګماني بې دلیله پر مسلمان کوي.

پوه سه: چي دا جمله مستأنفه ده لپاره د امر یعني اجتنبوا الخ، والاثم ګناه ته وایي چي کونکی یې مستحق د عقوبت وي لکه په ځای کي غیبت او بهتان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده سنیه: پوه سه! ظن چي مقابل د یقین دی پر څو قسمه دی (۱) مایجب اتباعه وهو حسن الظن بالله تعالی ورسوله والمؤمنین والمؤمنات، او یا هغه شی چي په دلیل شرعي څو ثابت وي چي په هغه کي یوه شبهه وي لکه خبر واحد په اصطلاح د محدثینو او په قیاس سره د شرائطو چي په اصول الفقه کي ذکر سوي دي، چي په هغه موضوع دلیل قاطع نه وي نو باید حسن ظن سري عمل په وکړي په عملیاتو کي لکه اودس غسل وغیرهما (۲) ما یحرم اتباعه کسوء الظن بالمؤمنین والمؤمنات خصوصًا الصالحین والصالحات والظن في الالهیات والنبوات حیث یخالفه دلیل قاطع (۳) د دواړو څخه مخالف وي لکه ظن په امورو کي د معاش یعني چي فلانی تجارت وکړم ډېره ګټه به راته وکړي، یا امریکا ته ولاړ سم ډېري روپۍ به وګټم وامثالها.

پوښتنه: ګناه خو بعض ظن دی وهو القسم الثاني او الله عزوجل داسي وویل یا ایها الذین آمنوا اجتنبوا کثیرًا من الظن؟

ځواب: دا خدای عزوجل احتیاطًا او مبالغةً وویل فیجتنب المؤمن عما هو اثم او ما یشبه به، قال رسول الله ﷺ الحلال بین والحرام بین وبینهما امور مشتبهة الی اخیر الحدیث الطویل رواه البخاري وغیره.

وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا ۚ

پوه سه: چي اصل د دې لفظ تتجسسوا وُ، حذف منه احدی التائین، والمعنی تاسي بحث او تلاش مه کوئ د عیبو د مسلمانانو، باب د تفعل دی لپاره د تکلف یعني مسلمان خپل عیب پټ ساتي ته نو تکلف مه کوه په ښکاره کولو کي د هغه د عیب، له زید بن وهب څخه روایت دی چي موږ وویل و ابن مسعود ته چي ته څه وایه د الولید بن عقبه بن ابی محیط په باره کي چي تر ږیرې یې شراب تویېږي؟ فقال ابن مسعود ان نهینا عن التجسس، موږ منع کړل سوي یو یعني په قرآن کي له تجسس څخه فان یظهر لنا شيئ نأخذه به، که په دې کي موږ ته یو شی (یعني شرب الخمر) موږ یې نسو په شي (یعني د شرب الخمر حد ورکوو) وفي الحدیث النبوي کان رسول الله ﷺ في دعائه اللهم استر عوراتنا (خدایه پټ کړې سوږ عیبونه) وآمن روعاتنا (او په امن بدلې کړې زموږ بېرې)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي که څه هم په عليه الصلوة والسلام کي عيب نه وُ لکن تعليمًا للامة يې دا دعاء وکړه.

راويان د مناقبو د عمرؓ وايي چي يوه شپه چي ده شب ګښتي کوله کما هو عادته في بعض الليالي، نو ده وليدل چي په يوه سراى کي څراغ لګېدى او دى ورغلى د دروازې تر چوله يې ورته وکتل چي يو څو کسه ناست دي شراب نوشي کوي، نو عمرؓ وپوهېدى چي زه څرنګه چار چلند وکړم د دغو کسانو سره نو مسجد نبوي ته راغلى نو د عبدالرحمن بن عوفؓ يې له کور څخه راويستى، نو هغه يې هم وروستى هغه کور ته هغه ورته کتل چي شراب نوشان په شرابو څښلو بخت وه نو عمرؓ و عبدالرحمن بن عوفؓ ته وويل: کيف ترى ان نعمل، ستا څه رايه ده چي زه د دغو خلکو سره څه وکړم؟ عبدالرحمن بن عوفؓ ورته وويل انا قد آتينا ما نهى الله عنه يعني لاتجسسوا، نو مونږ تا خو هم تجسس وکړى واطلعنا على عورة قوم ستروا ...... ولا يجوز لنا کشف ستر الله، عمرؓ ورته وويل ما اراک الا قد صدقت، نو دواړه څني راهي سول.

ترمذي له ابن عمرؓ څخه روايت کړى دى چي نبي اللهﷺ وويل: يا معشر المسلمين من آمن بلسانه ولم يغض الايمان الى قلبه او ايمان زړه ته نه دى رسېدلى تاسي غيبت د چا مه کوئ يعني د مسلمانانو، ولا تتبعوا عوراتهم، تاسي تلاش مه کوئ د پټو رازو د مسلمانانو فانه من تتبع عورات المسلمين يتبع الله عوراتهم خداى به د هغه سړي د عوراتو تتبع وکړي او رسوايي ولو في جوف رحله.

"ولا يغتب بعضکم بعضًا" اى لا يذکر بعضهم بعضًا في غيبته بسوء، وعن ابى هريرةؓ ان رسول اللهﷺ قال يعني حاضرينو ته چي اصحاب کرامؓ دي اتدرون ما الغيبة؟ قالوا الله ورسوله اعلم قال ذکر اخاک بما يکره، چا ورته وويل: ان کان في اخي ما اقول؟ که زما په ورور کي دغه بد کار چي ذکر کوم يې موجود وُ، رسول اللهﷺ ورته وويل که دي په ورور مسلمان کي هغه شى موجود وُ او تا يې بيان وکړى، فقد اغتبته وان لم يکن فيه ماتقول فقد بهته نو بهتان دى پر وايي يعني بهتان خو تر غيبت سخت ګناه ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي هم دا وجه ده چي په ايت کي خداى عزوجل غيبت ذکر کړى نه بهتان حديث متفق عليه دى او په دې باب کي نور ډېر احاديث صحيحه راغلي دي چي استيصاب د ټولو د فقير تر علم بالا دى.

أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ ط

آيا خوښه ده د يوه ستاسي چي خوري غوښي د ورور چي هغه مړ وي.

يوه سه: چي دا يو مثال دى او تصوير دى د هغه گناه چي غيبت کونکي ته رسيږي، د غيبت شخه د ورور مسلمان، على افحش وجه واشنعه طبعًا وعقلًا وشرعًا مع مبالغات من فنون شتى (۱) چي اسناد د فعل واحد ته وکړي اشعارًا بان احدًا من الاحدين لايفعل ذالک يعني چي د ورور غوښي دي خوري (۲) استفهام تقريري من حيث انه لايقع الا في مسلم عند کل سامع حقيقة او ادعاء (۳) تعليق د محبت بما هو في غاية الکراهة (۴) تمثيل الاغتياب بأکل لحم الانسان (۵) وجعل المأکول لحمه اخًا للآکل (۶) او بل چي مأکول لحمه ميت هم وي (۷) وتعقيب ذالک بقوله "فکرهتموه" حملاً على الاقرار وتحقيقًا لعدم محبة ذالک من احد.

درويش وايي: چي له انس بن مالک ﷺ شخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وويل لما عرج بي (چي زه خداى پاک اسمانو ته بوتلم) زه پر يو قوم تېر سوم چي نوکان يعني د گوتو يې له مسو شخه وه يعني تېره وه او خپل مخان او د نورو ځايو غوښي به يې په گرول، نو ما ورته وويل دا څوک دي چي په داسي عذاب اخته دي؟ فقال اى الله تعالى او جبرئيل: دا هغه کسان دي چي د انسانانو غوښي يې خوړلې او د خلکو په ابرو يې کي به يې بحث کاوه يعني غيبت به يې کاوه د ورور مؤمن، رواه البغوي.

قال ميمون" بينا انائم يعني په دې مابين کي چي زه بيده وم د يو حبشي مړه جثه يعني بدن پروت ؤ، يو قائل ماته وايي کل دا وخوره قلت يا عبد الله لم اکل؟ اى بنده د خداى" زه يې ولي وخورم، قال بما اغتبت عبد فلان ما ورته وويل ما ذکرت فيه خيرًا، ولاشرًا قال بما سمعت ورضيت چي د هغه وغيبت ته دي غوږ نيولى ؤ او په راضي وې، راوي وايي چي ميمون" د هيڅ چا غيبت نه کاوه نه يې څوک پرېښو چي د ده په حضور کي د چا غيبت وکړه سي، گويا ده يوه ورځ څرنگه اتفاقًا و غيبت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته غوږ نیولی ؤ، نو دا خوب یې ولیدی.

فائده: د غیبت کفاره داده: عن انس رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال ان من کفارة الغیبة ان یستغفر لمن اغتبته یعني ان یقول الله اغفر.

وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾

د خدای ته څخه ویرېږئ بترک ما نهیتم عنه والندم علی صدر منکم.

درویش وایي: چي دا قول د خدای تعمیم بعد التخصیص دی لکه چي د مخه په آیتو کي تېر سو.

یوه سه: چي تواب صیغه د مبالغې ده. والمعنی یقبل توبتکم مبالغ في قبول توبتهم حیث یجعل التائب من الذنب کمن لا ذنب له کما في الحدیث النبوي الصحیح "الرحیم" مهربانه دی حیث منعوهم من المعاصي التي تضرهم في الآخرة مثل الغیبة والتجسس.

درویش وایي: چي البغوي رح وایي چي مقاتل رح وایي چي ورځ د فتح د مکې چي راغله رسول الله ﷺ بلال رضی الله عنه امر کړی چي د مکې بام ته وخېژه او اذان وکړه. بلال رضی الله عنه هم داغسي وکړه، نو عباد بن اسید وویل: الحمد لله الذي قبض، حمد دي وي و خدای ته چي زما پلار یې د مخه مړ کړی چي دا ورځ یې نه په ولیده. او حارث بن هشام وویل: اما وجد محمد غیر هذا الغراب الاسود (غیر د دې تور کارګه بل مؤذن مراد بلال حبشي رضی الله عنه ؤ) او سهیل بن عمرو وویل ان یرد الله شیئًا یغیره، قصد یې دا ؤ چي فتح د مکې به بیرته په لاس ورسي یعني بیرته به یې موږ ونسو، او ابو سفیان وویل چي زه څه نه وایم اخاف ان یخبر به رب السماء (چي خدای د اسمان به محمد ته خبر ورکړي فاتاه جبرئیل علیه السلام فاخبر رسول الله ﷺ) نو علیه الصلوة والسلام دغه نامورې کسان راوغوښتل او پوښتنه یې څني وکړه هغو اقرار وکړی بما قالوا فانزل هذه الآیة، او په دې آیت کي خدای د وی ته زجر ورکړی تفاخر بالانساب کما في الجاهلیة، والتکاثر في الاموال، او عیب ویل پر چا په فقر سره.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ۚ

ای خلکو موږ تاسي پیدا کړي یاست د یوه نر او د یوې ښځي څخه، یعني آدم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

و حواء مراد د ضمير المتكلم مع الغير څخه نوع د ټوله بشر ده، ييا وروسته تر آدم او حواء كل واحد منكم من اب وام فلا مرية لاحد على الآخر ولا وجه للتفاخر في الانساب، او داسې هم كېداى سي چي دا ايت دي اثبات او ټينګول وي د اخوت چي مانع د غيبت وكړئ.

درويش وايي: چي عرب په نسب كي شپږ طبقې دي، وايي چي اعلاها الشعب چي يو جمع عظيم ته وايي چي يوه اصل ته رسيږي (لكه په پښتو كي لفظ د پښتون يا پټان چي اصل يې فتحان دى) او وروسته بيا هغه پر قبائلو مشتمل دى لكه لفظ د عرب، او قبيله بيا و عمائرو ته وېشل كېږي (لكه په پښتنو كي غلجي او دراني) او عمائر بيا بطونو ته شامل دى، لكه په پښتو كي سليمانخيل، الكوزي وغيرهما. او بطن بيا افخاذ ته شامل دى لكه په پښتنو كي قيصر خيل يا علي خيل وغيره په غلجي كي، والفخذ شامل و فصائلو ته والفصيلة مجمع العشائر وليس بعد العشيرة.

يوه سه: چي د (تتعارفوا اصل يې تتعافوا ؤ يوه تا يې څني حذف كړه، والمعنى چي تاسي سره وپېژنئ قرب النسب وبعده لا للتفاخر لكه په پښتنو كي چي دراني قبائل پر غلجي قبائلو فخر كوي)

إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ

په تحقيق هغه عزت مند په نيز د خداى ستاسي هغه ډېر تقوا داره دى ثم وثم الى ان ينتهي الى نفس المؤمن، وفي الحديث الصحيح ان ربكم واحد وابوكم واحد لافضل لعربي على اعجمي ولا لاعجمي على العربي ولا لاحمر على اسود ولا لاسود على الاحمر الا بالتقوى وعلى هذا اجماع العلماء كذا في بحر العلوم، وقال الشاعر العربي:

الناس من جهة التمثال سواء　　ابا همو آدم والام حواء
فان يكن لهموا من اصلهم　　نسب يفاخرون فالطين والماء

از نسب آدميانى كه تفاخر ورزند، هر كرا تقوى بيشتر باشد او درمرتبه فضل بيشتر باشد.

ولنعم ما قيل: ... الشرف بالفضل والادب لا بالمال والنسب

وعن سمرة بن جندب رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ الحسب بالمال (اى جاه د دنيا) والكرم بالتقوى (اى عزت په اخرت كي) رواه احمد والترمذي، وقال ابن عباس رض

Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

كرم الدنيا الغناء وكرم الآخرة التقوى وعن ابن عمرؓ ان رسول اللهﷺ طاف يوم الفتح (اى فتح مكة) على راحلة يستلم الاركان بمحجنة (په لكړه سره) فلما فرغ (من الطواف) د اوښي د چوكېدو ځاى نه ؤ، نو د خلكو پر لاسو راكښته سو، ثم قام فخطب الناس وقال الحمد لله اذهب عنكم عبية الجاهلية وتكبرها، الناس رجلان (يعني خلك دوه قسمه دي) بر تقي كريم على الله وفاجر شقي مهين على الله (سپک دي په نېز د خداى) ثم تلى يا ايها الناس انا خلقناكم من ذكر و انثى الى اخيرها، ثم قال اقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم، رواه الترمذي والبغوي.

وعن ابى هريرةؓ قال قال رسول اللهﷺ امر الله مناديًا (ناره كونكي يعني ملكه) قال الا اني جعلت نسبًا وجعلتم نسبًا فجعلت نسبي اكرمكم اتقاكم فابيتم تقولوا فلان بن فلان خير من فلان بن فلان فاليوم ارفع نسبي اين المتقون (يعني چي جنت ته يې واستوم) او مسلم د ابى هريرهؓ څخه روايت كړى دى قال قال رسول اللهﷺ ان الله لاينظر الى صوركم واموالكم ولكن ينظر الى قلوبكم (چي په زړه كي دي اخلاص سته) واعمالكم.

إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ

په تحقيق خداى عليم او خبير دى ببواطنكم وفضائلكم، امام بغويؒ وايي چي څني كسان د بني اسد د قبيلي سره د آل و عياله و عليه الصلوة والسلام ته راغله په يو كال كي د كاختى، فاظهروا الاسلام لكن لم يكونوا مؤمنين في السر يعني په زړه كي مسلمانان نه وه، نو دوى د كثرت په سبب د مديني كوڅې مرداري كړې په قاذوراتو سره، او په مدينه كي نرخونه د خوراكي شيانو ډېر لوړ سوه، نو دوى به سهار او مازديګر رسول اللهﷺ ته راتله او دا به يې ورته ويل چي نور عرب چي تاته به راتله پر اوښانو به سپاره وه، و جئناک بالاثقال (يعني درانه شيان چي د كډي او د كورو شيان دي) او په عيالو سره او موږ ستا سره جنګ ونه كړى لكه بنو فلان او بنو فلان، دا دوى احسان اچاوه پر عليه الصلوة والسلام او غرض يې صدقه غوښتل وه، و يقولون اعطنا اعطنا، فانزل الله عالم الغيب والشهادة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا ط

وايي صحراء نشينان چي موږ ايمان راوړی دی، او السدي وايي چي دا آيتونه په هغو اعرابو کي نازل سوي دي چي په سورة الفتح کي خدای ذکر کړي دي، وهم اعراب جهينة ومزينة واشجع وغفار (دا ټوله د قبائلو نومان دي) قالوا آمنا ددې غرض لپاره چي خپل ځانونه او مالونه او عيالونه له جنګه د عليه الصلوة والسلام په امن کي وساتي، نو هغوی چي عليه الصلوة والسلام سره د (۱۴۰۰) کسانو سره عمرې ته تلی د غو قبائلو ته يې هم خلک وروا ستول چي تاسي هم راووځئ (دوی د اهل مکې له بيري څخه نه راووتل) او بل ددوی دا ظن و چي عليه الصلوة والسلام او مسلمانان به بيا مديني ته راستانه نه سي، يعني کفار مکه به دوی ټوله ختم کړي. لکن هغسي ونه سوه بلکې عليه الصلوة والسلام او مؤمنان ورسره په حديبيه کي د کفارو سره صلح وکړه کما مربيانه بالتفصيل في تفسير سورة الفتح.

قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْاِيْمَانُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ ط

ووايه ته يا محمد (ﷺ) دوی ته تاسي ايمان نه دی راوړی، ولي ايمان خو صفت د زړه دی عبارة عن تصديق القلب، والاقرار رکن زائد دی لاجراء احکام المؤمنين على من اقر بکلمتى التشهد يعني اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمداً رسول الله.

يوه سه: چي اسلام عبارت دی له انقياد ظاهر څخه.

"ولما يدخل الايمان في قلوبكم" او هرګز نه دی داخل سوی ايمان ستاسي په زړو کي، دا جمله حال ده له فاعل څخه د قولوا يا عطف ده پر لم تؤمنوا لپاره د تاکيد د هغه.

وَاِنْ تُطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ لَا يَلِتْكُمْ مِّنْ اَعْمَالِكُمْ شَيْـًٔا ط اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۴﴾

او که تاسي اطاعت او فرمانبرداري وکړه په اوامرو او منهياتو کي د خدای او د رسول د خدای نه کموي خدای ستاسي له اعمال حسنه څخه هيڅ شی يعني ثواب کم نه د رکوي او خدای بخښونکی د ګنهو دی د بندګانو او مهربان دی پر دوی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا

نه دي مؤمنان مګر هغه کسان چي ایمان یې راوړی وي پر خدای ؒ بالتوحید وسائر الصفات الجمالية والجلالية له تعالى او پر رسول د خدای په رسالت سره یعني بالقلوب مخلصين غير منافقين والامتثال لاوامرهما "ثم لم يرتابوا" وروسته شک نه لري فيما جاء به الرسول ﷺ.

فائده: کلمه د ثم چي یې راوړه ددې لپاره چي دا عدم ارتياب به جاري وي په ټولو ازمنه متراخيه وُ کي الى اخير اجزاء حيوتهم لکه په ابتداء کي د ایمان.

وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ ﴿۱۵﴾

او دوی جهاد کوي د کفارو سره په خپلو مالو او ځانو سره په لاره کي د خدای ؒ یعني په ترویج د دین د اسلام، او دا هم ترجمه کېدای سي چي مجاهده د شیطان او د خواهشات نفسیه کوي چي په قرآن کریم کي یې تعبیر په هوی کوي. یا مجاهده کوي یعني د عبادات قلبيه او ماليه او بدنيه وُ. نو پر دي تقدير دا آيت امتثال د ټولو اوامر الهيه وُ او پرهېز کول د ټولو منهياتو ته شامل دی "اُولئک" دغه کسان چي موصوف په دغو صفاتو سره وي دوی دي صادق په دعوی کي د ایمان کامل.

قُلْ أَتُعَلِّمُونَ اللَّهَ بِدِينِكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ

ته ورته و وایه دغو اعرابو ته آیا تاسي خدای ؒ ته وربنیاست خپل دین بقولکم آمنا، په داسي حال کي چي خدای خبر دی په هغه څه چي په اسمانو کي دي او هغه چي په ځمکه کي دي. یعني الله عزوجل خبر دی په ټوله ما في السموات وما في الارض سره فکيف لايعلم ايمانكم.

وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿۱۶﴾

او الله په هر شي خبر دی. عطف على ما سبق يعني والله يعلم تاكيدًا للرد على الاعراب.

يَمُنُّونَ عَلَيْكَ أَنْ أَسْلَمُوا

دوی پر تا احسان واچاوه د خپل اسلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي دا آیت په حال پوري د اعرابو مربوط نه دی، بلکې ددې شان نزول الطبراني په روایت د الحسن ؒ څخه داسي ذکر کړی دی. ان ناسا من العرب قالوا یا رسول الله اسلمنا ولم نقاتلک وقاتلوک بنو فلان قالوا ذالک بعد ما فتحت مکة، فنزلت یمنون علیک الی اخیر الآیة.

قُلْ لَّا تَمُنُّوْا عَلَیَّ اِسْلَامَکُمْ ۚ بَلِ اللّٰهُ یَمُنُّ عَلَیْکُمْ اَنْ هَدٰىکُمْ لِلْاِیْمَانِ اِنْ کُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿۱۷﴾

بلکې خدای پر تاسي احسان اچوي ددې چي هدایت یې درکړی تاسي ته یعني توفیق یې درکړی د ایمان او په زړو کي یې تصدیق درپیدا کړی، که تاسي رشتیا وایاست، په ''ان کنتم آه'' کي اشاره ودې ته ده چي ټوله به په دعوی کي اوس هم صادق نه وي.

پوه سه: چي ان شرطیه دی جزاء له ماقبل څخه فهمېږي یعني فالله یمن علیکم الی اخیرها ددې سببه چي د ټولو ایمان اوس هم مشکوک دی، دا آیت خدای ؒ راوړی.

اِنَّ اللّٰهَ یَعْلَمُ غَیْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَاللّٰهُ بَصِیْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸﴾

او خبر دی خدای په غیب د اسمانو او د مځکي، او خدای دانا او خبر دی په ما تعملون سره.

فائده: مراد له غیب السموات والارض څخه ماغاب عن المخلوق لانه لایتصور الغیب عن الله.

پوه سه: چي کلمه د ما که موصوله وي نو عائد یې محذوف دای بما تعملونه، او که مصدریه وي نو معنی یې داده بعملکم وعلی التقدیرین معنی او حاصل یې دادی لایخفی علیه شیئ.

درویش وايي: بحمد الله وتوفیقه تفسیر د سورة الحجرات وپای ته ورسېدی په وخت کي د ځاښت ورځ د پنجشنبې اول د ذی القعدې د میاشتي سنه (۱۴۳۲) حین کان عمري (۹۸) کاله، وروسته سورة ق شروع کېږي ان شاء الله تعالی.

اللهم وفقني جمیع اجزاء القرآن بالخیر والعافیة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة ق مكية وهي خمس و اربعون اية و ثلث ركوعات بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله حمدًا كثيرًا جزيلاً جميلاً طيبًا مباركًا فيه ومباركًا عليه كما يحب ربنا ويرضىٰ والصلوة والسلام على سيد نوع البشر الذي وصل به الله عزوجل الى مقام قاب قوسين او ادنى الذي قال عزوجل فيه مازاغ البصر وما طغىٰ سيدنا ونبينا ومولانا محمدًا ﷺ وعلى آله واهل بيته واصحابه اجمعين وازواجه امهات المؤمنين وجعلني الله بفضله وكرمه من مجيه في الدنيا والآخرة وما ذالک على الله بعزيز برحمتک يا ارحم الراحمين آمين آمين امين ... بيت:

افاقها گرديده ام بسيار خوبان ديده ام اما توچيزی ديگری

ق ۚ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِيْدِ ①

درويش وايي: چي تفصيل د مقطعات قرآنيه ؤ او اختلاف د علماؤ فيها په اول كي د سورة البقره د تفسير تېر سو، والحق چي دا حروف سِر بين الله تعالى و رسوله ﷺ لايعلم تأويله الا الله.

فائده: مظهري وايي چي بعض راسخين في العلم يې هم په تأويل خبر دي، فقير وايي چي دا خبره دده خلاف المذهب ده، ولي په نېز د احنافو كثرهم الله وقف پر الا الله لازم دی. نوري توجيهاتي چي علماء كرامو كړي دي په هغو سره خدای خبر دی "والقرآن" الواو للقسم، له ابن عباس ؓ څخه روايت دی چي والقرآن قسم دی "المجيد" ای ذو المجد والشرف، او لكونه كلام الرب المجيد، او يا له دې سببه چي څوک چي قرآن زده كړي او په معانيو ځان خبر كړي او عمل يې په احكامو سره وكړي هغه ته خدای عزوجل مجد او بزرگي وركوي.

بوه سه: چي جواب د قسم محذوف دی ای لصدق رسوله المنذر او يا دا لتبعثن الى غير ذالک.

بَلْ عَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ

بوه سه: چي بل په معنى د قد دی ای قد عجبوا كفار مكة "ان جاءهم" منصوب دی په نزع د خافض ای من ان جائهم "منذر منهم" بيرونكى يعني محمدًا ﷺ من جنسهم او من قومهم چي دده ډې څخه د دوی غرض دا ؤ چي دوی د مخه تر دعوی د نبوت په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عدالت ده ده حتى چي دوى دمخه تر دعوى د نبوت آمين مكه باله، يعني ان من كان كذالك لايكون الا ناصحًا لقومه او بيرېږي چي دوى ته دي د خداى عذاب رانه سي، په حديث كي د بخاري راغلي دي چي يوه ورځ عليه الصلوة والسلام د صفا پر غره ودرېدى او پټو يې بنوراوه او سبطو (قومو) ته يې نوم په نوم ناري وهلې يا بني هاشم يا بني عبد مناف الى غير ذالک، نو دوى ټوله ورغله چي څه پيښه ده چي محمد ﷺ تو دې تو دې پر له پسې ناري وهي، دوى چي ورغله عليه الصلوة والسلام ورته وويل: تاسي راته ووايا ست كه ما تاسي ته وويل چي يو لښكر ما وليدى په دې شبله كي (وفي رواية وراء هذا الجبل) چي پر تاسي د غارت كولو اراده لري تاسي زما تصديق كوئ؟ هغو ورته وويل: نعم ما جربنا عليک كذبا، بلكې صادق يې همېشه، عليه الصلوة والسلام ورته وويل فاني نذير لكم بين يدي عذاب شديدًا (يعني كه ايمان نه راوړئ) ابو لهب ورته وويل تبًا لک (يعني هلاكت دي وي تا لره) الهذا جمعتنا او په خو شكو يې عليه الصلوة والسلام وويشتى، وفيه نزلت سورة تبت يدا ابى لهب تر پايه پوري، رواه البخاري ومسلم عن ابن عباس رضي الله عنهما.

فَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا شَيْءٌ عَجِيْبٌ ﴿٢﴾

دا يو كار دى د تعجب وړ.

بوه سه: چي هذا اشاره ده دې ته چي خداى ﷻ محمد ﷺ مختاره كړى د نبوت لپاره.

درويش وايي: چي په يو بل آيت كي راغلي دي من بيننا د دوى زعم باطل دا ؤ چي مستحق د رسالت خو بايد يو مالدار سرمايه دار سړى واى لكه وليد بن المغيرة په مكه كي، يا يو لوى قومي مشر واى لكه عروة بن مسعود الثقفي په طائف كي، د دوى جاهلانو دا ګمان نه ؤ چي رسالت فضل الهي دى يؤتيها من يشآء من عباده يا اشاره و بعث بعد الموت ته كما يدل عليه هذه الآية.

ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ذٰلِكَ رَجْعٌۢ بَعِيْدٌ ﴿٣﴾

دا آيت متعلق دى په محذوف سره تقديره انرجع الى الحيوة، والمعنى آيا چي مونږ مړه سو او ګرځو خاوري "ذالک" دغه رجع و بيرته ژوندته "رجع بعيد" يعني بعيده ده له عادت او له امكان څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي له دوی څخه چي په چا سوال وکړی چي ته چا پیدا کړی یې؟ دوی به ویل چي خدای پیدا کړی یم، نو دوی جاهلان په دې نه پوهېدل چي هغه ذات والا قدرت عظیمه چي پر اوبو یې نقشبندي د ه یعني نطفه د مور او پلار، ولقد خلقنا الانسان في احسن تقویم کړې ده هغه ذات مقتدر پر خاورو د هغه صورت انساني نقشبندي نسي کولای؟ فانکارهم انکار بعید من العقل والنقل فافهم هداک الله.

قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنْقُصُ الْأَرْضُ مِنْهُمْ

په تحقیق موږ خبر یو په هغو اجزاء د دوی چي مځکي خوړلي وي د غوښو د مړو د دوی او له هډو څخه وغیرها.

درویش وایي: چي رد دی د استبعاد د دوی چي اجزاء تفرقت فلا تعلم حتی تعاد بزعمهم الفاسد، حاصل د رد یې دادی چي د دوی اجزاء متفرقه موږ ته معلوم دي اذ لا یعزب من علمنا شيئ فلا علینا جمعها واعادة الروح فیها.

وَعِنْدَنَا كِتَابٌ حَفِيظٌ ۝

او زموږ سره یو کتاب سته چي محفوظ دی له شیطانانو څخه او د اندارس او تغیر څخه (نو فعیل په معنی د مفعول دی) او بعض مفسرین وایي چي فعیل په معنی د فاعل دی ای حافظ لتفاصیل الاشیاء کلها چي لوح محفوظ یعلم به من عنده من الملائکة ثم رد الله سبحانه انکارهم بنبوة محمد ﷺ، فقال:

بَلْ كَذَّبُوا بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُمْ فَهُمْ فِي أَمْرٍ مَرِيجٍ ۝

بلکي دوی تکذیب کاوه په حق سره چي نبوت د علیه الصلوة والسلام دی چي ثابت دی په معجزاتو سره چي خارق د عادت الهي دی کشق القمر وشهادة الاحجار في ید ابی جهل، مظهري وایي چي دا اضراب دی د اول څخه ولي هغه شی چي ثابت وي په ادلة قطعیة نو سره فوق دی تر نفس تعجب والاستبعاد.

"لما جائهم" ځنګه چي دوی ته راغلی (لما جائهم ظرف دی د کذبوا) نو دوی په یو امر کي دي چي په هغه کي دوی مضطرب دي، یعني علیه الصلوة والسلام ته موږ څه وو وایو یعني ګاهي به یې ویل چي شاعر دی او ګاهي به یې ویل چي ساحر دی، ګاهي به یې ویل چي معلم دی یعني بل یې ورښیي، ګاهي به یې ویل چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مجنون دی کاهي بهٔ يې ويل چې مفتر دی يعني په قصده دروا غ وايي چې دا اقوال سره ضد او نقيض دي، اوس خداى پاک ددوى د تکذيب رد وکړی، اوس د خپل قدرت دليل وايي پر بعث بعد الموت.

أَفَلَمْ يَنظُرُوٓا۟ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنَٰهَا وَزَيَّنَّٰهَا وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٍ ۝

پوه سه: چې همزه د استفهام والتوبيخ ده يعني فکر نه وهي والانکار پر دغه فکر نه وهلو، او کلمه د فاء عطف ده پر مقدر تقديره اکذبوا بالبعث (هذا هو المقدر فلم ينظروا حين كذبوا)

فائدة في جميع الآيات القرآنية چې وروسته تر همزه د استفهام يو د حروف عاطفه؛ څخه راسي معطوف عليه يې مقدر دی په مناسبت د مقام سره كما مثلنا في هذه الآية وقد ذكرت هذه الفائدة مكررًا في هذا التفسير لكي لا يغفل المتعلم منها.

"الى السماء فوقهم" اسمان ته تر دوی لوړ، لفظ د فوقهم يا حال دی د سماء څخه او ظرف متعلق په "كيف بنينها" څرنګه موږ پيدا کړي دي پورته بېله ميله و تنبې "وزيناها" او ښائسته کړی مو دی په لمر، سپوږمۍ او ستورو سره. نسته څيري ځايونه او چاودي په اسمان کې بلکې يوه سطح املس پر محيط ده مع ان طول زمان بنائها يقتضى الفروج وكلمة من زائده لاستغراق النفي.

وَٱلْأَرْضَ مَدَدْنَٰهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَٰسِىَ وَأَنۢبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍۭ بَهِيجٍ ۝

"الارض" منصوب على شريطة.

فائده: د منصوب على شريطة معنى داده چې اصلاً لفظ الارض منصوب دی په مدناها سره بيا يې هغه عامل مقدم ځني حذف کړی وروسته يې ذکر کړی.

پوښتنه: ددې حذف او بيرته راوړلو فائده څه ده؟

ځواب: فائده يې داده چې قاري چې لفظ د الارض منصوب په عامل کې د نصب يې حيران او متردد سي او طالب ته د عامل وروسته چې ذکر سي هغه انتظار يې زائل سي، اهل معاني وايي چې هر علم چې وروسته تر طلب او انتظار حاصل سي هغه الذ وي او اوقع في الذهن وي، والى هذا اشار العارف الجامي:

چه خوش باشد كه بعد از انتظاری — با اميد رسد اميدواری

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وترجمة الآية: مځکه موږ کش کړې ده طولاً وعرضًا تا چې مستقر د انسانانو او حيوانانو او ددوی د محتاج اليه وګرځي، او موږ اچولي دي يعني پيدا کړي مو دي په مځکه کي يعني فوقها جبال ثوابت چې مځکه ونه ښوري لکه په بل ځای کې د قرآن کريم چې راغلي دي "وانبتنا فيها من کل زوج" او موږ شنه کړي دي په مځکه کي له هره صنفه څخه د نباتاتو او د درختو څخه رزقًا للانسان والحيوان "بهيج" حسن الصورة والبهجة السرور.

تَبۡصِرَةً وَّذِكۡرٰى لِكُلِّ عَبۡدٍ مُّنِيۡبٍ ۝

"تبصرة وذکری" دواړه لفظه منصوب دي علة غاية له ما قبل څخه فان المقصود من خلق الاشياء کونها تبصرة بينائي وتذکرة يعني دال وګرځي پر وجود د صانع مقتدر قديم واجب الوجود کامل الصفات وحکيم "لکل عبد منيب" چې رجوع يې وپېژندلو ته د خدای وي چې فکر په مخلوقاتو کي د خدای و وهي وانما خص العبد المنيب لانه المتنفع بها، چه خوش گفته سعدي شيرازي:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار	هر ورقی دفتريست معرفت کردگار

وَنَزَّلۡنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً مُّبٰرَكًا فَاَنۡۢبَتۡنَا بِهٖ جَنّٰتٍ وَّحَبَّ الۡحَصِيۡدِ ۝

او موږ نازلي کړي دي له اسمان څخه اوبه مبارکي، يعني کثير النفع چې مراد ځني نفع د انسانانو او د حيوانانو ده کما قال "فانبتنا به جنات" موږ را شنه کړي دي په هغو اوبو سره باغونه د رقم رقم مېوو لکه خورما، انګور، انار وغيرها.

درويش وايي: چې مظهري وايي چې د حب اضافت و حصيد ته اضافت د عام دی وخاص ته، ولي حب مطلق دانو ته وايي او حصيد چې معنی يې محصود ده يعني په لورو سره رېبل کېږي، تو لي داني چې له مځکي څخه راوزي تو لي داني نه کوي، بلکي خاصي داني چې د انسانانو منتفع به لکه غنم، اوربشي، جوار، ورجي وغيره، نو دی وايي چې دا داسي اضافت دی لکه اضافت حق اليقين (چې حق تر يقين عام دی لان الظنون قد يکون حقًا وليس بيقين) وکل الدراهم وعين الشيئ، او بعض مفسرين په نقل د مظهري وايي چې دا اضافت من قبيل مسجد الجامع بمعنی مسجد الصلوة الجامع وصلوة الاولی بمعنی صلوة الساعة الاولی انتهی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او روح المعاني يې داسې ترجمه کړې ده اى حب الزرع الذي من شانه ان يحصد بالمناجل من البر والشعير وامثالها، فالاضافة لما بينهما اى الحب والحصيد من الملابسة والحصيد بمعنى المحصود صفة لموصوف مقدر دى الزرع، بيا ده اشاره ورد ته د هغه تفسير کړې ده چې د قسم څخه د مسجد الجامع يې بولي يا مجاز په اعتبار د مايؤل اليه يې بولي، دى وايي لا من قبيل مسجد الجامع ولا مجاز باعتبار مايؤل اليه كما توهم آه فتأمل وخذ ما صفى ودع ما كدر.

وَالنَّخْلَ بَاسِقَاتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيدٌ

عطف دى پر جنات، د باسقات معنى طويلات ده يا په معنى د حاملات دى چې ډېره مېوه پورې څړېږي.

سوال: خورما خو په جنات کې داخله وه نو تخصيص يې په ذکر سره ولې وکړى؟

ځواب: وجه د تخصيص يې داده چې د خورما منافع ډېرې دي او درختي يې ډېرې جګې دي، روى عن النبي ﷺ باسانيد صحيحة كلها عن علي رضي الله عنه قال ان النبي ﷺ قال اكرموا عمتكم (عمه د پلار خور بولي) النخل فانها خلقت من فضلة طينة آدم ابيكم وليس من شجر شجرة اكرم على الله من شجرة ولدت تحتها مريم بنت عمران (يعني د عيسىٰ په زېږولو کې) چې هغه هم د خورما درخته وه كما جاء في القرآن العزيز، عليه الصلوة والسلام زياته کړه چې ستاسې ښځې چې لنګې سي خورما ورکوئ که لنده خورما نه وه بيا تمر يعني وچه خورما ورکوئ، او پښتانه لنګې ښځې ته لېټې ورکوي "لها طلع" د خورما درختې لره مېوه سته (يعني خورما) طلع يې بولي لانه يخرج من النخل اولاً "نضيد" پورپرپور پراته وي (اشارة الى كثرة ثمرها)

رِّزْقًا لِّلْعِبَادِ ۖ وَأَحْيَيْنَا بِهِ بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ كَذَٰلِكَ الْخُرُوجُ

"رزقًا للعباد" علت او مفعول له د انبتنا دى يا مفعول مطلق د انبتنا دى لكن من غير لفظه، فان الانبات رزق يعني في المآل يعني اخير کې "كذالك الخروج" په مثل سره د خروج د نباتاتو د مځکې څخه وروسته تر وچ والي د مځکې يعني نبات نه ؤ پر باندې چې دا موت بولي د مځکې لکه د ژمي په وخت کې د خروج څخه مراد خروج دى د مړو له مځکې يعني له قبرو څخه، قياس د غائب پر شاهد باندې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی، په بخاري او مسلم کي له ابو هريرهؓ څخه روايت دی قال قال رسول اللهﷺ ما بين النفختين ای نفخة الصعق يعني مرګ و نفخة البعث بعد الموت اربعون، خلګو ورته وويل: يا ابا هريرهؓ اربعون يومًا قال ابيت، دا نسم ويلای، قال اربعون شهرًا قال ابيت دا نسم ويلای. قالوا اربعون سنة؟ قال ابيت دا نسم ويلای.

پوښتنه: چي له ابيت څخه د ابو هريرهؓ څه مراد وُ؟

ځواب: د ابو هريرهؓ صرف لفظ د اربعون له قول څخه د رسول اللهﷺ په ياد وُ اربعون يومًا وغيره يې له ذهن څخه وتلې وه نو ځکه يې ابيت وويه تحرزًا عن الكذب على رسول اللهﷺ قال ابو هريرهؓ نقلاً عن رسول اللهﷺ ثم ينزل الله من السماء (يعني مطرًا) وفي رواية مثل مني الرجال فينبتون. دا مړي له قبرو څخه راوځي) كما ينبت البقل من الارض (لکه نبات چي له مځکي څخه راوځي) وليس من الانسان شيئ الا يبلى (مګر خاوري کېږي) الا عظمًا واحدًا وهو عجب الذنب (چي کوچنی ګردی هډوکی دی چي هغه نه خاوري کېږي) نو دا هډوکی ګويا تختم دی په مځکه کي منه يركب الخلق، په دې راتلونکي آيت کي خدای عزوجل تسلي ورکوي و رسول اللهﷺ ته او عذاب د بعضو کفارو او وعيد د ما اصاب امثالهم (ای امثال اهل مكة).

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَأَصْحَٰبُ ٱلرَّسِّ وَثَمُودُ ﴿١٢﴾

تكذيب وکړی د مخه تر کفارو د مکې قوم د نوح، يعني نوحؑ چي زر کاله په پنځوس کم يې قوم ته تبليغ د توحيد وکړی هغو د ده مسلسل تكذيب کاوه فاخذهم الطوفان وهم ظالمون.

درويش وايي: چي په رس کي اختلاف دی قال صاحب القاموس چي رس هغه څاه (کوهي) ته وايي چي په ډبرو پوخ سوی وي، وقال البغويؒ الرس بئر لم تطو بالحجارة والاجر (پخې خښتي) بعض مفسران وايي چي رس يو څاه وُ په عدن کي لامة من بقايا ثمود، او دوی بادشاه درلودی عادل حسن السرية چي نوم يې عُليس وُ پر وزن د زبير او دا څاه ډېر له بنار ته اوبه ورکولې او د صحرا مځکو ته وجميع ما فيها من الدواب والغنم والبقر، او ډېرو خلګو به کار کاوه شپه او ورځ.

درويش وايي: لکه په اوسني زمانه کي باوري يا برمه او شاوخوا کوچني لښتي او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حوضونه يې ورته جوړ کړي وه وما کان لهم ماء غير، فقال له الملک لما جائه الموت چي مرګ ورته راغلی يعني علی مقتضی کل نفس ذائقة الموت دوی يې جسد تو له په داسي روغنو غوړ کړی تاچي صورت يې يادګار دوی ته پاته سي او وروسته نسي او بد بويه هم نسي او ددوی دا عادت ؤ چي يو ملک محترم به ددوی څخه مړ سو بدن بې په تېلو ورککړ کړی، شيطان ددوی دا فعل غنيمت وګڼی ودخل في جثة الملک بعد ايام کثيرة، نو څوک چي به د بادشاه زيارت ته راغله شيطان به خبري ورسره کولې په لهجه د ملک چي اني لم امت زه نه يم مړ سوی بلکې له تاسي څخه غائب سوم چي زه وويښم چي تاسي څه کار کوئ په غياب کي زما ففرحوا اشد الفرح، نو دوی خوشاله سوه په سختې خوشالی سره او امر يې وکړی و خپلو خاصو خلګو ته يعني دده په ژوندون کي چي زما او د زائرينو تر منځ يوه پنډه پرده وځړوئ، په دې کي غرض د شيطان دا ؤ چي په تغير د صورت و نه پوهېږي د مرګ په سبب، نو خلګو ودراوه يو بت دده پر صورت چي نه يې خورک کاوه او نه يې او به څښېنلې او دا بت به خبري کولې من وراء الحجاب چي زه نه مرم ابداً او زه خدای يم ستاسي. فصدق کثير منهم يعني تصديق يې وکړی دده د الوهيت، او مؤمن مکذب دده اقل قليل وه، نو دا دوې ډلې به همېشه په قيل و قال او اختلاف کي وي او يو د بله سره به يې ګاهي ګاهي جنګونه هم کول. فبعث الله اليهم نبيًا يوحى اليه في المنام دون اليقضة چي وحي به ده ته راتلې په خوب کي نه په ويښه چي نوم يې حنظلة بن صفوان ؤ نو هغه دوی ته اعلان وکړی چي دا صنم بت دی لا روح فيه ولا ينفع ولا يضر خبري چي ستاسي سره کوي هغه شيطان دی، وان الملک لا يجوز ان يکون شريکًا لله، نو ددوی نبي دوی وبېرول له عذاب څخه د خدای في الدنيا والآخرة او ډېر وعظ يې ورته کاوه هغو به دې نبي ته ازار رساوه او سره د ډېر ازاره نبي حنظلهؑ خپل وعظ ته دوام ورکاوه کما هو شان الانبياء على نبينا وعليهم السلام حتى چي دوی هغه نبي قتل کړی او څاه ته يې واچاوه چي هغه يې قبر سو، نو په دې حال نقمة د خدایؑ نازل سو نو د شپې چي بيده په دل هم ماړه او هم او به وه سهار چي راويښ سوه د څاه او به وچي سوي وې رسی يې تو تې تو تې پرته وه او په مځکو کي يې څوزان، او زمې او نوري درختې خار داره ولاړې وې، او تو له نژاد ښځې او عيالونه ددوی د تندې او د لوږې څخه مړه سوه وهکذا اخذ العزيز المقتدر.

درويش وايي: چي نقله صاحب روح البيان عن التکملة وهو نقله من المقري والله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اعلم، وقال البغوي رٌوى ابو روق عن الضحاك "كان بئرًا بحضرموت في بلدة يقال لها حاضورا او هغه څلور زره کسه چي ايمان يې راوړی وُ پر صالح عليه السلام او له عذاب څخه د قوم صالح يې نجات پيدا کړی وُ راغلي وه حاضورا ته، نو صالح عليه السلام هورې وفات سو نو د حضورا نوم يې بدل کړی په حضرموت سره لان صالح حضره ومات فبنوا حاضورا د حاضورا ښار ګوتی يې جوړ کړی او دوی کښېنستل پر هغه ځاه باندي يعني مقيم سوه، او دوی د ځان لپاره يو آمر وټاکی او هورې دوی مقيم وه دهرًا طويلًا وتناسلوا حتى چي ډېر سوه، نو يې عبادت د بتانو مختار کړی او کافران سوه نو خدای دوی ته نبي را واستاوه چي نوم يې حنظلة بن صفوان وُ نو هغه نبي چي هر څو کوشش وکړی د دوی د ايمان په راوړلو کي، نو دوی حنظلة بن صفوان په بازار کي قتل کړی، نو خدای دوی ټوله هلاک کړه او نوع د هلاک يې مفسرانو نه ده بيان کړې او معطل پاته سو ځای د دوی و خربت قصورهم، د دوی په باره کي خدای پاک په بل ځای کي د قرآن عزيز وايي: وبئر معطلة وقصر مشيد، او وهب بن منبهؒ وايي كانوا اهل بئر (التنوين للتعظيم) واصحاب مواشي يعبدون الاصنام نو خدای پاک دوی ته شعيب عليه السلام را واستاوه (دا هغه شعيب نه دی چي د موسىٰ عليه السلام خسر وُ) نو شعيب دوی ته دعوت ورکړی د ايمان نو دوی په خپل طغيان کي سرسخته وه او په آزار کي د شعيب ډېر کوشان وه، نو دوی پر شاوخوا د هغه ځاه په خپلو کورو کي ناست وه ځاه ونړېدی فخسف الله بهم وبديارهم مواشيهم (يعني خدای دوی ټوله په مځکه کي خسف کړه سره د اموالو) انتهى قول وهب بن منبه والله اعلم.

"وثمود" يعني قوم د ثمود تکذيب وکړی د ټولو رسولانو اګرچه رسول د دوی يو وُ چي صالح عليه السلام وُ لكن تكذيب د يوه رسول تکذيب دی د ټولو لاتفاقهم في المعتقدات.

پوه سه: چي د ثمود لفظ بې تنوينه راوړی لانه غير منصرف للعلمية والتانيث بتأويل ثمود بالقبلة. په بل ځای کي د قرآن عزيز داسي خدای عزوجل وايي: اذ قال لهم اخوهم (يعني په اعتبار د نسب نه د دين) صالح الا تتقون اني لكم رسول امين فاتقوا الله واطيعون قالوا انما انت من المسحرين، ما انت الا بشر مثلنا فأت بآية ان كنت من الصادقين، نو دوی نوع د ايت يعني معجزې داسي ورته بيان کړه چي له دغه غره څخه به اوښه راوځي او هغه به هم د ومره وي لکه دا غر او د هغې به د لسو مياشتو بچی په نس کي وي چي لنګه سي جونګې به يې د ومره وي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکه مور چي يې ده، د دوی په خيال د قدرت بلکې د امکان څخه وتلې خبره ده،
خير هغه د دوی مذکوره شرائط ټول له پر ځای سوه.

درويش وايي: چي بعض راويان د قصې وايي چي دا اوښه چي به چو که سوه ميل په ميل کي مربع مځکه يې ونيوله. قصه خورا اوږده ده په مختصره تو گه صالح ﷺ ورته وويل: ولا تمسوها بسوء، تاسي دې اوښي ته ضرر ونه رسوئ يعني مړه يې نه کړئ، نو دوی يعني ثمود يانو په مشرۍ د قذار بن سالف هغه اوښه په ډېرو کسانو مړه کړه جونگي يې ميدان کړه صالح ﷺ خلکو ته وويل چي جونگی يې راګير ځوئ، خو جونگي تر هغه غره پوري ځان ورساوه درې ناري يې وکړې بيرته په هغه غره ننوتی، کريمه: فعقروها دوی اوښه مړه کړه فاصبحوا نادمين فقال لهم صالح تمتعوا في داركم ثلثة ايام ذالک وعد غير مکذوب، نو خدای نجات ورکړی سره د څلور زره (۴۰۰۰) مؤمنانو، کريمه: واخذت الذين ظلموا الصيحة يعني جبرئيل يوه نعره پر وکړه، کريمه: فاصبحوا في ديارهم جاثمين، مړه چي پر زنگنو يې لاسونه ايښي وه له بيري څخه د نعرې د جبرئيل.

سوال: ايوبي ته د قرآن کريم آيتونه راوړې او ترجمه يې نه کوې؟
ځواب: ددې آيتو ترجمه په وړاندي جلدو کي د تفسير ايوبي تېره سوې ده.

وَعَادٌ وَّفِرْعَوْنُ وَاِخْوَانُ لُوْطٍ ﴿۱۳﴾

درويش وايي: چي "عاد" د يو قوم نوم دی چي کافران وه خدای دوی ته نبي هود ﷺ ؤ چي د دوی هم نسب ؤ راواستاوه، او عاد ته يې تنوين ورکړی لانه منصرف يو علميت پکښې سته، تانيث نسته ور سره لانه بمعنی القوم دون القبيلة لکه په ثمود کي چي قريبًا د مخه تېره سوه چي ثمود غير منصرف دی للعلمية والتانيث باعتبار تاويله بالقبيلة.

سوال: دا دوه اعتباره خو په هر يوه کي د ثمود او عاد جاري دي نو ولي په ثمود کي تانيث معتبر کي بتاويل د قبيلة چي غير منصرف سو کما مر او په عاد کي يې تانيث معتبر نه کړی بلکې په تأويل د قوم يې وګرځاوه چي منصرف سو يعني په تنوين سره يې ووايه؟

ځواب: دا تغاير مبني دی پر لسان العرب باندي ولا مناقشة علی اللسان ومعنی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الآیة کذب عاد المرسلین (جمعیت د مرسلین آنفا تېر سو) کریمه: اذ قال لهم اخوهم (في النسب لا في الدین) هود الا تتقون اني لکم رسول آمین فاتقوا الله واطیعون، هغو پر خپل کفر او شرک دوام وکړی یعني ایمان یې رانه وړی، کریمه: فاهلکوا بریح صرصر عاتیة (په ډېر تند باد سره چي د ملکو تر کنټرول وتلی ؤ) کریمه: سخرها علیهم (ریح مؤنث سماعي دی ځکه یې ضمیر د مونث ورته راجع کړی) کریمه: سبع لیالي وثمانیة ایام (د اتو ورځو په مابین کي اووه شپې راغي) کریمه: حسومًا (پرله پسې) کریمه: فصاروا صرعی (ای هلاک شده) کریمه: کانهم اعجار نخل خاویة (لکه تنې د درختي د خورما چي له بېخه وخېژي) تشبیه یې د خورما د درختي سره په اعتبار د طول قامت د دوی ده.

"وفرعون" یعني وقومه چي عمالقه یې بلل، چي موسی ؑ او دده ورور هارون ؑ خدای ؑ نبیان ورته راواستول، کریمه: وقال اذهب الی فرعون انه طغی فقل هل لک (ای رغبة) الی ان تزکی واهدیک الی ربک فتخشی.

پوښتنه: فرعون ته رسول خو دوه وه موسٰی ؑ او هارون ؑ چي د ده ورور ؤ نو په قل اذهب کي او په اهدیک کي چي متکلم واحد د مفرد ضمیر چي یوازي و موسی ته راجع دی ولي یې راوړی؟

ځواب: اصل رسول خو موسٰی ؑ ؤ او هارون ؑ پر منزله د وزیر ؤ چي موسی ته چي نبوت ورکړه سو داسي خواست یې وکړی واجعل وزیرًا من اهلی هارون اخی آه، کریمه: فاراه الآیة الکبری (التي هی العصا) کریمه: فاذا هی حیة تسعی وادخل یده في جیبه یخرج بیضاء من غیر سوء (یعني لیس) ایة اخری فکذب وتولی وقال انا ربکم الاعلی فاوحی الله الی موسی ان اسری بعباده لیلا واضرب بعصاک البحر (فانفلق) فکان کل فرق کالطود العظیم، نو بیا موسی ؑ په کچو کي د بحر پرې ایستل بني اسرائیل پس نجات ورکړی خدای عزوجل و موسی او بني اسرائیلو ته کریمه: فاتبعهم فرعون وجنوده فغشیهم من الیم ما غشیتم فلما ادرکه الغرق قال امنت انه لا اله الا الذي امنت به بنوا اسرائیل وانا من المسلمین (فقال الله تعالی) کریمه: الآن وقد عصیت من قبل وکنت من المفسدین فالیوم نحیک ربک ببدنک لتکونن اية لمن خلفک آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"واخوان لوط" او قوم والا ؤ د لوط"يعني كذبوا المرسلين، كريمه: اذ قال لهم اخوهم لوط الا تتقون اني لكم رسول امين فاتقوا الله واطيعون اتأتون الذكران من العالمين (يعني باللواطة) وتذرون ما خلق لكم ربكم (يعني من النساء الزوجات) كريمه: بل انت قوم عادون (اى من الحلال اى الحرام ته تجاوز كوئ) قالوا لئن لم تنته يا لوط لتكنن من المخرجين قال اني لعملكم من القالين (اى المبغضين للواطة) كريمه: فانجاه الله واهله الا امرأته كانت من الغابرين (اى باقين في العذاب) فامطرنا عليهم حجارة من طين (چي د ختو وي او په اور پخې سوي وي).

وَأَصْحَٰبُ ٱلْأَيْكَةِ وَقَوْمُ تُبَّعٍ

او تكذيب د رسولانو يې وكړى د ايكة خلكو، چي يو لوى پراخه ځنګل ؤ د درختو او نبي يې شعيب ؑ ؤ، چي وه يې ويل دوى ته، اخوهم يې نه وو ايه لكه په د مخه انبياؤ كي چي به يې ويل لان شعيب لم يكن من قومهم "اني لكم رسول امين" فاتقوا الله واطيعون الى اخير القصة المشهورة كما في آخر من القرآن العزيز.

"وقوم تبع" دا عطف دى پر ماقبل يعني كذبت قبلهم قوم نوح آه، فالمعنى كذبت قبلهم قوم تبع.

پوه سه: چي اسناد د تكذيب يې و قوم ته د تبع وكړى لان التبع كان مؤمنًا بالاتفاق وقومه كفارًا، البغوي" وايي قال قتادة" هم بنوا الحميري وكان ملوك اليمن د خپل لښكر سره راروان ؤ او د الحيرة ښاريې جوړ كړى او د سمرقند ښاريې هم جوړ كړى دى، دى چي يې تبع باله لكثرة اتباعه وعساكره د يمن بادشاهان هريو تبع بولي لانه يتبع صاحبه د تبابعه قصې ډېري دي چي د ټولو بيانول به طول ته مفضي سي خو دا وسنى چي اخير د تبابعه وو ؤ نوم يې ابو كرب (دا يې اسم كنيه ؤ) اسعد بن مليك بن يكرب ؤ، ابن اسحاق وايي ان تبع بن الحسان الحميري تبع اول دى الذي ملك الارض كلها شرقها وغربها، وروسته تبع د مكې د خوني د كعبې مباركي د نړېدو له لټه كي سو چي سبب يې راويان داسي بيانوي چي بني هذيل چي يوه قبيله وه د عربو هغو تبع ته وويل چي د كعبې تر خونه لاندي يوه خزانه ده چي مونږ ته په تاريخ كي معلومه ده، نو كه ته د كعبې خونه ونړوې نو هغه خزانه چي هم سره زر او نور قيمتي جواهرات پكښي سته ستا د مملكت به لويه سرمايه وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: دا نو دوی رښتيا ورته ويل؟
ځواب: دوی دروغ ورته ويل قصد يې دا ؤ چې هر چا چې د کعبې مبارکې د نړولو قصد وکړی هغه خدای خرابوي چې سورة الفيل يې په قرآن کريم کې شاهد دی "الم تر کيف فعل ربک باصحاب الفيل" الی اخير السورة، نو د هذيل د قبيلې دا غرض ؤ چې د تبع د ستوت او غلبې څخه به خلاص سو، او بل سبب دا بيانوي چې تبع چې به پر هر ښار ورغله د ښار خلکو به يې استقبال کاوه او دده اطاعت به يې کاوه، او اهل مکه داسې ونه کړه، تبع بوزير خود گفت که اين چه شهر است وچه قوم اند که در خدمت وطاعت ما تقصير نمودند باوجودی آنکه جهانيان سرهای خود بر خط طاعت ما نهاده اند، وزير گفت که ايشان را خانه است که اورا کعبه گويند، مگر دوی د هغې خونې په سبب تکبر کړی دی چې ستا په خدمت کې حاضر نه سوه، د تبع په زړه کې دا وه چې خونه به نړوې او نران دد ې ښار به وژنم او ښځې به يې په حصارت څنې بيايم، هنوز تبع اين انديشه تمام نکرده بود که رب العزت اورا بدرد سر مبتلا نمود تا که او طاقت آن درنماند واب بدبوی از چشم وگوش وبينی وی کشاده شد که هيچ کس بنزديکی او قرار نبود يعنی از بد بويی آن آب روان از بينی و گوش و دهان طبيبان که همراه او بودند همه و همه از معالجت وی عاجز گشتند.
گفته که بيماری او از چهار طبع بيرون افتاده يعنی دموی، صفراوی، بلغمی و سودايی، وروسته يو ډېر پوه سړی ؤ وربانديې راغلی او ورته وه يې ويل ايها الملک ته د زړه حال و ماته ووايه زه دد ې درد دوا کولای سم، تبع ورته وويل چې زما په زړه کې دا وه چې دا خونه به نړوم او نرېې وژنم او ښځې به يې په حصارت بيايم، دانشمند گفت زينها رای ملک اين انديشه مکن وازين نيت برگرد وتوبه کنيد که اين خانه خدای قادر است، که آنرا بحفظ خويش ميدارد وهر که قصد خراب اين خانه کند دمار از وی برآرد، تبع پند را قبول کرد وازآن قصد که در دل داشت توبه کرد فوراً همه دردها که ملک درسر و بشر ودهان وغيره داشتند رفع و دفع شدند، وتعظيم خانه خدا و اهل مکه بجا آوردند وايمان آورد بدين ابراهيم ﷺ، او هغه قوم د هذيل چې تبع ته يې شيطانت کړی ؤ تر کعبې لاندې يې د هغو لاسونه ورپرې کړه او پښې يې

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

هم وړېږي کړې او په ستر ګو يې تاو ده مبخونه ورچخ کړه بيا يې په دار کړه او تبع په شعب البطائح کې واړول (چې د يوې فراخې شېلې نوم دی) او د مکې مکرمې خونې کعبې شريفې دروازه نه درلوده دروازه يې پکښې کښېښول او بيت الله الشريف ته يې ليک داره کشميري پوښ ورکړی وهو اول من کسی البيت او تبع شپږ ورځې د مکې په ښار کې تيرې کړې او هر ورځ يې زر زر اوښان خيراتول.

درويش وايي: چې تبع په دين کې د يهودانو داخل سوی دی، او قصه يې پر بله وول بيان کړې ده، والله اعلم، راويان د صحيح قصې وايي: چې وروسته د مکې تر قيام تبع راهي سو د يثرب پر خوا چې د مدينې منورې پخوانی نوم دی، ودرآن وقت شهر وبناهای نبوده يک چشمه آب بوده وتبع لشکر خود بسر آن چشمه فرو آوردند راويان د قصې وايي چې د تبع سره تقريبًا دوه زره تاريخ پوهان ورسره وه چې په تاريخ قديم کې دوی ليدلي وه چې په نامه د يثرب د عربو او يهودو په مځکه کې دار الهجرة د نبي اخير الزمان به وي او ځای د نزول د قرآن به وي څلور سوه کسه چې په دوی کې عالمتر او فاضلتر وه يو د بله يې سره وويل چې دا د يثرب ځخه به موږ مفارقت نه کوو، شايد امکان سته چې موږ به نبي اخير الزمان ﷺ ووينو يا زموږ زامن يا لمسيان ثم وثم دی ووينې، دا موضوع دا څلور سوه دانشمندانو و تبع ته عرض کړه تبع منظور کړه، او امر يې وکړی چې څلور سوه سرايونه دې بناء سي چې د هر عالم سرای جلاوي او د تبع سره ورسره مينځيانې څلور سوه يې ازادې کړې او هر عالم ته يې يوه په نکاح ورکړه او تبع دوی ته وصيت وکړی چې تاسې دلته په يثرب کې اوسېږئ، راويان د قصې وايي چې انصار رضی د مدينې منورې له نسل ځخه د دغو څلور سوو عالمانو دي، او تبع په خپله يو مکتوب نوشته کړی چې مضمون يې داسې ؤ: ای پيغمبر اخير الزمان ای برگزيده خداوند جهان ای هغه نبي چې په ورځ د قيامت شفاعت کوونکی د ګناه کارانو يې، زه پر ملت ستا يم او ستا د نيکه ابراهيم يم، زه که تا ووينم او که دې نه ووينم ما مه هېروه په ورځ د قيامت او پر کاغذه يې زرين مهر ولګاوه او پر مهر داسې نوشته وه: لله الامر من قبل ومن بعد يومئذ يفرح المؤمنون بنصر الله او پر لفافه داسې نوشته کړه الى محمد بن عبد الله خاتم النبيين و رسول رب العالمين ﷺ من تبع امانة الله في يد من وقع الى ان يوصله الى صاحب وابو ايوب الانصاري رضی الله عنه چې عليه الصلوة والسلام د ده کور ته کښته سو يعني په ورځ کې د هجرت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د فرزندانو څخه د هغه عالم ؤ چي تبع ته يې نصيحت کړی ؤ تا چي خدای تبع د هغه ناجوړی څخه جوړ کړی کمامر، ابو ايوب ﷺ د تبع خط و عليه الصلوة والسلام ته ورکړی عليه الصلوة والسلام وعلي ته ورکړی چي وو ايه هغه چي وو ايه خبري د تبع عليه الصلوة والسلام واورېدلې او تبع ﷺ ته يې دعاء وکړه.

درويش وايي: چي ابو حاتم رقاشي څخه حکايت کوي چي دی وايي چي ابو کرب اسعد الحميري من التبايعة في اليمن آمن بالنبي ﷺ قبل ان يبعث بسبع مائة سنة (٧٠٠) کاله د مخه، او سيدتنا و امنا عائشة ﷺ ووېل لاتسبوا تبعًا فانه کان رجلاً صالحًا، سعيد بن جبير ﷺ وايي چي تبع الحميري اول سړی ؤ چي پر کعبه شريفه يې پوښ واچاوه، روی البغوي بسنده عن سهل بن سعد قال رسول الله ﷺ لاتسبوا تبعًا فانه قد اسلم.

كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيدِ ﴿١٤﴾

ای کل واحد او کل قوم، په "کل" کل تنوين عوض د مضاف اليه دی.

پوه سه: چي افراد د ضمير په کذب کي په اعتبار د لفظ د کل دي چي مفرد دی او رسل يې په صيغه د جمع راوړی لان تکذيب الواحد منهم تکذيب الکل لاشتراکهم في العقائد "فحق وعيد" يعني وجب عذابي الموعود وکل ذالک يحل (حلول کوي يعني نزول کوي بهؤلاء الکفار مکذبي الرسل)

أَفَعَيِينَا بِالْخَلْقِ الْأَوَّلِ ۚ بَلْ هُمْ فِي لَبْسٍ مِّنْ خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٥﴾

رد دی پر مشرکينو چي د بعث بعد الموت څخه منکر دي. په قاموس کي وايي: عي عن الامر عجز عنه.

فائده: الهمزة للانکار على العجز والعي والفاء للعطف والتعقيب، وهذه الآية لکه مضمون قوله تعالى افلم ينظروا الى السماء کيف بنيناها الآية، والحاصل بنينا السماء بلا فروج ومددنا الارض والقينا فيها رواسي وانزلنا من السماء ماء وانبتنا فيها ما ذکر من قبل فلم نعيى بخلقها الاول لکه چي کفار يې ويني او اقرار هم په کوي فکيف نعي بالاعادة بعد الموت والحال ان اول الخلق ليس باهون من الاعادة فما للکافرين حيث ينکرون الاعادة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"بل هم في لبس" بلكې كفار په شک او شبه كي دي (بلكې په شديد انكار كي دي) د نوي خلقت څخه، قال رسول الله ﷺ يقول الله تعالى كذبني ابن آدم (خداى پاک وايي، د دروا غو نسبت وكړي ماته انسان او ده ته زما دا تكذيب نه ښاييدى) وشتمني ولم يكن له ذالک، اما تكذيبه اياى فقوله لن يعيدني كما بدءني وليس اول الخلق باهون من الاعادة، واما شتمه اياي فقوله اتخذ الله ولدًا (اى عيسى والملائكة) وانا الله احد الصمد الذي لم الد ولم اولد ولم يكن لي كفوًا احد، رواه البخاري، وترجمة الحديث ظاهرة ان شاء الله تعالى.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ نَفْسُهُ ۖ

لام موطئه د قسم محذوف دى، او په تحقيق موږ پيدا كړى دى انسان، او موږ خبريو او علم لرو دده پر پټو خبرو چي وسوسه وراچوي په خير و شره نفسه يعني تكلم نه په وكړي.

بوه سه: چي اكثر استعمال د وسوسه په امور كي د شر او د ګناه او د الهام استعجال په كارو كي د خير دى.

بوه سه: چي وسوسه صوت خفي ته وايي، والمراد ههنا هغه خبره د شر ده چي د سړي په زړه كي ور وګرځي.

فائده: كلمه د ما موصوله ده والهاء زائدة ولي چي توسوس په خپله متعدي دى، والضمير في به عائد الى ما الموصولة ولي خالق د انسان او د وسوسو خداى ﷻ دى.

وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ ﴿١٦﴾

او موږ نژدې يو و انسان ته يعني په اعتبار د علم پر احوالو دده، حبل دلته په معنى د رګ دى، واضافة الى الوريد بيانية من قبيل شجرة الاراک ويوم الجمعة تو له جمله د نحن اقرب آه حال من فاعل خلقنا.

بوه سه: وريد يو رګ دى چي په زړه پوري متصل دى چي هر وخت چي هغه قطع سي سړى مري او وريدان دوه دي چي پر يوه او بله خوا دي د غاړي او ورده پر اته دي د مخ پر خوا متصلان دي په وريد رګ پوري راشوه سوي دي له سر څخه، وريد يې په دې بولي چي روح په دوى كي راځي.

بوه سه: چي حبل الوريد كنايه ده له نهايت قرب څخه، شيخ سعدي وايي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوست نزدیکتر زمن بمنست وين عجب ترکه من ازو دوام
چه کنم باکه توان گفت که او بامن ومن مهجورم

إِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيَانِ عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيدٌ ۝

ظرف لقوله ونحن اقرب آه.

پوه سه: چي مفعول د يتلقى محذوف دى يعني دده خبري او عمل اى يأخذان له ملتقيانو څخه مراد هغه دوې ملكي دي چي كرام كاتبين يې بولي چي د هر انسان ښه او بد نوشته كوي "عن اليمين وعن الشمال" پر راسته طرف چي كاتب الحسنات ملكه ده او پر چپه طرف چي كاتب السيئات ملكه ده.

پوه سه: چي عن اليمين او معطوف پر هغه متعلق دى په قعيد پوري او مراد له قعود څخه مراد ضد د قيام نه دى.

فائده: قعيد پر وزن د فعيل دى په معنى د فاعل دى لكه جليس په معنى د المجالس، او قعيد په معنى د لازم دى يعني دا دوې ملكي د انسان سره لازم دي د مرګ تر وخته پوري.

پوښتنه: قعيد خو مفرد دى نو پر ملكين چي دوې دي څرنګه يې حمل صحيح كيږي؟

ځواب: بعض مفسرين وايي چي د فعيل پر يوه او پر ډېرو اطلاق صحيح دى كما في قوله تعالى "والملائكة بعد ذالك ظهير" چي ملائكه جمع دى او ظهير مفرد دى، او بعض علماء وايي چي اصل د كلام داسي وُ، عن اليمين قعيد وعن الشمال قعيد فحذف الاول لدلالة الثاني عليه.

فائده: په دې آيت كي اشاره ودې ته ده چي خداى "كه څه اقرب تر حبل الوريد دى لكن دا دوې ملكي يې د انسانانو د ښو عملو او بدو عملو لپاره ورسره كړي دي لپاره د يو حكمت چي الزام الحجت پر انسانانو دى په ورځ د قيامت كي ورنه خداى عزوجل په داسي كارو د انسانانو خبر دى چي دا ملكي په هغو كارو نه دي خبري لانه تعالى يعلم ما في الصدور.

مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ۝

اى لا يلفظ الانسان من فيه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي من زائد دی او قول مفعول به دی د یلفظ والتقدیر لا یلفظ قولاً "الا لدیه" په نېږد دهغه "رقیب" دی ملک منتظر تاچي په عمل نامه کې یې نوشته کړي "عتید" ای حاضر معه.

فائده: استثناء مفرغ ده صفت لقول، والتقدیر ما یلفظ من قول في حال من الاحوال الا لدیه رقیب.

فائده: الحسن" وايي چي په دوه حاله کي ملکي له انسان څخه ګوښه کېږي. یو په حال کي د قضاء حاجت او بل په وخت کي د جماع، او مجاهد" وايي چي هر شی د انسان ملکي نوشته کوي حتی چي د مرض په وخت کي ځګېروی کوي، او عکرمه" وايي چي ملکي نه نوشته کوي مګر هغه قول یا فعل چي ثواب یې پکښي وي یا عذاب یعني امور مباحه نه نوشته کوي، روایت کړی دی بغوي" عن ابی امامة" قال قال رسول الله ﷺ کاتب الحسنات علی یمین الرجل (ای والانثی) وکاتب السیئات علی یسار الرجل (ای والانثی) وکاتب الحسنات امیر علی کاتب السیئات فاذا عمل حسنة کتبها صاحب الیمین عشراً (بدون المشورة کاتب الیسار) واذا عمل سیئة قال صاحب الیمین لصاحب الشمال پرې یې ږده یعني مه یې نوشته کوه تر اووه ساعته پوري لعله یسبح ویستغفر.

درویش وايي: چي تصریح یې په انثی و نه کړه لان النساء تبع للرجال في کثیر من احکام القرآن الا ما یختص بهن کالحیض والنفاس وغیرهما.

وَجَآءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ۖ

او راغله سختي د مرګ، مراد ځني شدت دی چي د سري عقل زائلوي له دې سببه یې تعبیر په سکرة ځني وکړی استعارةً، ولي چي مسکر لکه خمر چي سړی وخیښي عقل یې زائلېږي.

پوه سه: چي جاء وجائت ونفخ وکشفنا کله څه هم مستقبل دي تعبیر یې په ماضي وکړی لیتقن وقوعها "بالحق" کلمة الباء اما للتعدیة کما في قولک جاء الرسول بالخبر، فالمعنی حضرت الموت وحضرت سکرة الموت بحقیقة الامر الذي نطق به کتاب الله، کریمه "کل نفس ذائقة الموت" او بحقیقة الحال من سعادة المیت وشقاوته او یا کلمه لپاره د ملابست ده کما في قوله تعالی في صفة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الزيتون تنبت بالدهن اى متلبسة بالدهن، والمعنى ههنا متلبسة بحقيقة الامر او بالحكمة. او يا مراد له حق څخه موت و مابعده من البعث والجزاء بالجنة او النار.

حکایت: يو سړى عمر ﷺ ته دده د خلافت په وخت کي راغلى، فقال اني احب الفتنة واكره الحق واشهد بما لم اره، عمر ؓ دى بندي کړى ولي چي ظاهر د خبرو د هغه خلاف الشرع وه، نو دا قصه و حضرت علي ؓ ته ورسېده، فقال: يا عمر حبسته ظلمًا دا سړى تا په ظلم بندي کړى دى، عمر ؓ ورته وويل: و كيف ذالک؟ علي ﷺ ورته وويل لانه يحب المال والولد، وقال الله تعالى انما اموالكم و اولادكم فتنة، ويكره الموت وقال الله تعالى وجائت سكرة الموت بالحق ويشهد بالله انه واحد ولم يره، نو هغه سړى يې د ډېر عذر ويولو وروسته د عمر ؓ له بنده ازاد کړى، او عمر ؓ دا وويل لو لا علي لهلک عمر.

ذٰلِكَ مَا كُنْتَ مِنْهُ تَحِيْدُ

اشارة الى الحق بمعنى الموت او الجزاء "ماكنت" ايها الانسان "منه تحيد" يعني تېښتېدې د هغه څخه يعني موت دي نه خوښاوه.

درويش وايي: چي که مراد له انسان څخه کافر وي خو دا تولي خبري پر حقيقت دي، او که لپاره د جنس وي نو دا په اعتبار د اغلب افرادو دى. قال المولوي المعنوي في المثنوي:

بس رجال از نقل عالم شادمان وزبقايش شادمان زين کودکان

حکایت: بعض اولياء الله ته په وخت کي د زکندن عزرائيل ؑ ځان ورښکاره کړى هغه دا سي ورته وويل:

پيش تر آ پيش تر آجان من لبيک درحضرت سلطان من

وَنُفِخَ فِى الصُّوْرِ ذٰلِكَ يَوْمُ الْوَعِيْدِ

او پوه به کړل سي په صور کي د اسرافيل ؑ (اى نفخة البعث) "ذالک" يعني وقت ذالک النفخ لان ذالک اشارة الى النفخ والمضاف محذوف كما قلت ليصح حمل يوم الوعيد عليه "يوم الوعيد" يعني يوم تحقق الوعيد چي رسولانو به کفارو ته وويل يعني په ورځ د عذاب د کفارو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَجَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَآئِقٌ وَّشَهِيدٌ ﴿٢١﴾

او رابه سي هر نفس يعني كه مؤمن وي او كه كافر وي په داسي حال كي چي دده سره به ورسره وي، سعيد بن منصور او عبد الرزاق او ابن جرير وابن ابى حاتمؒ په خپلو تفاسيرو كي د عثمان بن عفانؓ څخه په تفسير كي دد ې آيت داسي وويل: سائق يسوقها الى امر الله تعالى وشهيد چي شاهدي اداء كوي پر عمل د هغه نفس.

لَّقَدْ كُنتَ فِى غَفْلَةٍ مِّنْ هَٰذَا فَكَشَفْنَا عَنكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ ٱلْيَوْمَ حَدِيدٌ ﴿٢٢﴾

ته وې، اى كافره (باضمار القول اى يقال له) په غفلت كي له دغه عذاب څخه دد ې ورځي (يعني منكر وې وانكارك عن البعث بعد الموت) موږ ايسته كړه پرده د غفلت ستا له سترګو څخه يعني پرده د غفلت له امورو څخه د آخرت چي ته په شهواتو كي غرق وې او د هغو شهواتو سره دي الفت ؤ، او د رسولانو چي مؤيد بالمعجزات به وه پر هغو به دي غوږ نه نيوه چي په ټن پسي سبا سته، او دا قول د خدایؒ ستاسي په باره كي نازل سوى دى: ختم الله على قلوبهم وعلى سمعهم وعلى ابصارهم غشاوة. وقوله كلا بل ران على قلوبهم وقوله وفي اذانهم وقر.

"فبصرك اليوم حديد" نو ستا سترګي ايها الكافر ننه ورځ تېزې دي هر شى چي په دنيا كي ځني منكر وې هغه به وينې.

وَقَالَ قَرِينُهُۥ هَٰذَا مَا لَدَىَّ عَتِيدٌ ﴿٢٣﴾

او ووايي هغه ملكه چي په دنيا كي دده سره ملګرې وه دغه د دنيا كافر زما په نيز حاضر دى.

پوهه: چي هذا اشاره يا و شخص ته ده كما مريا و ديوان او عملنامې ده ده.

أَلْقِيَا فِى جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيدٍ ﴿٢٤﴾

واچوئ (خطاب من الله عزوجل للسائق والشهيد او للملكين من خزنة النار اويا خطاب و يوې ملكي ته.

سوال: القيا خو تثنيه ده يعني فاعل يې مثنى نه دى؟

ځواب: تثنيه د فاعل لپاره د تاكيد دى لكه تثنيه د فعل چي لپاره د تاكيد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راتلای سي "عنید" هر لوی کافر چي معاند د حق به وُ په دنیا کي، کفار صیغه د مبالغې ده، او عنید فعیل دی په معنی د مفعول دی.

مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ مُّرِيبٍ

چي منع کونکی به وُ د مال یا زکوة مفروضه یا نور واجب په مال کي دده کنفقة ذی الرحم المحرم الفقیر یا شل یا ړوند وغیره "معتد" ظالم وي چي توحید ته خدای یې غاړه نه ایښوول "مریب" چي شک به یې وُ په خدای کي یا في دینه.

الَّذِي جَعَلَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ فَأَلْقِيَاهُ فِي الْعَذَابِ الشَّدِيدِ

هغه څوک چي ګرځول به یې په دنیا کي د خدای عزوجل سره اله یعني معبود لکه مشرکین د مکې یا مشرکین د ټولي نړی، نو واچوئ دغه کسان په عذاب سخت کي د جهنم، توجیه د القیا انفا تېره سوه.

قَالَ قَرِينُهُ رَبَّنَا مَا أَطْغَيْتُهُ وَلَٰكِن كَانَ فِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ

وویل ملګري دده (له قرین څخه مراد ملک مؤکل به دی. کذا قال ابن عباس رض وسعید بن جبیر ومقاتل، سعید بن جبیر وایي چي دا خبره ملک هلته کوي چي کافر ووایي رب ان الملک زاد علی في الکتابة فیقول الملک) "ربنا ما اطغیته" یعن یما یې نسبت و کفر او طغیان ته نه دی کړی یعني دی په خپل اختیار طاغي وُ "ولکن کان في ضلال بعید" لکن دی په خپله په ضلال کي وُ چي بعید له حق څخه وُ، او بعض مفسرین وایي چي مراد له قرین څخه هغه شیطان دی چي دده ملګری وُ یعني کافر ووایي چي زه ګمراه کړی وم زما شیطان، نو شیطان ووایي ربنا ما اضللته ولا اغویته لکن کان في ضلال بعید البتة ما څه کومک ورسره و کړی، ولي چي اغوا د شیطان په هغه چا کي تاثیر کوي چي ناپوه وي مائل و فجور ته وي، کما قیل حکایة عن قول الشیاطین ماکان لي علیک سلطان الا ان دعوتکم فاستجبتم لي فلا تلوموني بل لوموا انفسکم.

قَالَ لَا تَخْتَصِمُوا لَدَيَّ وَقَدْ قَدَّمْتُ إِلَيْكُم بِالْوَعِيدِ

ووایي (یعني الله عزوجل وایي) زما په حضور کي چي موقف د حساب دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاسي دعوى يو پر بل مه سره كوئ چي يا كافران وو وايي چي ملكو پر موږ ظلم كړى دى ناحقه شيان يې راپسي نوشته كړي دي حتى چي ملكي ربنا ما اطغيته آه (موږ طغيان نه دى كړى چي په دوى پسي مو ناحقه شيان نوشته كړي وه) يا كافران وو وايي چي موږ خو شيطانانو خطا يستلي ؤ حتى شيطانان دا وو وايي ربنا ما اطغيته آه "وقد قدمت اليكم بالوعيد" ما تاسي ته د مخه خبر د وعيد دركړى ؤ يعني په دنيا كي په كتابو كي خپل او پر ژبه د رسولانو، نو اوس تاسي كوم حجت نه لرئ چي ځانونه له عذابه خلاص كړئ چي كاهي په ملكو پوري دروغ غوټه كوئ او كاهي د كفر و شيطانانو ته نسبت كوئ.

مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ وَمَا أَنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿٢٩﴾

نه بدلېږي هغه قول چي ما كړى ؤ زما په نيز په قيامت كي (چي هغه قول دا دى: ان الله لا يغفر ان يشرك به ويغفر ما دون ذالك لمن يشاء، نو تاسي مشركان د بخښني د شرك طمع مه كوئ په اعذار كاذبه ؤ سره) او نه يم زه ظلم كونكى پر بندګانو باندي چي زه دي د كفر عذاب ناحقه چا ته وركړم.

سوال: ظلام صيغه د مبالغي ده نفي د مطلق ظلم د خداى څخه نه كوي؟

ځواب: دا صيغه دلته لپاره د نفي د مطلق ظلم ده.

پوښتنه: نو خداى عزوجل صيغه د مبالغي ولي راوړه؟

ځواب: دا تعريض دى پر كفارو چي ظلام تاسي ياست چي د خالق السموات والارض سره مو بتان جمادات په عبادت كي شريك كړي وه، كما قال الله عزوجل بل اؤلئك هم الظالمون.

يَوْمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَأْتِ وَتَقُولُ هَلْ مِن مَّزِيدٍ ﴿٣٠﴾

هغه ورځ چي موږ وو وايو دوږخ ته چي آيا ته ډک سوې، ظرف دى د ماقبل څخه يا منصوب په اذكر سره دى.

درويش وايي: چي چونكه خداى عزوجل وعده كړې وه "انه ليملأن جهنم من الجنة والناس" فهذا سوال د خداى له جانبه څخه دى لتصديق خبره وتحقيق وعده "وتقول" اى جهنم (مؤنث سماعي دى) عطاء، مجاهد او مقاتل وايي چي "هل" استفهام انكاري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی یعني امتلئت نو نور ځای په ما کي نشته یعني لایتصور المزید من الامتلاء.

سوال: جهنم پر دې تقدیر چي په ما کي نور ځای نشته، خبري يې ولي اوږدې کړه خو داسي کافي وه چي لا؟

ځواب: جهنم چي دا خبره وکړه تأدبًا مع الله سبحانه وتعالی او بل ددې لپاره چي جواب مطابق د سوال سره سي.

درويش وايي: چي په دې کي اختلاف دی د علماؤ چي دا سوال او جواب د خدای پاک او د جهنم تر مابين محمول پر حقيقت دي او ځرنګه بعض علماء وايي چي آيت محمول دی علی منهاج التمثيل والتخيل د تهويل د امر د جهنم يعني چي خلګ او کفار له جهنم ځخه وبېرېږي يعني کافران د انس او جن. والحق عند اهل الله چي دا سوال او جواب محمول پر حقيقت دی يعني خدای عزوجل په دوږخ کي د نطق توان اينبی دی کما ينطق الجوارح والاعضاء بالمعاصي علی صاحبها فان الله علی کل شيئ قدير، او دا مسلم عند الکل ده چي امور د آخرت کلها او جلها علی خلاف امور الدنيا، وقد دلت الاحاديث علی تحقيق الحقيقة فلا وجه للمعدول الی المجاز والتمثيل کما ثبت في الاحاديث چي دوږخ هجوم او حمله کوي پر کافرانو او ملائکه يې په ځنځيرانو کشوي، او دا هم په حديث شريف کي راغلي دي چي مؤمن چي پر پل صراط تېرېږي دوږخ ورته وايي: جز يا مؤمن فان نورک اطفاء لهبي، تېرېږه ای مؤمنه ولي ستا نور د ايمان زما لمبې را وژني ونحو ذالک مما يدل علی حياتها ای جهنم عند الله وادراکها بل ان مطلق الجمادات لها تلک الحيوة کما تشهد الحجارة الصغيرة في يد ابی جهل بنبوة ﷺ.

درويش وايي: چي مظهري له بخاري او مسلم ځخه يو حديث را نقل کړی دی چي په هغه کي بعض متشابهات الفاظ سته. او دې ته يې هم اشاره نه ده کړې چي دا د متشابهاتو ځخه دي نکل علمه الی الله تعالی، او تأويل متأخرينو يې هم نه دی ذکر کړی، او په ظاهري ترجمه سره يې مجسمه استدلال وايي يعني چي خدای جسم دی پښې لري لاسونه لري، دلته هغه ټول بالتفصيل نسي ذکر کېدای ځکه چي سبب د درد سر ګرځي و متعلمينو ته د تفسير ايوبي او يا به څه ناڅه شک په جهت کي د خدای عزوجل پيدا سي. فلذا ترکنا ذکره، وقد ورد کلموا الناس علی قدر عقولهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ ﴿٣١﴾

نژدې سئ (عطف دی علی نفخ) جنت د متقیانو لپاره، یعني متقي عن الشرک وسائر انواع الکفر، لفظ د غیر منصوب دی ای مکانًا غیر بعید او زمانًا غیر بعید.

هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيظٍ ﴿٣٢﴾

دغه (ای الثواب والازلاف) هغه شی دی چي ستاسي سره یې وعده کړل سوې وه (یعني په دنیا کي علی الایمان والعمل الصالح) "لکل اواب" بدل دی د من المتقین څخه باعادة الجار.

پوه سه: چي اوب رجوع ته وایي او اواب صیغه د مبالغې ده ای رجاع الی الله عما سواه ظاهرًا وباطنًا یعني لا کالمنافق، وقیل رجاع من المعاصي الی الطاعات، او سعید بن المسیب وایي چي گناه وکړي او بیرته توبه ځني وکاږي.

توبه کن امروز تو هرگز نه گو که فردا کنم
شاید بمیری صبحدم فردا نیابی در شمر

"حفیظ" یعني دائم الحضور لا یغفل عن الله طرفة عین (یو چشم زدن) او ابن عباس رض وایي: الحافظ لاوامر الله وفي روایة اخری عنه رض چي خپل په گنهو کي فکر وهي تا چي د ټولو څخه توبه وکاږي.

مَنْ خَشِيَ الرَّحْمَٰنَ بِالْغَيْبِ وَجَاءَ بِقَلْبٍ مُنِيبٍ ﴿٣٣﴾

هغه څوک چي د رحمن ﷻ څخه بېرېږي په غیاب کي په زړه مخلص سره مقبل علی الطاعة "بقلب منیب" بدل بعد البدل دی د متقین څخه.

پوه سه: چي مراد له غیبت څخه یا دا دی چي خدای یې نه دی لیدلی او ځني بېرېږي، او یا دا معنی ده په غیبت کي یې زړه دی ځني بېرېږي لا کالمنافق، او یا دا معنی ده چي په غیاب کي د خلکو ځني بېرېږي لا کالمرائي (ریا کار)

ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ ۖ ذَٰلِكَ يَوْمُ الْخُلُودِ ﴿٣٤﴾

داخل سئ و جنت ته (ادخلوها بتقدیر قول یعني یقال.) بسلام: والمعنی متلبسین بسلام یعني سالمین من العذاب ای عذاب النار او د ټولو غمو څخه او د زوال څخه د نعمت ای به سلام پر تاسي د ملکو د خوا، کریمه: سلام علیکم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فادخلوها خالدين يا د رب العالمين د خوا، کريمه: سلام قولاً من رب رحيم.

"ذالک" اشارة الدخول بتقدير المضاف اى وقت ذالک الدخول في الجنة.

سوال: خلود ددوی په جنت کي وروسته دی لا وقت الدخول؟

څواب: معنی د يوم الخلود داده اى مقدرًا خلودکم في الجنة کما في قوله تعالى: فادخلوها خالدين، نو په دې آيت کي خو خالدين حال دی له ضمير څخه د فاعل، نحات وايي چي دا حال مقدره دی، بخاري او مسلم د ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت کړی دی قال النبي ﷺ يدخل اهل الجنة الجنة واهل النار النار، بيا يو اعلان کونکی په مابين کي د جنت او دوږخ ودريږي او وايي: يا اهل النار لاموت (نو دوی ته زيات غم سي على غم) ويا اهل الجنة خلود بلا موت (فيزدادهم فرحًا على فرح)

لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ فِيْهَا وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ ۝

جنتيانو ته دی هغه شی چي د دوی خوښ وي او زموږ د خوا زيادت سته، نو مزيد مصدر ميمي دی يا شی زائد سته، نو مزيد صيغه د فاعل ده، مراد له مزيد څخه هغه نعمتونه دي چي د دوی يې په زړو کي تصور نه سوای کولای مما لاعين رئت ولا اذن سمعت ولا خطر على قلب بشر، عن ابى هريرة رضي الله عنه قال رسول الله ﷺ ان ادنى مقعد اهل الجنة منکم ان يقول له (اى المرب جل وعلا) تمن فيتمن ويتمن يعني مکرره تمنی وکړي، نو خدای عزوجل ورته ووايي چي تمنی دي ختمه سوه؟ بنده ورته وايي هو، نو رب تبارک وتعالى ورته ووايي لک ماتمنيت ومثله معه، رواه مسلم.

وقال جابر وانس رضي الله عنهما المراد بالمزيد النظر الى وجه الله الکريم.

درويش وايي: چي د مزيد په معنى کي مختلف روايات راغلي دي، خو تر ټولو مختار روايت يې دادی چي مزيد مراد رؤية د خدای دی کمامر وهو مذهب جابر وانس رض کما اخرج مسلم وابن ماجة عن صهيب رض عن النبي ﷺ. قال اذا دخل اهل الجنة الجنة يقول الله تبارک وتعالى تريدون شيئًا ازيدکم تاسي اراده لرئ چي زه يو شی درزيات کړم. دوی ورته ووايي چي زموږ مخان دي نه دي راسپين کړي او موږ دي نه يو داخل کړي وجنت ته، او موږ دي له اور څخه نه يو خلاص کړي، ددوی مطلب دا وي چي بالاتر مذکوره به نو بل زائد شی څه وي، قال فکشف الحجاب اى حجاب د کبريا، پورته کړي فما اعطوا شيئًا احب اليهم من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

النظر الى ربهم ثم تلى هذه الآية للذين احسنوا الحسنى وزيادة.

درويش وايي: چي د رؤيت د جمال رباني په باره کي د ابی بکر الصديق رض او ابن عباس او حذيفة بن اليمان او ابن مسعود رض څخه او د غه رنګه د ابن خزيمة او ابن مردوية عن ابی موسی الاشعري رض بلکي تر دي بالا روايتونه په مختلفو سندو راغلي دي او دا هم مذهب دی د اهل والجماعة کثرهم الله وخالفهم المعتزلة. قال الطوسي في کتابه التجريد ورؤية الله تعالى كما يزعمونه اهل السنة والجماعة باطل وروسته يې ډير دلائل نقليه (دده په زعم) او عقليه متشبثا باذيال الفلاسفة راوړي دي او اهل السنة والجماعة پر خپل وارد دلائلو د طوسي جواب ورکړی دی او پر مذهب د اهل حق دلائل عقليه او نقليه راوړی وتفصيل الكل لايليق بهذا التفسير چي مبني يې پر اختصار ده مهما امکن وان شئت التفصيل فطالع شرح العقائد وشرح المقاصد چي دواړه د علامه ثاني سعد الدين التفتازاني رح وكذالك كتاب المواقف للقاضي عضد الملة والدين وشرحه للسيد الجرجاني رح وكتاب الملل والنحل لعبد الكريم الشهرستاني رح لكن ندر وجوده في المطابع.

وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ هُمْ اَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا فَنَقَّبُوْا فِي الْبِلَادِ

لفظ د کم خبري مفيد د کثرت دی يعني ډير موږ هلاک کړي دي د مخه تر قوم ستا يا محمد ﷺ "من قرن" ای من اهل قرن (قرن سل کاله ته وايي) چي هغه اهل وه سخت او ډير تر قوم ستا په قوت کي لکه عاديان او ثموديان او فرعون وغيرهم، وفي القاموس نقب في الارض ای ذهب فيها لکه چي د انقب او نقب بالتشديد هم دغه معنی ده.

پوښتنه: باب د تفعيل د څه حکمت لپاره مختاره سو او مجرد يا باب د افعال نه راوړه سو؟

ځواب: په خواص الابواب کي د شافيه وايي چي باب د تفعيل غالبًا لپاره د تکثير وی نو دلته هم دغه معنی مناسبه ده ای ذهبوا في البلاد يعني ډير سفرونه يې کول په ښارو کي لپاره د سياحت يا تجارت، بعض مفسرين رح وايي په مځکه کي به ګرځېدی چي د کومي مځکي، ښار او قريې به ښه آب و هوا وي چي له مرګه پکښي خلاص سو. او بعض مفسرين وايي چي کلمه د فاء لپاره د سببيت ده فان شدة بطشهم سبب دی للتصرف في البلاد ولي چي د هيڅ چا څخه نه بېرېدی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هَلْ مِنْ مَّحِيْصٍ ﴿۳۶﴾

يعني نقبوا قائلين هل من محيص، وفي القاموس المحيص المهرب (ځاى د تېښتې من امر الله وعذابه او من الموت) والاستفهام للانكار يعني نشته ځاى د تېښتې:

نه بر بد رفتی سحر گاه وشام — سریر سلیمان علیه السلام
به آخیر ندیدی که برباد رفت — خنک آنکه باداش وداد رفت

حاصل دا چې اهل مکه عبرت وانه خلي او خپل شرک ته دوام ورکړي نو بايد وبېرېږي چې پر موږ به هم د قرون ماضيه ؤ ورته عذاب مسلط سي.... بيت:

پند گير از مصائب ديگران ..... تا نگيرند ديگران زتو پند

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ

يعني ما ذكر في قصصهم اوفي ما ذكر في هذه السورة من العبرة والاخبار وهلاک القرى "لذكرى" نصيحت او پند دى، د هغه چا لپاره چې ده لره زړه وي، که څه هم زړه خو هر انسان لري، لکن مراد له قلب څخه هغه زړه دى چې په عاقبت کي د امورو فکر وهي كما ورد في الحديث القدسي: لايسعني ارضي ولا سمائي (يعني پوره ادراک زما د شيانو او صفاتو نسي کولای اسمان او نه مځکه) ولكن يسعني قلب عبدي المؤمن چې صاف زړه وي له کدورات نفسيه ؤ څخه چې په اصطلاح د صوفيه ؤ يې فاني في الله بولي.

اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيْدٌ ﴿۳۷﴾

عطف دى پر صله د من چې کان دى يا غوږ ونسي و قرآن کريم ته او زړه حاضر وي ولو بتكلف لاتغافل، او يا معنى داده چې شاهد په صدق سره وي د قرآن کريم.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ۖ وَّمَا مَسَّنَا مِنْ لُّغُوْبٍ ﴿۳۸﴾

لام موطئه يعني جواب د قسم محذوف دى، په تحقيق سره موږ پيدا کړي دي اسمانونه (وما فيها من الشمس والقمر والنجوم) او مځکه او په ماين کي د اسمانو او مځکي (من كرة الهواء والصواعق والسحاب والبرق وغير مما لم يعلمه الا الله تعالى) په شپږ ورځي کي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: د مخه تر اسمانو او په وخت کې د خلق د اسمانو او مځکې نو ورځ کله وه؟

ځواب: قال المفسرون ای في مقدار ستة ایام الذي في علم الله، او موږ نه یو مسه کړې یعني موږ په دې خلق عظیم کې ستړیا یا تکلیف نه دی را رسېدلی.

درویش وایي: چې صحیح داده چې شروع د خلق العالم له ورځې څخه د یکشنبې سوی دی وتمامه یوم الجمعة.

درویش وایي: چې په بعض احادیث صحیحه ؤ کې راغلي دي چې په اخیر د ساعت د ورځې د جمعې بعد العصر خلق آدم وهذا بظاهره لیس بصحیح لان خلق آدم کان بعد زمان طویل من خلق السموات والارض ولي چې پر مځکه سلطنت د جن زمنًا طویلاً و ابلیس کان علی حاله یعبد الله في الارض ویعرج الی السماء ویدخل وکان اسمه عزازیل وبعد ذالک خلق آدم من الطین کما في قوله تعالی واذ قلنا للملائکة اني جاعل في الارض خلیفة الی اخیر الآیات فکیف یصح انیکون خلق آدم في اخیر ساعة من یوم الجمعة بعد العصر؟

ځواب: لیس المراد خلق آدم بعد العصر من یوم الجمعة المتصلة یخلق السموات وغیرها بل المراد خالق آدم یوم الجمعة بعد العصر في علم الله ولو بعد زمن طویل.

فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ ۚ

صبر وکړه پر هغه چې دوی وایي ای الیهود ان الله تعالی اعني (ستړی) سو بعد خلق السموات والارض فاستراح، او یا صبر وکړه علی ما یقول المشرکون في امر البعث بانه لابعث ولا نشور ولا ثواب ولا عذاب، ولي هغه ذات چې قادر ؤ پر خلق د اسمانو او مځکې في ستة ایام فهو قادر علی بعثهم والانتقام منهم.

"وسبح" ای صل (ذکر جزء دی مراد ځنې کل دی متلبسًا بحمد ربک) د مخه تر ختلو د لمر یعني صلوة الفجر، او د مخه تر لمر لوېدو (ډېر مفسرین وایي چې مراد ځنې صلوة العصر دی، لکن ابن عباس رض وایي چې د قبل الغروب څخه مراد الظهر والعصر کلاهما ای کل واحد في وقته فلا یصح قول المظهري چې دا مبني پر دې دی چې د ماپښین د لمانځه وخت او د مازدیګر د لمانځه وخت یو دی عند الضرورة)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَأَدْبَارَ السُّجُودِ ﴿٤٠﴾

او په بعض کي د شپې تسبيح وايه د خدای (يعني صل صلوة المغرب والعشاء فهذه الآية شاملة للصلوات الخمس على قول ابن عباس او مجاهد وايي چي مراد د صلوة الليل څخه نوافل د تهجد دي وليس بذالک) او وروسته تر سجود يعني لمونځو، والظاهر ان المراد به النوافل الراتبة بعد بعض الفرائض كالعشاء والمغرب والظهر، او دا احتمال هم سته چي مراد دي مطلق تسبيح وي يعني قل سبحان الله وبحمده روى البخاري ومسلم عن ابى هريرة قال قال رسول الله ﷺ من قال حين يسبح وحين يمسى سبحان الله مائة مرة لم يأتى احد يوم القيامة بافضل مما جاء الا احد قال مثل ما قال او زاد عليه، وروى الشيخان عن ابى هريرة مرفوعا يعني الى رسول الله ﷺ من قال سبحان الله وبحمده في يوم مائة مرة حطت (وبه رژيږي) يعني وبه بخښل سي ګنهونه وان كانت مثل زبد بالبحر (که څه هم وي ګنهونه دده څګ د درياب، او بخاري و مسلم د ابى هريرة څخه دا روايت هم کړی دی قال رسول الله ﷺ كلمتان خفيفتان على اللسان ثقيلتان في الميزان حبيبتان الى الرحمن (دوې کليمې دي چي سپکي دي پر ژبه او درنې دي په ترازو کي يعني په ورځ د قيامت عند وزن الاعمال، او خدای ته ډيري محبوبي دي، چي هغه دوې کلمي دي) سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم.

درویش وايي: چي دا دوې کليمې په اخيري حديث کي د بخاري ذکر کړه سوي دي، او علماء وايي چي په دې دوو کلمو کي اسم اعظم د خدای هم موجود دی والله اعلم، وعن ابى هريرة قال قال رسول الله ﷺ چي که څوک وروسته تر فرضي لمانځه سبحان الله (۳۳) واره، والحمد لله (۳۳) و الله اكبر (۳۳) واره، نو دا ټول نه نيوي (۹۹) واره سوه ثم قال في تمام المائة لا اله الا الله وحده لاشريک له الملک وله الحمد وهو على كل شيئ قدير، ور وبه بخښل سي ګنهونه دده که څه هم لکه د درياب څګ دومره وي.

وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ الْمُنَادِ مِن مَّكَانٍ قَرِيبٍ ﴿٤١﴾

ته غوږ ونسه يا محمد (ﷺ) هغه ورځ چي نعره وکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي دا صيغه د امر ده او وروسته په تأويل د مفرد يا په تقدير د مضاف مفعول به دی يعني اسمع ما يتلى عليک، پر اول تقدير او اسمع لحديث پر دوهم تقدير، مظهري وايي چي فائده د استمع تنبيه او تهويل د تعظيم المخبر به دی "المناد" بعض قراء په حال کي د وقف او وصل په ياء سره وايي يعني المنادي وهو قرائة ابن كثيرؒ او نور قراء يې په حذف د ياء وايي في الحالين لدلالة الكسرة عليها هو الملک النافخ في الصور وهو اسرافيلؑ. بعض مفسرين وايي چي دا نفخ يې نداء وبلل، ولي دا علامه د خروج و محشر ته ده لکه اذان د مؤذن چي علامه د دخول وقت الصلوة يا اعلانات د کوچ و بار په عساکرو کي مثلاً ډول وټکوي، او بعض مفسرين وايي چي نداء حقيقةً بعد نفخ الصور يعني اسرافيلؑ کوتي په غوږو کي ورکړي او لوپه ناره وکړي ايها العظام البالية (يعني زاړه يا وراسته) والاوصال المنقطة (هغه پيوندونه چي اوس قطع سوي دي) واللحوم المتمزقة (او غوښي چي له بدنه جلا سوي دي) ان الله يأمركم ان تجتمعوا الفصل القضاء، او بعض مفسرين وايي چي اسرافيلؑ نفخ الصور کوي او جبرئيلؑ ناره کوي.

"من مقام قريب" له هغه ځايه چي نژدې دی و اسمان ته تر ټولو مځکي وهو صخرة بيت المقدس، ولي چي بيت المقدس هغه تر ټولو ځايو د مځکي نژدې دی و اسمان ته بعض وايي دوولس (۱۲) ميله او بعض وايي اتلس (۱۸) ميله بيت المقدس مابين دی د کرې د مځکي قاله عليؓ.

يَوْمَ يَسْمَعُونَ الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ذَٰلِكَ يَوْمُ الْخُرُوجِ

بدل دی من يوم ينادی ای الاموات يسمعون دعوة الداعي باذن الله تعالى ولي چي اموات او جمادات په استماع اذا ارد الله تعالى کالاحياء فان الموجودات کلها لاتخلو عن نوع من الحيوة "الصيحة" ای صيحة اسرافيلؑ "بالحق" متعلق بالصيحة او مراد له حق څخه البعث للجزاء دی "ذالک يوم الخروج" دا ورځ ده د وتلو له قبرو څخه.

فائده: اجتمع الامة المرحومة قبل ظهور فرق اهل الهواء والبدع کالمعتزلة والروافض والشيعة وغيرهما چي عذاب القبر پر روح او جسد دواړو باندي دی، ودليله ما اخرج الشيخان عن انسؓ چي له غزاء څخه د بدر عليه الصلوة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فارغ سو (او څوارلس ورځې يې هورې تېرې کړې) او په دې دوران کې د عليه الصلوة والسلام په امر مؤمنانو اويا (٧٠) کسان مشرکان چې په دې غزاء کې وژل سوي وه ويو څاه ته يې واچول چې په بدر کې وُ (د اوبو څاه نه وُ بلکې يو خرابه څاه وُ) او په اخيره ورځ د عليه الصلوة والسلام اوښه چا ور ځين کړې چې پر سپور به سي، عليه الصلوة والسلام پياده روان سو اوښه يې تر جلو نيولې وه، عليه الصلوة والسلام د قليب بدر پر غاړه ودرېدی، او قتلی د بدر ته يې په نامه نامه داسي وويل: يا فلان بن فلان الى اخير ما هنالک من القتلى هل وجدتم ما وعدكم ربكم (يعني من عذاب القبر في هذا البئر) حقًا يعني واقعًا ثابتًا فاني وجدت ما وعدني حقًا يعني من النصر والغلبة، قال عمرؓ ورسول الله ﷺ كيف تكلم اجرامًا لا روح لها فقال ما انتم باسمع منهم غير انهم لا يستطيعون على ان يرد علي شيئًا.

إِنَّا نَحْنُ نُحْيِي وَنُمِيتُ وَإِلَيْنَا الْمَصِيرُ ﴿٤٣﴾

اعني صحية اسرافيلؑ كمامر.

پوه سه: چې نحن تاکيد د ضمير متکلم په انا کې مونږ ژوندی مفعول محذوف دی ای الخلق يعني په رحم کې د مور او بيا يې وژنو په نېز د اتيان الاجل او ما ته مو رجوع ده په قيامت کې.

يَوْمَ تَشَقَّقُ الْأَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ذَٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيرٌ ﴿٤٤﴾

هغه ورځ چې څيرې سي مځکه له مړو څخه وبالفارسية شگافته شود "ذالک" دغه حشر دفعةً واحدةً.

پوه سه: چې د تشقق اصل يتشقق وُ ثم ابدل التاء بالشين وادغم في الشين، "علينا" جار و مجرور متعلق دي په يسير پورې، قدم عليه للاختصاص يعني دا خدایؑ ته اسانه دی لا الى غيره تعالى لانه تعالى عالم بكل شيئ لاجزاء الموتى هفنا قادر على جمعها واحيانها، لپاره د تسلي د عليه الصلوة والسلام.

نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ وَمَا أَنتَ عَلَيْهِم بِجَبَّارٍ

مونږ خبر يو په هغه شي چې کفار مکه کله دی شاعر بولي، کله يې کاهن بولي، کله يې ساحر بولي او کله يې مجنون بولي او کله يې مفتر بولي، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نه يې ته پر دوی زور کونکی يعني چي ته دوی پر ايمان مجبوره کړې بل عليک الانذار وقد فعلت ذالک کما هو حقه وعرقت الجبين في التبليغ.

فَذَكِّرْ بِالْقُرْآنِ مَن يَخَافُ وَعِيدِ ۝

نو چي کافران ستا و انذار او تخويف ته غوږ نه نسي، نو ته نصيحت کوه په قرآن سره و هغه چا ته چي زما له عذابه بيرېږي يعني المؤمنين لانهم ينتفعون به.

تو گوئی آن چه دانی سخن سودمند وگر هيچ کس را نيايد پسند

فائده سنيه: تاريخ اسلامي خبري کوي هم په صحيح ډول چي رسول کريم ﷺ په اکثرو اوقاتو کي په خطبه کي د جمعې د ورځي سورة قٓ وايه، او عمر رضي الله عنه به په خطبه کي اذا الشمس کورت تر پايه پوري وايه، وکان عثمان رضي الله عنه په خطبه کي به يې اخيري ايتونه د سورة النساء ويل يعني يستفتونک الآية، وکان علي رضي الله عنه سورة الاخلاص به يې وايه، جلال الدين السيوطي رح په کتاب الوسائل کي وايي: اول من قرء في اخير الخطبة الثانية ان الله يأمر بالعدل والاحسان الى اخير الآية عمر بن عبد العزيز رح (السلطان العدل وان لم يکن صحابيًا) ولزمه الخطباء الى عصرنا هذا وفي الحديث الصحيح من قرء سورة قٓ (يعني في کثير من الاوقات) هون الله تارات الموت وسکرات الموت اى آفاته وغشيانه کما في حواشي السعدي المفتي.

درويش وايي: چي تفسير د سورة قٓ بعون ذی الالطاف په اولو ورځو کي د مياشتي د ذی القعدة الحرام په وخت کي د مخابنت د ورځي د هفتي سنه (۱۴۳۲) هجري قمري پای ته ورسېدی.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوۡرَةُ الذّٰرِيٰتِ مَكِّيَّةٌ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ هِيَ سِتُّوۡنَ اٰيَةً وَّ ثَلٰثُ رُكُوۡعَاتٍ

وَالذّٰرِيٰتِ ذَرۡوًا ﴿۱﴾

الواو للقسم، والذاريات ومابعدها صفات حذفت موصوفاتها او داصفات يې په خای کي ور درولي دي.

سوال: که يې موصوفات ذکر کړي وای نو په تعين کي د موصوفاتو به يې اختلاف د مفسرينو نه وای، او سره ددې چي په موصوفاتو کي اختلاف سته کما سيئاتي فما الحكمة في عدم الموصوفات في القرآن؟

ځواب: دا د بلاغاتو څخه د قرآن دی تاچي نفس د سامع و هر مذهب ممکن ته ولاړ سي او د موضوعاتو د تعين په فکر وهلو سره به دوی ته خدای مثوبات ورکړي نو موصوف د الذاريات الرياح بادونه دي، ذروا مفعول مطلق دی عامل يې الذاريات دی، والمراد الرياح تزرو التراب وغيره چي خاوري پاشي يا نور سپک شيان، او د غنمو وغيره داني د پراره جلا کوي چي په پښتو يې بادي بولي، كذا في التفسير الكاشفي، په پښتو ژباړه.

فائده: كعب الاحبار وايي که خدای عزوجل درې ورځي متوالي د مځکي څخه باد بند کړي ما بقی علی الارض شيئ الا انتن (بد بويه سوي به وای) او بعض مفسرين وايي چي مراد د الذاريات څخه هغه ښځي دي چي عيالونه يې کېږي يعني وچي نه وي، ولي چي دغه ښځي و دنيا ته عيالونه راپاشي، ففي هذه الآية على التقدير المذكور اشارة على فضل الولود على العقيم.

فَالۡحٰمِلٰتِ وِقۡرًا ﴿۲﴾ فَالۡجٰرِيٰتِ يُسۡرًا ﴿۳﴾

د وقر معنی ثقل دی مفعول به دی، والمعنى الرياح الحاملات للسحاب الثقيل يا هغه ښځي چي حاملات د نطفو وي او د اجنه في ارحامهن يا هغه وريځي دي چي درنې وي او باد و باران پکښې وي.

پوه سه: چي يسرًا صفت د مصدر محذوف دی يعني جريًا سهلًا يعني هغه بادونه چي په آرام او کرار چلېږي يا هغه ښځي دي چي حاملات وي او په خدمت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي د ازواجو کرار کرار ګرځي لثقل حملهن يا هغه کښتي، دي چي په درياب کي په سهولت سره چليږي.

فَالْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا ۙ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَصَادِقٌ ۙ

فائده: امرًا مفعول به د ماقبل دی که څه هم لفظ به مفرد دی لکن دلته په معنی د جمع دی او مصدر دی، نو په مصدر کي مفرد، تثنيه او جمع سره برابر وي. يعني الرياح التي تقسم الامطار بتصرف السحاب. او يا مراد ځني ملائکه دي چي بارانونه او ارزاق سره وېشي.

درويش وايي: چي "ان ماتوعدون" جمله مؤکد ده په ان سره جواب د قسم ده او کلمه د ما موصوله ده او عائد يې محذوف دی، والتقدير ای الذي توعدونه من البعث بعد الموت او حساب او يا ثواب للمؤمنين والعقاب للکافرين لام په لصادق کي لپاره د تاکيد دی، فارسي ترجمه يې داده: هر آئينه راست و درست است و در آن هيچ خلافی نيست او که ما مصدريه سي لکه صاحب الارشاد چي وايي نو توصيف د وعد چي مصدر دی په صادق سره د قبيل د عيشة راضيه دی، يعني اسم فاعل چي لصادق دی مسند دی يې په خپله مفعول به ته ګرځولی دی لان الوعد مصدوق لکه په عيشة راضية کي، ولي چي په هغه آيت کي خو هم عيشة مرضي به لا فاعل فافهم.

وَاِنَّ الدِّيْنَ لَوَاقِعٌ ۗ

معطوف دی پر ان ما توعدون يعني پر اعمالو من الکفر والاسلام والمعاصي والطاعات کائن لا محالة.

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْحُبُكِ ۙ

او قسم دی په اسمان سره.

پوه سه: چي حبک جمع ده د حبيکة لکه طرق چي جمع د طريقة ده يا جمع د حباک ده لکه مثل چي جمع د مثال ده، والمراد بالحبک لاري دي چي محسوسه په اسمان کي دي چي لاري د ستورو دي، او يا لاري معقوله دي چي يسئلها انظار بنظر دقيق الى المعارف، البغوي وايي قال ابن عباس و قتاده و عکرمه "ذات الخلق الحسن السمتوي، يقال النساج (کنی باپ) اذا نسج الثوب (يا کمبله، يا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سترنجي يا د اغوستلو جامه) فاجاد بنه يې سمه جوړه کړي، داسي خلک وايي ما احسن حبکه، جواب د قسم دا دی:

إِنَّكُمْ لَفِي قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ﴿٨﴾

په تحقيق تاسي په يو قول مختلف کي ياست په شان کي د نبي ﷺ چي قولونه ستاسي د حق څخه خلاف دی او په خپل مابين کي هم سره منافي دی او يا په شان کي د قرآن په قول مختلف کي ياست.

پوه سه: چي مخاطب په انکم سره کفار د مکې دي يعني په شان کي د رسول الله ﷺ بې ګاهي ويل چي لېوني دی، او ګاهي به يې ويل چي ساحر دی يا کاهن دی او د قرآن په باره کي به يې ګاهي ويل چي سحر دی او ګاهي به يې ويل چي شعر دی او ګاهي به يې ويل چي کهانت دی او ګاهي به يې ويل چي اساطير الاولين دی.

يُؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ أُفِكَ ﴿٩﴾

اى يصرف عن الرسول او القرآن يعني په منلو کي، يعني تصديق نه کوي پر رسول (چي خدای ج را استولی دی لپاره د هدايت د خلکو، او پر قرآن چي کلام الله دی) ”من افک“ يعني صرف في علم الله تعالی يعني حرمة الله تعالی عن الايمان بمحمد ﷺ او بالقرآن.

قُتِلَ الْخَرَّاصُونَ ﴿١٠﴾

پوه سه: چي خرص په پښتو کي اټکل ته وايي چي په عربي تخمين بولي او ظن من غير دليل موجب ليقين ته هم وايي چي دلته په معنی د کذابون دی چي اصحاب د قول مختلف دی من کفار اهل مکة او قتل دعاء ده بالقتل لغةً دلته په معنی د لعن ده في عرف العرب.

الَّذِينَ هُمْ فِي غَمْرَةٍ سَاهُونَ ﴿١١﴾

دا صفت موضحة دی د خراصون، او غمرة په لغت کي هغه اوبو ته وايي چي سړی پکښې ډوب سي، والمراد الجهل والغفلة دی چي دوی پکښې ډوب دي ”ساهون“ اى غافلون عما امروا به من الايمان بالرسول والقرآن.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَسْــَٔلُوْنَ اَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ ۝ يَوْمَ هُمْ عَلَى النَّارِ يُفْتَنُوْنَ ۝

دوی یعني الخراصون پوښتنه کوي د محمد ﷺ څخه (يا استعجالاً يا انكاراً يا استهزاءً) کله ده ورځ د جزاء الاعمال لكه ته چي وايي.

پوه سه: چي جمله د يسئلون منصوب محلاً ده د الخراصون څخه، يا بيان د علت د لعنت د دوی كما هو معنى قتل كما مر.

پوه سه: چي كلمه د على په معنى د باء ده او يوم بدل دی د يوم الدين څخه.

سوال: مبدل منه خو مرفوع ؤ، نو بدل يې ولي منصوب دی؟

ځواب: نصب يې بناء پر دې دی چي مضاف و اسم غير متمكن ته دی چي هم دی كما في النحو، او معنى د يفتنون يحرقون ده يعني لكه سره زر چي په اور سره امتحان كېږي نو ځكه يې لفظ د فتنة راوړی چي معنى يې امتحان دی يحرقون يې نه وايه، حاصل معنى الآية يسئالون متى يوم تعذبنا چي ته مود ته يا محمد وايي چي تاسي ته جزاء در كول كېږي.

ذُوْقُوْا فِتْنَتَكُمْ ۭ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تَسْتَعْجِلُوْنَ ۝

وڅكئ خپله فتنه (اى مقولاً لهم، هذا القول اذا عذبوا، ويونكي دا دې قول خزنة النار دی)

پوه سه: چي هذا مبتداء ده او الذي كنتم يې خبر دی، دا جمله داخله ده تحت القول المضمر كما مر او هذا اشارة و عذاب ته چي د لفظ څخه د فتنې و فهمېدی، اى هذا العذاب ما كنتم به تستعجلون به في حيوتكم الدنيا او تاسي به ويل استهزاءً متى هذا الوعد آه.

درويش وايي: چي عادت د ذو الجلال (اى الصفات الجلالية) والاكرام (اى الصفات الجمالية) جاري په دې سره دی چي احوال د كفارو ذكر كړي وروسته د مؤمنانو حال هم ذكر كوي جمعاً بين الجلال والاكرام، نو وايي.

اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ۝

په تحقيق متقين له شرك او معاصيو څخه به په باغو كي وي چي په هغو كي مېوې رنګارنګ وي لا مقطوعة ولا ممنوعة او په جاري ويالو كي چي څلور دي، من ماء غير آسن و من عسل مصفى ومن لبن خالص و خمر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اٰخِذِيْنَ مَآ اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُحْسِنِيْنَ ؀

حال دی من الضمیر المستتر في الظرف ای الجار والمجرور چي في جنات دی کما في کتب النحو چي عامل د جار او مجرور چي حذف سي ضمیر یې جار او مجرور ته نقل کېږي یعني قبلوي هغه شی چي خدای عزوجل دوی ته ورکړی من الخیر والکرامة راضین به "انهم کانوا قبل ذالک" دا جمله تعلیل دی د ماقبل دوی، یعني دوی وه په دنیا کي د مخه تر دخول د جنت "محسنین" یعني عابدین لله تعالی په حضور قلبي او په اخلاص سره کما جاء في الحدیث الطویل الذي رواه عمر ﷺ، الاحسان ان تعبد الله کانه تراه فان لم تکن تراه فانه یراک الحدیث.

كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ مَا يَهْجَعُوْنَ ؀

پوه سه: چي کلمه د ما زائده ده او یهجعون خبر د کان دی، او هجوع د شپې خوب ته وایي، او قلیلاً منصوب دی علی الظرفیة ومن اللیل صفة له ای کانوا یهجعون هجوعًا قلیلاً من اوقات اللیل، او صوفیه کرام یې داسي ترجمه کوي چي ټوله شپه به ویښ وه لان من کان في عبادة او ما یتوصل به (وهو النوم القلیل) الیها لایکون نائمًا فتدبر فیه، هداک الله تعالی.

وَبِالْاَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ؀

کلمه د باء په معنی د في ده (یعني في الاسحار) او سحر السدس الآخیر من اللیل، او قاموس والا وایي سحر قبیل الصبح ته وایي ومعنی الآیة چي دوی یعني المتقین سره د لږ خوبه په شپه کي او د ډېرو لمونځو په شپه کي چي په سحار کي داخل سي بالمعنی المذکور شروع په استغفار وکړي هضمًا لانفسهم (لپاره د شکست د خپلو نفسو) او عمل خپل لږ بولي تر ما یلیق بشانه تعالی یعني ځانونه داسي ګڼي لکه یو سړی چي د شپې ګناه وکړي او سهار بخښنه غواړي ولي چي د دوی کامل علم وي پر عظمت د شان د خدای" وفي بناء الفعل پر ضمیر د هم اشاره وده ته ده چي دوی احقاء دي بان یثنوا بالاستغفار، ولي چي ضمیر را وړه لپاره د اختصاص دی، چه خوش میگوید آن که گفته:

عذر تقصیر خدمت اوردم ... که ندارم بطاعت استظهار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عاصیان از گناه تــوبه کنند عارفان از طاعت استغفار
بنده همان به که تقصیر خویش عــذر بدرگاه خدا آورد
ورنه سزاوار خـداونـدیش کس نه تواند که بجا آورد

حافظ شیرازيؒ میگوید

درکوی عشق شوکت شاهی نمي خرد
اقـرار بندگی کـن و دعوی جاگری
هــر گنج سعادت که خدا داد بحافظ
از یمن دعای شب و ورد سحری بود

وفي البخاري عن عبادة بن الصامتؓ قال قال رسول اللهﷺ من تعار من الليل ويقول (که څوک راویښ سو د شپې او داسي یې وویل) لا اله الا الله وحده لاشريک له له الملک وله الحمد وهو على كل شيئ قدير، وسبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اكبر ولاحول ولاقوة الا بالله العظيم، ثم قال رب اغفر لي استجيب له، خواست یې خدای عزوجل قبلوي، او که یې او دس تازه کړی او لمونځ یې وکړی (يعني التهجد) قبلت صلوته، او ابو داؤد له ام المؤمنين عائشيؓ څخه روایت کړی دی چي علیه الصلوة والسلام چي به د شپې روایښ سو داسي به یې ویل: لا اله الا انت سبحانک الله وبحمدک استغفرک لذنبي واسئلک رحمتک اللهم زدني علمًا ولاتزغ قلبي بعد اذ هديتني وهب لي من لدنک رحمةً انک انت التواب.

درویش وایي: چي موږ باید فکر وکړو چي سید المرسلین شفیع المذنبین محبوب رب العالمینﷺ دا دعاء کول چي تاسي واورېده نو موږ باید څه وکړو، که ممکنه وای سرې اوښکي د وینو باید چي تر ستر کو جاري وای.

درویش وایي: چي په فضیلت کي د صلوة الليل يعني التهجد احادیث صحیحه په کثرت سره سته، وفي نقل كلها اطناب ممل للقارئين للتفسير.

وَفِيٓ أَمْوَٰلِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّآئِلِ وَٱلْمَحْرُومِ ۝

او په مالو کي ددوی حق وي (يعني زكوة يا نفلي صدقه) د سائل لپاره یعني پر خلکو سوال کوي یا محروم وي یعني که څه هم مسکین خو وي لکن سوال نه کوي (کریمه: الذين يحسبهم الجاهل (يعني بمالهم) اغنياء من التعفف (ای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الكف عن السوال) نو محسنين چي د دوی پر حال علم ولري نو هغو ته د خپلو مالو څخه حق ورکوي)

وَفِي الْأَرْضِ آيَاتٌ لِّلْمُوقِنِينَ ﴿۲۰﴾

او په مځکه کي دلائل سته د وجود د صانع ﷻ او د قدرت مطلق د هغه کسانو لره چي درجې ته د يقين ځان رسول غواړي. ولي دوی چي په سترګو دا ايات ويني او په خلق کي د مځکي په غور سره فکر وکړي د هر شيان د قدرت پکښي سته (۱) چي دا مځکه خدای غوړولې ده لکه فرش (۲) دا چي تقريبًا يو ه ربع له اوبو څخه ښکاره کړې ده ليسکن عليه عباد الرحمن (۳) چي اجزاء د مځکي يې مختلف ګرځولي دي په کيفياتو يعني بعض اجزاء خوړې مځکي وي د نباتاتو نافعه لپاره لکه غنم، وريشي، جوار وغيرها من المواد الغذائية للآدميين ورعی المواشي فيها، او بعض اجزاء ترخې او تروې دي چي بيله غزو، اوزميو او بنور کيانو بل شی نه پکښي شين کېږي (۴) په مځکه کي د ننه خدای عزوجل معدنيات پيدا کړي لکه معدن د وسپنې، د ميسو بلکې د سرو زرو معدن هم پکښي سته الی غير ذالک (۵) او نباتات او حيوانات او چينې او لوی و کوچني رود ونه نو دغه ډله د متقينو چي په دغو آياتو کي فکر وکړي دليل يې ګرځوي پر وجود صانع واجب الوجود وعلمه و ورته واراد ته و فرط رحمته وحکمته، کريمه: کل يوم هو في شان فبای الاء ربکما تکذبان.

وَفِي أَنفُسِكُمْ ۚ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿۲۱﴾

عطف علی ما في الارض، يعني ستاسي په ځانو کي هم ايها الناس آيات او دلائل سته لما قالوا ان الانسان انموذج العالم الکبير انسان بايد فکر وکړي له ابتداء څخه د خلق خپل تر مرګ پوري، چي اول نطفه وه بيا علقه سوه بيا مضغه سوه بيا هډوکي پکښي پيدا سوه ثم کسونا العظام لحمًا ثم نفخ فيه الروح بيا چي مده د حمل پوره سوه بيا خدای ؕ و حمل ته لار د خروج ورښيه بيا د دې انسان په زړه کي هدايت پيدا کړي و خپل معاش رضيعًا وفطامًا واکتساب اقواته او غذاء کول په خوړک او څښاک سره او لار د بقاء د نوع په نکاح سره والی سبيل آخرته بارسال الرسل وانزال الکتب الی غير ذالک من اختلاف الالسنة والصور والالوان والطبائع والعقول، نو په دې کي د فکر وهولو و درجې ته ايقان ورسېږي الذي لا درجة فوقه، فتبارک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

احسن الخالقين "افلا تبصرون" آيا تاسي نه وينئ اثار د قدرت د خدای؟ ايها الخراصون، لکه دا اثار چي محسنون او موقنون ويني کلمه د فاء لپاره د عطف ده پر مقدر باندي، تقديره اتنکرون قدرة الله على البعث فلا تبصرون.

وَفِي السَّمَآءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ ﴿٢٢﴾

او په اسمان کي رزق ستاسي دی، ابن عباس او مقاتل وايي چي مراد له رزق څخه باران دی چي سبب د رزق دی، نو ذکر مسبب دی مراد ځني سبب دی، دا خبره مبني پر دې ده چي په شرع شريفه کي وايي ان المطر ينزل من السماء، او بيضاوي وايي وقيل المراد بالسماء السحاب وريخ ده، وبالرزق المطر، مظهري وايي چي بناء پر مذهب د فلاسفه وُ دی.

درويش وايي: چي په شرع شريفه کي داسي نه دي راغلي چي تو له باران و نه له اسمان څخه کېږي، بلکې له اسمان څخه او به پر وريځ راځي او له وريځي څخه پر ځمکه راشوه کېږي، نو د بيضاوي قول ولي پر مذهب د فلاسفه وُ مبني دی، آيا مظهري دا قول د روح البيان چي د مظهري تر تفسير ډېر مقدم دی نه يې ده ليدلی او که يې نه مني؟ قال روح البيان ای اسباب رزقكم على حذف المضاف يعني به الشمس والقمر وسائر الكواكب واختلاف المطالع والمغارب الذي يترتب عليه اختلاف الفصول (ای الربيع والصيف والخريف والشتاء) التي هي مبادي حصول الارزاق انتهى قول روح البيان، قال الشيخ سعدي قدس سره موافقا لقول روح البيان:

آبر و باد و مه و خورشيد و فلک در کارند
تا تو ناني بکف آری و بغفلت نخوری
همه از بهر تو سر گشته و فرمان بردار
شرط انصاف نباشد که تو فرمان نه بری

پوه سه: چي وما توعدون عطف دی پر رزقكم باندي، فالتقدير وفي السماء ماتوعدون، يعني په اسمان کي دي ما توعدون، کلمه د ما موصوله ده عائد يې محذوف دی ای ما توعدونه.

درويش وايي: چي په متفق الآراء د مفسرينو بې تکلف او بې تأويله توجيه داده چي په ماتوعدون سره مخاطب محسنين دي او بل عبارت متقين دي او په بل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روایت مؤمنین دي، نو معنی د آیت داده چي هغه شی چي ستاسي د هغه شي چي ستاسي سره یې وعده کړه سوې ده یعني د خدای ﷻ له خوا څخه هغه شی په اسمان کي یعني الجنت، ولي چي جنتونه پر لوړه خوا دی د اووم آسمان تحت عرش الرحمن قریب و سدرة المنتهی ته چي قرارگاه د جبرئیل دی، سعدي شیرازي قدس سره د معراج النبي ﷺ په باره کي وایي:

چنان گرم در تیه قربت براند   که در سدره جبرئیل ازو باز ماند
بدو گفت سالار بیت الحرام   که ای حامل وحی برتر خرام
بگفتا فراتر مجالم نه ماند   بماندم که نیروی بالم نماند
اگر یک موی برتر پرم   فروغ تجلی بسوزد پرم

لکن سره د بې تکلف توجیه البغوي وایي چي عطاء وایي ماتوعدون من الثواب والعقاب، او مجاهد وایي من الخیر والشر او الضحاک وایي من الجنة والنار، ددې حضراتو کرامو تفاسیر بناء پر دې دي چي خطاب د ماتوعدون عام دی مؤمنانو او کافرانو دواړو ته شامل دی نو پر دوی دا سوال واردېږي چي محل د عقاب خو دوږخ یا د شر خو هم دوږخ دی والنار یعني دوږخ خو په اسمان کي نه دی بلکي تحت الارضین دی؟ نو ددې حضراتو د قول تأویل دا دی چي مکتوب في السماء یا مقدر في السماء، او صاحب تبیان گفته که مکتوب است در لوحی که در آسمان چهارم است، او صاحب د روح البیان یې تأویل داسي کړی دی امر العقاب (یني د کفارو امر د عقاب په دنیا کي نازلېږي د اسمان له خوا څخه) ده زیاته کړې ده چي نفس عقاب د کافرانو بعض اوقات هم د اسمان له خوا څخه وي لکه صیحه د جبرئیل د اسمان له خوا څخه او طوفان نوح او قذف بالحجارة لقوم لوط د اسمان له خوا څخه، او د اور باران پر اصحاب الایکة د اسمان له خوا کما في الامم الماضیة انتهی.

درویش وایي: چي ددې مقام وعر (یعني سخت) تحقیق او تفصیل که حاسد نه وي نو بې له خواصو څخه د تفسیر ایوبي وګنې ولا فخر لي بهذا لانه من مواهب العزیز الجبار عزوجل.

فَوَرَبِّ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِنَّهُ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَا أَنَّكُمْ تَنطِقُونَ ﴿٢٣﴾

نو په رب د اسمانو او د مځکي قسم دی، خدای عزوجل لپاره د تاکید قسم په

Maktaba Tul Ishaat.com   Scanned by CamScanner

خپل ذات سره اخلي، يا په تقدير د قول قسم د عليه الصلوة والسلام په ذات د خداى اخلي، والتقدير قل يا محمد ﷺ لهم فورب السماء آه ”انه لحق“ اى ما توعدون ثابت او يا مامر من امر الايات في قوله تعالى وفي الارض آيات الخ.

پوه سه: چي بعض له قراء سبعهؤ څخه لفظ د مثل مرفوع وايي چي صفت د حق يې بولي او اغلب قراء يې په نصب سره وايي كما في المصاحف المطبوعة چي حال يې بولي د ضمير مستكن څخه په لحق كي يا صفت د مصدر محذوف دى يعني انه لحق حقًا مثل نطقكم شبه الله سبحانه الرزق وغيره مما وعد به واخبر به بنطق الانسان يعني ان كل انسان حين ينطق لايشك في انه ناطق كذالك ينبغي للانسان ان لايشك فيما اخبر الله تعالى به كما مر. وبالفارسية: همچنان شك نيست شمارا درسخن خود شك نيست در روزى دادن خداوند و ديگر اخبار او. وفي الحديث: ابى ابن آدم ان يصدق ربه حتى اقسم له فقال ورب السماء آه (يعني انكار وكړى بني آدم يعني الكافر) وقال الحسن في هذه الآية بلغني ان رسول الله ﷺ قال قاتل الله اقوامًا اقسم الله لهم بنفسه فلم يصدقوا انتهى.

درويش وايي: ويناسبه ماحكى في تفسير المدارك عن الاصمعي چي پښتو ژباړه يې داده: چي اصمعي وايي چي زه د جامع مسجد څخه د بصرې راروان وم چي يو اعرابي پر اوښه سپور په مخه راغلى فقال ممن الرجل؟ د چا د قبيلي سړى يې، ما ورته وويل من بني اصمع، ده راته وويل چي له كومه راروان يې؟ ما ورته وويل: من موضع يتلى فيه كلام الرحمن، ده راته وويل چي ته تلاوت د كلام الرحمن راته وكړه، ما سورة الذاريات ورته شروع كړى، دې ځاى ته چي ورسېدم وفي السماء رزقكم. ده راته وويل بسته، نو بس دستي يې ناقه راكش كړه ذبح يې كړه او غوښي يې تولو پر من اقبل و ادبر باندي وويشلې او توره او قوس يې مات كړه او بس راهي سو. اصمعي وايي چي زه چي بيا حج ته ولاړم مع آمر الرشيد او شروع مي په طواف د بيت الله الشريف وكړه چي ناګاه مي يو اواز تر غوږ سو رفيق رفيق (يعني ملګري) ما چي وكتل هغه اعرابي ؤ ماته يې سلام ووايه يعني السلام عليكم بيا يې راته وويل: چي د هغه سورت څخه يو څه راته ووايه ما سورة الذاريات د سره ورته شروع كړى، دې آيت ته چي زه ورسېدم وفي السماء رزقكم يوه لو نعره يې وكړه. وقال وجدنا ما وعدنا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ربنا حقًا، بيا يې راته وويل وهل غير هذا فقرئت فورب السماء والارض انه لحق، بيا يې يو چغه وكړه وقال سبحان الله من اغضب الجليل حتى حلف او بې قسمه يې د جليل قول ونه مانه حتى الجأه الى اليمين (حتى جليل رب يې قسم ته مجبور كړى) درې واره يې داغه مكرره كړه وخرجت معها نفسه. او د دغو خبرو سره يې روح خداى عزوجل ته وسپارى رحمه الله تعالى برحمته الخاصة انا لله وانا اليه راجعون. انتهى قول الاصمعي ؒ مع كلمات الحريق بنار العشق الحقيقي.

فائده: اهل معاني وايي چي هرڅومره چي انكار د مخاطب زياتيږي متكلم بايد هغومره هغو ته تاكيد په رد كي د هغه وكړي فالله سبحانه وتعالى اورد الكلام بكمال البلاغة في رد المنكرين للبعث والجزاء بالجنة والنار حيث اقسم عليه بذاته الجليلة واكده بكلمة ان ولام التاكيد والاخبار بانه حق والتشبيه بما هو من اجل البدهيات يعني مثل ما انكم تنطقون.

هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ ضَيْفِ اِبْرٰهِيْمَ الْمُكْرَمِيْنَ ﴿۲۴﴾

الاستفهام للتقرير يعني قد اتاك، والغرض من الاستفهام تعظيم شان الحديث، والتنبيه على انه وحي اليه قبل ذالك او بله فائده د استفهام تشويق دى د مخاطب واستماع ته د قصې لكه چي په پښتو كي يو سړى وبل ته ووايي فلانيه نه به يې خبر په قصه او حال د زيد.

بوه سه: چي ضيف په اصل كي مصدر دى د ضافه اى نزل عليه الضيف او ددې سببه مصدر دى اطلاق يې پر يوه او جماعت كړه كيږي لكه په دې آيت كي چي جماعت ځني مراد دى، بقرينة توصيفه بالمكرمين، او ګاهي جمع هم استعماليږي فيقال اضياف وضيفان، البغوي ؒ وايي اختلفوا في عدد هؤلاء الاضياف، قال ابن عباس ؓ وعطاء ؒ كانوا ثلثة جبرئيل ؑ وميكائيل ؑ واسرافيل ؑ، او محمد بن كعب ؒ وايي كان جبرئيل ؑ ومعه سبعة چي مجموع يې نهه دي، وقال مقاتل ؒ كانوا (۱۲) ملكي وهو الاشهر وكانوا على صورة الغلمان چي بربښنده مخان يعني قريب البلوغ يا بعيد البلوغ هلكان من الانس.

بوه سه: چي المكرمين صيغه د اسم مفعول ده، اشاره ودې ته ده چي ابراهيم ؑ دوى عزت وكړى د مخه تر دې چي ده پيژندلې چي ملكي دي يعني خيال يې د هېلمنو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر کاوه، اکرام یې داؤ چي ددوی خدمت یې په خپله او په خپل اهل بیت یعني زوجه کاوه، او دستي یې غوښې ورته راوړې کما سیئاتي او دا عادت د انبیاء دی چي خدمت د مېلمانه په خپله کړي او کبر نه کوي او عار یې نه بولي لکه ددې زمانې متکبر ملایان چي که یې مېلمه عامي سړی وي دی یې خدمت د ځان عار بولي بلکې په مېلمه خدمت کوي، قال رسول اللهﷺ من کان یؤمن بالله والیوم الآخر فلیحسن الی جاره (د همسایه سره دې احسان کوي) او په بل روایت کي راغلي دي فلا یؤذی جاره، ومن کان یؤمن بالله والیوم الاخیر فلیکرم ضیفه (د مېلمه عزت دې کوي) ومن کان یؤمن بالله والیوم الاخیر فلیقل خیرًا او یسکت (یعني د خیر خبري دې کوي یعني چي څوک ته په ازارېږي بلکې د بل لپاره نصیحت وي نو خبري دې وکړي او که یې خبري نه وي زده نو پټه خوله دې کښېني) رواه احمد والبخاري في صحیحه ومسلم في صحیحه والترمذي وابن ماجه من حدیث ابی هریرهؓ.

حکماء د اسلام وایي: لاعار للرجل ولو کان سلطانًا (پېغور او شرم دې نه کوي سړی که څه هم بادشاه وي) ان یخدم ضیفه واباه ومعلمه (چي په خپله خدمت وکړي د مېلمه او د پلار او د استاذ) ولا تعبیر الخمة بالاطعام (او اعتبار نشته خدمت لره د مېلمه یا د پلار یا د استاذ په ډوډی ورکولو سره) یعني چي په مزدور یا په طالب وغیرهما سره صرف ډوډی بلکې په خپله به دا درې خدمتونه کوي) فیا اسفٰی علی حال اهل الزمان چي په خدمت ددې درو کسانو شرمېږي.

اِذْ دَخَلُوْا عَلَيْهِ فَقَالُوْا سَلٰمًا ۭ قَالَ سَلٰمٌ ۚ قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ۝

چي دوی یعني مهمانان داخل سوه.

بوه سه: چي ظرف یعني اذ متعلق یا په حدیث پوري دی یا په ضیف پوري، او جمع د ضمیر د دخلوا چي راجع دی ضیف ته په اعتبار د معنی ضیف دی کما مر آنفًا (علیه یعني پر ابراهیمؑ) "فقالوا سلامًا" جمله فعلیه ده ای نسلم علیک سلامًا "قال" ای ابراهیمؑ په جواب کي د سلام ددوی "سلام" په جمله اسمیه سره یې جواب ورکړی ای علیکم سلام.

فائده: ابراهیمؑ چي د نصب ځخه د رفع وجواب ته مخ واړاوه لپاره د اثبات او دوام کما قال النحاة ان الجملة الفعلیة تدل علی الحدوث والاسمیة علی الثبات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والدوام تاچي دده جواب احسن سي ددوی تر سلام. کریمه: واذا حییتم بتحیة فحینوا باحسن منها او ردوها، په حدیث شریف کي راغلي دي چي يو سړی راغلی علیه الصلوة والسلام ته يې داسي سلام ورواچاوه: السلام علیکم. علیه الصلوة والسلام ورته وویل وعلیکم السلام ورحمة الله. بل سړی راغلی علیه الصلوة والسلام ته يې داسي سلام ووایه السلام علیکم ورحمة الله، علیه الصلوة والسلام داسي جواب ورکړی وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته، بل سړی راغلی علیه الصلوة والسلام ته يې داسي سلام واوایه: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته. علیه الصلوة والسلام ورته وویل: وعلیکم السلام، دې سړي ګله وکړه چي د دمخه دوو کسانو سلام دي په زیادت د رحمة الله یا د برکاته ورسره جواب کړی زما په سلام کي دي شی نه کړی زیات؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي تا ماته شی د زیادت نه پرېښو یعني د سلام نهایت دغه دوه لفظه دي یعني ورحمة الله وبرکاته. هغه دواړه تا وویل یعني زه تاته وعلیکم السلام وایم یعني سره ستا د دوو کلیمو.

درویش وايي: چي دا معنی ده د اوردوها په آیت شریف کي "قوم منکرون" خبر دی د محذوف یعني انتم قوم منکرون یعني نابلده خلک یاست چي زه مو نه پېژنم.

فَرَاغَ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ فَجَآءَ بِعِجْلٍ سَمِينٍ ﴿٢٦﴾

"فراغ" یعني ذهب ابراهیم (لپاره ددې چي د مېلمنو د دوه‌ی سربښته وکړي) خپل کور ته (مبادرة الی طعام الاضیاف، روایان د قصې وايي چي اکثره مال د ابراهیم بقرات وه) راتګ يې وکړی د يو ګېلګي په غوښو چي ښه چاغ وُ.

فَقَرَّبَهُۥٓ إِلَيْهِمْ قَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٢٧﴾

د عجل سمین غوښي يې ددوی په مابین کي کښېښولې چي دوی يې وخوري (دوی چونکه ملکي وې طعام يې نه خاوړه، نو دوی غوښو ته لاس ونه ورغځول ابراهیم ورته وویل چي تاسي ولي غوښي او دوه‌ی نه خورئ.

فَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً ۖ قَالُوا۟ لَا تَخَفْ ۖ وَبَشَّرُوهُ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٍ ﴿٢٨﴾

په زړه کي پیدا سوه دده (یعني ابراهیم) له دوی څخه ډېره چي دوه‌ی يې نه خوړل (ابن عباس وايي چي دی په دې پوه سو چي ملکي خو دي چي د ارسال العذاب لپاره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راغلي نه وي، ملکو چې د ابراهیم ﷺ له چهرې څخه خوف احساس کړی، نو داسې یې ورته وویل) ته مه بېرېږه موږ رسل د خدای ؐ یو، او زېری یې ور وکړی (یعني پر ابراهیمؑ) د زوی چې اسحاقؑ د سارة له خوا څخه، چې هغه غلام به و درجې ته د کمال د علم ورسېږي چې بالغ سي، او وروسته به یا لوړې درجې ته د نبوت ورسېږي.

فَأَقْبَلَتِ امْرَأَتُهُ فِي صَرَّةٍ فَصَكَّتْ وَجْهَهَا وَقَالَتْ عَجُوزٌ عَقِيمٌ ﴿٢٩﴾

نو مخ را وګرځاوه دده ښځې (چې سارة یې نوم ؤ) یوه لویه بغاره یې وکړه (یا د تعجب له لاري یا د خوشحالی له کبله والاول هو الانسب بمابعده) "فصکت وجهها" ابن عباسؓ وایي چې ګوتې یې سره ټولې کړې چې په پښتو یې چپلاخه بولي او خپل مخ یې په و واهه لکه د ښځو چې عادت دی په نېز د تعجب د منکر شي تندی په چپلاخه وي، او چا چې داسې ویلي دي چې سارةؓ حرارت د دم د حیض احساس کړی فلطمت وجهها من الحیاء فلیس بشيئ لمنافاته لما بعده من الآیة، "وقالت عجوز عقیم" دې وویل چې زه سپین سرې او وچه یم، راوي وایي چې دا د نیوي (۹۰) کالو وه چې په دې طویله زمانه کې دا نه وه امیدواره سوې.

قَالُوا كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ ۖ إِنَّهُ هُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ ﴿٣٠﴾

ملکو ورته وویل، همداسې ده یعني لکه موږ چې تا ته وویل دا غسې پیغام د خدای ؐ ستا موږ ته راکړه سوی دی، په تحقیق خدای عزوجل حکمت لري په خپلو کارو کې او خبر دی په ماکان (لکه دلته ستا په وچ والي او عقم سره) او علم لري پر ما یکون (لکه دلته ستا د زوی په زېږولو سره) ابراهیم ﷺ ته شک پیدا سو چې دا دو مره لوی جماعت د ملکو خو یوازې زما د زېرې لپاره نه دی راغلی فقال.

درویش وایي: چې په حسن توفیق د رب جلیل شپږ ویشتم (۲۶) جزء یعني حٰم پای ته ورسېدی، فاقول الحمد لله الذي وفق عبده الضعیف الجهول المعمر لخدمة کلامه الجلیل والصلوٰة والسلام علی سید رسله محمد و علی آله وصحبه اجمعین، اللهم وفقني لتفسیر بقیة اجزاء القرآن العزیز وما ذالک علی الله بعزیز.

درویش وایي: چې زما د تفسیر د اکمال زېری به داسې اعجب وي لکه د سارةؓ زېری د زوی اسحاق ﷺ.

اللهم اغفر لمؤلفه و لکاتبه ولمن سعی فیه آمین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د تفسیر ایوبي شپاړسم ټوک د مضامینو فهرست

شمېر	سرلیک	مخ
۱	د پنځه ویشتمي پارې پیل	۵
۲	الیه یرد علم الساعة	۵
۳	سورة الشوری	۱۴
۴	د ''والذین یحاجون فی الله'' تفسیر	۳۴
۵	سوال او ځواب	۵۴
۶	د ګناه کبیرې قسمونه	۶۶
۷	تاریخ وایي	۷۲
۸	مسئله	۷۴
۹	فوائد شتّی	۸۶
۱۰	سورة الزخرف	۹۱
۱۱	سوال او ځواب	۱۱۲
۱۲	حکایت فی نتائج الوفاء بالعهد	۱۲۴
۱۳	د ''وانه لعلم الساعة'' تفسیر	۱۲۷
۱۴	حکایت د مقام په مناسبت	۱۳۶
۱۵	سورة الدخان	۱۴۱
۱۶	پوښتنه او ځواب	۱۵۱
۱۷	د قوم تبع احوال	۱۵۴
۱۸	سورة الجاثیة	۱۶۳
۱۹	د شپږ ویشتمي پارې پیل	۱۸۵
۲۰	سورة الاحقاف	۱۸۶

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

مخ	سرلیک	شمبر
۱۹۵	پوښتنه او ځواب	۲۱
۱۹۷	فائده	۲۲
۲۰۰	درویش وایي	۲۳
۲۱۶	پر لږ نفقې اکتفاء	۲۴
۲۳۱	د "فاصبر کما صبر اولو العزم من الرسل" تفسیر	۲۵
۲۳۴	د سورة محمد ﷺ تفسیر	۲۶
۲۵۱	د قیامت ځینې نښې	۲۷
۲۶۸	د سورة الفتح پیل	۲۸
۲۷۰	د صلح حدیبیې پوره تفصیل	۲۹
۲۷۸	د صلح نامې مضمون	۳۰
۲۸۲	د علیه الصلوة والسلام ځینې معجزې	۳۱
۳۰۷	پوښتنه او ځواب	۳۲
۳۰۹	د فدك د فتح قصه	۳۳
۳۲۳	سورة الحجرات	۳۴
۳۳۲	درویش وایي	۳۵
۳۵۳	سورة قٓ	۳۶
۳۵۹	د اصحاب الرس تفصیل	۳۷
۳۶۴	د "واصحاب الایکة وقوم تبع" تفصیل	۳۸
۳۸۵	د سورة الذاریات تفصیل	۳۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفسیر ایوبي حنفی۱۶ ټوک

د نصیراحمد احمدي لخوا

سکین او pdf سـو.

تاریخ ۱۴-۱۰-۱۳۹۸

واتساپ- ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعا محتاج احمدي!

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner